د جمهوري رياست عالي مقام دفتر لوی رياست
د ستراتېژيکو اړيکو او رسنيو معاونيت
مطبوعاتو رياست



# د جمهور رئیس غني ویناوې

## (د جمهوررئيس محمد اشرف غني د ويناوو ټولګه)

لومړی جلد - ۱۳۹۳ لمریز

# د جمهوررئیس غني وېناوې

لومړی جلد: ۱۳۹۳ لمریز

Download from:aghalibrary.com

# د جمهوررئیس غني ویناوې

(د جمهوررئیس محمد اشرف غني د ویناوو ټولګه)

**لومړی جلد: ۱۳۹۳ لمریز**

د جمهوري ریاست عالي مقام دفتر لوی ریاست
د ستراتېژیکو اړیکو او رسنیو معاونیت
مطبوعاتو ریاست
(۱۳۹۷ لمریز)

Download from:aghalibrary.com

عالمی، سید حسن، ۱۳۶۲.
**د جمهوررئیس غني ویناوې:** د جمهوررئیس محمد اشرف غني د ویناوو ټولګه. لومړی جلد – ۱۳۹۳ لمریز / سید حسن عالمی. – حشمت‌الله حمید؛ سید حسن عالمی؛ حزب‌الله اتل. – کابل – افغانستان: د جمهوري ریاست عالی مقام دفتر لوی ریاست د مطبوعاتو ریاست، ۱۳۹۷.
۲۵X۱۷، عکس.

د جمهوري ریاست عالي مقام دفتر لوی ریاست
د ستراتېژیکو اړیکو او رسنیو معاونیت
مطبوعاتو ریاست

## د جمهوررئیس غني ویناوې

(د جمهوررئیس محمد اشرف غني د ویناوو ټولګه ـ لومړی جلد: ۱۳۹۳ لمریز)

د سید حسن عالمي په زیار

پښتو ایډېټر: حزب‌الله اتل

دري ایډېټر: سید حسن عالمي

انګلیسي ژباړونکي: حشمت‌الله حمید، عبدالاحد کټوازی

د پښتي ډیزاین: نصرت‌الله رادمهر

چاپ: لومړی ـ ۱۳۹۷ اوړی / کابل ـ افغانستان

تیراژ: ۱۰۰۰ جلده

ISBN: 978-9936-631-03-8

Email: media@ocs.gov.af

www.ocs.gov.af

ocs.afg OCS_AFG ocs.afg

**Download from:aghalibrary.com**

## د مطالبو لیک لړ


مننه ........................................................................................... ۹

مقدمه ......................................................................................... ۱۱

سریزه ......................................................................................... ۱۳

د پیل خبرې ................................................................................. ۱۵

لومړی څپرکی ............................................................................... ۱۹

ویناوې ........................................................................................ ۱۹

د افغانستان اسلامي جمهوریت د جمهوررئیس په توګه ......................... ۲۱

د ډاکتر محمد اشرف غني د لوړې مراسم ........................................ ۲۱

له امریکا او ناټو سازمان سره د افغانستان د امنیتي هوکړهلیکونو ............ ۴۱

د لاسلیک مراسم ........................................................................... ۴۱

د ملي وحدت حکومت د اجرائیه رئیس د معرفي مراسم ........................ ۴۷

د اصلاحاتو او ښې حکومتولۍ په چارو کې د جمهوررئیس د ځانګړي استازي د لوړې مراسم ........................................................................................ ۵۱

د ښوونکي د ورځې نمانځنې مراسم ............................................... ۵۵

د کابل ښاروال د ټاکلو طرز، ښاري نظم، ساتنې او څارنې او ښاري ماسټر پلان ګډه ناسته ............................................................................................ ۶۵

د ترکیې له جمهوررئیس سره ګډ مطبوعاتي کنفرانس ............................ ۷۷

په شینهوا پوهنتون کې د جمهوررئیس محمد اشرف غني وینا ................ ۸۱

د استانبول پروسې ـ آسیا زړه هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو څلورمه غونډه ............ ۹۹

د چین او افغانستان د سوداګرو او پانګهوالو غونډه ............................ ۱۰۷


**Download from:aghalibrary.com**

سعودي عربستان او چین ته د جمهوررئیس د سفرونو د لاسته‌راوړنو په تړاو مطبوعاتي کنفرانس ........ ۱۱۷

د ناټو له سکرترجنرال سره ګډ مطبوعاتي کنفرانس ........ ۱۲۹

د افغان ښځو د ځواکمنتیا (ارتقا) لپاره د امریکا او افغانستان د ګډ پروګرام پرانسته ........ ۱۳۹

د پاکستان له لومړي وزیر سره ګډ مطبوعاتي کنفرانس ........ ۱۴۷

د «نني هند» ګردی مېز ........ ۱۵۵

د سویلي آسیا د سیمه‌ییزو همکاریو سازمان (سارک) اتلسمه سرمشریزه ........ ۱۶۳

اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون د توشیح مراسم ........ ۱۶۹

د نفوسو د احوالو ثبت قانون د توشیح مراسم ........ ۱۷۱

له امریکا متحده ایالتونو او ناټو سازمان سره د امنیتي هوکړه‌لیکونو د توشیح مراسم ........ ۱۷۳

د ناټو له سکرترجنرال او اجرائیه رئیس سره ګډ مطبوعاتي کنفرانس ........ ۱۸۱

په بروکسل کې د ناټو سازمان د بهرنیو چارو وزیرانو غونډه ........ ۱۸۵

د افغانستان لپاره د لندن کنفرانس ........ ۱۹۳

د ناکامو دولتونو د رغاونې بحث؛ له تیورۍ تر عمل ........ ۲۰۵

د امریکا متحده ایالتونو دفاع وزیر سره ګډ مطبوعاتي کنفرانس ........ ۲۳۵

د سي.آی.اې له لوري د بندیانو د ځورونې په تړاو مطبوعاتي کنفرانس ........ ۲۴۹

د بشري حقونو نړیوالې ورځې نمانځغونډه ........ ۲۵۳

د یحیی‌خېلو ولسوالۍ پېښې د شهیدانو یادغونډه ........ ۲۶۱

په لوړو زده‌کړو کې د معلوماتي ټکنالوژۍ رول یوولسم ملي کنفرانس؛ پرمختګونه او ننګونې ........ ۲۶۹

په بریالي ډول د امنیتي مسؤولیتونو د لېږد پای ته رسېدو او د امنیتي ځواکونو د زړورتیا ستاینلو مراسم ........ ۲۷۵

Download from:aghalibrary.com

د مشرانو جرگې د نویو غړو د لوړې مراسم ........................................ ۲۸۷
په متحده عربي امارتو کې له مېشتو افغان سوداگرو، پانگه‌والو او صنعت‌کارانو سره ناسته ........................................ ۲۹۵
ولسي جرگې ته د نوماند وزیرانو د معرفي مراسم ........................................ ۳۰۱
د افغانستان او چین ولسي جمهوریت د سیاسي اړیکو د شپېتمې کلیزې د نمانځنې مراسم ........................................ ۳۲۱
مونیخ یو پنځوسم امنیتي کنفرانس ........................................ ۳۲۹
د امریکا متحده ایالتونو له دفاع وزیر سره گډ مطبوعاتي کنفرانس ........................................ ۳۳۷
د ښځو نړیوالې ورځې نمانځغونډه ........................................ ۳۴۹
د ملي شورا د شپاړسمې دورې د پنځم کاري کال پرانسته ........................................ ۳۵۷
د مارشال محمد قسیم فهیم لومړنی تلین ........................................ ۳۶۹
د مارشال محمد قسیم فهیم د دفاعي پوهنتون له ملي پوځي اکاډمۍ څخه د افسرانو د اووم دور فراغت مراسم ........................................ ۳۷۳
د پوهنې د زنگ وهلو مراسم ........................................ ۳۸۳
دویم څپرکی ........................................ ۳۹۱
پیغامونه ........................................ ۳۹۱
د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي له منځه وړو نړیواله ورځ ........................................ ۳۹۳
د ډاکتر علي وردگ له لوري د رادزینویکس جایزې ترلاسه کول ........................................ ۳۹۵
د طبیعي پېښو د فاجعو اړوند ........................................ ۳۹۷
د استاد عبدالعلي مزاري د شهادت شلم تلین ........................................ ۴۰۳
په اسلام‌آباد کې د لوی عارف شاه رکن عالم اووه سووم تلین ........................................ ۴۰۵
موضوعي لیک‌لړ ........................................ ۴۰۹

Download from:aghalibrary.com

## مننه

تدوین شوي اسناد او متون دولتي مجریانو، رسنیو، مدني بنسټونو او خلکو ته دایمي لار پرانیستونکي دي. په همدې اساس، دغو ټولو ته د لاسرسي زمینې برابرول د اړوندو بنسټونو دنده ده. د هېواد په کچه د دغو اسنادو تر ټولو مهم یې، هغه دي، چې جمهوررئیس ته اړوندېږي او د دولت د رئیس په توګه د هغه لارښوونې او ویناوې انتقالوي.

دغه کتاب د جمهوررئیس محمد اشرف غني د ویناوو لومړنۍ ټولګه ده، چې تدقیق، ترتیب او تدوین یې په متفاوت ډول ترسره شوی دی. دغه ټولګه کولای شي مخاطبینو ته د ملي وحدت حکومت د سیاست او د جمهوري ریاست عالي مقام د فکري خطوطو واضح تصویر وړاندې کړي. په همدې اساس، د رسنیو او ستراتېژیکو اړیکو له محترم معاونیت، مطبوعاتو ریاست او د ټولو هغو همکارانو مننه کوم، چې په دې برخه کې یې خپله دنده په ښه ډول ترسره کړې ده.

عبدالسلام رحیمي

د افغانستان اسلامي جمهوري ریاست د عالي مقام دفتر عمومي رئیس

Download from:aghalibrary.com

# مقدمه

د تحول، ثبات، هوساینې او امنیت د رامنځته کېدو او د دولتدارۍ د نورو مسایلو په برخه کې د دولت د طرحو او پروګرامونو په اړه د پوهاوي یوه سرچینه، د جمهوري ریاست عالي مقام ویناوې دي. دا ویناوې، هغه مهال لا غښتلې کېږي، چې د دولت رهبري تل هڅه وکړي چې بېلابېل اقشار له روانو چارو خبر کړي او په پرېکړو کې د هغوی مشارکت د دولتدارۍ اصل وګرځوي. جمهوررئیس محمد اشرف غني پخپلو ویناوو کې، د دولت او جمهوري ریاست د کارکړنو واضح راپور او د هېواد د روان وضعیت په اړه معلومات وړاندې کوي. د ویناوو په یوه برخه کې داسې مسایل هم مطرح کېږي، چې نشو کولای هغه د بیانېدو په وخت پورې محدود کړو؛ دا د ایډیولوژیو او مطالبو هغه برخه ده، چې د هرې تاریخي دورې لوستونکي مطالعې ته رابولي.

د ویناوو په متن کې نغښتې پوهه، د نورو د تجربو لېږد، د تئوریانو وړاندې کول او په آسانۍ د اکاډمیکو مسایلو بیان، د جمهوررئیس وینا جذابه کړې او لوستونکی له ځان سره ساتي. پر دې سربېره، جمهوررئیس غني په مهمو او حساسو تاریخي شېبو کې د دولت رهبري پر غاړه واخیسته. ملي ځواکونو ته د امنیتي مسؤولیتونو د لېږد پروسې د رهبرۍ په وخت کې د هېواد د مسایلو عیني مطالعې او مشاهدې د هغه پوهه زیاته کړې او په افغانستان کې د دولتدارۍ پر وړاندې د خنډونو او فرصتونو په اړه یې د هغه په ویناوو کې ژور درک څرګندېږي.

د جمهوررئیس په ویناوو کې یووالی، اجماع، ملي حاکمیت، فرهنګ، ژبه، تحول، اصلاحات او پراختیا منعکس کېږي. هغه په بشپړې توجه دغه مسایل مخاطبینو ته بیانوي او ددې کتاب متن ددې ښودنه کوي، چې د مخاطب پېژندل ویناوو ته د هغه د تیاري عمده برخه جوړوي.

د جمهوررئیس د نظریاتو، پروګرامونو او فکري خطوطو په اړه د صحیحو او اغېزناکو معلوماتو رسول له دولتي بنسټونو سره مرسته کوي، څو خپل کاري اهدف او پروګرامونه ترسیم کړي. دا کار د بنسټونو ترمنځ په پرېکړو، پلان جوړونې او فعالیتونو کې د همغږۍ په رامنځته کولو پام وړ مثبت اغېز لري.

له بل لوري د دولت د رئیس ویناوې د هېواد د تاریخ یوه برخه ده. د جمهوري ریاست عالي مقام ویناوې هغه حقیقتونه او واقعیتونه منعکس کوي، چې د هغه د جمهوري ریاست په دوره کې پېښ شوي دي او دا ددې لامل ګرځي، چې د هغه بیانیاتو ته رجوع د مطالعې لپاره اړینه ده.

په همدې اساس، د یوه کتاب په چوکاټ کې د افغانستان اسلامي جمهوریت جلالتمآب جمهوررئیس ویناوې راټولول او خپرول کولای شي له اکاډمیکو مرکزونو، د چارو له شنونکو، رسنیو، تاریخ لیکوونکو او خلکو سره مرسته وکړي، چې د جمهوررئیس محمد اشرف غني د فکري خطوطو، د ستونزو د عواملو او ریښو او د هغه له نظره په خنډونو او د هغو په حللارو او د حکومت د سیاستونو په اړه معلومات ترلاسه کړي.

ستاسو په لاس کې کتاب، له رسمي او بااعتباره آدرس څخه د جمهوررئیس محمد اشرف غني د ویناوو متفاوتې مطالعې ته زمینه برابروي. د رسنیو او ستراتېژیکو اړیکو په معاونیت کې له خپلو ټولو همکارانو مننه کوم، چې ددې کتاب په ترتیب، تدوین او خپرولو کې یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي.

محمد هارون چخانسوري

د جمهوري ریاست عالي مقام ویاند او د دفتر ریاست معاون

## سریزه

ویناوې، په مستقیم او غیرمستقیم ډول حاضرو او غایبو مخاطبینو ته د پیغام د لېږد وسیله ده. ویناوې کله د پوهې لېږدونکې دي، کله هم تاریخ جوړوي او کله هم معلومات لېږدوي. د اشخاصو ویناوې د هغوی په اړه د تاریخ د قضاوت عمده برخه جوړوي. د دغو ویناوو هره برخه په مطالعاتي، څېړنیزو او عامه پوهاوي رسولو کې ددې متونو پر مقام او اهمیت ټینګار کوي.

د وینا لپاره لومړنۍ ځانګړنه، ویونکی شخص دی. په وینا کې څومره پوهه نغښتل شوې ده؟ د کوم مقام په ادرس وینا کېږي؟ او د خلکو ترمنځ څه شهرت لري؟ د ویناکوونکي پوهه، مقام، شهرت او نورې ځانګړنې ویناکوونکي ته د پاملرنې کچه تثبیتوي.

اوسنی کتاب د افغانستان اسلامي جمهوریت جمهوررئیس ډاکتر محمد اشرف غني د ویناوو مجموعه ده. دغه ټولګه سره له دې چې د دولت د لومړني شخص ویناوې دي، ځینې نورې ځانګړنې هم لري، چې منځپانګه او اهمیت یې زیاتوي او په همدې دلیل تلپاتې کېږي. د امنیت د ټینګښت، د اقتصادي ودې او پراختیا، فرهنګي او ټولنیزو مسایلو، له اداري فساد سره مبارزې، بهرني سیاست او... برخو کې د حکومت د سیاستونو یوه لویه برخه او د جمهوررئیس د حکومتولۍ فکر، د هغه د ویناوو په چوکاټ کې بیان شوی دی.

جمهوررئیس د هېواد د ادارې په رأس کې دی او پر مختلفو مسایلو احاطه او بشپړ واک لري؛ په همدې اساس د یوه کتاب په چوکاټ کې د هغه د ویناوو خپرول ضروري کار دی؛ په ځانګړي ډول په داسې حالت کې، چې هېواد مو د بیارغاونې، انکشاف او د لېږد پروسو بشپړولو په حال کې دی.

د ډاکتر محمد اشرف غني د جمهوري ریاست په دوره کې، افغانستان د «تحول لسیزې» سره برابر شوی دی، د اقتصادي او سیاسي پراختیا او اداري په برخه کې مهم بدلونونه تجربه کوي، چې ددې دورې اهمیت یې زیات کړی او د دولت په لیډلوري او کارکړنو پوهاوی حتمي کوي. په همدې دلیل، د جمهوررئیس ویناوې، چې د خنډونو، فرصتونو، پروګرامونو او د حکومت کارکړنې منعکسوي، د نخبه‌ګانو او ټولو خلکو لپاره د تأمل وړ دي.

دغه ویناوې په مختلفو وختونو کې د مختلفو مناسبتونو په اړه شوې دي. د دغو ویناوو زماني فاصلې او د مختلفو کانالونو له لارې د هغو نشرولو، دې ویناوو ته د متقاضیانو او په ځانګړي ډول د دولتي ادارو لاسرسی ستونزمن کړی دی. د جمهوري ریاست عالي مقام دفتر د رسنیو او ستراتېژیکو اړیکو معاونیت تر چتر لاندې مطبوعاتو ریاست، د جلالتمآب جمهوررئیس د ویناوو دغه ټولګه تر تدقیق او ایډېټ وروسته، اطلاعاتو ته د لاسرسي د پراختیا لپاره وړاندې کوي، څو په دې برخه کې یوه معتبره سرچینه وي.

تل دې وي افغانستان

ناجیه انوري

د رسنیو او ستراتېژیکو اړیکو معاونیت د مطبوعاتو رئیسه

د جمهوري ریاست عالي مقام دفتر لوی ریاست

## د پیل خبرې

دا کتاب «د جمهوررئیس غني د ویناوو» لومړنۍ ټولګه ده، چې د هرو شپږو میاشتو لپاره ترتیبیږي. په دې کتاب کې د لوړې له مراسمو د ۱۳۹۳تر پایه د جمهوررئیس ویناوې او پیغامونه په دوو څپرکو کې راټول شوي دي.

په لومړي څپرکي کې، د جمهوررئیس څلوېښت ویناوې ځای شوې دي، چې اصلي متنونه يې په انګلیسي دي. دا ویناوې د کتاب په پای کې په اصلي ژبه راوړل شوې دي. په دویم څپرکي کې، په ۱۳۹۳ کال کې د جمهوررئیس عمده پیغامونه لوستونکو ته وړاندې کیږي. ټولې ویناوې او پیغامونه د وړاندې کېدو او خپرېدو پر اساس په پام کې نیول شوي دي.

هڅه شوې چې دا کتاب د لوستونکو لپاره په ساده او اسانه ډول ترتیب شي. د وینا په هر متن کې، د حکومتولۍ مختلفو سکتورونو ته اشاره شوې ده؛ په همدې اساس د هرې یوې په پیل کې، اړوند سکتور راوړل شوی دی. په دې ټولګه کې چې د جمهوررئیس غني د حکومتولۍ لومړۍ میاشت په ځان کې رانغاړي، سکتورونه پر شپږو برخو وېشل شوي دي، چې په‌کې بهرنۍ سیاست، امنیت، اقتصادي، ټولنیز خوندیتوب، پوهنه او لوړې زده‌کړې شاملې دي. د ویناوو عمده محورونه هم د متن په پیل کې واضح شوي دي.

همداراز د متن غورچاڼ هم راوړل شوی شوی دی. د غورچاڼ په ترتیب کې هم د ویناوو ادبیاتو ته پاملرنه شوې ده. هڅه شوې چې په غورچاڼ کې د ټولې وینا خلاصه وړاندې شي او په اوږدو ویناوو کې له ناچارۍ یوازې د ویناوو محتوا ته اشاره شوې ده.

د امانت ساتلو په پار او دا چې د ټولنې ډېری کسان د هېواد له دواړو رسمي ژبو سره بلدتیا لري، د پښتو او دري ژبو ترمنځ ژباړه نه ده شوې؛ خو د کتاب د یووالي ساتلو لپاره، ژباړې او

توضیحي متنونه په پښتو ژبه هم ترتیب شوي دي.

د کتاب په پای کې د موضوعاتو لیک‌لړ ترتیب شوی، چې لوستونکو ته د جمهوررئیس د ویناوو موضوعي مطالعه برابروي. په دې برخه کې، د هغو کسانو خبرې په موضوعي فهرست کې نه دي اخیستل شوې، چې په دې ګډو پروګرامونو کې یې حضور درلود. دا فهرست به د هغو څېړونکو لپاره قوي وسیله وي، چې د ځانګړو اهدافو لپاره د جمهوررئیس نظریات، افکار او پروګرامونه مطالعه کوي. همدا راز د دولتي ادارو د سترو مدیرانو لپاره به هم یوه کیلي وي، چې وکولای شي په ساده ډول په اړوندو موضوعاتو او چارو کې د جمهوررئیس ویناوو ته لاسرسی ولري.

لوستونکي به د متن په ځینو برخو کې له دې ( ) نښې سره مخ شي. د قوس په منځ کې دغه کلمات په اصل کې په متن کې شامل نه دي او دا چې لوستونکي وکولای شي متن په ساده او روان ډول ولولوي او د متن اصلي پانګې ته هم زیان وا نه وړي، نو د تشریح په ډول په دې ( ) کې زیات شوي دي. همداراز لوستونکي به له دې [ ] نښو سره هم مخ شي. ددې علامو په منځ کې راوړل شوي کلمات د وړاندې او وروسته کلماتو او جملو د توضیح په تړاو لوستونکو ته وړاندې کېږي.

د تورو، اصلاحاتو، پېښو، اشخاصو او... په تړاو توضیحات، چې په [ ] کې یې د تشریح امکان نه وو، په حاشیه کې راوړل شوي دي، څو لوستونکي وکولای شي له کوم ذهني اختلال او د متن سرچینې ته له رجوع پرته، لنډ معلومات ترلاسه کړای شي.

په ایډېټ کې هڅه شوې، چې د جملو په اجزاوو کې ډېر کم دخالت او تصرف وشي. د جملې په اجزاوو کې تغییر او تبدیل هم یوازې د متن د ساده‌والي او د لوستونکو لپاره د اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه شوی دی؛ په همدې اساس، ځینې مهال د جملو فعلونه رغاول شوي دي. په لیکني ډول د ویناوو وړاندې کولو پر مهال د ټینګار او احساس ساتلو او د اشارو د لېږد لپاره، له لیکنیو علامو ډېره ګټه اخیستل شوې ده، څو په دې ډول لوستونکي په اسانۍ د ویناوو روح او روان درک کړای شي.

په انګلیسي ژباړو کې، چې ډېرې وخت وینا په شفاهي ډول یا د خبرو په جریان کې وړاندې شوې، د علمي او تئوریکي محتوا په دلیل، سرچینو ته رجوع شوې ده، چې ډېر دقت او

پاملرنې ته يې اړتيا لرله. په ژباړه کې د امکان تر کچې هڅه شوې له هغو اصطلاحاتي کلماتو استفاده وشي، چې جمهوررئيس پخپلو ويناوو کې د هېواد په رسمي ژبو کې ترې استفاده کړې ده، څو د کتاب يووالی او د مطالعې اسانتيا په پام کې ونيول شي. دې ته په پام چې د متنونو په داخل کې د انګليسي اصلاحاتو معادل پښتو يې کم استفاده کېږي، نو د ژباړې پر مهال د تورو په انتخاب کې له زياتې حوصلې کار اخيستل شوی دی او د امکان تر کچې هڅه شوې، چې نااشنا توري ونه کارول شي.

دا چې په ژباړل شويو متنونو کې دقيق او سل په سلو کې د اصلي ژبې د محتوا ساتل امکان نه لري، نو هېڅکله هم ژباړې له اصلي متنونو سره نشي پرتله کېدای؛ په همدې دليل د ويناوو اصلي متنونه د کتاب په پای کې راوړل شوي، څو د اړتيا پر مهال ورته لوستونکي لاسرسی ولري.

د جمهوررئيس ډاکتر محمد اشرف غني د ويناوو په محتوا کې که له يوه لوري د هغه د حکومتولۍ تګلارې، کړنلارې، لاسته‌راوړنې او د حکومت پروګرامونه شامل دي، نو له بل لوري د ملتونو تئوريکي مسائل، تجربې او تاريخ بيانوي. د دغو ويناوو غني کول، راټولول، ترتيب او تدوين پېچلی او وخت نيوونکی کار و. ليکلي ډول ته په وينا کې د حاکمو ادبياتو اړول، او دا چې د پيغام رسولو په بهير کې د محتوا امانت وساتل شي او ورته هېڅ ډول زيان وا نه وړي، ستونزمن او په ورته مهال خوندور کار دی. په همدې دليل، ددې کتاب د چاپ په لومړۍ نسخه کې به ځينې ستونزې او کمۍ وي. له ټولو لوستونکو او د نظر له خاوندانو غوښته کېږي، چې د تخنيکي ستونزو، کميو او ددې کتاب د ښه‌والي لپاره خپل وړانديزونه د کتاب په پېژندپاڼه کې په يادو شويو برېښنايي ادرسونو له موږ سره شريک کړي، څو په راتلونکي او ددې ټولګو د نورو ټوکونو په چاپ کې ورته پاملرنه وشي.

سيد حسن عالمي

د مطبوعاتو رياست د معلوماتو او نشراتو آمر

لومړی څپرکی

# ویناوې

# د افغانستان اسلامي جمهوریت د جمهوررئیس په توګه

# د ډاکتر محمد اشرف غني د لوړې مراسم

کابل | ۷ تله ۱۳۹۳ | ۲۹ سپټمبر ۲۰۱۴



## اړوند سکتورونه:

**امنیت ـ حکومتوالي ـ اقتصاد**

## د وینا عمده محورونه:

- **د هېواد عمومي وضعیت**
- **د قانون حاکمیت**
- **د درې ګونو قواوو ترمنځ د همغږۍ اړتیا**
- **ښه حکومتولي**
- **امنیتي ځواکونه**
- **د افغانستان بهرنی سیاست**

## غورچاڼ:

تر ټاکنو وروسته واک په سوله‌ییز ډول ولېږدول شو. د قانون پر اساس جمهوررئیس د درېیو قواوو په رأس کې قرار لري او د قواوو ترمنځ به لازمه همغږي موجوده وي. د افغانستان د ثبات په مثلث کې، اقتصاد، امنیت او بشري ځواک شامل دي او د هېواد جغرافیایي ظرفیتونو او موقعیت ته په پام، په بنسټیز اقتصادي تحول کولای شو تولیدي او پر ځان بسیا اقتصاد ته ورسېږو. اساسي موخه دا ده، چې تولیدي او پر ځان بسیا اقتصاد پر

صادراتو ولاړ دی. سوله د سیاسي ثبات اساسي رکن دی او د ملي وحدت حکومت ټینګار پر دوامداره سولې دی، نه پر مقطعي او لنډمهالي. د هېواد د امنیتي ځواکونو هر اړخیز ملاتړ باید وشي او د هېواد، ملي نوامیسو او قانون حاکمیت ساتنې لپاره باید د هغوی لیکې غښتلې شي. په ورته مهال باثباته او هوسا افغانستان، د هېواد د بهرني سیاست له پنځو کړیو سره اړیکې لري او نړیوالې اړیکې به پر همدې اساس غښتلې کېږي.

## د جمهوررئیس غني وینا:

بسم‌الله الرحمن الرحیم.

جلالت‌مآب محترم حامد کرزی اولین رئیس‌جمهور منتخب جمهوری اسلامی افغانستان، جناب محترم حضرت صبغت‌الله مجددی اولین رئیس دولت اسلامی افغانستان، محترم سترجنرال عبدالرشید دوستم معاون اول ریاست جمهوری اسلامی افغانستان، محترم قانونپوه محمد سرور دانش معاون دوم ریاست جمهوری اسلامی افغانستان، محترم یونس قانونی معاون اول اسبق ریاست جمهوری اسلامی افغانستان، محترم احمد ضیا مسعود معاون اول سابق ریاست جمهوری اسلامی افغانستان، محترم استاد کریم خلیلی معاون دوم اسبق ریاست جمهوری اسلامی افغانستان، محترم داکتر عبدالله عبدالله رئیس اجرایی حکومت جمهوری اسلامی افغانستان، جلالت‌مآب رئیس‌جمهور پاکستان، جلالت‌مآب حمید انصاری معاون رئیس‌جمهور هند، جلالت‌مآب شریعتمداری معاون اجرایی رئیس جمهوری اسلامی ایران، والاحضرت آغاخان دوست عزیز افغانستان، جلالت‌مآب نعمان کورتولموش معاون صدراعظم جمهوری ترکیه، محترم داکتر نزار بن عبید مدنی وزیر دولت در امور خارجه عربستان سعودی، محترم محمد بن عبدالله الرمیحی وزیر دولت و سرپرست وزارت امور خارجه قطر، وزرا و نمایندگان ارشد کشورهای دوست و همکار و هیئت‌های دولت‌های دوست، جلالت‌مآبان رؤسای مجلس شورای ملی، فضیلت‌مآب قاضی‌القضات کشور، رهبران گرانقدر جهادی، جناب پیرصاحب، استاد صاحب سیاف، جناب نادری صاحب، و همه بزرگان دیگر، علمای کرام دین و مشران قومی، نمایندگان محترم کوردیپلوماتیک در افغانستان، نمایندگان محترم رسانه‌های جمعی، اعضای محترم کابینه!

عزیز وطنداشلر، خوش کیلیب سیز [د حاضرینو چکچکې] پیروز لیک برچه نگیز گه مبارک بولسین.

وطنداران گرامی، خواهران و برادران! السلام علیکم و رحمت‌الله و برکاته!

غواړم تر خپلو خبرو مخکې د اسلام د لومړي خلیفه حضرت ابوبکر صدیق (رض) د خلافت د لومړۍ خطبې پیغام درته نقل کړم چې فرمایي: ای خلکو! زه ستاسې مشر ټاکل شوی یم؛ خو له تاسې بهتر نه یم، که مې سم کار وکړ مرسته مې وکړئ او که مې ناسم کار وکړ لارې ته مې برابر کړئ؛ رښتیا نه ویل، د امانتدارۍ خیانت؛ او دروغ ویل خیانت دي، ستاسې کمزوری ما ته غښتلی دی؛ تر څو چې مې د خدای په اراده د کمزورتیا علت لرې کړی نه وي او ستاسې غښتلی ما ته ضعیف دی، تر څو چې مې د خدای په زور د نورو حق نه وي ورڅخه ترلاسه کړی.

که نن ما یوازې د همدغو خبرو لپاره وخت درلودای، نو یوازې د اسلام د لومړي خلیفه په همدې نقل به مې اکتفا کړې وای.

ما مردم افغانستان موفقانه از امتحاناتی که پیش روی ما قرار داشت، گذشتیم؛ با حمایت و قربانی بی‌شائبه‌ی ملت قهرمان افغانستان و رهبری خردمندانه‌ی جلالت‌مآب حامد کرزی، قانون اساسی و انتقال اقتدارِ مسالمت‌آمیز در کشور نهادینه شد. مبارک وایم درته. [د حاضرینو چکچکې] [حامد کرزی ته خطاب:] ټول ولس مننددوی دی رییس صیب! به همین منظور من مناسب می‌بینم که از تمام مردم کشورم و به‌خصوص از جلالت‌مآب حامد کرزی اظهار سپاس و قدردانی کنم.

با اغتنام از فرصت می‌خواهم به روح تمام شهدایی که برای کامیابی کشور و ملت جان‌های‌شان را در دوران انتخابات فدا کردند، اتحاف دعا نمایم. شهامت، رشادت و قربانی بی‌نظیر نیروهای امنیتی افغانستان در چنین شرایط حساسی قابل تقدیر و تحسین است. جا دارد از شهید «حشمت خان خلیل کرزی»[1] و سایر شهدای هر دو ستاد انتخاباتی هم در اینجا یادآوری نمایم. د افغانستان خلک، له یوې لویې ازموینې څخه بریالي راوتلي، د امید فضا راستنه شوې ده. دا ځل په ټاکنو کې زموږ علماوو، ځوانانو او ټولو اقشارو پراخه برخه

[1] د تحول او تداوم ټاکنیز ټیم غړی، چې د ۱۳۹۳ د زمري په ۷ نېټه، د یوه ځانمرګي برید کوونکي له لوري د کوچني اختر د مبارکۍ پر مهال د کندهار ولایت د ډنډ ولسوالۍ په کرز سیمه کې په شهادت ورسېد. جمهوررئیس د یوه فرمان له لارې د ۱۳۹۵ په زمري میاشت کې هغه ته د «ملت شهید» لقب ورکړ.

واخیسته. د افراط یا تفریط لوری یې انتخاب نه‌کړ او د ولس د مشارکت له برکته د اساسي قانون پربنسټ د اقتدار د سوله‌ییز انتقال دود، رامنځته شو او دا دود به ان‌شاءالله تعالی ټینګیږي. موږ ژمنه کوو چې د دې پروسې د لا سمون لپاره به د ټاکنو په بنسټونو، قوانینو او پروسه کې بنسټیز او ضروري بدلونونه راوړو تر څو چې د هر افغان رایه په اینده کې بې‌شک و شبهه حساب شي او نتیجه یې معلومه يي. موږ زیات هیله‌من یوو چې تر دې وروسته به په‌دې خاوره کې سیاست د بې‌ثباتی وسیله نه؛ بلکې د دوامداره ثبات د تامین وسیله وي او همدغه زموږ د ملي حکومت تر ټولو اساسي هدف دی.

غواړم د تحول او تداوم له ټیم، د افغانستان له خلکو، له سیاسي او ټولنیزو اقشارو، ټولو هغه رضاکارانو څخه چې د ټاکنو پر مهال یې له موږ او له ډاکتر صاحب عبدالله عبدالله سره همکاري کړې، مننه وکړم.

د افغانستان ټولو خلکو قهرماني وکړه او د ملي وحدت حکومت به د ټولو استازیتوب وکړي.

زه له محترم احمدضیا مسعود څخه مننه کوم. مسعود صاحب «نماینده فوق‌العاده‌ی رئیس‌جمهور در امور اصلاحات و حکومتداری خوب» است.

د ملي وحدت حکومت د افغانستان اړتیا ده؛ د ملي وحدت حکومت د واک ویش په معنا نه؛ بلکې د خلکو د خدمت لپاره د دندو او وظایفو د ویش په معنا دی، دا ډول حکومت به د افغانستان د خلکو د ارادې، غوښتنو او آرمانونو تمثیل کوونکی وي.

دلته له ګران ورور ډاکتر صاحب عبدالله عبدالله نه مننه کوم چې په خپله همکاري او ګډون یې دا پروسه د بریالیتوب تر منزله ورسوله. [د حاضرینو چکچکې]

افغانستانِ امروز، متفاوت از افغانستان دیروز است. افغانستان امروز نوید تولد شهروند نوین را می‌دهد؛ ما دیگر «تبعه» نیستیم و هم تابع کس نیستیم؛ ما همه من‌حیث وطنداران، دارای حقوق و وجایب یکسان می‌باشیم. قانون اساسی ما حکومت را مکلف به تأمین و تحفظ حقوق تمام افغان‌ها می‌کند، مردم افغانستان بر اساس همین مواد قانون اساسی، حکومت پاسخگو و مسؤول می‌خواهند؛ ما مصمم هستیم که پاسخگو باشیم.

بدون شک افغانستان عزیز درگیر مشکلات و مصائب متعدد است؛ اما از سوی دیگر، توسعه امکانات در قرن بیست و یک، مانند رشد سریع تکنالوژی معلوماتی و رسانه‌های اجتماعی،

فرصت‌های بی‌سابقه‌ای را برای توسعه و پیشرفت کشور فراهم کرده است.



موږ د افغانستان د سیاسي پروسې مالکان یوو. دا سیاسي پروسه پر ولسواکۍ ولاړه ده او زموږ د خپلو واقعیتونو ښنداره ده. ولس ژوندی دی او ژوندی ولس یو متحرک او باورمند دولت غواړي او موږ به دا برابر کړو.

د سیاسي پروسې د دوام ترڅنګ، تحول هم زموږ د ولس جدي غوښتنه ده، موږ د ولس دې غوښتنې ته ژمن یوو او د مثبتو ارزښتونو د دوام ترڅنګ د بنسټیز تغییر او بدلون پر اړتیا او د خلکو د خدمت پر اصل ټینګار کوو.

نباید فراموش کرد که ما مدیون وارثین اصلی جهاد هستیم. وارثین اصلی جهاد، مردم افغانستان‌اند. بیوه‌زنان، یتیمان، فقرا و معلولین، وارثین واقعی جهادند. ما همه یکجا باید برای ادای این دَین بزرگ آماده شویم. امروز زمان آن فرا رسیده است که جهاد ما به «جهاد اکبر» برای تأمین صلح، ثبات و رفاه در کشورمان، تبدیل شود. ما باید با انجام جهاد اکبر وسیله‌ی خدمت به هر بیوه‌زن و یتیم معصوم این سرزمین شویم. این مسؤولیت ماست و ما در برابر خداوند(ج) و مردم افغانستان مسؤول هستیم.

موږ د اسلام مبین دین لپاره تر ټولو زیاته قرباني ورکړې او هېڅوک دې دا هڅه نه کوي چې په دې اړه موږ ته درس راکړي.

به آینده باید با امید بنگریم. موقعیت (جغرافیایی)، آب، معادن و ظرفیت انسانی سرزمین ما،

باعث ایجاد تحول بنیادی اقتصادی در آینده خواهد شد. تلاش ما برای این خواهد بود که این توانایی‌های بالقوه را باید به توانایی‌های بالفعل تبدیل نماییم. افغانستان در ۲۵ سال آینده با این توانایی‌ها در یک وضعیت متفاوت قرار خواهد داشت و ان‌شاءالله دوره‌ی طلایی افغانستان بر اساس و تهداب ارزش‌های ۱۳ سال گذشته آغاز خواهد شد.

تهدیدات و چالش‌هایی را که افغانستان در شرایط کنونی با آن مواجه است، نباید دست کم گرفت. برخی کشورهای عربی در حال انفجارند؛ برخی از حلقات می‌خواهند که کشور عزیز ما میدان جنگ دوام‌دار باشد؛ به همین منظور ما موضوع «صلح پایدار» را جدی می‌گیریم.

صلح یکی از ارکان اساسی «ثبات سیاسی» را تشکیل می‌دهد. کشوری که گرفتار ناآرامی بوده و امنیت و مصونیت شهروندان آن به درستی تأمین نباشد، نمی‌تواند به ثبات برسد. به یاد باید داشت، صلحی که سرخط فصل نو برای شروع جنگ همه‌جانبه باشد، مورد قبول نیست. به همین منظور تأکید ما بالای صلح پایدار است، نه صلح مقطعی و کوتاه‌مدت.

«عدالت اجتماعی» تهداب صلح را تشکیل می‌دهد. صلحی که باعث بی‌عدالتی در جامعه شود، مقطعی خواهد بود و نمی‌تواند ما را به ثبات برساند. امروز ما ثابت کردیم که همدیگرپذیر شده‌ایم. این همدیگرپذیری باید ما را در رسیدن به صلح پایدار کمک کند.

تحکیم ثبات و تأمین امنیت بدون ختم حکومت‌های موازی میسر نیست. ما وعده می‌سپاریم که با تشکیل «حکومت وحدت ملی» به تمام حکومت‌های موازی نقطه‌ی پایان خواهیم گذاشت. [د حاضرینو چکچکې]

دولتداري او حکومتداري:

د اساسي قانون پربنسټ دولت پر درېیو قواوو ولاړ او ولسمشر د درې ګونو قواوو په رأس کې دی. زموږ له نظره هم د درې ګونو قواوو ترمنځ د همغږۍ په برخه کې او هم د درې ګونو قواوو په دنده کې بنسټیزو بدلونونو ته اړتیا ده.

اول ـ مقننه قوه: مقننه قوه درې اساسي دندې لري: د خلکو استازیتوب، د حکومت د کړنو نظارت او تقنین. موږ غواړو د اجرائیه او مقننه قواوو ترمنځ د قانوني دندو او صلاحیتونو پربنسټ یو قرارداد رامنځته شي. هر وزیر او هر وزارت باید یو واضح، یو کلن قرارداد ولري چې د هغه پر اساس ملي شورا ته راپور ورکړي.

خواست ما از وکلای محترم در شورای ملی این است که دیگر خواهان ملاقات‌های شخصی با رهبری و مدیریت وزارتخانه‌ها نباشند. [د حاضرینو چکچکې] در عین حال از آنها می‌خواهیم که از ارائه پیشنهاد در مورد تقرر، انفکاک و یا هم تبدیلی، مخصوصاً در دوایر امنیتی ما، اجتناب کنند. [د حاضرینو چکچکې] مردم برای رسانیدن پیام و آوازشان به دولت، نیاز به نمایندگی دارند. برای انجام نمایندگی بهتر و مؤثرتر از موکلین، شیوه‌ی نمایندگی از مردم در شورای ملی، اصلاح و واضح خواهد شد.

بر اساس حکم قانون اساسی، قانون «تشکیلات اساسی (دولت)» هم تسوید و امید است به‌زودی تصویب شود تا راه برای تدوین لویه‌جرگه‌ی تاریخی که ما موافقه داریم باز شود.

بدون شک، مردم افغانستان خواهان حاکمیت قانون هستند و برای تحقق این امر نیاز به آن است که یک اجندای تقنینی برای شورای ملی آماده شود. این کار ما را کمک خواهد کرد که برای تکمیل قانون اساسی، قوانین فرعی را تسوید و تصویب نماییم تا مشکلات موجود در این راستا مرفوع شود. ما مصمم هستیم که برای تقویه‌ی کار مثبت شورای ملی، اقدامات مؤثر و همه‌جانبه نماییم.

دویم ـ قضائیه قوه: عدالت د اسلام د مبین دین اساس دی او قاضیان د عدالت د اجراکولو مسوولیت لري. په قضائیه قوه کې، چې د شریعت او قانون هنداره ګڼل کېږي، باید شفافیت حاکم وي. له بده مرغه، پر قضائیه قوه د فساد تورونه موجود دي. [د حاضرینو چکچکې] په قضائیه قوه کې فساد بد امنۍ ته لاره هواروي. له سترې محکمې په ډېر احترام همدا نن غواړم چې په یوه میاشت کې دننه د مکافاتو او مجازاتو د اصل پر اساس د محاکمو د ټول پرسونل ارزونه وکړي. [د حاضرینو چکچکې] د قاضیانو تعیین، عزل، تقاعد او استعفا منل د ولسمشر صلاحیتونه دي او زه به د مکافاتو او مجازاتو د اصولو په رڼا کې د دې مهم سکتور د اصلاح لپاره له خپلو ټولو صلاحیتونو کار واخلم. [د حاضرینو چکچکې] که غواړو د قانون حاکمیت پلی شي او لوړپوري چارواکي چې په فساد بوخت وي مجازات شي، نو قضائیه قوه باید پاکه او د اعتماد وړ وي.

ټولې ناتکمیل شوې دوسیې باید ژر تر ژره د مدني قانون او جزا د قانون پر اساس بشپړې شي. پر هغو دوسیو به عاجل غور وشي چې برخلیک یې نامعلوم دی. د دې کار لپاره به یوه

باصلاحیته کمېټه توظیف شي. د محاکمو ترڅنګ د څارنوالۍ په اجراآتو کې هم جدي بدلون ته اړتیا ده. [د حاضرینو چکچکې]

د اساسي قانون د ۱۳۴ مادې د حکم پر اساس څارنوالۍ د جرایمو د تحقیق او په محکمه کې پر متهم د دعوې د اقامې دنده لري. څارنوالي باید تر خپلو دندو ورهاخوا قدم کېنږدي. او نورو امورو کې مداخله و نه کړي. [د حاضرینو چکچکې]

سوم ـ قوه اجرائیه: در نظام‌های ریاستی، «ریاست‌جمهوری» نهادِ استراتیژی و پالیسی‌ساز، نظارتی، تصمیم‌گیرنده و مسؤول است. بر مبنای قانون اساسی ریاستِ جمهوری دارای صلاحیت‌های مشخص است. قوه اجرائیه بازوی اجرایی وظایف رئیس‌جمهور است. تجارب بین‌المللی نشان می‌دهد که مؤثریت دولت در نظام ریاستی به نهادینه شدن صلاحیت‌های ریاستِ جمهوری در چوکات یک «نهاد» تعلق دارد تا از طریق آن صلاحیت‌های فردی رئیس‌جمهور به نهاد ریاست‌جمهوری انتقال یابد. این کار، امکان آن را فراهم می‌کند که رئیس‌جمهور به مردم پاسخگو باشد.

بر اساس یک پالیسی منظم و سریع، وظایف ادارات حکومتی مشخص خواهد شد و تداخل کاری بین وزارتخانه‌ها و سایر ادارات رفع خواهد گردید. این اقدام در عین حال موجب آن خواهد شد که ادارات مستقل و موازی، دوباره در چارچوب وزارتخانه‌ها به صورت اساسی جذب گردند. جناب حامد کرزی فرمودند که اداره‌ی افغانستان شکل یک «پوستین پیوندی» را به خود گرفته است[۱]؛ ضرورت است که طبق بررسی‌ای که جناب ایشان انجام داده بودند، ما اقدامات همه‌جانبه کنیم که دارای لباس موزون به خود باشیم. [د حاضرینو چکچکې]

حکومتداری خوب در یک رابطه‌ی شفاف و بر مبنای یک قرارداد قانونمند با سکتورهای خصوصی، نهادهای مدنی و عامه‌ی مردم بیشترین نقش خود را در نظارت بر ارائه خدمات معطوف می‌سازد، نه آن طور متمرکز که همه‌ی خدمات را در انحصار خود داشته باشد. برای تحقق این هدف قانون کابینه و قانون اجرائات و وظایف هر وزارت در اولین فرصت مجدداً بازنگری و تصویب خواهد شد. برای ایجاد حکومتداری خوب و فرهنگ حسابدهی، هر وزارت یک تعهد سه‌جانبه‌ی قانونمند را طرح و عملی خواهد ساخت؛ تعهد بین وزارت با شورای ملی، رئیس اجرایی، ریاست‌جمهوری و مردم. این قراردادها معیار مکافات و

[۱] پخواني جمهوررئیس، حامد کرزي، د جمهوررئیس غني د لوړې په مراسمو کې وینا وکړه.

مجازات وزرا و وزارتخانه‌ها خواهد بود. در اینجا تأکیداً می‌خواهم بگویم که ما فساد اداری را در ادارات کشور تحمل نخواهیم کرد [د حاضرینو چکچکې] و برای دفع علل پدیده‌ی شوم فساد، اقدامات همه‌جانبه خواهیم نمود.

در مورد حکومتداری محلی باید گفت که ولایت، ولسوالی، و شاروالی حیثیت حکمی خواهند داشت. در عین حال دارای صلاحیت‌ها و مسؤولیت‌های مشخص خواهند بود. ما تعهد داریم که بودجه ملی را رأساً به ولایت‌ها انتقال بدهیم. [د حاضرینو چکچکې]

برای تأمین عدالت اجتماعی و تضمین مشارکت مردم در سطح قریه‌جات، ولسوالی‌ها، شاروالی‌ها و ولایات برنامه‌های خاص، طرح و عملی خواهند شد.

تأمین ارتباط منظم و هماهنگی بین دوایر مرکزی و دوایر ولایتی در سطح ولایت، شاروالی، ولسوالی و قریه یکی از نیازمندی‌های اساسی است که در حکومت وحدت ملی به آن توجه جدی صورت خواهد گرفت.

قابل ذکر است که تمام ولایات افغانستان از اهمیت خاص برخوردار و تمام شهروندان افغانستان، مردم درجه یک هستند. [د حاضرینو چکچکې] در این کشور عظیم ما، شهروند درجه دو و یا سه وجود ندارد. [د حاضرینو چکچکې] بر همین ملحوظ «انکشاف متوازن» یک امر حتمی است و اصل شیوه‌ی حکومتداری ما را تشکیل می‌دهد. خوشبختانه که منابع طبیعی در تمام ولایات نسبتاً به طور مساویانه وجود دارد و بر این اساس انکشاف متوازن سد راه توسعه اقتصادی نخواهد بود.

متوازن انکشاف یوه حتمي اړتیا او زموږ د حکومت مهمه او اساسي دنده ده. له نیکه مرغه د افغانستان طبیعي سرچینې په ټول هېواد کې په نسبتاً مساویانه شکل تیت او تقسیم دي، چې دا حالت په بالقوه توگه د هېواد په متوازن انکشاف کې مرسته کوي. د حکومت بله اساسي دنده د موثرې دولتدارۍ او حکومتدارۍ رامنځته کول دي. موثره دولتداري او حکومتوالي د افغانستان د خلکو مسلم حق دی او باید تر لاسه یې کړي. خلک تر دې زیات فساد نشي زغملای. [د حاضرینو چکچکې]

زه او د دولت ټول اراکین به د فساد پر وړاندې مقابله له خپل ځانه پیلوو، زه کومه سیاسي کورنۍ نه لرم، که چا زما د ورورۍ او خپلوۍ ادعا وکړه او د دولت کوم مامور ته یې په سپکه

وکتل ورته د قانون پر اساس جزا ورکړئ. [د حاضرينو چکچکې]

د موثرې حکومتدارۍ له لارې به وکړای شو خپلو سترو ملي معضلاتو، لکه د مهاجرينو او کډوالو، داخلي بې ځايه شويو، بېوزلو، معلولينو، معيوبينو، کوچيانو او ځايي ستونزو ته د پای ټکی کېږدو. موږ لا هم پنځه ميليونه مهاجرين لرو او تر څو چې د وطن دا بچي د باندې دي، زموږ وجود تکميل نه دی. [د حاضرينو چکچکې] د «بې ځايه شوي» کلمه بايد زموږ له قاموس څخه لرې شي. [د حاضرينو چکچکې]

په افغانستان کې ځوانان، ښځې او بېوزله وګړي، درې عددي اکثريتونه دي چې د استازيتوب له لحاظه په اقليت بدل شوي دي. زموږ هڅه به دا وي چې دا درې عددي اکثريتونه د سياسي، ټولنيز او اقتصادي چارو متن او محور ته راولو. [د حاضرينو چکچکې]

ځوانان او مېرمنې به په حکومت کې ان‌شاءالله تعالی په پراخه پيمانه ګډون وکړي. [د حاضرينو چکچکې]

در اینجا لازم می‌دانم که از شریک حیاتم [مکث] و همسر گرامی خود «بی‌بی گل» برای حمایت همیشگی از من و افغانستان تشکر کنم. [د حاضرينو چکچکې] بی‌بی‌گل همیشه از بیجاشدگان داخلی، زنان و اطفال افغان حمایت کرده و مطمئنم که به این کارش به صورت رضاکار در آینده هم دوام خواهد داد. [د حاضرينو چکچکې]

هدف ما فقرزدایی، ایجاد کار برای همه به‌خصوص جوانان و زنان، و مسکن‌سازی است. در این راستا اقدامات جدی و پی‌گیر را انجام خواهیم داد.

چهارم ـ مثلث ثبات: اقتصاد، امنیت و قوای بشری با هم به شکلی ارتباط دارند که سه ضلع مثلث را برای تأمین ثبات می‌سازند.

امنیت با استفاده از زور و قوت تأمین می‌شود؛ اما ثبات، از مشروعیت، قبولیت و مشارکت مردم شکل می‌گیرد؛ به شکلی که جلالت‌مآب حامد کرزی در عمل تثبیت کرد.

تا به حال «امنیت» زیادتر به مفهوم و معنای مصونیت فزیکی افراد استفاده شده است؛ اما در بحث امنیت، عمده‌ترین مسأله مصونیت بشری و یا همان امنیت انسانی است. بدون توسعه اقتصادی و سرمایه‌گذاری بالای قوه بشری، نمی‌توان به مصونیت بشری دست یافت.

ما افغان‌ها زمانی که از اقتدار ملی و یا همان حاکمیت ملی صحبت می‌کنیم، به این مفاهیم خیلی ارزش می‌دهیم و این مسایل برای ما اهمیت زیاد و حیاتی دارد؛ اما باید متوجه بود که رسیدن به اقتدار ملی و تضمین حاکمیت ملی تا زمانی که از لحاظ اقتصادی وابسته باشیم، کاری بس دشوار است. ما اکنون صاحب اقتصاد مصرفیِ استوار بر واردات و متکی به کمک‌های خارجی هستیم. هدف اساسی ما این است که اقتصاد تولیدی، پویا و استوار بر صادرات را اساس‌گذاری کنیم تا زمینه رفاه مردم و تحکیم اقتدار ملی را فراهم سازیم. [د حاضرینو چکچکې]

افغان‌ها طبیعتاً متشبث‌اند اما برای تبدیل نمودن ظرفیت بالقوه به ظرفیت بالفعل نیاز به طرح و تطبیق برنامه‌های همه‌جانبه برای انکشاف قوای بشری وجود دارد. بدون رشد و انکشاف قوای بشری، توسعه اقتصادی غیرممکن است. نسل نو افغانستان باید صاحب مهارت و مسلک بر اساس معیارهای قرن بیست و یکم شود تا دختران و پسران ما بتوانند در سطح منطقه و جهان رقابت کنند. این امر ما را کمک می‌کند تا به کشور صادرکننده‌ی مهارت، مسلک و خدمات تبدیل شویم و از صادر کردن کارگران غیرماهر نجات یابیم و از مهاجرت‌های اقتصادی جلوگیری کنیم. تعداد زیادی از جوانان ما که به شکل کارگر غیرمسلکی و برای یافتن کار کشور را ترک می‌کنند، یا در راه‌ها کشته و یا در آب‌ها غرق می‌شوند. این یک معضله‌ی اساسی است و ما برای حل آن برنامه‌های مشخص را جهت توسعه مهارت‌های مسلکی طرح و عملی خواهیم کرد.

عزت هر افغان در آبادی یک افغانستان واحد و متحد است. [د حاضرینو چکچکې]

باور ما این است که موقعیت جغرافیایی افغانستان می‌تواند این سرزمین را به یک کشور ترانزیتی و خدماتی تبدیل سازد؛ معادن می‌تواند افغانستان را به یک کشور صنعتی مبدل کند؛ و آب و زمینِ ما، می‌تواند ما را به یک کشور زراعتی فعال بدل کند.

ما باید پول موجود در کشور را به «سرمایه» مبدل کنیم؛ توسعه اقتصادی نیازمند یک پیمان همه‌جانبه بین دولت و سکتور خصوصی می‌باشد. ما مصمم هستیم که چنین پیمانی را در زودترین فرصت ایجاد کنیم؛ پول هر افغان باید به سرمایه مصون وی و قوه متحرک کاریابی و توسعه مبدل گردد.

ما اراده قوی داریم که موانع مقابل سرمایه‌گذاری را از بین ببریم. در عین زمان خواهان آن هستیم که سکتور خصوصی از رشوت به حیث وسیله رقابت غیرسالم دست بردارد. [د حاضرینو چکچکې] رشوت‌دهنده و رشوت‌گیرنده، هر دو عامل شرّ و فسادند و با ایشان برخورد جدی و قانونی صورت خواهد گرفت. [د حاضرینو چکچکې]

زموږ امنیت به هغه وخت تامینېږي چې د ځواک مشروع استعمال په دولت پورې منحصر وي او د ځواک استعمال یوازې د قانون د حکم پر اساس او د قانون د حاکمیت د ټینګښت لپاره وي. پر همدې بنا، زموږ عزم او هدف دی چې نور به په افغانستان کې د ناقانونه وسله‌والو ډلو له خوا د قوې نامشروع استفادې ته د پای ټکی کېږدو.

زه د افغانستان د وسله‌والو ځواکونو د اعلی سرقوماندان په توګه د افغانستان د اتلو وسله‌والو ځواکونو د ځان، حیثیت او سلامتۍ مسوول یم. زه د ملي اردو، ملي پولیسو او ملي امنیت د بې‌دریغه قربانیو قدرداني کوم او ژمنه کوم چې د دې بنسټونو د تقویې او لا مسلکیتوب لپاره به له هېڅ ډول هڅو مخه ونه ګرځوم.

د وسله‌والو ځواکونو سرتېري، افسران او ټول اراکین دې ډاډه وي چې ضوابط به ان‌شاءالله تعالی پر روابطو حاکم کېږي او د مکافاتو او مجازاتو فرهنګ به عام شي. [د حاضرینو چکچکې]

د وسله‌والو ځواکونو فعالیتونه به هغه وخت موثر وي چې د ولس د خلکو په زړونو کې لار پیدا کړي. ګولۍ د خلکو په زړه کې لار نه پیدا کوي؛ د هغوی محافظت د خلکو په زړه کې لاره پیدا کوي. [د حاضرینو چکچکې]

د بُن د پروسې[۱] له پیل څخه تر اوسه پورې، نړیوالو ځواکونو د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د پریکړې په چوکاټ کې په افغانستان کې فعالیت کاوه. د امنیتي انتقال د پروسې له بشپړېدو او د نویو امنیتي تړونونو لاسلیکېدو وروسته، د قوې مشروع استعمال صلاحیت به یوازې او یوازې د افغانستان دولت سره وي او د دې لاسته‌راوړنو له امله جناب حامد کرزي ته مبارکي وایم. [د حاضرینو چکچکې]

اوس موږ د خپلې خاورې د ساتلو بالفعل وړتیا لرو؛ خو د وسله‌والو ځواکونو ترمنځ په ټولو

[۱] ۱٤ تله ۱۳۸۰ لمریز (۲۷ نومبر ۲۰۰۱ ز).

سطحو کې لا زیاتې همغږۍ ته اړتیا لیدل کېږي.

موږ به د هېواد په هر ګوټ کې که هغه هلمند وي که کندز، غزني، کونړ، پکتیکا یا کوم بل ناارام ولایت وي؛ د خپلو اتباعو د ځان، مال او عزت د ساتنې لپاره قاطعانه عمل وکړو.

نیاز به تفکیک واضح وظایف پولیس ملی و اردوی ملی وجود دارد و ما برای وضاحت این امر اقدامات لازم را انجام خواهیم داد.

ما مسؤولیت داریم که برای نیروهای امنیتی ما شرایط خوب زندگی را فراهم کنیم؛ به خانواده‌های شهدا رسیدگی نماییم و به زخمی‌ها توجه هر چه بیشتر داشته باشیم. نیروهای امنیتی افغانستان خدمتگار تمام مردم کشورند، به همین دلیل می‌خواهم از تمام جوانان کشور تقاضا کنم که از نیروهای امنیتی کشورشان حمایت کنند و هم به صفوف آنها برای حفاظت از کشور، نوامیس ملی و حاکمیت قانون بپیوندند.

کسانی که امروز در صفوف قوای مسلح قرار دارند، حافظین کشور و افتخار همه مردم افغانستان می‌باشند و من به آنها می‌بالم. زه پر قومي مشرانو، مدني ټولنې په تېره بیا په دیني علماوو غږ کوم، چې په هېواد کې د امنیت او ثبات د ټینګښت لپاره لاس په کار شي.

امنیت د افغانستان د ټولو خلکو غوښتنه ده او د امنیت د تامین لپاره یې باید ټول وګړي یو بل ته د همکارۍ لاس ورکړي.

د اسلام مبین دین، تفرقه؛ شر او ناروا ګڼلې ده. دیني علما د پیغمبر (ص) د وارثینو په توګه په دې برخه کې تر ټولو مهم نقش تر سره کولای شي. دا زما او د افغانستان د خلکو غوښتنه ده، چې له هر جومات او مدرسې څخه باید د سولې او ثبات ناره را پورته شي.

د امنیت د تامین لپاره د خلکو او وسله‌والو ځواکونو ترمنځ دوه طرفه قرارداد او تړون ته اړتیا ده.

د هېواد ښځې له جګړې سترې دي او د جګړې تر ټولو ستر قیمت ادا کوي. د سولې او بیارغاونې په برخه کې د ښځو د ونډې د تامینولو لپاره د ښځو اړتیا ته توجه لازمه ده او د دې کار لپاره د حساب‌ورکولو دوه اړخیزه قرارداد او تړون ته اړتیا ده.

موږ له جګړې ستړي یوو، زموږ پیغام د سولې پیغام دی؛ خو زموږ دا پیغام دې، زموږ کمزورتیا نه ګڼل کېږي. هغه وګړي چې په جګړه، زور ازمویلو او زموږ د اطفالو او بې‌ګناه وګړو په وژلو تکیه کوي؛ په‌دې دې وپوهېږي چې موږ به د افغانستان د خلکو ساتنې لپاره له هرې ممکنې مشروع وسیلې نه کار واخلو.

جګړه د سیاسي اختلافاتو د حل لار نه ده، موږ ثابته کړه چې سیاسي اختلافات له سیاسي لارې حل کېدای شي. په همدې دلیل د دولت له مخالفینو خاصتاً طالبانو او حزب اسلامي نه غوښتنه لرم، چې سیاسي مذاکراتو ته حاضر شي. هر هغه څوک چې ځان ته افغان وایي او افغانستان د افغانانو لپاره غواړي؛ خپله ستونزه دې ووایي، چې موږ یې حل ورته ولټوو. [د حاضرینو چکچکې]

هغه وګړي چې د نورو د ګټو لپاره زموږ هېواد د جګړې په ډګر بدلوي؛ له نرخ نه وتلي دي او له کلي دباندې پاتې دي. خلک وایي، له کلي ووځه له نرخه مه وځه. دوی له نرخه او کلي؛ دواړو وتلي دي.

ټول کلي او ولسونو باید پرېکړه وکړي چې نور دې دا رقم اعمالو ته ځای او حوصله نه ورکوي؛ اما له هر کلي غوښتنه ده چې د سولې اواز جګ کړي او نور په‌خپل غېږ کې ونیسي.

علما، قومي مشران او ځوانان باید دوی ته نصیحت وکړي او که په نصیحت نه کېږي؛ پرېکون او مقاطعه دې وکړي.

د بد امنۍ یو عامل په امنیتي ځواکونو کې فساد او له دندې او دولتي امکاناتو نه ناوړه استفاده ده. له دندې ناوړه استفاده جرم دی او مجرم ته باید د قانون مطابق جزا ورکړل شي. [د حاضرینو چکچکې]

پر لویو لارو، شوکې او لارې نیونې باید پای ته ورسېږي. د حرکت حق د افغانستان د وګړو مسلم حق دی او هېڅا ته به د خلکو د دې حق د سلبولو اجازه ور نه‌کړو.

پنجم ـ سیاست خارجی: مشکل افغانستان ابعاد خارجی دارد؛ به همین ملحوظ سیاست خارجی برای ما نقش حیاتی دارد.

افغانستان نقطه‌ی تقاطع جریان‌های مثبت و منفی بین‌المللی است. به همین اساس ثبات و رفاه افغانستان به ثبات دنیا گره خورده است و از طرف دیگر پدیده‌های منفی در دنیا بالای

ما تأثيرات منفی داشته است.

استفاده و قاچاق مواد مخدره یک مشکل جهانی است، مانند اقتصاد مافیایی بین‌المللی که با قاچاق و فروش مواد مخدر ملیاردها دالر را برای حمایت و تمویل عناصر فاسد در کشورهای مختلف به مصرف می‌رساند. همچنین حرکت‌های نهیلیستی[۱] و متمرّد که در برخی از کشورهای اسلامی و عربی در حال رشدند، تأثیرات منفی بالای کشور ما هم داشته و باعث تقویت عین حرکت‌ها در داخل افغانستان نیز شده است.

برای انسجام و مدیریت سیاست خارجی که منتج به ثبات و رفاه کشور شود، ضرورت داریم که پنج حلقه ارتباط خود را در سطح منطقه و جهان مشخص کنیم که برای هر بخش طرح‌های معین و اقدامات همه‌جانبه خواهیم داشت.

دې برخه کې خان صیب اڅکزي[۲] نه، شېرپاو[۳] صیب نه، اسفندیار خان ولي[٤] نه، زموږ له ګرانو او قدرمنو ورونو څخه مننه کوم چې تشریف مو راوړی، خپل کور ته همېشه ښه راغلاست. [د حاضرینو چکچکې]

حلقه اول؛ کشورهای همسایه: ثبات کشور ما به هر کدام از کشورهای همسایه ما به شکل زنجیری ارتباط دارد. همان‌گونه که بی‌ثباتی در کشور ما خطر برای همسایه‌هاست، بی‌ثباتی در هر یک از این کشورها خطر برای ثبات ما نیز است. بنابراین با این کشورها سهم‌دار و شریک خوب در زمینه تأمین ثبات در سطح منطقه خواهیم بود. این دیدگاه کلی، اساس پالیسی جناب حامد کرزی را تشکیل داده بود و ما آن را دوام و توسعه خواهیم داد.

کوشش همه‌جانبه ما این خواهد بود که در قدم نخست با تمام کشورهای همسایه خود، بر یک پیمان همکاری منطقه‌یی برای ایجاد صلح، ثبات، امنیت و انکشاف اقتصادی به نتیجه برسیم. اساس این پیمان همکاری منطقه‌یی را پذیرش مشروعیت هر دولت از طرف دولت

---

[۱] Nihilism: هغه فلسفي لیدلوری چې د یوه نظام لپاره د یوه عیني بنسټ په توګه د بشر ارزښت ردوي. دغه فکر معمولاً له ژورې بدبینۍ او راډیکالې شک جوړونې سره نږدې اړیکې لري.

[۲] محمود خان اڅکزی: د خیبر پښتونخوا ملي عوامي ګوند مشر.

[۳] آفتاب احمدخان شېرپاو: د پاکستان د خلکو ګوند غړی.

[٤] اسفندیار ولي خان: د پاکستان ملي عوامي ګوند مشر.

دیگر تشکیل خواهد داد. هیچ دولت حق مداخله در امور داخلی دولت همجوار خود را نخواهد داشت و تمام مشکلات در روابط دو طرف از طریق مذاکره سیاسی و همکاری بین دولت‌ها حل خواهد شد.

در عین حال می‌خواهم که اطمینان بدهم ـ قسمی که جناب کرزی اطمینان داده بودند ـ از خاک افغانستان بر ضد هیچ کشوری استفاده نخواهد شد و از همسایه‌های خویش نیز عین توقع و انتظار را داریم. [د حاضرینو چکچکې]

حلقه دوم؛ کشورهای اسلامی: این، حلقه مهمی در سیاست خارجی ما خواهد بود. از خادم الحرمین شریفین و تمام بزرگان ممالک عربی و خانواده‌های سلطنتی که در این جا تشریف آورده‌اند ابراز امتنان می‌کنیم؛ امید داریم که در ایجاد صلح پایدار و پیشرفت اقتصادی افغانستان، نزدیک‌ترین همکاران ما گردند. اولین سفر من طبق وعده برای ادای عمره خواهد بود.

باورهای دین مبین اسلام به شکلی در جامعه ما موجود است که هیچ بخش از وجود ما نیست که در فرهنگ اسلامی ما بر آن حاکم نباشد. به همین اساس روابط ما با کشورهای اسلامی عمیق، همه‌جانبه و مؤثر خواهد بود.

از مهمانانی که از عربستان سعودی، قطر و کویت تشریف آورده‌اند، ابراز امتنان می‌کنم.

حلقه سوم؛ اروپا، امریکا، کانادا و جاپان: با تغییر در تعریف مناسبات ما با جامعه جهانی به مرحله جدیدی وارد می‌شویم که عبارت از ارتباط دولت با یک دولت دیگر بر اساس مساوات متقابل دولت‌ها است.

افغانستان به حیث یک دولت با دولت امریکا و سایر دولت‌های عضو ناتو و جاپان، و ممالک عضو اتحادیه اروپا داخل رابطه می‌شود. به این ترتیب دولت ما از یک دولت ناکام که برای جامعه بین‌المللی، سیزده سال پیش نقطه‌ی خطر تلقی شد و با استناد به آن استعمال قوه را در چارچوب فیصله شورای امنیت ملل متحد جایز دانستند، به حیث یک دولت دارای حقوق و وجایب بین‌المللی وارد صحنه می‌گردد.

این تغییر موقعیت، یکی از دستاوردهای دهه گذشته بوده و حکومت وحدت ملی با استناد به این دستاورد مناسبات خود را با حلقه سوم تعیین می‌کند.

صلح، هدف استراتیژیک ما است. بنابراین تحکیم مناسبات ما با جامعه جهانی کمک خواهد کرد که یک طرح سیاسی را برای تأمین صلح و ثبات پایدار به وجود آوریم.

ما با جامعه جهانی منافع مشترکی داریم و از کمک‌های سخاوتمندانه آنها در این سال‌ها ابراز امتنان می‌کنیم. ما با جامعه جهانی بر اساس منافع مشترک برای از بین بردن خطرات جهانی، قربانی‌های مشترک دادیم.

نیروهای امنیتی ما حاضرند مسؤولیت امنیت کشور و مردم را به عهده بگیرند اما به حمایت جامعه جهانی در قسمت تجهیز، آموزش و تسلیح نیروهای امنیتی خود نیاز داریم. امید است که تعهدات جامعه جهانی در این باره به زودترین فرصت جامه‌ی عمل بپوشد. ما از کمک‌های جهانی به طور قانونمند و شفاف برای «نهادسازی» و تقویت نیروهای امنیتی استفاده خواهیم کرد.

می‌خواهم امروز اعلام نمایم که تعهد ما به شفافیت و مؤثریت کمک‌های خارجی، بالاتر از توقع و خواهش جامعه جهانی خواهد بود. ما بر تعهد خویش برای از بین بردن فساد ایستاده‌ایم و از این تعهد عدول نخواهیم کرد، چون خواست مردم افغانستان ایجاد دولت شفاف و حسابده است. امید داریم که کمک‌دهنده‌های جهانی ما هم، کمک‌های خود را مؤثر و شفاف بسازند. [د حاضرینو چکچکې]

تجربه جهانی نشان داده که بهترین راه کمک، کمک از راه بودجه دولت است؛ امید است که این تقاضای مکرر مردم افغانستان، (از سوی جامعه جهانی) این بار جامه‌ی عمل بپوشد.

حلقه چهارم؛ کشورهای آسیایی: از لحاظ اقتصادی، آسیا شاهد یک تغییر تاریخی بزرگ است. در بیست و پنج سال آینده آسیا به بزرگ‌ترین قدرت اقتصادی جهان تبدیل خواهد شد. همسایگی ما با چین و نزدیکی ما با هندوستان و روابط نزدیک ما با خلیج و همسایگان ما، باعث یک تغییر کلی در وضعیت اقتصاد در سطح آسیا خواهد شد.

افغانستان «قلب آسیا» است، ما افغانستان را به چهارراهی آسیا و پل زمینی برای ارتباط منطقه مبدل خواهیم کرد. در حالی که ما شاهد پیشرفت‌های غیر قابل تصور در برخی از کشورهای آسیایی هستیم؛ اما آسیا هنوز هم یکی از مراکز عمده فقر جهانی است. تلاش ما آن است که بتوانیم به ایجاد یک «اجماع» قاره‌یی برای فقرزدایی در آسیا برسیم.

حلقه پنجم؛ نهادهای بزرگ جهانی: دایره پنجم در سیاست خارجی ما مربوط به نهادهای بزرگ انکشافی جهان و سرمایه‌گذاران بزرگ خصوصی است؛ سازمان ملل متحد، بانک جهانی، بانک آسیایی، صندوق بین‌المللی پول، اتحادیه اروپا و نهادهای کمک‌کننده خارجی و سایر نهادهای بین‌المللی شامل این حلقه می‌شوند.

هدف ما این است که از کمک‌ها به طور مؤثر استفاده نماییم تا زمینه را برای جلب سرمایه‌گذاری بزرگ در کشور فراهم سازیم. تجارب بین‌المللی نشان می‌دهد، کشورهایی که استراتیژی واضح، اراده قوی سیاسی و مدیریت فعال و مؤثر دارند، می‌توانند از کمک‌های بین‌المللی و سرمایه‌گذاری استفاده درست و مؤثر، جهت توسعه اقتصادی و تحکیم ثبات نمایند. ما نیت، اراده و برنامه‌های واضح برای ایجاد تغییر، اصلاحات و تحول پایدار در کشور عزیزمان داریم.

افغانستان باثبات و مرفه، به نفع این هر پنج حلقه است. به همین سبب می‌خواهم افغانستان مرکز همکاری‌های این پنج حلقه باشد تا در عرصه همکاری‌های خارجی افغانستان به یک نمونه بدل شود.

شپږم ـ تحول او اصلاحات: د انتخاباتو له هر اړخیزو بحثونو دا ثابته شوې چې د ولس مطلق اکثریت تحول او اصلاحات غواړي. خبره د ولې نه‌ده؛ خبره د څنګه ده. دا چې ولس اصلاحات غواړي، د اصلاحاتو په تطبیق کې د ولس ګډون حتمي دی. زه د حضرت ابوبکر صدیق(رض) او اصحاب کرامو د سنتو په پیروي تاسې، خپل ځان او هر افغان مسوول ګڼم، زه د ټولو افغانانو ولسمشر او خادم یم او هر افغان ته ځان مسوول بولم. [د حاضرینو چکچکې]

همدارنګه جناب ډاکتر صاحب عبدالله لکه ما غوندې هر افغان ته ځان مسوول بولي [د حاضرینو چکچکې] او موږ به په ګډه ټولو افغانانو ته مسوول و اوسو او د افغانانو پیرزوینې به ان‌شاءالله تعالی په ځای کړو.

زموږ په نزد د قانون او دولت پر وړاندې هیڅ افغان تر بل افغان لوړ یا ټیټ، کم یا زیات نه دی. دا زما او د دولت د ټولو اراکینو وجیبه ده، چې د بیت‌المال هره افغانۍ د ولس د سوکالۍ لپاره وکاروي. که غواړو چې په اساسي قانون کې درج شوي حقوق مو ریښتیا عملي شي دا لازمه ده چې خپل فردي، ټولنیز او ملي وجایب وپېژنو. زموږ وجیبه دا ده چې هر یو ځان د

دې خاورې ښښتن وګڼو او دا ومنو چې د وطن، عزت، حیثیت او سرلوړي مو د یوه بل په عزت، حیثیت او سرلوړۍ پورې تړلې ده. راشئ دا وطن سمسور کړو چې لمسیان او کړوسیان مو په خیر یاد کړي او د قیامت په ورځ د خدای په حضور کې د خپلو اعمالو ځواب وشو ویلای.

د افغانستان خلک همدې ته لاس په دعا دي چې موږ له جګړې، وینې تویېدنې او بې‌ثباتې څخه سولې، ثبات او سوکالۍ ته ورسېږو. امید دی چې نور به خدای تعالی زموږ ستاسې د دې ستر، خو دردمن او ځورېدلي ملت زارۍ اورېدلې وي.

خدای تعالی دې نور زموږ ملت ته د فکر او عمل وحدت او مطابقت ورکړي چې دا وطن هوسا، اباد او سرلوړی وي.

تل دې وي افغانستان! پاینده باد افغانستان!



# له امریکا او ناټو سازمان سره د افغانستان د امنیتي هوکړه‌لیکونو د لاسلیک مراسم

کابل | ۸ تله ۱۳۹۳ | ۳۰ سپټمبر ۲۰۱۴



## اړوند سکتورونه:

**امنیت ـ حکومتوالي**

## د وینا عمده محورونه:

- **له امریکا او ناټو سره د افغانستان د امنیتي هوکړه‌لیکونو د لاسلیک پایلې**
- **د هوکړه‌لیکونو په لاسلیک کې ګاونډیانو ته د خطر نشتوالی**

## غورچاڼ:

له امریکا متحده ایالتونو او ناټو سره د افغانستان د امنیتي هوکړه‌لیکونو لاسلیک، له نړۍ سره د افغانستان اړیکې نوي څپرکي ته دننه کړې او هېواد یې د یوه خپلواک دولت خاوند کړ. دغو هوکړه‌لیکونو د افغانستان ملي حاکمیت ته ارزښت ورکړ او افغانستان ته یې د قوې د استعمال حق ورکړ. د هغو لاسلیک هوساینې او ثبات ته د افغانستان د رسېدو لپاره و او له افغانستان سره مرسته کوي، چې د شبکو له لوري د رامنځته کېدونکو ګواښونو پر وړاندې دفاع وکړای شي. د دغه ډول هوکړه‌لیکونو لاسلیک ګاونډیانو ته ګواښ نه پېښوي، ځکه د افغانستان ملي حاکمیت په‌کې په پام کې نیول شوی دی.

## د جمهوررئیس غني وینا:

بسم الله الرحمن الرحیم.

بزرگان مملکت، خواهرها و برادرهای عزیز!

امروز، روزی است که افغانستان «حاکمیت ملی» خود را به صورت اساسی به دست می‌آورد. تا امروز استفاده از قوه از طرف همکارهای بین‌المللی ما در خاک ما، بر اساس فیصله‌نامه شورای امنیت ملل متحد صورت می‌گرفت که بعد از حادثه سپتمبر ۲۰۰۱ شکل گرفته بود. امروز ما شاهد مساوات دولت افغانستان با دولت‌های همکار خود در دنیا هستیم؛ به صورت یک دولت مستقل بر اساس برداشت از منافع ملی خود، (امضای) قراردادی را که برای ثبات، خیر و رفاه مردم ما، برای ثبات منطقه و ثبات دنیاست، انجام دادیم. مبارک باشد!

بر اساس این قرارداد، بعد از این کمک‌های بین‌المللی برای تقویه نهادهای افغان است؛ حق استعمال قوه تنها بر اساس فیصله‌های دولت افغانستان صورت می‌گیرد؛ و کمک‌های بین‌المللی تا حد ممکن از راه بودجه‌ی ما صورت می‌گیرد، به شرط این که ما اصلاحات بنیادی را در مصرف، عملی کنیم و شفافیتی را که ملت ما می‌خواهد، انجام بدهیم؛ فضای ما زیر کنترول خود ما می‌باشد، هر کسی که به افغانستان می‌آید بر اساس یک نظام قبول‌شده‌ی ویزه، به خاک ما خواهد آمد؛ قراردادی‌های بین‌المللی تحت قوانین مشخص ما اقدامات خود را انجام خواهند داد؛ قوای بین‌المللی به هیچ یک از اماکن مقدس ما، مثل مساجد ما، نمی‌توانند داخل شوند؛ حریم زندگی ما یعنی خانه‌های ما و مساکن ما طبق ارزش‌های قانون اساسی محفوظ خواهد بود؛ همچنین قراردادی‌های ما که از قراردادی‌های بین‌المللی قرارداد می‌گیرند، دارای حقوق مشخص و واضح خواهند بود. بدین جهت [امضای موافقت‌نامه] یک نقطه‌ی بنیادی تحول در مناسبات ما با دنیاست.

علاوه بر این ما به موافقه رسیدیم که بر اساس موافقت‌نامه‌ای که امروز ما شرف امضایش را داشتیم، در ساحه‌های اقتصادی به همکاری همه‌جانبه بپردازیم. این (موافقت‌نامه) ساحه زراعت، معادن، ترانسپورت، ساختمان و مخصوصاً تقویه‌ی شرکت‌های کوچک و متوسط را در بر خواهد گرفت. برای شیوه‌ی عملی این (موافقت‌نامه)، ما به سطح وزرا کمیسیون‌هایی خواهیم داشت و به سطح رؤسای جمهور، سالانه جلسه‌های تعقیبی خواهیم داشت.

من می‌خواهم به نمایندگی از مردم افغانستان، امروز از تشریف‌آوری‌شان ابراز امتنان کنم و از این جهت بود که من شرف این را داشتم که مدال امیر امان‌الله خان را که عالی‌ترین مدال ملکی افغانستان است، خدمت‌شان ارائه کنم.

[د جمهوررئیس اردوغان ته خطاب:] تشکر از نقش رهبری که در جهان اسلام، در ترکیه، در شرق میانه و به سطح بین‌المللی ایفا کردید! تشکر از دوستی‌تان با دولت و مردم افغانستان! اجازه بدهید که سلام‌های بسیار گرم جلالت‌مآب حامد کرزی رئیس‌جمهور (سابق) ما که بار اول توانست قدرت را بر اساس آرای مردم از یک رئیس‌جمهور منتخب به رئیس‌جمهور منتخب دیگر انتقال بدهد، خدمت شما اظهار کنم. آنها هم شما را دوست دایمی افغانستان می‌دانند و من شیوه‌ای را که ایشان آغاز کردند، دوام خواهم داد.

من الله التوفیق.

ژباړه

# په شينهوا پوهنتون کې د جمهوررئيس محمد اشرف غني وينا[1]

بيجنګ ـ چين | ۷ لړم ۱۳۹۳ | ۲۹ اکتوبر ۲۰۱۴




## اړوند سکتورونه:

**بهرنی سياست ـ اقتصاد**

## د وينا عمده محورونه:

- **د ابرېښمو لار**
- **سيمه‌ييزه همپالنه او د هغه خنډونه**
- **د ابرېښمو لار او نړيوالتوب**
- **د آسيا په زړه کې د افغانستان رول**

## غورچاڼ:

اقتصادي، سياسي او فرهنګي همپالنې، په اروپا کې بيا ځلي جګړه غير ممکنه کړه؛ خو د آسيا اوږده جګړه لا هم دوام لري. په راتلونکو پنځوسو کلونو کې په قاره‌يي همپالنې تمرکز کولای شي په آسيا کې قاره‌يي اقتصاد رامنځته کړي. ددې همپالنې پر وړاندې ۷ خنډونه شته دي. په همپالنې کې د سويلي آسيا کمزوري؛ په آسيا کې د انرژۍ يو ځای کولو مارکېټ نشتوالی؛ پراخو زېربناوو ته د چين، هند او روسيې اړتيا؛ کافي اومه توکو ته د چين نه لاسرسی؛ د خلکو د مالکيت په حقونو کې محدوديت؛ د چاپېريال ساتنې ستونزو حل ته کمه لېوالتيا؛ او ښاري کېدو ته د خلکو پراخه راماتېدنه، هغه خنډونه دي، چې په پراخې او هر اړخيزې همکارۍ کېدای شي

[1] Xinhua University: د چين په سيچوان ايالت کې شينهوا پوهنتون.

په آسیا کې له منځه یوړل شي. په دې منځ کې د ابرېښمو لارې رول نه هېرېدونکی دی. د ابرېښمو لارې په مطالعې سره موږ کولای شو ومومو، چې څه ډول کولای شو له «نړیوالتوب» سره اړیکه ټینګه کړو. د ابرېښمو لار، پرمختللی مالي سیستم او همدا راز د شخړو د حل سیستم پاتې شوی دی؛ ددې لارې په اوږدو کې کلیدي او محوري ښارونه او پرمختللې چینایي شبکې موجودې وې، چې موږ یې سره یو ځای کولو؛ له یو بل سره تړلې ترانسپورټي شبکه او د حاکم محوري سوداګرۍ فرهنګ، ددې لارې له نورو ځانګړنو څخه دي. په واقعیت کې د ابرېښمو زړې لارې، خپل وارثین د اړیکو ټینګولو او شبکو جوړولو ور ګرځولي دي. په نړیوالتوب کې هم تمرکز پر شبکو دی او افراد هم د شبکو پر مټ له یو بل سره یو ځای کېږي. باید یادونه وشي، چې جګړه او شخړې زموږ د یو ځای کېدنې استازولي نشي کولای، بلکې په چین کې زموږ څلور زره افغان سوداګرو زموږ د یو ځای کېدو استازولي کړې ده. اړتیا ده، چې له طرحې واقعیت ته ارتقا وکړو، برخه‌وال وپېژنو او خپلې شتمنۍ وارزوو. د محدودیتونو پېژندل د کار بله برخه ده؛ د آسیا رهبران باید د یو ځای کېدنې تر لیدلوري لاندې یو ځای شي او غیر فزیکي خنډونه له منځه یوسي. همدا راز زموږ د افکارو د لوري بدلولو لپاره علم ته د لاسرسي له لارې سیمه‌ییزې، قاره‌یي او نړیوالې همکارۍ ته پراختیا ورکړو؛ د حکومتوالۍ په چوکات کې هم داسې قوانینو ته لاسرسی ومومو، چې فزیکي زېربناوې او سیاسي اراده رامنځته کړي. د څو اړخیزه ائتلاف جوړولو لپاره سیاسي ارادې ته اړتیا ده، څو وکولای شو خپل خوبونه رښتیني کړو. د چین سویل کې اقتصادي نوښتونه، د سنګاپور اقتصادي پرمختګ، د مالیزیا ۲۰/۲۰ لیدلوری او د ابوظبۍ خپلواک صندوق ته په کتو کولای شو ومومو، چې افغانستان هم ددې وړتیا لري، څو د اسیا زړه د څلورلارې په توګه ظهور وکړي. یوویشتمه پېړۍ زموږ لپاره د نوې یو ځای کېدنې پېړۍ ده، ځکه چې موږ اوسمهال د لیدلوري، ارادې او سرچینو لرونکي یوو. دې اهدافو ته د رسېدو لپاره موږ اوسپنیزو کرښو ته اړتیا لرو، څو خپلې سرچینې شریکې کړو. موږ ټولو ګاونډیانو ته اوبه برابرو او د انرژۍ د سوداګرۍ مرکز به یوو. د افغانستان په تړاو ذهنیت باید بدلون ومومي او دې هېواد ته باید د نویو اقتصادي فعالیتونو، د سیمه‌ییزو مخابراتي همکاریو او مالي راکړې ورکړې د مرکز په سترګه وکتل شي. موږ پخپلې جغرافیې له تمرکز څخه پیلوو او په راتلونکي کې خپلو منرالي سرچینو ته پام زیاتوو او په دې لاره کې کولای شو له چین سره د یوه ستراتیژیک همکار په توګه لنډمهالي، منځمهالي او اوږدمهالي څرکونه ترسیم کړو. د ابرېښمو نورې لارې په جوړولو به «د ابرېښمو لارې کمربند» په واقعیت بدل شي، چې د سیمې د تحول په برخه کې به بنسټیز ګامونه وي.

## د جمهوررئیس غني د وینا ژباړه:

د ښوونکي او مهربانه خدای په نامه.

محترم چِن[1]، د پوهنتون ښاغلو غړو، محصلینو!

له محصلینو سره وخت تېرول تل خوښي ښوونکی وي. یو څه وخت په تدریس بوخت وم،

[1] Chen Jining: د شینهوا پوهنتون رئیس (د ۲۰۱۲ فبروري ـ د ۲۰۱۵ جنوري).

ومې مونده، چې تر تدریس جمهوررئیس کېدل په ځلونو ساده کار دی؛ په همدې اساس هیله لرم له ما سره گوزاره وکړئ! [د جمهوررئیس او حاضرینو خندا]، ما ډېر وخت تدریس کړی دی.

هغه بحث چې غواړم په اړه یې خبرې وکړم، «د آسیا قاره‌یي همپالنه» او په دې نږدې رامنځته کېدونکې همپالنه کې د «وریښمو لارې» رول دی.

اروپا او اسیا پنځه سوه کاله په جگړه کې ښکېل وو. موږ په نوولسمه او د شلمې پېړۍ په لومړنۍ نیمایي کې د دوو اوږدو جگړو شاهدان وو؛ د اروپا اوږده جگړه چې له دویمې نړیوالې جگړې سره یو ځای پای ته ورسېده او د آسیا اوږده جگړه، چې متأسفانه تر اوسه هم دوام لري.

د شلمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې، موږ د جگړې په میدان کې د آسیا قارې په ځانگړې ډول د ختیځې آسیا د بدلېدو شاهدان وو. په همدې ترتیب لیدل کېږي، چې د شلمې او یوویشتمې پېړۍ لومړۍ لسیزه کې «لویدیځه آسیا» هم د جگړې ډگر دی. د اروپا جگړه له یوې معقولې پایلې سره پای ته ورسېده؛ په لومړیو کې «د آسیا د ډبرو سکرو او فولادو سازمان»[1] جوړ شو او له هغه وروسته «د اروپا په جامعې»[2] او په پای کې په «اروپایي ټولنې»[3] بدل شو. جگړه په اروپا کې ـ د اوکراین په څېر په مقطعي ډول نه ـ نن ورځ ناممکنه ده؛ دا ځکه چې اقتصادي، سیاسي او فرهنگي همپالنه په یوه کتار کې ځای لري.

که راتلونکو پنځوسو کلونو ته پام وکړو، څه، څه به ووینو؟ له یوې مفکورې په یوه قاره‌یي اقتصاد د آسیا بدلېدل!

خوشبختانه، یوویشتمه پېړۍ به یوه داسې پېړۍ وي، چې په هغه کې به په عمومي ډول د آسیا قاره او په ځانگړي ډول چین او هند ـ له ۱۶ تر ۱۸ پېړۍ د نړۍ دوه قدرتونه ـ به بیا د نړۍ د اقتصاد مرکز وگرځي. په راتلونکو شلو کلونو کې به له امکانه لرې نه وي، چې د نړۍ د اقتصاد ځلوېښت سلنه ځرخ به د چین او هند له لوري وځرخول شي. له همدې اړخه باید د آسیا په

---

۱ European Coal and Steel Community.

۲ The European Community.

۳ The European Union.

قاره‌يي همپالنې په دقت سره تمرکز وشي. دلته د بېلګې په توګه د امریکا متحده ایالتونو نوم یادولی شو. دقیقاً ۱۸٦۹ ز کال و، چې د امریکا جغرافیایي ماهیت او یو سیاسي سازمان په قاره‌يي اقتصاد بدل شو و، چې د هغه کلیدي عامل اوسپنیزه کرښه وه. د متحده ایالتونو قاره‌يي اوسپنیزه کرښه د آتلانتیک او ارام سمندر د نښلېدو لامل وګرځېده. هماغه کال، د سوئیس کانال کار پای ته ورسېد، په دې اساس یوه نړیواله همپالنه، چې د یو لړ تعاملاتو لامل وګرځېده، ترسره شوه او زموږ لپاره یې د شلمې پېړۍ (اقتصادي) تحرک رامنځته کړ.

نن، باید په یاد راوړو، چې څه ډول کولای شوو آسیا له یو لړ متفاوت دولتي اقتصاد او جغرافیايي فضاوو څخه د قاره‌يي همپالنې اقتصاد پر لور بوځو. د آسیا قاره به د نړۍ د اقتصادي ثقل په مرکز[1] بدله شي او په ورته مهال به دغه قاره د یوې ډلې فرهنګونو د مرکز په توګه، چې زموږ د لرغونو تمدنونو د (میراث په توګه) پرېښي، وپېژندل شي.

د ابرېښمو لار به په دې بهیر کوم ځای ولري او افغانستان باید په دې برخه کې څه کار ترسره کړي؟ په لومړي ګام کې، د موضوع د درک لپاره موږ باید له هغو خنډونو خبر شوو، چې د آسیا د همپالنې پر وړاندې پراته دي. په همدې اساس ددې همپالنې پر وړاندې ۷ کلیدي خنډونه کوم دي؟

لومړی ـ سویلي آسیا لا تر اوسه هم د نړۍ یو له کمو همپالو سیمو ده. د ختیځې آسیا داخلي همپالنه، چې د حکومتونو ترمنځ د سوداګرۍ او نښلونې له لارې ارزول شوې، په چټکۍ د ترسره کېدو په حال کې ده. خو سویلي آسیا اوس هم د همپالنې په برخه کې له کمزورو سیمو ده، چې د هغه ریښه د پاکستان او هند ترمنځ ستونزو ته ورګرځي.

دویم ـ ختیځه او سویلي آسیا د انرژۍ اصلي واردوونکي دي. د مرکزي آسیا له انرژۍ پرته، چې له سویلي او ختیځې آسیا سره د نښلېدو په حال کې ده، اړتیا وړ تحرک امکان نه لري، ځکه انرژي پخپله د نورو زېربناوو زېربنا ده. په دې وروستیو کې د روسیې او چین ترمنځ د ګازو په نللیکې څلویښت میلیارد ډالري هوکړه په دې برخه کې د ډېر مهم انکشاف ښودنه کوي. د ترکمنستان له لوري وړاندیز شوې نللیکه، چې د افغانستان له لارې به پاکستان او هند ته لېږدول کېږي، د تاریخ د بدلون راتلونکې مهمه نقطه وي. په آسیا کې د انرژۍ له یوه

---

[1] Economic gravity.

همپاله مارکېټ پرته به زموږ مجموعي پرمختګ کموالی ومومي يا به له ستونزو سره مخ شي.

دريېيم ـ چين، هند او روسيه هر يو پخپل وار په قاره‌يي کچه خپل اقتصاد لري، خو په ورته مهال هر يو پراخو زېربناوو ته اړتيا لري. کله چې د زېربنا کومه برخه جوړېږي، د آسيا د همپالنې پر لور يو بل ګام اخيستل کېږي. کولای شوو ووايو، چې ځينې مهال يوه ملي پروژه په لږو هڅو هم کېدای شي په يوې سيمه‌ييزې پروژې بدله شي او هغه څه چې موږ ورته اړتيا لرو دا ده، چې زموږ د ګازو لېږد ليدلوری له ملي محدود او سيمه‌ييز ليدلوري نړيوال (ليد لوري) ته بدلوي، هغسې چې د پنځوس کيلومتره اوسپنيزې کرښې يا لويې لارې زياتول د همپالنې د پرمختګ لامل ګرځي. له بل لوري بايد پلان جوړونه له ملي او سيمه‌ييزې کچې نړيوالې او زېربنايي کچې ته ولېږدول شي.

څلورم ـ د انګلستان په څېر چين ته هم د نوولسمې پېړۍ د «نړۍ کارخانې» په سترګه کتل کېږي، خو دغه کارخانه اومه توکو، فولاد، ډبرو سکرو، اوسپنې او هر هغه څه ته چې د نړۍ په کچه د تصور وړ دي، اړتيا لري او همدلته ده، چې د افغانستان خبره راپورته کېږي. بايد ووايم، چې موږ د معدني موادو دېرش سلنه ذخيرو ته، چې له يوه تر درې ټريليون ډالر ارزښت لري، لاسرسی لرو. ددې کارخانې لازمو موادو برابرولو لپاره د يوويشتمې پېړۍ د ارزښت کړۍ لازمي دي او له يوويشتمې پېړۍ پرته د ارزښت کړۍ او اړيکو ته پام په کار دی، چې هغه ته د نه لاسرسي له وجې به يادې کارخانې او سيمه هم له رکود سره مخ شي. زه د جمهوررئيس «شي»[1] د ليدلوري، چې په سيمه کې يې د چين پرمختګ ته زمينه برابره کړې، ستاينه کوم. موږ ټول بايد په دې موضوع فکر وکړو، چې د چين پرمختګ نه يوازې د چين پرمختګ دی، بلکې د سيمې د پرمختګ لامل ګرځېدلای شي.

پنځم ـ د آسيا ډېری نفوس اوس هم په بېوزلۍ کې ژوند کوي او زموږ په ډېر پرمختګ سربېره هم موږ لا تر اوسه يوه داسې قاره يوو، چې د نړۍ مطلق بېوزله اکثريت په کې ژوند کوي. بنسټيزه موضوع دا ده، چې زموږ د هېواد ډېری خلک لا تر اوسه مالکيت ته د لاسرسي حق نه لري، يا دغه لاسرسی په کمزورې کچه پاتې دی. د مالکيت حقونو ته د لاسرسي نشتوالي له وجې به ـ چې البته چين په دې برخه کې لوی ګامونه پورته کړي دي ـ د آسيا ذاتي تحرک،

---

[1] Xin Jingping: د چين جمهوريت جمهوررئيس.

له محدودیتونو سره مخ شي. د آسیا تشبثاتي انرژي ساری نه لري، خو د مالکیت حقونو ته د (لاسرسي) پر وړاندې پام وړ خنډونه موجود دي.

شپږم ـ چاپېریال پخپل وار یو ګواښ دی. هر کله چې د نړۍ چاپېریالي بېلګې بدلون مومي، موږ د (منفي) اغېزو له ګواښ سره مخ کېږو. سېلابونه، زلزلې او طبیعي پېښې هغه خطرونه دي، چې تل ورسره د آسیا قاره له ګواښونو سره مخ ده، خو (ددې ستونز حل) ته لېوالتیا کمه ده. دا مسأله د کاربن د آزادېدو په برخه کې هم صدق کوي. په همدې اساس، موږ باید د چاپېریال ساتنې په برخه کې له یو بل سره همکار واؤسو او احتمال لري هغه څه، چې «د ډېرو سکرو او فولادو ټولنې» اروپا ته برابر کړي، چاپېریال ساتنه یې موږ ته برابر کړي. د چاپېریال آفتونه سرحدونو ته احترام نه ساتي؛ په همدې اساس باید هغه ته په نړیواله کچه او په ورته مهال اغېزناکه رسېدنه وشي.

اووم ـ که تاسو د چین په تړاو د پرل باک[١] «ښه خاوره» کتاب ولولئ، دا کتاب د کلیو نفوس تشریح کوي. هغه تصویر، چې د آسیا په اړه زموږ په ذهن کې شته، هماغه د کلیوالي ټولنې تصویر دی، خو آسیا د بدلېدو په حال کې ده، چې تر ډېره یوه ښاري ټولنه جوړوي. هر کال، په چین کې یو میلیون ښاریانو ته ښارونه جوړېږي، چې دا ښاري تحرک پخپل ذات کې هم فرصتونه او هم ستونزې رامنځته کوي.

که چېرې دغه یاد شوي اووه خنډونه سره یو ځای کړو، یوې ساده پایلې ته رسېږو؛ د آسیا په کچه د پراخې همکارۍ د نشتوالي له وجې، نشو کولای په ملي کچه اقدامات وکړو او خنډونه او ستونزې له منځه یوسو. یعنې، آسیایي همپالنه د نړیوالتوب پر ضد نه ده، بلکې د همکاریو یوه شبکه ده، ځکه چې ډېری دغه مسایل په نړیواله کچه همکاریو ته اړتیا لري.

اوس، هغه څه چې د ابرېښمو لار کولای شي ترسره یې کړي، څه دي؟ ولې باید د چین له جمهوررئیس نیولې د افغانستان تر جمهوررئیس پورې په دې تړاو خبرې وکړي؟ د لا زیات وضاحت لپاره، اجازه راکړئ په پیل کې د ابرېښمو د پخوانۍ لارې په تړاو معلومات ورکړم. باید ووایم، چې د نورو ډګرونو ترڅنګ زه یو تاریخپوه هم یم او د خپل عمر څوارلس کاله مې د پنځه سوه وروستیو کلونو پېښو په مطالعې لګولي دي. هغه تصویر چې د ابرېښمو لارې په تړاو زما په ذهن کې شته، په تدریجي ډول له نیپال څخه چین ته د کاروانونو د سلسلو

[١] The Good Earth by Pearl S. Buck.

تېربدل دي، خو ددې تصویر تر شا پېچلې حقیقت نغښتی دی. هغه حقیقت څه دی؟

لومړی ـ د یو آن[۱] د واکمنۍ سلسلې پر مهال په چین کې کاغذي پیسې رامنځته شوې او په ټول قلمرو کې یې خپرې شوې. لومړی موضوع دا ده، چې د ابرېښمو جاده یو پرمختللی مالي سیستم و، چې د یوآن د واکمنۍ سلسلې پر مهال مو کولای شول له دې لارې پیسې ولېږدوئ، خو بدبختانه د مینګ[۲] د واکمنۍ سلسلې پر مهال کاغذي پیسې له منځه ولاړې. د تبادلې بیلونو[۳] د نړۍ دا برخه د زرګونه کلونو لپاره متحده کړې وه. د یوه پېچلي بانکي سیستم د موجودیت په دلیل، چې ددې برخې شاملې سیمې یې له یو بل سره نښلولې وې، د فزیکي پیسو لېږد ته هېڅ اړتیا نه وه، په دې معنی چې د تبادلې بیلونه له یوې برخې تر بلې برخې پورې د اعتبار وړ وو. د ابن بطوطه[۴] د یونلیکونو پر اساس، هغه مهال فارسي سندرې په ګوانګژو[۵] ښار کې ویل کېدې. چینایي سوداګر به هم له دې سیمې تېرېدل.

دویم ـ د ابرېښمو لار د حقوقي شخړو سیستم درلود، چې د هغه پر مټ به یې د سوداګرو ترمنځ ستونزې حل و فصل کولې. اسلامي نړۍ کې د قوانینو یو سیستم و، چې د هغه پر اساس به منځګړتوب او پرېکړې کېدې. پردې سربېره، د سوداګرو اړوند محاکمې هم وې.

دریيم ـ کلیدي او مرکزي ښارونه موجود وو، چې د سوداګرۍ محورونه وو. د بېلګې په توګه کولای شو د شپاړسمې زیږدیزې پېړۍ د کابل نوم یاد کړو. بابر چې په هند کې یې د مغولو امپراتورۍ بنسټ کېښود، لیکي؛ ختیځ او لویدیځ، شمال او سوېل ټول له کابل سره یو ځای کېږي او سوداګر په ۲۰۰ سلنه ګټې هم راضي نه دي.

څلورم ـ موږ په شپاړسمه پېړۍ کې په کابل ښار کې ډېرو پرمختللو چینایي شبکو ته لاسرسی درلود، چې دغو شبکو له هرې خوا موږ یو ځای کولو.

---

[۱] Yuan Dynasty: د مغولو امپراتورۍ یو جلا شوی شخص (۱۲۷۱ ـ ۱۳۶۸ ز).

[۲] Ming Dynasty: د لوی مینګ امپراتوري د یوآن مغولو د پادشاهۍ له پاشل کېدو وروسته رامنځته شوه، (۱۳۶۸ ـ ۱۶۴۴ ز).

[۳] Bills of exchange.

[۴] Ibn Battuta.

[۵] Guangzhou: د چین په سوېل کې یو ښار دی.

پنځم ـ د ابرېښمو لار یوه جامع ترانسپورټي شبکه وه. له شته ټولو خنډونو سره، کارواني سوداګرۍ په ډېر پرمختللي ډول د نښلوونې زمینه برابروله.

شپږم ـ له ټولو مهم، د سوداګرۍ محوره فرهنګ موجودیت دی. د چین د چټک پرمختګ یو عامل کله چې ښاغلي دنګ ژیائوپینګ[۱] نوي معرفي کړل، چې د چینایانو تشبثي انرژي ده، هېواد د تلپاتې شتمنۍ په توګه حسابېدلی شي. هغه سیمې، چې د اویا کلونو لپاره د شوروي اتحاد تر واک لاندې وې، دا وړتیا له لاسه ورکړې، خو دا باید درک شي، چې چینایان، هندیان، افغانان، پاکستانیان او ټول د تشبث فرهنګ وارثین دي. په بل عبارت، د ابرېښمو لارې را پاتې اوږدمهالی میراث د تشبث دی.

د ابرېښمو لار څه ډول له «نړیوالتوب» سره اړیکه ټینګوي؟ نړیوالتوب یوه شبکه محوره پدیده ده. د یادونې ده، چې د نړیوالتوب لومړۍ څپه په نوولسمه زېږدیزه پېړۍ کې پیل شوه، چې په ۱۹۲۹ ز کال کې په ستر اقتصادي بحران سره پای ته ورسېده؛ د نړیوالتوب دویمه څپه په ۲۰۰۸ ز کال کې خپلې اوسنۍ مرحلې ته ورسېده او اوسمهال د نړیوالتوب په درېیمې څپې کې ځای لرو، چې په بله وینا «نیم نړیوالتوب»[۲] دی، دا ځکه چې دولتونه بیا ځلي دې بهیر ته ورګډ شوي دي. نړیوالتوب پر شبکې متمرکزه پدیده ده او افراد د شبکو پر مټ له یو بل سره په اړیکه کې کېږي. موږ، یعنې د لرغونې ابرېښمو لارې وارثین، د اړیکو په ټینګولو کې ډېر مهارت لرو. په همدې دلیل نړیوالتوب د آسیايي فرهنګ تشبث سره بشپړ مناسبت لري او باید په مناسبو سلسله مراتبو سره یو ځای شي، څو دولتي جوړښتونه په بشپړ ډول سم عمل وکړي، چې یو اساسي بنسټ ګڼل کېږي. کله چې کلیو ته د سفر پر مهال له افغانانو سره مخ کېږم، زما پوښتنه چې د نړیوالتوب فعالیت ښيي، دا ده: ستاسو څو کسه له هېواده بهر ژوند کوي او په بهر کې څو خپلوان لرئ؟ معمولاً ځواب راکوي، چې «له ۶۰ سلنې زیات» دي. په همدې دلیل، غواړم دې نقطې ته ستاسو توجه جلب کړم، چې د جګړې په اړه زموږ شته تصویر، له اتصال استازیتوب نشي کولای. اوسمهال، په چین کې زموږ څلور زره متشبثین شته دي او زموږ د اتصال لامل ګرځي. باید ووایم، هغوی له چین سره د افغانستان پر اتصال سربېره، د آسیا له نورو هېوادونو سره هم د هېواد د نښلوونې لامل ګرځي. د ابرېښمو نوې لار یا په بل عبارت د یوویشتمې پېړۍ د ابرېښمو لار باید دې [سیمه‌ییز اتصال] ته زمینه برابره

۱ Deng Xiaoping.

۲ Semi Globalization.

کړي.

موږ څه ډول کولای شو په دې برخه کې مخ ته ولاړ شو؟ افغانستان له چين سره يو ځای کوم اقدامات ترسره کولای شي؟ څه ډول له نظري مرحلې د عملي مرحلې پر لوري حرکت کولای شو؟

لومړی، موږ بايد اوسنۍ اراضي درک کړو. څه بايد وکړو؟ لومړی بايد موږ برخه‌وال وپېژنو. د ابرېښمو لارې برخه‌وال څوک دي؟ برخه‌وال يې حکومتونه، شرکتونه، متشبثين او خلک دي. په بل عبارت، موږ ټول چې په دې سالون کې حاضر يوو، د ابرېښمو لارې برخه‌وال يوو، ځکه زموږ متقابله هوساينه په ابرېښمو لارې کې برخه‌وال کېدو پورې تړلې ده. له حکومت سره د حکومت، له شرکت سره د شرکت، له سوداګر سره د سوداګرو او له خلکو سره د خلکو له همکارۍ پرته، به موږ د هغه د اهميت له کچې غافله شوو.

دويمه موضوع، زموږ د شتمنيو ارزونه ده. د ابرېښمو لار يوه مفکوره نه ده، بلکې د يوه دوامداره عمل پروګرام دی. چين، روسيه او هند هر يو هر کال له يو ټريليون ډالرو زيات پخپلو زېربناوو مصرفوي. په همدې اساس، له دې سره هممهاله، چې موږ دلته خبرې کوو، د ابرېښمو لار د جوړېدو په حال کې ده. هره پانګونه، په انرژۍ د ۴۰ ميليارد ډالري پانګونې په څېر، موږ له يو بل سره نږدې کوي.

پر زېربناوو نړيواله پانګونه په راتلونکو شلو کلونو کې له ۳۶ تر ۷۰ ټريليون ډالر تخمينېږي، چې ډېره برخه به يې په آسيا کې ترسره شي. خو د حکومتونو د هڅونې عمده موضوع د پانګونې لپاره نه ده، بلکې داسې شرايط بايد برابر شي، چې هغوی پانګونې ته وهڅول شي، چې دا د ټولو لوريو لپاره د نښلوونې د قوي کېدو لامل ګرځي.

درېيم، محدوديتونه بايد وپېژندل شي. دلته محدوديتونه دوه اړخه لري. لومړی دا چې آيا سياسي نخبه ګان د اوسنۍ همکارۍ درک ته اړتيا لري؟ دويم، آيا اجازه ورکول کېږي، چې اوسنۍ زېربناوې په ډېره اغېزناکه کچه د استفادې وړ وګرځي؟

په بل عبارت؛ دوه خنډونه موجود دي:

لومړی ـ د آسيا ټول رهبران بايد په يوه متحد ليدلوري سره يو ځای شي.

دویم ـ آیا غیر فزیکي خنډونه به له منځه لرې شي؟

غیرفزیکي خنډونه څه دي؟ ویزه، له اوسپنیزو کرښو استفاده او نور.

دا کار به څه پایله ولري؟ په داسې حال کې، چې په لیدلوري کې یوې سیاسي همپالنې ځای لرلی، په اوسنیو فزیکي زېربناوو، کېدای شوای اوسنۍ سوداګرۍ څو برابره شوې وای. په دې برخه کې کولای شو د بېلګې په توګه د پاکستان او هند ترمنځ د سوداګرۍ یادونه وکړو. ددې دوو هېوادونو ترمنځ سوداګري اوه کاله وړاندې، له یو میلیارد ډالرو زیاته وه، خو اوسمهال ۷ میلیارد ډالرو ته رسېږي؛ دا کچه په اسانۍ ۴۰ میلیارد ډالرو ته لوړېدای شي. د مرکزي آسیا او ګاونډیو ترمنځ یې سوداګري کېدای شي تر دې زیاتې کچې ته ورسېږي؛ په همدې اساس موږ باید پوه شو، چې سیمه د شانګهای همکاریو سازمان [1]، د مرکزي آسیا سیمو اقتصادي همکاریو سازمان [2] او نور سازمانونه باید د خنډونو لرې کولو په برخه کې ډېر رغاونکی رول ولوبوي.

همدا راز پوهه او حکومتوالی ته د لاسرسي په برخه کې هم محدودیتونه موجود دي.

علمي پوهه زموږ له مفکورې اخیستل شوې ده. دلته، شینهوا پوهنتون په دې برخه کې د نړۍ د یوې قوي بېلګې په توګه مطرح کېږي. موږ باید له ملي اړخه او یوازې د خپلې جغرافیې په سرحدي محدودیتونو له فکر کولو هاخوا، خپله تګلاره سیمه‌ییزې، قاره‌یي او نړیوالې همکارۍ ته واړوو.

د یوویشتمې پېړۍ په دویمه لسیزه کې، د دولت ـ دولت جګړه د بایللو ـ بایللو اصل ګڼل کېده. یوازینۍ لاره د «نسبي ګټو»[3] شته اصل دی. په همکارۍ کې، عمده ګټې نغښتې دي؛ په مقابل کې یې جګړه ډېر زیات زیانونه لري. په همدې دلیل، زموږ فکري مرکزونه، د شینهوا پوهنتون په څېر، باید د عمل نوښت پخپل لاس کې واخلي او وښیي، چې همکارۍ څومره

---

[1] Shanghai Cooperation Organization (SCO).

[2] Central Asia Regional Economic Cooperation (CAREC).

[3] Comparative advantage: د نسبي ګټو اصل ته وایي. د ملتونو د یوې ډلې خلکو تولید یا اقتصاد هغه مهال پرمختګ کولای شي، چې د هر جنس تولید د یوه فرد یا شرکت له لوري په داسې ډول ترسره شي، چې کم لګښت ولري. د نسبي ګټو د مفهوم پر اساس، دا چې یو هېواد خپل توکي له نورو تولیدونکو ارزانه پلوري، دغه هېواد د دغه ډول توکو په تولید کې له نسبي ګټو برخمن دی. همدا راز که دغه هېواد وکولای شي خپل اړتیا وړ توکي د نورو هېوادونو په پرتله په کم لګښت صادر کړي، په صادراتو کې به له نسبي ګټو برخمن شي.

ګټې لري او څه ډول کولای شي د محصلینو له مقام څخه ـ د سیمې د راتلونکو رهبرانو په توګه ـ د همکاریو د پراختیا لپاره ملاتړ وکړي. رئیس صیب چن! هیله مند یم په دې برخه کې تاسو زیات سیمینارونه جوړ کړئ او په دې ډول د آسیا ځوان رهبران، متشبثین او سیاسي رهبران سره یو ځای کړئ، څو په مختلفو اړخونو غور او ارزونه وکړي.

حکومتوالي یعني داسې قوانینو ته لاسرسی وموږ، چې د همکارۍ میکانېزمونو له لارې فزیکي زېربنا او سیاسي اراده رامنځته کړو. د بېلګې په توګه، موږ کولای شوو په قاره‌یي کچه د شخړو د حل سیستم ولرو او مالي مسایل چې په اسانۍ له یوه تر بل هېواده د منلو وړ وي. کولای شوو دا د سترو نوښتونو په توګه یاد کړو، چې امکان لرونکي دي.

وروستی نقطه، په فزیکي زېربناوو کې خالیګاوې دي. هغه مورد، چې د ټولو پام ورته اوښتی دی. په دې برخه کې عمده خالیګاوې تر سترګو کېږي، چې کولای شو هغه په سیاسي ارادې پورې وتړو. کله چې سیاسي اراده او لیدلوری موجود وي، موږ کولای شوو یو ځای شوو او مخ پر وړاندې حرکت وکړو. دا په دې معنی ده، چې موږ باید د «ابرېښمو لارې کمربند»[1] کې د ابرېښمو لارې د تحقق برخه‌والو څو اړخیز ائتلاف جوړ کړو، دا ځکه چې ددې څو اړخیزه برخه‌والو ائتلاف جوړول د خوبونو د رښتیا کېدو لامل ګرځي. آیا دا یوازې یوه خیالي هیله ده؟ دا هغه پوښتنه ده، چې باید وپوښتل شي؟! نه داسې نه ده. ولې؟!

لومړی، د چین تحول ته پام وکړئ. په ۱۹۷۹ ز کال کې کله چې د چین په سوېل کې نوي اقتصادي نوښتونه عملي شول، چا وړاندوینه کولای شوه، چې له دې وضعیت څخه راپورته شوی تحول به دوامدار وي؟ د ۱۹۹۰ لسیزې په جریان کې، کله مې چې د لویو پروژو په چوکاټ کې له چین سره د همکارۍ افتخار درلود، تل دا پوښتنه مطرح وه: آیا دوه رقمي پرمختګ به راتلونکی کال ودرېږي؟ خو چین نړۍ ته ثابته کړه، چې د ارادې، انرژۍ او نوښت په موجودیت کې، پرمختګ نشي درېدای.

دویم، د «آسیایي ډرامې»[2] کتاب ولولئ. ګنار میردال[3] د خپل وخت له مخکښو متخصصینو

[1] Silk Route Belt: هغه پروګرام، چې د چین جمهوررئیس شي جینګ پینګ د ابرېښمو لارې په تړاو مطرح کړی دی.
[2] Asian Drama; An Inquiry into the Poverty of Nations.
[3] Gunnar Myrdal: سویډنی اقتصاد پوه او سیاستوال.

څخه و، چې د سولې نوبل جایزه یې هم اخیستې وه. پوهېږئ، چې په ۱۹۶۵ ز کال کې د سنګاپور په اړه د هغه لیدلوری څه و؟ هغه وړاندوینه کړې وه، چې د جګړو له وجې به سنګاپور وچوېږي. البته چې سنګاپور وچوېد! خو د اقتصادي پرمختګ له اړخه! [د حاضرینو خندا]

بله بېلګه مالیزیا ده. د مالیزیا پخوانی لومړی وزیر ښاغلی ماهاتیر[1] په یوه کنفرانس کې د مالاوي[2] هېواد د لومړي وزیر ترڅنګ ناست و؛ دواړه هېوادونه ډېر بېوزله وو او د مالیزیا او مالاوي په منځ کې یې هېڅ توپیر نشوای کولای. دا چې د مالیزیا لومړی وزیر د سترګو یو ډاکتر و، تر ۲۰/۲۰[3] عنوان لاندې یوه لیدلوري سره په کنفرانس کې حاضر شو. ټولو فکر کاوه، چې ۲۰/۲۰ لیدلوری له ۲۰۲۰ کال څخه اخیستل شوی دی، خو په حقیقت کې دا معنی له بشپړ لید څخه اخیستل شوې. مالیزیا د راتلونکي پلان جوړونې په برخه کې له خپل ځان څخه نوښت وښود؛ اوسمهال د نړۍ هر هېواد، ښار او شرکت له ۲۰/۲۰[4] لیدلوري استفاده کوي.

په بل عبارت، آسیا د خپلو ستونزو د حل لپاره، له خپل ځانه لوړ نوښت ښودلی دی.

خلیج ته وګورئ. د خلیج حوزه نن د پیسو مرکز دی. د ابوظبي[5] خپلواک صندوق د نړۍ په کچه د پیسو یو لوی لوبونکی دی. څه موده وړاندې، په ریاض کې وم. یوازې په ریاض ښار کې ۵۵ میلیارد سعودي ریال ـ یو ډالر ۱۷ ریالو سره برابر دی ـ مصرف شوي دي. همدا راز، ډېری له دې خبر نه دي، چې په ریاض کې د یو پر څلورمې برخې مخابراتي شبکې، له هغو شبکو زیاتې دي، چې په دوبۍ کې دي. په حقیقت کې موږ امکانات لرو او د موجودې شتمنۍ ښه کولو لپاره باید له یو بل سره یو ځای شوو، دغه شتمنۍ باید سره یو ځای شي، له

---

[1] Mahathir bin Mohamad: د مالیزیا څلورم صدراعظم (۲۰۰۳ ـ ۱۹۸۱ ز).

[2] Malawi: د افریقا لویې وچې په سویل کې یو هېواد دی.

[3] د سترګو یو ډول ټسټ دی، چې په ۲۰ فوټو کې د یو چا د سترګو د لید ځواک ارزوي.

[4] Wawasan 2020: د ۲۰/۲۰ لیدلوری د وخت د مالیزیا صدر اعظم ماهاتیر محمد له لوري په ۱۹۹۰ ز کال کې د نوې اقتصادي پالیسۍ (NEP) په توګه، چې یو اوږدمهالی هدف یې درلود، معرفي شو. ددې لیدلوري پر بنسټ مالیزیا تر ۲۰۲۰ ز کال پورې له اقتصادي، سیاسي، ټولنیز، معنوي، روحي او فرهنګي اړخه په «بشپړې پراختیا موندلي هېواد» بدلېږي. د ماهاتیر محمد په وینا دې لیدلوري له عیب پرته د بشپړ لیدو ځواک له (۲۰/۲۰) څخه الهام اخیستی دی.

[5] Abu Dhabi Sovereign Fund.

هغوی استفاده وکړو او کچه يې لوړه کړو.

اوس، بېرته ګرځم او د خپل هېواد، افغانستان، په اړه خبرې کوم. موږ د آسيا په زړه کې ځای لرو. نور له موږ پوښتي: آيا تاسو په مرکزي آسيا کې موقعيت لرئ؟ آيا تاسو په غربي آسيا کې ياست؟ آيا تاسو په سويلي آسيا کې يا په ختيځې آسيا کې يو هېواد ياست؟ زموږ ځواب، دا ټول! [خندا] موږ، د آسيا د څلورو برخو ترمنځ نښلوونکی محور يوو. بريتانيايي تاريخپوه آرنولډ توين‌بي[1]، د استفادې په اړه دوه اصطلاح‌ګانې کاروليې: «څلورلارې»[2] او «په ټپه ولاړ حالت»[3]. څلورلارې هغه ځای دی، چې هلته ليدلوري تګ راتګ کوي او په ټپه ولاړ حالت، د څلورلارې خلاف، هغه فضا ده، چې په هغه کې مطرح کېدونکی ليدلوری، بند پاتې کېږي او حرکت نشي کولای. افغانستان په مختلفو دورو کې د څلورلارې په توګه پېژندل کېده. دا زموږ لپاره د وياړ ځای دی، چې بودېزم زموږ له لارې تاسو [چين] ته رسېدلی دی. موږ د دوو چينايي زائرينو په واسطه د «باميان» ښار ـ زموږ په هېواد کې د بودايي فرهنګ مرکز ـ په اړه په مسايلو پوه شوو، چې له هغوی پرته پرې نه پوهېدو.

د اسلام مبارک دين، يو وار بيا، موږ نړيوال تمدن ته راوستو. په پنځلسمه پېړۍ کې، موږ په چين کې سفارت درلود، چې زموږ په هېواد کې د هنري تحول لامل وګرځېد. د اسلامي نړۍ د ژونديو قوي هنرمندانو له ډلې «بهزاد»[4] دی، چې د هغه کاري سبک عثمانيان، صفويان، مغول او د ۳۰۰ کلونو لپاره د نورو پادشاهيو سلسلې تر اغېزې لاندې راوستې. بهزاد چين ته راغی او ددې تعاملاتو په پايله کې د هغه د نقاشۍ سبک په پراخ ډول تغير وکړ.

خو، څه ډول دغه څلورلارې په يوه په ټپه ولاړ حالت واوښته او په پای کې د شخړو پر يوې ساحې بدله شوه؟ د هغه دليل غربي امپراتورۍ دي. په نوولسمه پېړۍ کې، دوه امپراتورۍ يعنې بريتانيا او روسيه د غرونو د سلسلې لپاره زموږ په خاوره کې ـ چې موږ هغه هندوکش نوموو ـ په سيالۍ واوښتل. هندوکش د هماليا غرونو سلسله ده، چې د افغانستان په داخل کې يې امتداد موندلی او د افغانستان شمال، چې د هېواد يو پر درېيمه برخه مساحت رانغاړي، د

---

[1] Arnold Joseph Toynbee: آرنولډ توين‌بي (۱۹۸۹ ـ ۱۹۷۵ ز).

[2] Roundabout.

[3] Cal-de-sac.

[4] د هراتي سبک لرونکی نقاش، کمال‌الدين بهزاد، (۸۳۴ ـ ۹۱۴ هـ.ل).

افغانستان له سوېل څخه جلا کوي. په حقیقت کې، ټولې شخړې د همدې غرونو لپاره وې او هره امپراتوري په دې هڅه کې وه، چې ځانته سرحد جوړ کړي او دې غرونو ته لاسرسی ومومي.

زموږ افغانانو له تاریخ څخه دا څرگنده ده، چې زموږ هېواد ته راتلل اسانه دي، خو ترې وتل ډېر ستونزمن دي. ځکه د هغو کسانو گرم هرکلی کېږي، چې په بلنه راغلي وي، خو هغوی چې د دښمنۍ په نیت زموږ په خاوره قدم ږدي د افغانانو له مقاومت سره مخ کېږي. دا د پخوانیو دودونو او عنعناتو له وجې زموږ او د چین ترمنځ گډه وجه ده.

د غربي امپراتوریو سیالۍ ددې لامل شوه، چې یوه مرکزي څلورلارې پر یوې منزوي ساحې بدله شي او موږ له نړیوالو زېربناوو محروم شوو. په ۱۸۸۰ ز کال کې په یوې زماني مرحلې کې د اوسپنیزې کرښې له لارې له اروپا سره د آسیا نښلېدل امکان وړ و، خو داسې یو وخت هم و، چې هغه اوسپنیزه کرښه زموږ د خپلواکۍ له لاسه ورکولو په معنی وه؛ په همدې اساس، د وخت حاکم له دې کاره ډډه وکړه، چې په پایله کې یې د افغانستان د منزوي کېدو لامل شو او له همدې امله شلمه پېړۍ، زموږ د انزوا پېړۍ وه.

خو په مقابل کې یې، یوویشتمه پېړۍ زموږ لپاره د نوې نښلېدنې پېړۍ ده. اوس، افغانستان د لیدلوري، ارادې او سرچینو لرونکی دی، څو یو وار بیا د نښلېدو په مرکز بدل شي.

موږ په لومړیو کې د اوسپنیزې کرښې یوه سیستم ته اړتیا لرو، چې د آسیا د اوسپنیزې کرښې ټولې شبکې له یو بل سره ونښلوي؛ یعنې هماغه وړاندیز چې موږ د مطالعاتو د ترسره کېدو او امکاناتو ارزونې په موخه د تخنیکي مرستو لپاره د چین دولت ته وړاندې کړ. پنځه زره کیلومتره اوسپنیزې کرښې ته د لاسرسي پر مهال به، افغانستان د نښلېدو په محور بدل شي.

موږ ددې ظرفیت لرونکي یوو. موږ به یقیناً په راتلونکو لسو کلونو کې د نړۍ د مسو او اوسپنې لوی تولیدونکي واوسو. د نړۍ کارخانه [چین] زموږ دې تولید ته اړتیا لري او د اوسپنیزې کرښې سیستم پر هغه ټینگار کوي. موږ د مرمرو کافي ډېرې لرو. د وضاحت لپاره باید ووایم، چې زموږ د مرمرو ډېرې د ۴۰۰ کلونو لپاره د سیمې اړتیاوې پوره کولای شي، خو دغه محصول ډېر دروند دی، دا چې زموږ ډېری محصولات درانده دي، یوه نقطه مهمه ده. په همدې دلیل، د اوسپنیزې کرښې شبکې له موجودیت پرته موږ پرمختگ نشو کولای.

دویم، افغانستان، له چین پرته، ټولو گاونډیانو ته اوبه برابروي، د افغانستان ټول گاونډیان زموږ

له اوبو په ګټې اخيستو ژوند کوي او په واقعيت کې موږ يوازې د خپلو اوبو له ۱۰ سلنې په پرمختللې ډول استفاده کوو. وياړم، چې د چين د اوبو او سرچينو له محترم وزير سره مې کار کړی دی. هغه مهال د ۹۰ لسيزې په منځ کې، ستاسو وزير ۸ ميليونه کارکوونکي لرل. هغه لوی خوب چې ما پخپل سر کې درلود دا و، چې يوه بشپړه ورځ د چين په لوی کانال[1] کې بېړۍ وچلوم، چې بالاخره په ۱۹۹۲ ز کال کې وتوانېدم خپل دا خوب پوره کړم. د چيناياتو د تخيلاتو او تصوراتو د درک لپاره، له دې کانال څخه يو وار ليدنه اړينه ده. البته، ما د چين لوی دېوال هم ليدلی دی؛ يعنې د چين د سياست له دې دوو اړينو جاذبو مې ليدنه کړې ده. [خندا]

د اوبو سرچينې نه يوازې زموږ لپاره، بلکې د سيمې د راتلونکې لپاره بنسټيز او ځانګړې اهميت لري.

دريیم، پايپ لاين دی. افغانستان کافي تېل لري؛ پر دې سربېره، په هېواد کې د ګازو عمده سرچينې هم د ښه کېدو په حال کې دي. پايپ لاين به د ابرېښمو نوې لارې يو له کليدي اجزاوو څخه وي، ځکه چې ګاز يوه پاکه انرژي ده او د اوبو په څېر له کليدي ارزښت څخه برخمنه ده.

حاضر دمه، پر اوبو له کار سره زموږ د لېوالتيا دليل دا دی، چې موږ تمه لرو افغانستان د انرژۍ د سوداګرۍ پر مرکز بدل شي. له بل لوري، سويلي آسيا انرژۍ ته شديده اړتيا لري او له بل لوري مرکزي آسيا د انرژۍ يو لوی توليدونکی دی. داسې هيلې شته، چې افغانستان وکولای شي نه يوازې د خپلو اوبو له سرچينو ۲۰۰۰ ميګاواټه برېښنا توليد کړي، چې دا کار به افغانستان متحول کړي او له يو بل سره به زموږ د هېوادونو د نښلوونې لامل وګرځي.

موږ خپل ځان د سيمې د ترانزيټي محور په توګه هم تصور کوو. موږ په دې اړه له ايراني همکارانو سره خبرې کړې دي، چې زموږ له حلقوي سړک سره په نښلېدو به، د ايران او چين ترمنځ سوداګري پيل شي.

که په لنډ ډول ووايو، هغه تصوير چې د افغانستان په اړه دی ښيي، چې موږ له هر چا سره

---

[1] Grand Canal.

همکارۍ ته تیار یوو، څکه زموږ راتلونکې، چې په هغه کې له بېوزلۍ خلاصون او د ځانبساینې پر لور حرکت کوو، همکارۍ ته اړتیا لري. موږ د خپلو ځانونو لپاره هڅه کوو، خو په هغه قیمت نه، چې ګاونډیو ته مو په زیان تمامه شي. د افغانستان په اړه باید ذهنیت بدلون ومومي او دې هېواد ته باید د نویو اقتصادي فعالیتونو د مرکز په توګه وکتل شي.

په همدې اساس، هغه تصویر چې موږ د افغانستان په اړه ترسیم کړی، د سیمه‌ییزو مخابراتي همکاریو او همدا راز د مالي راکړې ورکړې، مرکز دی.

موږ یو انتخاب لرو؛ اوس خپل جغرافیایي موقعیت ته ارزښت ورکړو که خپلو منرالي سرچینو ته؟ هغه ځواب چې زه او همکاران مې وړاندې کوي دا دی، چې موږ لومړی غواړو په بنسټیز ډول پر خپل جغرافیایي موقعیت تمرکز وکړو. د هغه دلیل ډېر ساده دی. کانګو له سنګاپور سره پرتله کړئ. په تېرو پنځوسو کلونو کې د کانګو کورني ناخالص عواید، یوازې یو میلیارد ډالر زیاتوالی موندلی دی، په داسې حال کې، چې د سنګاپور کورني ناخالص عواید د کانګو په پرتله، ۴۴ برابره دي! سنګاپور د طبیعي منابعو له لرلو محروم دی، خو د حکومتوالۍ په برخه کې ظرفیت او بشري منابعو لرونکی دی. کانګو د طبیعي سرچینو له اړخه د ځمکې پرمخ یو له شتمنو مالداره هېوادونو دی، خو د «طبیعي منابعو له لعنت»[۱] سره مخ دی. په همدې اساس، موږ لومړی غواړو د سنګاپور په څېر شوو، چې د خپل نوښت او موقعیت پر اساس خپل ژوند ته دوام ورکړی او وروسته غواړو د چیلي یا ناروې په څېر عمل وکړو، څو زموږ طبیعي منابع نه یوازې زموږ اوسني نسل ته، بلکې د راتلونکي نسل لپاره هم ګټه ورځخه پورته شي.

اجازه راکړئ، بېرته د چین موضوع ته وګرځم. راتلونکی کال به له چین سره د دوستۍ شپېتمه کلیزه ونمانځو. موږ په دې لټه کې یوو، چې دغه نمانځغونډه په یوې فرهنګي پېښې بدله شي، یعنې له پوهنتون سره د پوهنتون اړیکه، له مسجد سره د مسجد، له عبادتځای سره د عبادتځي، خلک له خلکو سره، سوداګر له سوداګرو سره او دولت له دولت سره. په همدې اساس، زموږ خلک چې شپېته کلنه همکاري لري، کولای شي لنډ مهالې، منځمهالې او

[۱] Curse of Natural Resources: د هغو هېوادونو اقتصادي پرمختګ ته وایي، چې د پراخو طبیعي سرچینو لرونکي وي، خو د نورو هېوادونو په پرتله، هغه تناقض دی، چې د سرچینو بلا، د سرچینو لعنت یا پریمانه تناقض په نوم یادېږي. دا پدیده مختلف عوامل لري، د بېلګې په توګه په نورو اقتصادي برخو کې د رقابتي واک کموالی، د طبیعي سرچینو له برخې د پانګې فرار، د مدیریت نشتوالی او سیاسي فساد.

اوږدمهالې هیلې ترسیم کړي.

چین د افغانستان ستراتیژیک ملگری دی. دغه سفر په مختلفو برخو کې پر پخوانیو تهدابونو، خو تر ډېره د اړیکو په ژوروالي او پراخوالي ولاړ دی.

د ابرېښمو نوې لارې «د ابرېښمو لارې کمربند» په جوړېدو به د سیمې د تحول په برخه کې یو بنسټیز گام په واقعیت بدل شي؛ هغه میراث چې د دواړو هېوادونو رهبري کولای شي، پر هغه ویاړ وکړي.

مننه!

ژباړه

# د استانبول پروسې ـ آسیا زړه هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو څلورمه غونډه

بیجنګ ـ چین | ۹ لړم ۱۳۹۳ | ۳۱ اکتوبر ۲۰۱۴




## اړوند سکتورونه:

**اقتصاد ـ حکومتوالي ـ امنیت ـ بهرنۍ سیاست**

## د وینا عمده محورونه:

- **د آسیا زړه په څلورلاري د افغانستان بدلېدو ظرفیت**
- **د سیاسي لېږد بهیر او د ملي وحدت حکومت جوړېدل**
- **له سیاسي مخالفینو سره د سولې بین‌الافغاني خبرې اترې**
- **د اقتصادي لېږد بهیر**
- **د افغانستان بهرنۍ سیاست**

## غورچاڼ:

د تخریبي سیاست او جنایت یو ځای کېدل د جنایتکارو شبکو د چټکتیا او انعطاف لامل ګرځېدلی او له هغه سره مقابله د «دولتي نظام» یو ډله‌ییز او منسجم غبرګون ته اړتیا لري. افغانستان د واک سیاسي لېږد د ملي وحدت حکومت په جوړولو سره په ښه ډول ترسره کړ او له سیاسي مخالفینو سره سوله یې پخپل تر ټولو مهم لومړیتوب پېژندلې ده. خو زموږ اقتصادي لېږد له لویو ننګونو سره مخ دی. افغانستان هوډمن دی، چې له خپلو ظرفیتونو لکه موقعیت، اوبه، ځمکه، منرالي سرچینې او د خلکو تشبثاتو څخه کار واخلي. په بهرني اړخ کې، له هغه ځایه چې افغانستان د آسیا زړه او د قدرتونو او سیالو افکارو ترمنځ د تقاطع اصلي نقطه ګرځېدلې، زموږ هدف د نړیوالو اړیکو د پنځو حلقو ترمنځ د همکارۍ لپاره د مناسب بستر جوړول دي. افغانستان د سولې

پراختيا، هوساينې او د افغانستان او سيمې د ثبات په برخه کې د چين پر فعالې همکارۍ حساب کوي.

## د جمهوررئيس غني د وينا ژباړه:

بسم الله الرحمن الرحيم.

د چين ولسي جمهوريت صدر اعظم جلالتمآب لي، د ملګرو هېوادونو د بهرنيو چارو محترم وزيران او د پلاوو محترم رئيسان، آغلو او ښاغلو!

د خوشالۍ ځای دی، چې يو وار بيا په بيجېنګ ښار کې حضور لرم. هغه ښار چې په هغه کې د نړيوالتوب بهير له دريیمې څپې څخه څلورمې څپې[۱] ته د لېږدېدو په حال کې دی، هغه څپه، چې له نېکه مرغه زموږ په دې متصله نړۍ کې به په برخهوالو او شريکانو تبديل شي. له جګړې او بېوزلۍ د ثبات او هوساينې پر لور، د ختيځې آسيا د خلکو تلپاتې سفر کولای شي پر ټېر د بريالي کېدو لپاره موږ ته درس راکړي.

زما قدرمن ملګری د ترکيې جمهوررئيس، ښاغلی اردوغان، د خپل صدرات پر مهال د استانبول پروسه پيل کړه. موږ په ټول درناوي ددې پروسې په رهبرۍ کې د هغه د هڅو مننه کوو او د نوي جمهوررئيس په توګه يې له شخصي ملاتړ او همدا راز د سولې او ثبات په برخه کې د ترکيې حکومت مننه کوو. همدا راز د قزاقستان د حکومت او د جمهوررئيس ښاغلي نظربايف په رهبرۍ د استانبول پروسې د پخوانۍ غونډې د کوربه توب له امله، مننه کوم.

ترکيې او قزاقستان وښوده، چې يو روښانه ليدلوری او رهبري کولای شي لويديځه آسيا او مرکزي آسيا د همکاريو، د خلکو د اړيکو بستر، د افکارو د تقاطع او سوداګريزو مالونو د لېږد مرکزونو او د نښلوونې شبکو جوړولو په يوه څلورلاري، بدل کړي.

لويديځه آسيا چې هغه ته منځنی ختيځ هم وايي، يو وار بيا د پيرياني جګړې شاهده ده. په آسيا کې ددې اوږدې جګړې د اور لمن، چې ځينې مهال يې شغلې زياتېږي او ځينې مهال خاموشه کېږي، د ورانۍ يوې نوې مرحلې ته ننوتې. هماغسې چې د نړيوال نظام دوام د

---

۱ د نړيوالتوب مرحلې د «نني هند» د ګردي مېز په وينا کې بيان شوې دي.

دولت تشکيل، د دولتدارۍ حقوق او مکلفيتونو په عملي کولو پورې تړلی، همدغه ډول په څو دولتونو کې د سياست ناکامي، کولای شي پر ټول دولتي نظام (منفي) اغېز پرېباسي. ناکام يا کمزوري دولتونه پخپل وار د بې‌کاره سياستونو او جرمي شبکو روزنې ته زمينه برابروي. د ورانکارو سياستونو او جنايتونو يو ځای کول، چې د نړيوالتوب بدرنگه څېره نندارې ته وړاندې کوي، دغو شبکو ته لا ډېره چټکتيا او انعطاف وربښي، چې هغوی له سلسله مراتبو سره د سازمانونو د مقابلې ظرفيت په شدت له ننګونو سره مخ کوي. يقيناً ددې ستونزې لپاره حل لاره، د هغو غير دولتي عناصرو د ګواښونو پر وړاندې د دولتي نظام په ډله‌ييز او منسجم غبرګون کې نغښتې ده او له بل لوري بايد دولتونه د هر ډول غير دولتي عناصرو له ملاتړ څخه ډډه وکړي، چې يوازينی هدف يې د دولتونو له منځه وړل دي.

د هغه هېواد په توګه، چې په ۱۹۷۸ ز کال کې د جګړې په خبيثه کړۍ کې ګير شوی یوو، موږ د افغانستان خلک او ملي وحدت حکومت هوډمن یوو، چې هغه لومړنی هېواد واوسو، چې د سولې، هوساينې او ثبات پاکه کړۍ د ډيموکراتيکې پروسې د غښتلي کولو له لارې ـ هماغسې چې زموږ په اساسي قانون کې يې يادونه شوې ـ پيل کړو.

په داسې حال، چې د پخواني عظمت دورې په ژوندي کولو د لېږد له څلورو هممهاله او حساسو بهيرونو سره مخ يوو، زموږ ژمنتيا دا ده، چې خپل هېواد يو وار بيا د آسيا په څلورلارې او د تېرېدو په لار او زموږ د ابرېښمو لارې په رغاولو سره ـ هماغسې چې لومړي وزير ښاغلي لي ورته اشاره وکړه ـ راتلونکې لسيزه د خپلو خلکو لپاره د دوامداره بدلون په يوې دورې بدل کړو.

زموږ د «سياسي لېږد» بهير په ښه ډول جريان لري. له دې ذهنيت څخه په ډډه کولو، چې د ټاکنو بريالی د ټولو امتيازات مالک دی ـ دا ځکه چې دا ذهنيت بالاخره د حذفولو سياست لامل ګرځي ـ موږ «ملي وحدت حکومت» جوړ کړ، څو په حماسه زېږوونکي ډول په ټاکنو کې د ټولو افغانانو په ګډون سره، چې د سياسي لېږد لامل ګرځي، په لومړي ځل، له يوه منتخب جمهوررئيس څخه بل منتخب جمهوررئيس ته د واک لېږد په برخه کې د خلکو مستقيمې ارادې ته، درناوی وکړو. همکار مې، ښاغلی ډاکتر عبدالله، زيات شمېر خلک، نور سياسي نخبه‌ګان او زه، له جمهوررئيس کرزي مننه کوو، چې د سياسي لېږد لپاره په زمينه او اسانتياوو رامنځته کولو کې يې رول ولوباوه. په دې برخه کې زموږ کار نوی پيل شوی او

هوډمن یوو، چې ټول سیاسي لوبغاړي د سیاست مشروع دایرې ته داخل کړو او د موازي حکومتونو نظریې ته د پای ټکی کېږدو.

«سوله» زموږ له مهمو لومړیتوبونو ده. موږ خپلو «سیاسي مخالفینو»، په ځانګړې ډول طالبانو ته بلنه ورکوو، چې بین الافغاني خبرو سره یو ځای شي او همدا راز د افغانستان له ټولو نړیوالو همکارانو غواړو، چې د افغانانو په مالکیت او مشرۍ د سولې له پروسې ملاتړ وکړي. موږ هېڅ ډلې ته اجازه نه ورکوو، چې د خپلو باطلو باورونو عملي کېدو لپاره، زموږ له هېواد څخه د جګړې ډګر یا د نړیوال نظام پر وړاندې د بریدونو ترسره کولو لپاره استفاده وکړي.

د لوړې له مراسمو وروسته، په یوه میاشت کې د اصلاحاتو راوستو لپاره زموږ اراده ټولو ته څرګنده ده. له هېڅ شک او تردید پرته، د افغانانو پر وړاندې به موږ پخپلو ژمنو ـ د خدمتګار په توګه عمل وکړو. موږ د فساد، د حذفولو سیاست او بې‌عدالتیو پر وړاندې قاطع اراده لرو او دې ته تیار یوو، چې سیاسي اختلافات له سیاسي لارې حل و فصل کړو.

د سولې لپاره زموږ هڅې په واقعیت کې د هماغه قدرت ښودنه کوي، چې زموږ هېوادوال او داوطلب وسله‌وال ځواکونه ـ چې له خپل مور هېواد د دفاع او ساتنې لپاره خپله هېوادنۍ دنده ترسره کوي، له غوښتنې څخه اخیستل شوی دی. د روان کال (۲۰۱۴) د ډسمبر په ۳۱ نېټه [۱۳۹۳ د مرغومې لسمه]، د پخواني پروګرام پر اساس، په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو جنګي رول پای ته رسېږي او افغان دفاعي او امنیتي ځواکونه به د هېواد د امنیت بشپړ مسوولیت پر غاړه واخلي.

اجازه راکړئ له دې فرصت څخه په استفادې د ناټو او ایساف په ګډون د ټولو هېوادونو له قربانیو، په ځانګړې ډول د هغو زړورو مېړمنو او نارینه‌وو، چې د افغانانو ترڅنګ یې، ځانونه قرباني کړل، احترام ترسره کړم او قدرداني یې وکړم.

اجازه راکړئ له جمهوررئیس اوباما او په ناټو «غوښ ملاتړ» کې د ګډونوالو هېوادونو له رهبرانو مننه وکړم، چې په لېزبون[۱] او شیکاګو[۲] کې یې د [۳] (۲۰۱۵ تر ۲۰۲۴) لسیزې په اوږدو

---

[۱] د پرتګال په لېزبون ښار کې د ناټو سرمشریزې ناسته، ۱۹ ـ ۲۰ نومبر ۲۰۱۰ ز (۲۸ ـ ۲۹ لړم ۱۳۸۹ ل).

[۲] د امریکا متحده ایالتونو په شیکاګو ښار کې د ناټو د همکاریو سازمان ۲۲ استازو او د افغانستان د جګړې پلاوي په حضور کې د ناټو غړو هېوادونو سرمشریزه، ۲۱ ـ ۲۲ مې ۲۰۱۲ (۱ ـ ۲ غبرګولی ۱۳۹۱ ل).

[۳] د بدلون لسیزه: ۲۰۱۵ ـ ۲۰۲۴ کلونه. د ۲۰۱۱ ز کال د ډسمبر په ۵ په بُن کې د افغانستان په نړیوال کنفرانس کې،

کې د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د ملاتړ لپاره پخپلو نویو ژمنو ټینګار وکړ. د هېواد د وسله‌والو ځواکونو د اعلی سرقوماندان په توګه، زه هوډمن یم، څو د خلکو، امنیتي ځواکونو او افغان دولت ترمنځ د باور ژورې اړیکې رامنځته کړم. په دې ډاډمن شو، چې دا بار زموږ د زړورو امنیتي ځواکونو ـ ښځو او نارینه وو ـ پر اوږدو په نابرابر ډول نه پرېوزي. موږ ژمن یوو، چې د هېواد په عدلي او قضایي بنسټونو، حکومتوالۍ، اقتصاد او فرهنګي برخو کې هر اړخیز اصلاحات عملي کړو.

زموږ د «اقتصادي لېږد» بهیر له سترو ننګونو سره مخ دی. موږ د چارو مسوولیت داسې مهال پر غاړه واخیست، چې د هېواد ملي خزانه د اټکل شویو عوایدو راټولو په کچه کې له جدي کموالي سره مخ ده او په پایله کې یې، موږ د بودجې له پام وړ کسر سره مخ یوو. تر دې بدتره خو دا چې موږ په تېر کې یو اقتصادي لیدلوری نه درلود، څو د هغه پر اساس جرمي، غیر قانوني او د هېواد د اقتصاد غیر رسمي اجزاوو سره مبارزه وکړو او له منځه یې یوسو.

د یو کار وړ دولت لپاره د خنډونو له منځه وړو او د یوه پایداره مالي بنسټ رامنځته کېدو لپاره موږ هوډمن یوو، یو داسې اقتصادي نظام رامنځته کړو، چې دولت جغرافیا، زموږ اوبه، ځمکې او منرالي سرچینې، زموږ د خلکو تشبثي ظرفیتونه او هغه پریمانه پیسې، چې د خلکو، کورنیو او شرکتونو له لوري زموږ په هېواد کې ټولې شوې دي، له یوه داسې سیستم سره یو ځای کړي، چې وکولای شي مشروع ثروت تولید کړي او زموږ خلکو ته د عالي خدمتونو وړاندې کولو لامل وګرځي. له خصوصي سکتور سره زموږ جدي خبرې اترې او په عوایدو راټولوونکو بنسټونو او د هېواد په امنیتي ځواکونو کې د اصلاحاتو عملي کولو لپاره باید زموږ هڅې د افغان او نړیوالو شرکتونو د باور لامل وګرځي، څو په افغانستان کې واقعي سوداګرۍ ته شرایط برابر شي.

---

افغانستان او نړیوالې ټولنې په یوه نوي مشارکت کې د تحول لسیزې لپاره قاطعانه ژمنتیا اعلان کړه. د تحول لسیزه له نړیوالو ځواکونو افغان ځواکونو ته د مسوولیتونو د لېږد بهیر دوام دی، چې په ۲۰۱۴ ز کال کې پای ته ورسېد. په دې لسیزه کې افغانستان د یوه کار وړ او تلپاتې دولت په توګه ـ چې خلکو ته خدمت وکړای شي ـ له لارې ځان غښتلی کوي. د بدلون لسیزه به د افغانستان او نړیوالې ټولنې ترمنځ د ګډون نوې بېلګه وي، چې د راتلونکي امنیت ټینګښت او په سیمه کې د سولې او ثبات د مثبت عامل په توګه به د ملي حاکمیت لرونکی افغانستان، له نړیوالې ټولنې سره تعامل کوي.

موږ له نړیوالې ټولنې خیرات نه غواړو. موږ هوډمن یوو، چې لومړی باید له ځانه پیل وکړو او هغه څه چې لازم دي، ترسره کړو. خو له افغانستان سره د مرستو له امله د چین د جمهوررئیس ښاغلي شي او ددې هېواد له لومړي وزیر ښاغلي لي مننه او قدرداني کوم. هیله لرم، چې د چین په څېر نور هېوادونه هم خپلې مرستې زموږ له اصلاحي هڅو سره همغږې کړي او زموږ ملاتړ وکړي.

ځوانان، مېرمنې او ښوزله، زموږ د هېواد درې لوی اکثریتونه جوړوي، چې تر اوسه یې د اقتصادي او سیاسي لوبه کیو په توګه رول لرلی دی؛ خو ټاکنو، د «خاموش اکثریت» مفکورې ته د پای ټکی کېښود.

زموږ څلورم او تر ټولو مهم لېږد «د دولتي فرهنګ بدلون» او له دولت سره د خلکو د اړیکو په داسې ډول تغیر دی، چې په هغه کې خلک د «بادار» او دولت د «خادم» په توګه وي. په همدې اساس، د ځوانانو، مېرمنو او ښوزلو ځواکمنتیا، د اصلاحاتو د بهیر اعتبار او پایښت، ثبات او ټولنیزې همغږۍ کلیدي عوامل ګڼل کېږي. له ښه مرغه، زموږ ځوانانو هغسې چې په ورزش کې له ځانه وړتیا ښودلې، دا یې هم ښودلې، چې تر ټولو لوړو معیارونو ته د رسېدو هیله هم لرلی شي او همدا راز کولای شي پرې بریالي هم شي؛ په ورته ډول زموږ د ښځو انرژي او د ښوزلو د عزت وقار، بل دلیل دا دی، چې تل یې پر خیرات خپل صادقانه مصروفیت ته ترجیح ورکړې ده. په واقعیت کې، موږ ماهیانو ته نه، بلکې د ماهیانو نیولو مهارتونو ته اړتیا لرو.

ښاغلو او آغلو!

له جغرافیایي دیده، افغانستان د آسیا په زړه کې ځای نیولی او تاریخ دغه ځمکه د قدرتونو او سیالو افکارو ترمنځ د تقاطع په محوري نقطې بدله کړې ده. په همدې اساس زموږ لپاره په ذاتي ډول بهرنی سیاست له کورني سیاست سره اړیکه لري. په دې درک سره، چې موږ د نړیوالو اړیکو د پنځو کړیو ترمنځ د تقاطع په سیمه کې ځای لرو، نو بناً زموږ موخه د دولتونو، سازمانونو، قدرتونو او پاکو شبکو ترمنځ د همکارۍ لپاره د مناسب بستر برابرول دي.

زموږ په بهرني سیاست کې، شپږ ګاونډي هېوادونه، لومړنۍ کړۍ ګڼل کېږي. اسلامي نړۍ دویمه کړۍ بلل کېږي. شمالي امریکا، اروپا، جاپان، استرالیا او د ناټو او ایساف غړي هېوادونه، دریمه کړۍ ګڼل کېږي. آسیا چې په قاره‌یي اقتصاد د بدلېدو په حال کې ده،

څلورمه کړی بلل کېږي او نړيوال انکشافي سازمانونه، ملګري ملتونه، څو مليتي شرکتونه، نړيواله مدني ټولنه او اړوند نور غير حکومتي سازمانونه، پنځمه کړی ګڼل کېږي.

دا ځکه چې دغه پېچلتيا، د تاريخ زېږنده ده، موږ ددې مفکورې له درک پرته بله هېڅ لار نه لرو او هغه بايد په اصولي او عملي ډول رهبري او مديريت کړو. د وخت د کموالي له وجې، په دې برخه کې ځينې لارښودونکي اصول بيانوم:

۱ـ په کلک باور د دولتونو، شرکتونو، نړيوالو سازمانونو او پاکو شبکو ترمنځ د همکارۍ لپاره، موږ هوډ لرو، چې په پنځمه مطرح کېدونکې کړی کې د حکومتونو او سازمانونو ترمنځ د همکارۍ لپاره قوي بستر برابر کړو.

۲ـ موږ د چين او امريکا متحده ايالتونو ترمنځ د همکاريو رامنځته کولو وړتيا لرو. د ناټو سازمان او آيساف ترمنځ همکاري له دې ډلې يوه بېلګه ده. همدا راز د چين او سويلي آسيا ترمنځ به په دې اقدام ګډ کار کوو. د بدلون لسيزې او عملي کېدو په موخه د عمل پروګرام لپاره زموږ ليدلوری، د ترتيب کېدو په حال کې دی، چې رهبري او مالکيت يې موږ افغانان پر غاړه لرو. له همکارانو سره زموږ تعاملات د رغنده خبرو اترو او متقابل احترام پر بنسټ ولاړ دي او په دې برخه کې به د نورو د ملامتولو له سيالۍ څخه ډډه وشي.

۳ـ د حساب‌ورکوونکو بنسټونو او يوه داسې دولت جوړولو په موخه، چې حقوق او خپل مکلفيتونه ترسره کړي، موږ به خپل هر اړخيز اصلاحي پروګرامونه طرحه او تطبيق کړو. د افغانستان له نړيوالو همکارانو غواړو، چې خپلې مرستې او ملاتړ په مشروط ډول په پايلو او اغېز پورې وتړي، نه د غوره کړنو او تګلارو په نظرياتو چې د نا ازمويل شويو پروسو په هلکه دي. تجربو ښودلې، چې له بودجې ملاتړ د اصلاحي بهيرونو او د دولت او ښاريانو ترمنځ د اړيکو رامنځته کولو تر ټولو غوره تګلاره ده. موږ د يوه غوره حساب‌ورکوونکي سيستم د رامنځته کولو غوښتونکي يوو او د هغه د عملي کولو هوډ هم لرو.

۴ـ موږ به هېڅکله هم چاته اجازه ور نه کړو، چې زموږ له قلمرو د بل دولت يا مشروع سازمان پر ضد استفاده وکړي او په مقابل کې يې، له نورو هم د ورته چلند تمه لرو.

۵ـ موږ خپل بهرنۍ سياست ته د اړيکو د يوې ټولګې په سترګه ګورو، چې پراختيا او محدوديتونه يې زموږ د هېواد د حاکميت حق ته په متقابل باور او احترام پورې تړلي دي،

چې د حاکمیت لرونکي هېواد په توګه زموږ حق دی او خپلې پرېکړې د ملي ګټو پر اساس او د سیمې او نړۍ د ګټو په نظر کې نیولو سره، کوي.

۶ـ موږ هوډ من یوو، چې د افغانستان د سولې پروسه د بین‌الافغاني خبرو له لارې رهبري کړو او د هغه مالکیت پخپل واک کې ولرو. له ګاونډیو هېوادونو او نړیوالو همکارانو غواړو، چې په دې حساسه پروسه کې له موږ سره مرسته وکړي؛ په داسې ډول چې په رښتینولۍ او څرګنده وواېي، چې په دې برخه کې له موږ سره د همکارۍ ارادې ظرفیت لري او کنه.

۷ـ موږ به خپلې هڅې د لېږد د څلورو هممهاله بهیرونو د تحقق په برخه کې د بریالیتوبونو د کچې پر اساس، وارزوو. همدا راز له خپلو همکارانو غواړو، چې له موږ سره په خبرو او عمل کې یو ځای شي.

آغلو او ښاغلو!

د هېواد د جمهوررئیس په توګه په بیجېنګ ښار کې د آسیا زړه پروسې په غونډه کې زما لومړنی حضور دومره خوشالوونکی دی، چې په بل هېڅ غونډه کې دومره نه یم خوشاله شوی. غواړم د چین له جمهوررئیس ښاغلي شي، لومړي وزیر ښاغلي لي او د چین له ولسي جمهوریت مننه وکړم، چې ماته یې ددې لوی ملت د یوه دولتي مېلمه په توګه بلنه راکړه او همدا راز دا چې ددې مهمې غونډې د پرانستو ویاړ مو راکړ، له تاسو مننه کوم.

اجازه راکړئ، څو د خلکو ګوند، د چین د خلکو او حکومت د ګرمې مېلمه پالنې او همدا راز د آسیا زړه پروسې د بهرنیو چارو وزیرانو څلورمې غونډې کوربه توب له امله په مننې، خپلې خبرې پای ته ورسوم. همدا راز د هغوی له عالي رهبرۍ، چې د قزاقستان له الماتې ښار څخه تر اوسه یې د آسیا زړه پروسې د بهرنیو چارو وزیرانو څلورمې غونډې ګډه ریاست په ښه ډول پرمخ یوړ، مننه کوم.

موږ په افغانستان او ټوله سیمه کې د سولې پراختیا، هوساینې او ثبات په برخه کې د چین ولسي جمهوریت پر فعالې همکارۍ حساب کوو. موږ افغانان د چین له توجه او ملاتړ منندوی یوو او په لېوالتیا یې پایلو ته منتظر یوو. موږ هوډمن یوو، چې پر تاریخ بریالي شو او دې هدف ته د رسېدو لپاره، یوازینی څه چې هغه ته اړتیا ده، ستاسو مرسته ده.

مننه!

# د چین او افغانستان د سوداګرو او پانګه‌والو غونډه

بیجېنګ ـ چین | ۹ لړم ۱۳۹۳ | ۳۱ اکتوبر ۲۰۱۴




## اړوند سکتورونه:

**اقتصاد ـ بهرنی سیاست**

## د وینا عمده محورونه:

- **د تولیدي هېواد پر لور د افغانستان حرکت**
- **د افغانستان او چین اقتصادي همکاري**
- **په چین کې د افغان متشبثینو فعالیت**
- **ګډه پانګونه او شته فرصتونه**
- **د بازار موندنې او ارزښت زنځیر**

## غورچاڼ:

د افغانستان له عمده موخو څخه، په یوه تولیدي او صادرونکي هېواد بدلېدل دي، چې د هغه لپاره پر صنعتکارانو د افغان سوداګرو بدلېدل لازمي دي. له نړیوالو صنعتکارانو سره په ګډه پانګونه او پر پانګې د پیسو بدلول، زموږ پام وړ اقتصادي موخې جوړوي. د افغان متشبث لویه ستونزه، د ارزښت زنځیر نه درلودل دي او د بازار موندنې ارزښت لرونکو توکو په پېژندنه کې د افغانانو لپاره د چین همکارۍ ته اړتیا ده. د مارکېټ پراختیا د دوو محصولاتو په انتخاب ممکنه ده او په دوام یې د وارداتو او صادراتو ستراتېژي جوړېدلای شي. په دوه اړخیزه سوداګریزو اړیکو کې، د پانګه‌وال په پرتله د افغان سوداګر د مصئونیت احساس مهم دی او باید ووایو، چې د هغوی له لوري چین ته امنیتي ګواښونه، د تصور وړ نه دي. په چین کې د افغان سوداګرو لپاره باید داسې چاپېریال برابر

شي، چې وکولای شي خپل ځانونه ځواکمن کړي، دا پخپله د دوو هېوادونو ترمنځ د اړیکو د پراختیا کیلي ده. د چین لوری هم په افغانستان کې د سوداګرۍ لپاره ډېر فرصتونه لري. افغانستان «د ملي زېربناوو پلان» جوړولو لپاره د چین د مشارکت غوښتونکی دی، څو د باور فضا رامنځته شي او افغانستان تر راتلونکو پنځو کلونو پورې خپلو لازمو زیربناوو ته انکشاف ورکړي. همدا راز افغانستان د مناسبې امنیتي فضا جوړولو ته ژمن دی. راتلونکی افغانستان به د سویلي آسیا، مرکزي آسیا، سویلي آسیا او ختیځې آسیا د نښلېدو ځای (د اتصال محور) وي.

## د جمهوررئیس غني د وینا ژباړه:

ښاغلی وونګ[۱]، ښاغلی سفیر، د چین د سوداګرۍ او صنایعو خونې غړو، د افغان پلاوي غړو!

ډېر زیات خوښ یم، چې نن ستاسو په خدمت کې یم. ددې خوښۍ سرچینه هغه محرک دی، چې افغانستان کې به تحول رامنځته کړي. د پرمختګ او اقتصاد محرک! که دا محرک په ټولې چټکتیا عمل و نه کړي، موږ به هغو دوه اړخیزه ګټو ته، چې زموږ هېوادونه ورته اړتیا لري، لاسرسی ونه مومو.

اجازه راکړئ لومړی څینې عمومي موضوعات بیان کړم؛ تر هغه وروسته به په مشخص ډول د افغانستان او چین ترمنځ په همکاریو وغږېږم.

لومړی ـ په یوه صادرونکي ملت بدلېدل زموږ موخه ده. د چین، کوریا، سنګاپور، مالیزیا، چیلي او نورو تجربې دا موضوع واضح کوي، چې په یوازې د محافظتي اقداماتو له لارې سیالۍ ته لاسرسی نشو موندلی او د توکو صادراتي وړتیا ترلاسه کول، د ملي سیالۍ د ستراتېژۍ په عملي کولو پورې تړلې ده. کله چې موږ د چین وارداتي معیارونه عملي کړو، هغه مهال به ددې وړ شو، چې د خپل کورني او ملي مارکېټ اړتیاوې پوره کړو؛ دا یو مهم اصل دی.

د وارداتو او صادراتو ترمنځ زموږ نننی توازن ۱۹ او ۱ دی. موږ نشو کولای په همدې ډول مخ ته ولاړ شو. که په ساده ډول ووایو، موږ باید دا تګلاره، چې په هغه کې حکومت او سوداګري له یو بل سره تړلې ده، بدله کړو.

---

[۱] Wang Qinmin: د چین ولسي جمهوریت د سوداګرۍ او صنایعو خونې رئیس (د ۲۰۱۲ ډسمبر له ۱۱)

دویم ـ په ورته مهال نشي کېدای، چې د حکومت او سوداګرۍ اړیکې د پرازیټ په ډول وي. په همدې اساس، موږ غواړو د حکومت او خصوصي سکتور ترمنځ اړیکې نږدې شي. زموږ بنسټیزه ستونزه دا ده، چې موږ عالي سوداګر یوو او په ګټه کې له ۲۰۰ سلنې تر ۴۰۰ سلنې ګټې ترلاسه کولو وړتیا لرو، خو زموږ صنعتکاران د ۱۰ سلنه ګټې ساتلو وړتیا نه لري! موږ غواړو دا وضعیت بدل کړو. موږ له خپلو سوداګرو غواړو، چې په صنعتکارانو بدل شي او دا هغه مهال کېږي، چې موږ وکولای شو خپلې لومړنۍ موخې ته ورسېږو. په همدې دلیل د حکومت ټولې پالیسۍ به پر دې متمرکزې وي، چې افغانستان له یوه مصرفوونکي مرکز څخه په یوه تولیدونکي مرکز بدل شي.

زموږ خصوصي سکتور هم له حکومت سره د کار په برخه کې، له لویو ستونزو سره لاس و ګرېوان دی. موږ نه غواړو، چې ټول تمرکز مو باید د ځواکمن (اقتصادي) چاپېریال، چې په یو معیار باندې بدل شوی وي، په جوړولو وي. موږ د حکومت او خصوصي برخې ترمنځ د نږدې والي غوښتونکي هم یوو؛ داسې نږدې والی، چې په هغه کې دوه اړخیزه باور او تعامل موجود وي. دې موخې ته د رسېدو لپاره د خصوصي او حکومتي برخو ترمنځ د همکارۍ رامنځته کولو په موخه موږ د یوې ملي اقتصادي شورا جوړولو په حال کې یوو او همدلته ده، چې په یوه صنعتکار د یوه سوداګر بدلولو لپاره د یوه ځواکمن میکانېزم جوړولو زمینه برابرېږي.

باید ووایم، چې د نامنظمو وارداتو دوره پای ته رسېدلې. موږ ډاډ ورکوو، چې خصوصي سکتور به نه مجبورېږي، څو فاسدو دولتي چارواکو ته پیسې ورکړي. خصوصي برخه به له هغه حالت څخه چې په پالیسیو کې ځای نه لري، یوه داسې ځای ته ورسېږي، چې په دې برخه کې مرکزي رول ولوبوي. همدا راز په عدلي او قضایي برخو کې، چې موږ یې د جوړولو په هڅه کې یوو، ددې نږدې والي رامنځته کېدو لپاره امکانات او مناسب چاپېریال برابر کړي.

دا عمومي اصول او قواعد دي، چې محترمو همکارانو ته د ډاډ ورکولو لپاره مې بیان کړل.

ناراحته کوونکی حقیقت دا دی، چې زموږ پانګه‌وال خپلې پیسې بهر ته لېږدوي او که څه هم دوی وړیا استثنا ولري، بیا هم له خپل ملک بهر پانګونه کوي، موږ غواړو دا موضوع بدله کړو. د افغان دولت او افغان پانګه‌والو ترمنځ د ټولو پانګه‌والو لپاره د امنیت احساس رامنځته

کولو په موخه به جدي خبرې اترې وشي. غواړم تاسو ته ډاډ درکړم، چې که یو څوک افغان سوداګر اختطاف کړي، له ۲۰ تر ۲۵ کالو بند سزا یا ان اعدام به شي! ما په وروستیو کې د بښنې هغه فرمان لغوه کړ، چې د یو شمېر سړي تښتوونکو د بښنې لامل ګرځېده. په هېڅ صورت به هغوی ته د بښنې اجازه ور نه کړل شي. د حکومت له لومړنیو موخو، د سوداګرو خوندیتوب دی. موږ تاسو ته ډاډ درکوو، چې په ګډه به کار وکړو، څو تاسو ډاډه شئ، چې ژوند، پانګه او پانګونه مو خوندي دي. زموږ له لوري دغه موضوع د ډېر اهمیت وړ ده.

بله اصلي کلي، له افغانانو سره د همکارو، شرکتونو او نړیوالو شریکانو «ګډه پانګونه» ده. ټینګار کوم، چې دا زموږ لپاره ډېر زیات مهم اصل دی. په دې برخه کې د چین بریالۍ تجربه ددې ښودنه کوي، چې له ګډې پانګونې، له نړیوالو تجربو او د پیسو او ملي پوهې له استفادې پرته، دې موخو ته رسېدل امکان نه لري. په همدې اساس موږ غواړو باوري شو، چې په ټولو سکتورونو کې له نړیوالو شریکانو «صنعتکارانو» سره د ګډې پانګونې اصل ـ ددې لپاره چې هر یو د مهارتونو یادولو او مارکېټ جوړولو په برخه کې زمینه برابروي ـ موجود دی.

له هغه ځایه چې «مارکېټ» یوه کلیدي نقطه ده، اجازه راکړئ په اړه یې یو څه ووایم. لومړۍ موضوع دا ده، چې زموږ هېوادوال مارکېټ ډېر ښه پېژني. که چېرې تاسو له افغانانو وغواړئ، چې د منو پر ځای زردالو وکري یا یې برعکس، هغوی دا کار په اسانۍ ترسره کوي. موږ لکه د چینایانو په څېر یوو، موږ متشبث خلک یوو؛ زموږ ستونزه «د ارزښت زنځیر»[1] نه لرل دي.

په همدې اساس، ښاغلی وونګ! هغه څه چې زموږ لپاره ډېر زیات مهم دي، د یوې ګټورې دوه اړخیزه اړیکې لرل دي. د چین د سوداګرۍ او صنایعو له خونې زموږ غوښتنه دا ده، څو د هغو توکو په پېژندلو کې له موږ سره مرسته وکړي، چې د بازار زنځیر[2] کې وي. موږ تېره ورځ د زعفرانو یادونه وکړه ـ چې زه په دې برخه کې پر هڅو بوخت یم ـ او د مرمر ډبرو بازار

---

[1] Value Chain: بازار ته د ارزښت لرونکو خدمتونو یا یوه محصول وړاندې کولو لپاره د یوه ځانګړي صنعت، یوه سازمان یا یوه شرکت له لوري د کړنو ترسره کولو یوه ټولګه ده. د ارزښت زنځیر د طرحې، تولید، بازار موندنې او وېش فعالیتونو یو بشپړ بهیر په ځان کې رانغاړي، چې له «مفهوم» څخه «پېرېدونکي ته سپارلو» پورې د یوه محصول یا خدمتونو بهیر ترسره کوي. د ارزښت په زنځیر کې د فعالیتونو څرنګوالی، د لګښتونو پر ټاکلو او عوایدو اغېز لري.

[2] Marketing Chain: د اړوندو بنسټونو یوه ټولګه ده، چې د تولید له مرحلې تر پلور پورې د مصرفوونکو لپاره یو ځانګړی محصول برابروي. د زنځیر هره کړۍ په کار او عوایدو کې شاملېږي.

د بدلون لپاره د لارو چارو په هڅه کې یوو. د دغو ښاغلو هر یو یې [افغان متشبثینو ته اشاره ده] ددې وړتیا لري، چې له افغانستان څخه چین ته د صادراتو زمینه برابره کړي. په تأسف سره، چې مېرمنې دلته حضور نه لري، خو ټینګار کوم، چې موږ متشبثې مېرمنې لرو، راتلونکې ځل به هغوی پخپل حضور سره ډاډ ورکړي، چې لا ډېر جنسیتي تعادل شته دی. د افغان متشبثو مېرمنو په منځ کې، غښتلي کسان هم شته دي.

هماغسې مې چې وویل، هر یو ښاغلی به ددې وړ وي، چې له افغانستان څخه چین ته د صادراتو زمینه وپېژني. تاسو افغانانو ته د باور بښلو په برخه کې، چې هغوی کولای شي ډېره ګټه ترلاسه کړي، کلیدي رول لرئ. دغه مهال، زموږ کروندګر او کارخانې کولای شي خپل ورځني عواید له ۱ تر ۲ ډالرو او له ۴ تر ٦ ډالرو ته پورته کړي. دا زموږ لپاره د اهمیت وړ موضوع ده.

په پایله کې، راځئ په پیل کې په دوو توکو زعفرانو او مرمر ډبرو، مارکېټ ته پراختیا ورکړو. زه وړاندیز کوم، چې وروسته به متشبثین او زموږ د سوداګرۍ خونه، ۱۰ کلیدي توکي، چې د هغو پر اساس د وارداتو او صادراتو لپاره یوه ستراتېژي، کېدای شي منځته راشي، مشخصه کړي. دا کار په فوق‌العاده ډول مهم دی.

راتلونکی کال، یو ارزښتناک فرصت دی، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو شپېتمه کلیزه نمانځل کېږي. موږ وړاندې ۲۰۱۵ کال «د افغانستان چین د دوستۍ کال» نومولی دی. موږ غواړو لږ تر لږه د کال ۴ میاشتې د سوداګرۍ ـ سوداګرۍ همکاریو[1] ته ځانګړې کړو او ددې موضوع یادونه وکړو، چې د چین مارکېټ، د افغانانو د هوساینې کیلي ده.

دا فرصت، د غونډو او نندارتونونو جوړولو زمینه برابروي، څو په ځانګړي ډول خپلې د شرکت ـ شرکت او سوداګرۍ ـ سوداګرۍ اړیکې رامنځته کړو او په پایله کې، زموږ او ستاسو د پرمختګ لامل وګرځي.

دویمه موضوع دا ده، چې موږ په چین کې لږ تر لږه څلور زره فعال متشبثین او پانګه‌وال لرو. د بهرنیو چارو وزارت یوه ارزونه هم شته ده. ددې موضوع په تړاو وړاندې ما له لومړي وزیر

---

[1] Business to Business Cooperation.

(لي) سره خبرې کړې دي. هغه بهرنیو چارو وزارت ته لارښوونه کړې، چې د خپل هېواد د پانګونې پر مقدماتو او ویزې سیستم بیا کتنه وکړي. دا یوه ډېره مهمه مسئله ده، چې په یوه مناسب سیستم کې افغان سوداګر په چین کې د خپلې پانګونې په تړاو د خوندیتوب احساس وکړي.

په ورته مهال، زه د جمهوررئیس په توګه ډاډ درکوم، چې د افغان متشبثینو هېڅ یو یې امنیتي ګواښ نه دی یا په غیر قانوني فعالیتونو کې بوخت نه دي. د هغوی هر یو، چې په دغو فعالیتونو کې شاملېږي، په افغانستان کې له سوداګرۍ محرومېږي. زه غواړم دا په ډاګه کړم او تاسو ته ډاډ درکړم، هر افغان سوداګر، چې د افغانستان د سوداګریزې ټولنې عزت او آبرو په خطر کې واچوي، د سوداګرۍ جواز به له لاسه ورکړي. البته په دې برخه کې زموږ دواړو لوریو همکاري اړینه ده.

موږ په چین کې د خپلو متشبثینو لپاره د یو ځواکمنوونکي چاپېریال غوښتونکي یوو. هغوی زموږ د هېوادونو د اړیکو کلیګانې دي او په دوه اړخیزه ګټو ولاړو اړیکو د موجودیت ضمانت کوي.

په دریمه برخه کې غواړم په افغانستان کې د چینایانو لپاره د سوداګرۍ پر برابرو فرصتونو خبرې وکړم. جمهوررئیس شي[1] او لومړي وزیر لي، زموږ هغه وړاندیز په مهربانۍ منلی، چې افغانستان ته به د کاري ځواک یوه نوې ډله استول کېږي. ښاغلي لومړي وزیر نن سهار زه خبر کړم، چې په دې برخه کې به په یوه هر اړخیز ملي زېربنایي پلان تمرکز وکړي. په همدې اساس، په برېښنا، اوبو، لویو لارو، اوسپنیزو کرښو، بیارغاونې او نورو متمرکز ملي زېربنایي پلان جوړولو لپاره دولتي او خصوصي چینایي شرکتونو ته بلنه ورکوم. د پیل لپاره، دا پنځه سکتورونه مشخص شوي دي.

پر دې سربېره موږ د چین له دولت څخه غوښتنه کړې ـ چې خصوصي سکتور په مهربانۍ سره منلې ده ـ څو د تصدیو لپاره په افغانستان کې یو لړ ځانګړي زونونه جوړ کړي. موږ به له چین سره پر پوله په دې برخه کې کار وکړو. ددې ترڅنګ موږ د چین او هند د ګډې ټکنالوژۍ د یوې بستې غوښتنه هم لرو. د چین او هند د همکاریو د یوې برخې په توګه، یو لوی فرصت شته، چې افغانستان د معلوماتي ټکنالوژۍ د تصدیو مرکز په توګه په پام کې

---

[1] Xi Jing Ping.

ونیول شي.

د یادونې وړ ده، چې د ملي زېربنايي پلان په بشپړېدو او ترتیب سره به، موږ د بودجې جوړولو پروسه په درې کلنې پروسې بدله کړو، چې د هغه په چوکاټ کې به زموږ د فعالیتونو ډګر ملي شي. په همدې اساس، ټول خصوصي شرکتونه او زموږ نړیوال همکار شرکتونه به په دقیق او سم ډول پوه شي، چې موږ کومې ملي پروژې تنظیم او ترتیبوو. دا کار به د ابهام راکمولو لامل وګرځي او موږ به په یوه منظم او همغږي پلان سره یو بل ته نږدې کړي. په دې برخه کې د مشارکت لپاره چینايي شرکتونو ته ډېر فرصت شته دی، چې د هغوی په عملي کېدو کې برخه واخلي. د مالي تمویل یوه برخه به د چین په بلاعوضه مرستو او پاتې به يې د نړیوالو سرچینو له لوري تامین شي. په لومړۍ مرحله کې موږ همدا راز لېوالتیا لرو، چې په عصري نړۍ کې کشف، کار او ابادي وکړو او ورسره یو ځای شو او په دویمه مرحله کې، د چین له صادراتي بانک سره د اړیکو رامنځته کولو په لټه کې یوو.

باوري اوسئ، چې افغانستان به په راتلونکو پنځو کلونو کې له لازمو زېربناوو څخه برخمن شي، چې د هغه په مرسته یو ځل بیا به د ابرېښمو په نوې لارې کې د ابرېښمو سړک په یوه نوي مرکز بدل شي، نو د یوې برخې په توګه عمده فرصتونه موجود دي. په همدې اساس ګډه پانګونه د اصولو پر اساس د زده‌کړې او ګټې د یوې دوه اړخیزه مهمې وسیلې په توګه بدله شي، چې زموږ د پرمختګ لامل به وګرځي. خو دلته اصول هم شته دي؛ هغه کسان چې ګډه پانګونه کوي باید ضمانت ورکړي، چې په درېیو کلونو کې به خپل افغان سیال په معیاري ډول روزي. لومړۍ مرحله به په یو ډول نویو فعالیتونو سره وغځېږي. کله چې زموږ زېربنايي پلان عملي شي، تاسو کولای شئ د نویو فرصتونو لاسته‌راوړنو لپاره، مخ پر وړاندې حرکت وکړئ.

اجازه راکړئ د یو دوه نورو موضوعاتو په اړه هم خبرې وکړم:

لومړی ـ دا چې يو شمېر چينايي شرکتونو د عينک مسو کان[۱] او آمو سيند تېلو حوزې[۲] کې پانگونه کړې ده. موږ د دغو شرکتونو د ژمنتيا له امله د هغوی قدرداني کوو، هغه عمده ژمنې، چې موږ ورته د قدر په سترگه گورو. که څه هم ځينې ستونزې لکه امنيتي ستونزې، زموږ له لوري شته دي. غواړم تاسو ته ډاډ درکړم، چې ما د ښاغلي اتمر، د افغانستان د ملي امنيت شورا سلاکار، تر غوره رهبرۍ لاندې اړوندو امنيتي وزارتونو ته لارښوونه کړې، چې په لوگر ولايت کې د عينک مسو کان او د افغانستان په شمال کې د آمو سيند امنيتي وضعيت وارزوي. تاسو به د داسې اقداماتو شاهدان واوسئ، چې امنيتي فضا به په بنسټيز ډول د ښه کېدو پر لور بدله کړي.

دويم ـ د ټولنيزو اړيکو او غير منطقي مسايلو يوه ټولگه هم شته، چې موږ به هغه ته هم رسېدنه وکړو. خو په مقابل کې يې، د اوسپنيزې کرښې جوړولو ته ژمنتيا زموږ لپاره ځانگړې اهميت لري. موږ غواړو ډاډه شو، چې اوسپنيزه کرښه له عينک څخه د افغانستان تر شمال او پاکستان پورې جوړېږي. دا اوسپنيزه کرښه يوازې په عينک مسو کان پورې تړلې نه ده. موږ به د توکو په يوه صادرونکي ملت بدل شو او د راتلونکو شلو کلونو په اوږدو کې به، د نړۍ د مسو او اوسپنې له لويو توليدونکو وگرځو. يوازې د مرمرو ډبرې به زموږ لپاره له ۵۰۰ ميليونو تر يو ميليارد ډالر عوايد ولري. زموږ توکي (د وزن له نظره) درانده دي. په همدې دليل بايد موږ باوري شو، چې اوسپنيزه کرښه جوړېږي. اوسپنيزه کرښه د بار وړلو لپاره تر ټولو لومړنی او غوره سيستم دی. په دې تړاو بحثونه روان دي او موږ هيله لرو، چې د ملي پلان، د امکاناتو ارزولو مطالعاتو او د برېښنا انرژۍ سکتور طرحې په تړاو د چين د اوسپنيزو کرښو شرکتونه هم له موږ سره يو ځای شي.

حقوقي هوکړه‌ليکونه بايد تطبيق شي او موږ بايد د منازعاتو د حل لپاره واضح ميکانيزمونه ولرو. موږ په دې برخه کې ډېر دقيق يوو.

---

[۱] د عينک مسو کان: د لوگر ولايت په محمد آغې ولسوالۍ کې د نړۍ په کچه د مسو دويم لوی کان دی. ددې کان ذخاير ۱۳ ميليون ټنه ښودل شوي، خو د ځمکپېژندنې او د سيمې د تکنوتيکي ځانگړو پر اساس له ۲۵ ـ ۳۰ ميليون ټنو پورې هم په کې شته دي.

[۲] د آمو سيند د تېلو حوزه: د افغان ـ تاجک د تېلو له شپږو لويو حوزو څخه يوه ده. په فارياب کې د تېلو په دې حوزه کې د شته تېلو کچه د لومړنيو معلوماتو پر اساس ۸۷ ميليون بوشکې اعلان شوې او د ۲۵۰ ميليون بوشکو وړاندوينه هم شته ده.

خوښ یم، چې په ګډه د تېلو په سکتور د خپلو همکارانو او د افغانستان د خصوصي سکتور د تیاري او ورتیا خبر تاسو ته رسوم. خصوصي سکتور ژمن او تیار دی، چې د تېلو د تولید او تصفيې په برخه کې، ګډه پانګونه وکړي. موږ غواړو، چې ډېر ژر د افغانستان په داخل کې د تېلو یوه تصفیه‌خونه جوړه کړو. یو شمېر افغانانو په دې برخه کې د ۶۰۰ میلیون ډالرو ژمنه کړې ده.

مهرباني وکړئ له موږ مه غواړئ هغه ستونزې حل کړو، چې په توان کې مو نه وي. موږ لېواله یوو، چې له ازبکستان سره، چې زموږ یو کلیدي همکار دی، خپلې اړیکې غښتلې کړو؛ خو ډېرې سوکه پرمخ ځي. د افغانستان په داخل کې د (تېلو) تصفیه‌خونو جوړول مخ پر وړاندې تګ لپاره یو مهم ګام دی او هیله‌مند یوو، چې تاسو هم په دې برخه کې له موږ سره یو ځای شئ. که چېرې ستاسو شرکتونه په دې برخه کې کار ترسره کولو ته اړتیا نه لري، نور انتخابونه هم لرو، چې له هغې ډلې کولای شو ووایو، کوریایي شرکتونه هم دې کار ته تیار دي. د تصفیه‌خونو جوړولو لپاره د شرایطو جوړول، زموږ د ملي امنیت او ملي اقتصاد لپاره لازمي دي او موږ تاسو ته بلنه درکوو، چې په دې برخه کې له خصوصي سکتور سره مشارکت وکړئ.

اجازه راکړئ، د خپل لیدلوري په بیانولو سره پایلې ته ورسېږو. لرغونی افغانستان، د ابرېښمو لارې مرکز و. څنګه مې چې وړاندې واضح کړه، د ابرېښمو لار یو پېچلي سیستم و. راتلونکی افغانستان به د لویدیځه آسیا، مرکزي آسیا، سویلي آسیا او ختیځې آسیا د نښلېدو محور وي. موږ غواړو باوري شو، چې د خپل موقعیت (جغرافيې) او خپلو تشبثاتو په اساس، خپل ژوند ته دوام ورکړو. په همدې اساس موږ افغانستان ته د انرژۍ لېږد لېنونو د نښلېدو مرکز په توګه د پایپ لېنونو د نښلېدو مرکز، د هوايي اړیکو، بارچلونې او د اسانتیاوو او نورو مرکزونو له اړخه ګورو. د آیساف او ناټو د حضور په دوام کې، په افغانستان کې لوی هوايي ډګرونه جوړ شوي، چې په لومړیو کې ترې د پوځي اهدافو لپاره ګټه اخیستل کېده. د هلمند په ښوراب کې زموږ هوايي ډګر د سیمې په کچه تر ټولو لوی هوايي ډګر دی او ددې وړتیا لري، چې د بارچلونې د اسانتیاوو برابرولو او سوداګریزو سیستمونو په عمده مرکز بدل شي.

په همدې اساس، موږ باید د داسې لارو چارو په لټه کې شو، چې وکولای شو نه یوازې د توکو د سوداګرۍ له دیده، بلکې له نورو اړخونو هم له یو بل سره ونښلېږو. ما له ۱۹ کلونو

وروسته تیانجین او ددې ځای بدلونونه او تحولات ولیدل. دا ښار د چین د بریالیتوبونو یوه بېلګه ده او زموږ خصوصي سکتور باید درک کړي، چې دا د خصوصي سکتور مشارکت ښودنه کوي. موږ لېواله یوو، چې د تولید په برخه کې زموږ له دولتي سکتور او یا له وړاندې تیار شویو تولیداتو په برخه کې سره د ګډې پانګونې لپاره چینایانو ته بلنه ورکړو. د کور جوړونې مارکېټ باید په چټک ډول په حرکت راوستل شي او موږ د اړتیا وړ شرایطو جوړولو ته لېواله یوو.

اجازه راکړئ یو وار بیا له ښاغلي وونګ، زموږ له غښتلي مالیې وزیر، زموږ د ملي امنیت شورا سلاکار، ښاغلي الکوزي او ټولو سوداګرو، چې دغه غونډه یې جوړه کړې، مننه وکړم. د افغان دولت په تړاو، تاسو ته ډاډ درکوم، چې تاسو د ستونزو د حل لپاره یو هوډمن او تیار شریک لرئ. موږ باید په سوداګریزه ټولنه کې د شته کلیدي ستونزو او د نړیوالو پانګه‌والو د ستونزو لپاره په عملي حل تمرکز وکړو. اجازه راکړئ، تاسو ته ډاډ درکړم، چې د سوداګرو لپاره د افغانستان دروازه پرانستې ده.

د مشروع شتمنۍ لاسته‌راوړل له بېوزلۍ زموږ د اېستو کیلي ده. موږ په دې برخه کې د چین د تجربې د تکرار غوښتونکي یو، موږ دوه رقمي پرمختګ ته اړتیا لرو، ځکه له هغه پرته، زموږ د نفوس زیاتېدل به یوازې زموږ ټولې لاسته‌راوړنې مصرف کړي. باور لرم، چې خبرې به مو د سوداګرۍ د دوو خونو ترمنځ، مثبتې او اغېزناکې وي او خوښ یم، چې ماته مو دا فرصت برابر کړ.

# سعودي عربستان او چین ته د جمهوررئیس د سفرونو د لاسته‌راوړنو په تړاو مطبوعاتي کنفرانس

**کابل | ۱۰ لړم ۱۳۹۳ | ۱ نومبر ۲۰۱۴**



## اړوند سکتورونه:

**بهرنی سیاست ـ امنیت ـ اقتصاد**

## د وینا عمده محورونه:

- **سعودي عربستان او چین ته د جمهوررئیس د سفر لاسته‌راوړنې**
- **ملي زېربنایي پلان**
- **په افغانستان کې پانګونه**
- **له مخالفو وسله‌والو سره خبرې اترې**

## غورچاڼ:

سعودي عربستان ته د سفر پر مهال جمهوررئیس ددې هېواد له مشرانو سره د افغان کارګرو او کډوالو ستونزه شریکه کړه او د حل غوښتنه یې وکړه. همدا راز د کابل او ریاض ښارونو ترمنځ د توأمیت موضوع ته د ریاض ښاروال ځانګړې پاملرنه وکړه. خو د چین سفر د دوو موخو لپاره ترسره شو؛ ددې هېواد د جمهوررئیس په بلنه د جمهوررئیس غني سفر او د آسیا زړه د بهرنیو چارو وزیرانو په ناسته کې ګډون. چین ژمنه وکړه، چې سږ به پنځه سوه میلیونه چینایي یوان او په راتلونکو درېیو کلونو کې ۱,۵ میلیارد چینایي ایوان بلاعوضه مرسته کوي، پنځه زره متخصصینو ته به تخنیکي روزنه ورکوي او پوهنتونونو ته به پنځه سوه بورسونه برابروي. چین په امنیتي برخه

کې هم د مشخصو مرستو ژمنه وکړه. پر دې سربېره د تیانجین او هرات ترمنځ توأمیت رامنځته شو. چین د ملي زېربنایي پلان جوړولو ته هم تیاری ښودلی دی. د آسیا زړه په کنفرانس کې، پانګه‌وال په افغانستان کې پانګونې ته وهڅول شول. د پانګونې بستر د برابرولو لپاره په لومړي ګام کې زموږ قضایي او حقوقي سیستم او بانکوالي اصلاح کېږي. همداراز د ګمرکاتو د اصلاح او د قاچاق د مخنیوي لپاره هم مسؤولینو ته روښانه لارښوونې شوې دي. د سولې د ټینګښت او د پانګونې لپاره د مناسب بستر رامنځته کولو لپاره، د بهرني سیاست په ډګر کې ځانګړي اقدامات ترسره شوي دي. سوله به له سیاسي مخالفینو سره، هغوی چې له نظام سره ستونزه لري، کېږي. ملي وحدت حکومت د ګډ سیاسي لیدلوري د رامنځته کولو او د اختلافاتو د مخنیوي لپاره رامنځته شوی او موږ سیاسي اجماع ته رسوي.

## د جمهوررئیس غني وینا:

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم. اما بعد اعوذ بالله من الشیطان الرجیم. بسم الله الرحمن الرحیم.

ښه راغلاست!

له لوی خدای نه ډېر ممنون یم چې موږ ته یې دا فرصت برابر کړ څو هغه ژمنه چې مو کړې وه، چې اول سفر به مو عربستان ته وي او عمره به ادا کوو دا تر سره شوه. علمای کرام همراه من مهربانی کردند به این سفر تشریف بردند و در مدینه منوره و مکه مکرمه یکجای مناسک و مراسم را انجام دادیم. امید است که خدا(ج) دعای ملت افغانستان را برای صلح، ثبات و رفاه دوام‌دار قبول کند.

همدارنګه د عربستان له ولیعهد او د ریاض والي او د شاهي کورنۍ او د کابینې نورو غړیو سره مو په مقدماتي ډول وکتل. دوه موضوع ګانې موږ ته د خاص اهمیت وړ وې؛ یوه د افغاني کارګرانو چې په پاکستاني پاسپورټ تللي ول او هلته یې بنیادي ستونزې درلودې او دومره کلونو کې حل شوې نه دي، دې موضوع ته توجه. تعداد تخمینی کارگران افغان که با پاسپورت‌های بیرونی به مملکت برادر ما عربستان سعودی رفته‌اند در حدود سه‌صد هزار تخمین می‌شود! دلیل عمده‌اش این است که از کودتای ثور[۱] تا به حال، دولت عربستان سعودی اجازه رفتن کارگران افغان، مستقیماً از افغانستان به عربستان سعودی، را اهدا نکرده

---

[۱] کمونیستي کودتا، ۷ غويی ۱۳۵۷ لمریز.

بود. تمرکز ما بر این است. وعده شده که در ملاقات‌های بعدی، ما به دقت این مسأله را تعقیب کنیم و ان‌شاءالله تعالی این مسأله را حل خواهیم کرد.

یکی از وعده‌های حکومت وحدت ملی این بود که مسایل مهاجرین ما به صورت اساسی مورد توجه ما قرار خواهد گرفت. امید است که در این بخش ما بتوانیم مشکلات بنیادی مهاجرین خود را حل کنیم. من می‌خواهم از این فرصت استفاده کنم و از تمام مهاجرین اقتصادی افغانستان ابراز امتنان کنم که به خانواده‌های افغان کمک می‌کنند.

د دوی مرسته یوه لویه مرسته ده. د افغانستان په اقتصاد باندې، سل ها زره کورنۍ د دوی له برکته نن په عزت ژوند کوي او له دې جهته ضرور ده، چې د افغانستان سفارتونه، قونسلګرۍ او د ټول دولت مامورین د دوی په خدمت کې وي او دا اقدام به ان‌شاءالله تعالی په اساسي توګه موږ کوو او هغه وضعیت چې ضرور ده چې د دوی د حیثیت سره مناسب وي هغه به تر سره کېږي.

مسأله دوم توأمیت بین شهر کابل و شهر ریاض بود. ریاض یکی از شهرهایی است که در حال انکشافِ به نهایت وسیع است. پنجاه و پنج میلیارد ریال سعودی، سر ریاض در این سال‌های اخیر سرمایه‌گذاری شد که تجارب بی‌نهایت زیاد برای ما دارد. پسر خادم‌الحرمین، شهزاده ترکی، والی ریاض است. وی به توأمیت کابل علاقه خاص گرفت و ما این را تعقیب می‌کنیم. مسایل بعدی که مسایل دولتین است در سفرها و ملاقات‌های بعدی ما ان‌شاءالله تعالی تأمین خواهد شد.

اما زه غواړم په دې فرصت کې د عربستان د دولت له شاهي کورنۍ نه او د مکې معظمې او د مدینې منورې له مسوولینو نه د زړه له کومې مننه وکړم چې زموږ سفر ته یې ډېر اعلی ترتیبات نیولي وو.

افغانستان پنج حلقه سیاست خارجی دارد. حلقه اول ما، شش مملکت همجوار ماست. حلقه دوم ما، حلقه دین مبین اسلام است. حلقه سوم ما، ایالات متحده امریکا، کانادا، اروپا، جاپان، استرالیا و اعضای ناتو، آیساف و کنفرانس توکیو هستند که به افغانستان کمک‌های امنیتی و اقتصادی کرده‌اند. حلقه چهارم ما، آسیاست. و حلقه پنجم ما، نهادهای بین‌المللی، ملل متحد، بانک جهانی، بانک (انکشاف) آسیایی، شرکت‌های بزرگ سرمایه‌داری و

ساختارهای غیردولتی و جامعه بین‌المللی مدنی است.

افغانستان از نگاه جغرافیه و تاریخ در نقطه تقاطع این پنج حلقه است. سیاست خارجی ما یک سیاست خارجی فعال است تا این پنج حلقه را در همکاری داشته باشیم.

من از دولت همسایه ما، چین، می‌خواهم ابراز امتنان کنم. سفر من به چین دو بخش داشت. یکی سفر رسمی به دعوت جلالت‌مآب شی جینگ پینگ، رئیس‌جمهور چین، و بخش دوم (شرکت در) کنفرانس وزرای خارجه قلب آسیا بود.

لومړی برخه کې افغانستان او چین په راتلونکي کال کې به د ښو علایقو ۶۰ مه کلیزه تجلیلوي او راتلونکی کال به د چین او افغانستان د لویو همکاریو د تجلیل کال وي. په دې سفر کې موږ په هر اړخیز ډول په خپلو مناسباتو باندې، د اسیا په راتلونکې باندې او د دنیا په راتلونکې باندې وغږېدو او یو سلسله خاصې لاسته‌راوړنې مو تر لاسه کړې او هیله ده چې د افغانستان د ملت د آرامۍ موجب وګرځي.

چین تعهد کرد که امسال پنجصد میلیون یوان چینی و در سه سال بعد از آن ۱,۵ میلیارد یوان چینی کمک مستقیم و بلاعوض به افغانستان بکند. در عین حال زمینه‌ی تعلیم تخنیکی پنج هزار تن از متخصصین ما را فراهم کنند و پنجصد بورس تعلیمی در پوهنتون‌های چینی برای محصلین ما فراهم بسازند. علاوه بر این، کمک‌های بشردوستانه نیز هست و همچنین چین در بخش امنیتی برای ما کمک‌های مشخص خواهد کرد.

نکته دوم بنیادی ما این است که چین و ایالات متحده امریکا، در افغانستان با هم همکاری خواهند کرد. چون قسمی که گفتیم سیاست فعال خارجی ما بر این مبنا است که افغانستان نقطه همکاری پنج حلقه سیاست خارجی ما را تشکیل می‌دهد. چین که هم در حلقه اول و هم در حلقه چهارم ما قرار دارد، با همکارهای حلقه سوم ما، همکاری نزدیک انجام خواهد داد. علاوه بر آن ابتکاری را که چین در قسمت آسیای جنوبی گرفته؛ در دهلی اعلام شد که ۲۰ میلیارد دالر را چین به آسیای جنوبی کمک خواهد کرد. ما امیدوار هستیم که همکاری چین، هندوستان و پاکستان در بخش انکشافی در افغانستان انجام شود و بتوانیم یک قسمت پارک‌های صنعتی و پارک‌های تکنالوژی را مشترکاً به وجود بیاوریم که موجب پیشرفت افغانستان و موجب کاریابی برای جوانان مرد و زن افغان شود.

علاوه بر این بین شهر تیانجین که یکی از شهرهای به نهایت دینامیک و پرتحرک چین است

و شهر هرات، توأمیت را ایجاد کردیم. شهرهای دیگر افغانستان با شهرهای عمده چین توأمیت خواهد داشت.

امروز بیش از چهار هزار تاجر افغان در چین فعالیت دارند و مصروف سرمایه‌گذاری هستند. د دوی مشکلات مو هم په عمده توگه وکتل او د چين مقاماتو سره په دې باره کې وغږېدو او دې باندې وغږېدو چې هم څرنگه افغانان چين کې پانگه واچوي او څنگه چينايي شرکتونه افغانستان کې پانگونه وکړي او د پانگې اچونې مشکلات به څرنگه حل کوو او په گډه به پر مخ ځو.

برای تعقیب عملی این وعده‌ها و تعهدات، یک هیئت بلندرتبه‌ی چین به زودی ممکن به افغانستان تشریف خواهند آورد و از طرف ما یک هیئت متقابل ایجاد خواهد شد تا اول در افغانستان و بعد از آن در چین، بتوانیم تمام این وعده‌ها را شکل عملی بدهیم.

مشخصاً تمرکز ما روی این خواهد بود که چین در راستای ایجاد یک «پلان زیربنایی ملی»، همراه ما در مطالعات و پیاده شدن آن، کمک عملی کند. معنی پلان زیربنایی ملی این است که در شش ماه آینده تصمیم خواهیم گرفت چند هزار کیلومتر سرک، چند هزار کیلومتر خط آهن، چند بند، چه مقدار برق، و چه تعداد مسکن ایجاد کنیم. این ساحاتی است که در تمام اینها تجارب موفق چین و آسیای شرقی مورد استفاده ما قرار خواهد گرفت.

د آسيا د زړه کنفرانس زموږ د قدرمن ملگري او ورور جلالت‌مآب اردوغان په ابتکار کله چې د ترکې صدراعظم و، ايجاد شو. اول کنفرانس په استانبول کې و؛ ځکه دې ته د آسيا د زړه د استانبول پروسه وايي. دويم کنفرانس د جلالت‌مآب نظربايف د قزاقستان د مشر په ابتکار په الماتې کې داير شو، دريم کنفرانس چين کې داير شو او د چين گډون او ميلمه پالنه دې کنفرانس کې خورا ډېر اهميت لري؛ ځکه د دې کنفرانس په اساس باندې، چين به ان‌شاءالله تعالی افغانستان ته د سولې په راوستلو کې عملي او مهم اقدامات وکړي. او په دې کنفرانس کې موږ بيا، خپل د خارجی سياست اساسات تشريح کړل او دا مو څرگنده کړله چې افغانستان به په مستقله توگه ټولو هېوادونو او ټولو سازمانونو سره خپلې اړيکې ټينگې کړي؛ اما د دې اړيکو قوت او ضعف به د متقابله اساس معاملې باندې تعلق ولري. دا کنفرانس ان‌شاءالله تعالی د بين‌الافغاني سولې د منځته راوستلو لپاره يو مفيد قدم وي، او هيله

ده چې وروسته دا په عملي طور بیا هم تعقیب کړو او تر لاسه یې کړو.

زه بیا هم غواړم چې د چین له دولت نه د ډېرو عظیم‌الشان تشریفاتو لپاره چې دوی یې ترتیبات نیولي وو، مننه وکړم. د چین د ښاغلي رئیس‌جمهور، د ښاغلي صدراعظم، د ملی کنگرس مشر او نورو ټولو اراکینو نه مننه وکړم، او همدا رنگه د تیانجین ښار چې ۱۹ کاله مخکې ما ورکې په کومو پروژو کار کړی و، او نوي خاطرات مې ورنه درلودل، هر نوع د چین او د افغانستان تر منځ د هر ډول مناسباتو پراختیا، ان‌شاءالله تعالی د افغانستان په گټه ده او یو شی چې د خاص اهمیت وړ دی او هغه ورځ مو ورسره مطرح کړ، دا ده چې د واخان کریدور باندې دې عملاً مطالعات پیل شي چې وگورو ایا موږ کولای شو چې په مستقیم ډول چین ته ورسېږو.

هدف ما چیست؟ هدف ما این است که افغانستان به یک چهارراه آسیا مبدل شود؛ همانند زمانه‌ی جاده ابریشم که ما چهارراه آسیا بودیم. اما چهارراه آسیا در قرن ۲۱ این معنی را دارد که پایپ‌لاین‌ها، خطوط آهن، شبکه‌های برق و معاملات بانکی و تجارتی همه بتواند در افغانستان انجام شود و بدین جهت تغییر جغرافیای افغانستان به یک جغرافیای اقتصاد سیاسی (صورت می‌گیرد) که بر اساس آن ما می‌توانیم نقطه‌ی وصل آسیای شرقی، آسیای مرکزی، آسیای جنوبی و آسیای غربی باشیم. ان‌شاءالله تعالی عملی است؛ تهداب آن گذاشته شده و می‌خواهم باز هم از جلالت‌مآب کرزی که تهداب مناسبات نیک ما با چین را گذاشته بود، ابراز امتنان کنم. یک قدم بزرگ در توسعه آن (مناسبات) گذاشته شده و ملت افغانستان ان‌شاءالله تعالی نتایج عملی آن را خواهد دید.

## پوښتنې او ځوابونه:

د اریانانیوز خبریال: سؤال من در مورد پروسه استانبول است که در کشور چین برگزار شد. در آن جا روی گفت‌وگوهای صلح و گفت‌وگو با مخالفین مسلح دولت افغانستان صحبت صورت گرفت. در پنج سال گذشته، گفت‌وگوها و شورای عالی صلح که ایجاد شده بود، ناکام ماند. چه کاری برای عملی شدن گفت‌وگوهای صلح که مشخصاً مخالفین را به میز مذاکره بنشاند وجود دارد؟ آیا شما مطمئن به این نشست و مطمئن به همکاری کشور پاکستان در این راستا هستید؟

جمهوررئیس غني: من دو سؤال را همزمان می‌گیرم، بعد جواب می‌دهم. مهرباني!

د نورین خبریال: شما در کنفرانس قلب آسیا بازرگانان چینی را تشویق کردید که در افغانستان سرمایه‌گذاری کنند، در حالی که بانک جهانی می‌گوید، افغانستان بدترین کشور برای سرمایه‌گذاری است. حالا شما برای امنیت و برای سرمایه‌گذاری در افغانستان چه تدابیری را روی دست دارید تا افغانستان به یک بستر امن برای سرمایه‌گذاران خارجی تبدیل شود؟

جمهوررئیس غني: نکته اول ایجاد بستر سرمایه‌گذاری، اصلاح سیستم قضایی و حقوقی ماست. شما متوجه هستید که حکومت وحدت ملی‌تان اقدامات جدی و سرتاسری را در این بخش انجام داد. ستره‌محکمه در حال تغییر است. در چند ماه آینده دو قاضی ستره‌محکمه را ما انتخاب خواهیم کرد. یکی از این معیارهای انتخاب، معلوم است که آشنایی با اصول حقوق تجارتی می‌باشد و فهم این که از نگاه حقوقی باید در افغانستان بستر سرمایه‌گذاری را ایجاد نمود.

لوی‌سارنوالی که خلاف قانون بر نظارت شرکت‌های خصوصی و دولتی دست انداخته بود، دستش کوتاه شد. اداره عالی ضد فساد محدود به ثبت سرمایه و ساده‌سازی شد. یعنی مشکلاتی که هر تاجر و سرمایه‌دار ما، داخلی و خارجی از آن شکایت می‌کرد که از طرف منابع مختلف مورد تفتیش قرار می‌گیرد، حل شد. اقدامات زیادتری نیازند که ان‌شاءالله تعالی در وقت مناسب همراه‌تان شریک می‌شود.

مسؤولیت عمده تفتیش به اداره عالی تفتیش و تفتیش داخلی وزارت‌ها راجع شد.

در قسمت کابل‌بانک اقدامات جدی و سرتاسری صورت گرفته، دوسیه‌ی کابل‌بانک زیر تعقیب است، مراحل قانونی خود را به صورت اساسی طی می‌کند و ما امید قوی داریم که محاکم افغانستان در این بخش فیصله‌ی عادلانه صادر کنند. در عین حال همراه بانک‌های خصوصی افغانستان، همراه تمام بانک‌ها، صحبت سرتاسری داشتیم و همراه اینها به خاطر اصلاح سیستم بانکی افغانستان به نتیجه رسیدیم. در یکی از نشست‌های بعدی ما، نتایج اساسی‌اش را خواهید دید. ان‌شاءالله تعالی افغانستان دوباره شاهد یک بحران بانکی نخواهد بود چراکه بانک‌ها اساس بنیادی سرمایه‌گذاری است.

در قسمت شرکت‌های مخابراتی هم اقدام سرتاسری شد. جناب داکتر عبدالله و من، نشست بسیار خوشایند و مؤثر همراه اینها داشتیم. اول تمام راپورهای سال گذشته‌ی اینها را خودم شخصاً خواستم و مشکلات‌شان را بررسی کردم. در عین حال، زمینه پیشرفت زیادتر را برای اینها فراهم کردیم چون اینها زیادترین سرمایه‌گذاری را در افغانستان انجام داده‌اند. در کنفرانس لندن نیز از آنها دعوت کردیم تا بتوانند در سرمایه‌گذاری در افغانستان، دیگران را تشویق کنند. در عین حال دیدید که برای سفر چین از یک هیئت بزرگ سکتور خصوصی افغانستان دعوت کردیم که ما را شرف بخشیدند و همراه ما رفتند. در هر یک از سفرهای کاری ما، سکتور خصوصی حضور خواهد داشت.

در بخش امنیت، اقدامات همه‌جانبه روی دست است. روز پنج‌شنبه در شورای امنیت ملی جلسه سه و نیم ساعته داشتیم که تمام قوماندانان امنیه، والی‌های هفت ولایت عمده که گمرک دارند، قوماندانان سرحدی و رؤسای گمرک تشریف آوردند؛ برای‌شان تحلیل مشخص شد و هدایات واضح برای اصلاح گمرکات، جلوگیری از قاچاق و ازدیاد عواید داده شد.

اقدامات ما دو جز دارد. یکم، از حالات منفی جلوگیری کنیم؛ و دوم، بسترسازی مثبت. شما شاهد خواهید بود که در شش ماه آینده یک پلان زیربنایی ملی افغانستان را ایجاد می‌کنیم تا بر اساس آن، تمام افغان‌ها بدانند که به صورت عادلانه و متوازن پیشرفت زیربنای افغانستان چه رقم عیار خواهد شد. امید است که با شورای ملی به موافقه برسیم تا بودجه انکشافی ما از چارچوب یک‌ساله به چارچوب سه‌ساله مبدل شود به خاطر این که مردم بتوانند پروژه‌های متوسط و بزرگ را در عمل ببینند. اقدامات در این قسمت جریان دارد. در وقت‌های مناسب دوباره به این مورد برمی‌گردیم.

صلح آسان نیست! اما، اجباری است. اگر آسان می‌بود در سال‌های گذشته انجام می‌شد. ما در هر یک از حلقات پنج‌گانه‌ی سیاست خارجی خویش اقداماتی داریم از خاطر این که زمینه‌ی صلح فراهم شود؛ چون این یک هدف ملی ماست. میزان همکاری پاکستان در هفته‌های آینده معلوم خواهد شد. یک قسمت از اراکین بلندرتبه پاکستان آمده و خواهند آمد. زمینه‌ی سفر کاری من به پاکستان در حال آمادگی است. ما می‌خواهیم که اقدمات کوتاه‌مدت، وسط‌مدت و درازمدت در داخل یک نقشه‌ی کاری منسجم صورت بگیرد.

پیش‌تر برای‌تان عرض کردم که افغانستان خواهان مناسبات نیک با اعضای هر پنج حلقه سیاست خارجی خود است. اما مقدار گرمی این مناسبات متقابل است. افغانستان به هیچ کس اجازه این را نخواهد داد که از خاک افغانستان مقابل یک دولت دیگر یا یک نهاد مشروع بین‌المللی سوءاستفاده کند. و امید است که همسایه‌ها و همکاران ما به عین اصل برسند.

نکته بنیادی در چیست؟ دنیا تغییر کرده! حرکات افراطیِ به‌وجودآمده «نظام دولتی» دنیا را مورد سؤال قرار داده، (در حالی که) نظام بین‌المللی بر اساس دولت به حیث واحد تشکیل‌کننده‌اش بنیاد شده. انفجار دولتداری در عراق، در سوریه، در یمن، تمام نظام را به حیث یک رشته زنجیر، ضعیف ساخته؛ چون هر بار که یک حلقه زنجیر، ضعیف می‌شود زمینه ضعیف شدن تمام زنجیر را فراهم می‌کند.

ما در افغانستان امید قوی داریم بدین جهت که اولین حکومتی بودیم که در حلقه خبیثه‌ی تعرض، جنگ، مواد مخدر، قاچاق و غیره قرار گرفتیم و امید است که انتخابات و تشکیل وحدت ملی ما، به دنیا ثابت ساخته باشد که ما مردم افغانستان، مصمم هستیم که اولین مملکتی باشیم که حلقه نجیبه‌ی صلح، ثبات و رفاه را تشکیل خواهیم داد.

د نیویارک ټایمز خبریال [ژباړه]: چین ته ستاسو د سفر پر مهال، د ایغوریانو په تړاو، چې د افغانستان په جګړه کې نیول شوي او دا چې هغوی له کومو هېوادونو لکه پاکستان یا نورو څخه راغلي، څه مطرح شول یا نه؟ چینایي لوري له تاسو څه غوښتنې لرلې او تاسو د همکارۍ څه ډول ژمنه ورکړه؟ دا ځکه چې زما په نظر د چین رهبرۍ لپاره دا موضوع ډېره، ډېره مهمه ده.

جمهوررئیس غني [ژباړه]: افغانستان او چین له ګډو ګواښونو او فرصتونو سره مخ دي. هغه ګواښونه، چې زموږ ترڅلې نړۍ ورسره نن مخ ده، د غیر دولتي عناصرو له امله ده، چې د دولتي نظامونو د سیستم له منځه وړو لپاره فعالیت کوي. په همدې اساس، چین او افغانستان د دغو ګواښونو پر وړاندې کاملاً په یوه ردیف کې ځای لري او له یوه بل سره همکاري کوي، څو دغه ګواښونه مهار کړي او له منځه یې یوسي. موږ ددې کار د ترسره کولو لپاره عملي ګامونو ته اړتیا لرو.

پر دې سربېره، خوشبختانه جمهوررئیس اوباما او جمهوررئیس شي جینګ پينګ، دواړو په افغانستان کې د پراختیا او امنیت ټينګښت لپاره د همغږۍ په یوه درې اړخیز میکانېزم هوکړه کړې ده. دا کار نه یوازې د چین، امریکا او افغانستان لپاره، بلکې د ټولې سیمې او نړۍ لپاره ښې پایلې لري. زموږ د ګډو نظریاتو او عملي هوکړو اغېزې به په راتلونکو میاشتو کې څرګندې شي.

د کابل‌نیوز خبریال: تاسې په خپلو خبرو کې هم وویل، چین له افغان ځواکونو سره د مرستې ژمنه کړې، څه فکر کوئ چې دغه مرستې په کومو برخو کې دي که یې لږ واضح کړئ؛ ځکه افغان امنیتي ځواکونه په هوایي برخه کې ستونزې لري؟

جمهوررئیس غني: مننه، سهاک صیب، یو پلاوی مو همدا اوس په چین کې دی، په اصولو باندې نتیجې ته رسېدلي یوو، په تفصیل باندې همدا اوس کار کوو او کله چې د چین لوړپوړی پلاوی راشي؛ ان‌شاءالله تعالی موږ به نتیجې ته رسېږو. دوه بخشه، چې زموږ د خاصې علاقې وړ دي او هیله ده چې وربانديې اقدام وشي، یو د ماینونو په مقابل کې ټکنالوژي ده چې دې ټکنالوژي ته او په دې برخه کې تعلیم او تربیې ته موږ اړتیا لرو او دویمه برخه هوایي ترانسپورټ دی چې مخصوصا د زخمیانو د ترانسپورټ لپاره موږ وکولای شو هر اړخیز او موثر اقدامات وکړو، چې د ملي اردو، ملي پولیس و او ملي امنیت زخمیان په وخت او شهیدان مو خاصتاً، موږ وکړای شو انتقال کړو. هیله ده چې ژر نتیجې ته ورسېږو اما اصل باندې نتیجې ته رسېدلي یوو، مشخصاتو باندې به بېرته درته معلومات درکړو.

د طلوع‌نیوز خبریال: شما از چین گفتید و این که آنها برای آوردن صلح مصمم هستند، و برای آن تلاش دارند. با توجه به این که چین با پاکستان روابط تنگاتنگ و بسیار خوبی دارد، آیا شما از چین خواستید که از پاکستان بخواهد در روند صلح صادقانه عمل کند؟ و دوم این که شما در نشست روند استانبول، طالبان را «مخالفان سیاسی» خواندید آیا در واقعیت، طالبان مخالفان سیاسی هستند؟

جمهوررئیس غني: هر کسی که با نظام مشکل داشته باشد، مخالفت سیاسی دارد. مخالف سیاسی، به مخالف مسلح مبدل می‌شود. بدین جهت باید وضاحت داشته باشیم، اختلافات سیاسی در برداشت وجود دارد، اگر این را قبول نکنیم، چرا صلح می‌خواهیم؟ صلح را با کسی نمی‌کنیم که دیدگاه مشترک سیاسی داشته باشیم. ما افغان‌ها، از نگاه وطن‌پرستی، از

نگاه اعتقاد به دین مبین اسلام، و از نگاه آینده، دیدگاه مشترکی داریم؛ اما در این که دولت چه رقم تشکیل شود، چه وظایفی را انجام بدهد و یا به چه شکلی جامعه‌ی ما اداره شود، نظریات مختلفی در جامعه ما وجود دارد. سی و شش سال جنگ، مهاجرت، زیادتر از سه میلیون مهاجر در ممالک همجوار، زیادتر از یک میلیون مهاجر در ممالک اروپایی و امریکایی و غیره، زیادتر از یک میلیون بیجاشده‌ی داخلی! آیا انعکاس‌کننده این نیست که نظریات مختلفی وجود دارد؟ دلیل این که حکومت وحدت ملی تشکیل شده است، چیست؟ به خاطر این که از اختلافات جلوگیری شود و به «اجماع سیاسی» برسیم. چرا اعضای حکومت وحدت ملی‌تان، خاصتاً داکتر صاحب عبدالله و من، تأکید داریم که راه حل اساسی، یک راه حل سیاسی است. ما می‌خواهیم که طفل ما وقتی که از خانه می‌برآید، تا دوباره به خانه‌ی خود برمی‌گردد، مصون باشد. ما می‌خواهیم جوان ما که به شکل رضاکار در اردوی ملی خدمت می‌کند و از وطن دفاع می‌نماید، اطمینان داشته باشد موتری که سوار می‌شود او را به محل کارش می‌برد و دوباره به قاغوش می‌برد.

ما از خون خسته هستیم و می‌خواهیم (ریخته شدن) خون را ختم کنیم. راه ختم آن برای هر کسی که به افغانستان واحد عقیده دارد، صلح است. معلوم (است) کسانی که می‌خواهند افغانستان را به میدان جنگ مفکوره‌های واهی مبدل کنند، مقابل آنها با صف واحد و با عظم راسخ ایستاده می‌شویم.

موضوع چین! کسی یا اشخاصی می‌توانند در صلح ممد واقع شوند که با تمام جوانب قضیه، روابط نیک داشته باشند. ما بر اساس تهدابی که جلالت‌مآب کرزی گذاشته بود، چین را به مراتب راغب‌تر ساختیم که آینده افغانستان به حیث قلب آسیا برای تمام آسیا مهم است. دیدگاه وسیع‌تر شد؛ دیدگاه ما، دیدگاه ملی ما و دیدگاه بین‌المللی ما، از طرف دولت چین، نه‌تنها جذب شده بلکه مورد تقدیر قرار گرفته است.

(درباره) اقدامات عملی! معلوم است وقتی که یک مسأله سه‌طرفه باشد، تنها به دو جانب قضیه تعلق ندارد. امید داریم که در آینده شاهد حرکت‌هایی باشیم که بتواند زمینه را به مراتب (بیش‌تر) فراهم کند. سه دوست ما، چین که نامش را اول می‌گیرم ـ به خاطر این که دیروز از آن جا آمدیم ـ عربستان سعودی، مخصوصاً خادم‌الحرمین شریفین؛ و ترکیه که جلالت‌مآب اردوغان، دوست افغانستان و دوست شخصی من و همکارهای ماست و همراه

ایشان ملاقات‌هایی داشتیم؛ قدم‌های بزرگی در این (زمینه) می‌گذارند.

در عین حال آقای دیوید کامرون، صدراعظم انگلستان، که تشریف آوردند، مناسبات نیک دوجانبه دارند و در این قسمت اقدام می‌کنند. علاوه بر این مذاکرات تلیفونی را همراه امارات متحده عربی، قطر و دیگر دوست‌ها انجام دادیم، امید است که همه‌شان در این راه ممد ما واقع شوند. تلاش ما باید این باشد که حلقه‌های ارتباط خود را به مراتب نزدیک‌تر کنیم و بر اساس منافع ملی خود، دنیا را قناعت بدهیم که یک افغانستان باثبات و مرفه، به نفع تمام منطقه و به نفع دنیاست.

تشکر، مننه!

# د ناټو له سکرترجنرال سره ګډ مطبوعاتي کنفرانس

**کابل | ۱۵ لړم ۱۳۹۳ | ٦ نومبر ۲۰۱۴**



## اړوند سکتورونه:

**امنیت**

## د وینا عمده محورونه:

- **افغان ځواکونو ته د امنیتي مسؤولیتونو لېږد**
- **د غوڅ ملاتړ ماموریت**

## غورچاڼ:

افغان ځواکونو ته له بهرنیو ځواکونو د امنیتي مسؤولیتونو د لېږد پروګرام په پنځو مرحلو کې، په بریالي ډول ترسره شو. په افغانستان کې د ناټو د جنګي ماموریت په پای ته رسېدو سره ۳۱ ډسمبر ۲۰۱۴، د غوڅ ملاتړ ماموریت د تقویت، ښوونې او تجهیز په برخو کې پیل شو او د شیکاګو کنفرانس ژمنې به د تحول لسیزې لپاره دوام ومومي.

## د جمهوررئیس غني وینا:

د لوی او ښونکي څښتن په نامه.

ماته د وياړ ځای دی، چې نن د ناټو جنرال سکرتر ښاغلی سټولټنبرگ، چې پخوا په ناروې کې صدر اعظم و، په افغانستان کې تشريف لري.

اوله مرحله کې زه غواړم له دوی نه او د ناټو له ټولو گډون کوونکو هېوادونو مننه وکړم. دوی له موږ سره اوږه په اوږه درېدلي او د ناټو ځو زره عسکر او ملکي کسانو يې په دې خاوره کې ځانونه قرباني کړي دي. مننه!

همېشه به دوی زموږ په ياد وي. همدارنگه د دوی شاوخوا دېرش زره نفرو زخمي شوي دي. ناټو مخصوصاً په تېرو پنځو کلونو کې د افغانستان د امنيتي ځواکونو د پياوړي کولو لپاره لويه پانگه کړې.

نتيجه اين سرمايه‌گذاری يک پروگرام بسيار موفق انتقال امنيتی بود. امروز می‌خواهيم از جناب سکرترجنرال ابراز امتنان کنيم و هم برای ايشان و هم برای تمام مردم و ممالکی که در ناتو سهم گرفته‌اند، اطمينان بدهيم که در ۳۱ دسمبر سال جاری، ۲۰۱٤، مأموريت گذشته ناتو به پايان موفقانه می‌رسد. هم برای اينها مبارک و هم برای نيروهای امنيتی افغانستان مبارک! در ظرف سه سال گذشته، قوای امنيتی ما قدم به قدم در پنج مرحله، مسؤوليت دفاع وطن و مسؤوليت سرتاسری حفاظت حاکميت ملی افغانستان را به عهده گرفتند.

بعد از ۳۱ دسمبر ۲۰۱٤، تنها و تنها قوای افغانی مسؤوليت استعمال سلاح را در افغانستان خواهد داشت.

اما معنی ۳۱ دسمبر ۲۰۱٤ ختم همکاری ما با ناتو نيست؛ آغاز يک مرحله جديد است و من از جناب سکرترجنرال تشکر می‌کنم که پروگرام عزم راسخ [= غوڅ ملاتړ]، با قوت تمام ان‌شاءالله تعالی از اول جنوری ۲۰۱۵ عملی خواهد شد.

فرق در اين است که در اين پروگرام، اينها ممد خواهند بود که در تقويه، تعليم و امکانات همراه ما کمک خواهند کرد. فعلاً تعهدات واضح در اين بخش وجود دارد. ما مشترکاً تفصيلات را با هم عملی خواهيم کرد و به نتيجه دلخواه خواهيم رسيد.

در عين حال من می‌خواهم از اينها و تمام رؤسای جمهور و رؤسای حکومت ممالک شامل در ناتو و همچنين ممد ناتو، ابراز تشکر کنم که هنوز متعهد به پرداخت تعهدات کنفرانس

شیکاگو[1] برای دهه‌ی آینده که ما نامش را «دهه‌ی تحول» گذاشته‌ایم، هستند.

قوای مسلح و قوای امنیتی افغانستان با شهامت از این خاک دفاع می‌کنند؛ اما امکانات مالی ما هنوز هم، بدبختانه، کم است و از این جهت تأیید تعهداتی که امروز اینها آن را به صورت واضح تکرار کردند، موجب اطمینان ما می‌باشد. در عین حال، باید په دې پوه شو، چې د افغانستان راتلونکی بې‌له دې نه، چې موږ یو پیاوړی اقتصاد رامنځته نه کړو او د خپلو ځواکونو د تامین وجهه له ملي منابعو نه پیدا نه کړو، دا امکان پذیره نه ده. نو ځکه موږ مصمم یو، چې په افغانستان کې داسې اقتصاد رامنځته کړو، چې د هغه په اساس دا وطن په خپلو پښو ودرېږي. البته په خپلو پښو د درېدلو معنا دا نه ده، چې له نړۍ نه بیلېږو؛ برعکس له نړۍ سره به زموږ اقتصادي اړیکي ورځ تر بلې پیاوړې کېږي.

در آخر به عنوان سکرترجنرال ناتو نه، بلکه (به شما) به حیث سیاستمدار معظم ناروی که چند بار صدارت ناروی را عهده‌دار بوده‌اید، می‌خواهم بگویم، ناروی تنها مملکتی در دنیا است که وقتی منابع سرشار طبیعی را پیدا کرد، این تدبیر را داشت که شکار مصرف منابع طبیعی نشود، اولین مملکتی بود که یک صندوق را برای نسل‌های آینده ساخت و از مصارف بیجا جلوگیری کرد. بنابراین ناروی برای افغانستان یک مثال است (چون) مملکت ما دارای منابع سرشار طبیعی بسیار است و می‌خواهیم مدیریت این منابع را به شکلی (تنظیم) کنیم که با شفافیت و حسابدهی کامل، نسل‌های آینده افغانستان از آنها سهم بگیرند. [د ناټو سکرترجنرال ته خطاب:] خواهش ما از شما به حیث صدراعظم سابق ناروی این است که در این بخش از همکاری‌های‌تان دریغ نکنید. به افغانستان بسیار خوش آمدید، سفر اولتان نیست اما سفر اولتان به حیث سکرترجنرال ناتو است و این ما را قوت قلب می‌دهد که شما در ابتدای کارتان انتخاب کردید که به افغانستان تشریف بیاورید و یک صفحه نو را در همکاری آغاز کنیم و فصل گذشته را با عزت و سربلندی به انجام برسانیم. تشکر!

---

[1] د امریکا متحده ایالتونو په شیکاګو ښار کې، د افغانستان له لوړ پوړي پلاوي او د ناټو سازمان له ۲۲ همکارو استازو سره د ناټو د غړو هېوادونو د مشرانو غونډه د ۲۰۱۲ ز کال د مې له ۲۱ ـ ۲۲ (۱ـ۲ غبرګولی ۱۳۹۱ لمریز) ترسره شوه.

## د ناټو د سکرترجنرال د وینا ژباړه:

ماسپښین مو په خیر! د خوشالۍ ځای دی، چې په کابل کې او د جمهوررئیس غني ترڅنګ حضور لرم. جمهوررئیس غني! ستاسو له ګرمې مېلمستیا او دا چې ښه لیدنه مو لرله، مننه کوم. زموږ لیدنه له پروګرام شوي چوکاټ څخه ډېره وغځېده، خو دا کار د افغانستان او ناټو سازمان ترمنځ دوستانه اړیکې ښیي. موږ دغو اړیکو ته، چې کلونه دوام لري، پراختیا ورکوو. همدا راز د افغانستان له اجرائیه رئیس ډاکتر عبدالله هم د ورځې په پیل کې د رغاونکي بحث له امله مننه کوم.

جمهوررئیس غني او اجرائیه رئیس، دواړو د ملي وحدت حکومت په جوړولو سره، خپله عالي رهبري وښوده. تاسو دواړو، د افغانستان د خلکو په استازولۍ او د مشارکت لپاره خپله ژمنتیا وښوده، ستاسو رهبري ستایم او د ژمنتیا هرکلی مو کوم. دا د یوه ډیموکراتیک، متحد او د پایداره انکشاف لرونکي افغانستان جوړولو لپاره کیلي ده.

ناټو سازمان او زموږ همکاران له یوې لسیزې زیات د افغانستان ترڅنګ ولاړ دي. د آیساف ماموریت، له ۵۰ زیات هېوادونه سره یو ځای کړي، چې په نوي تاریخ کې تر ټولو لوی ائتلاف ګڼل کېږي. موږ توانېدلي یوو، چې له یو بل سره نږدې همکاري ولر، چې پخپله عالي لاسته‌راوړنه ده. هغه کارونه، چې لپاره یې یو ځای پاتې یوو، په ګډه مو ترسره کړي دي. زموږ هېوادونه اوس تر پخوا خوندي او افغانستان تر پخوا ځواکمن شوی دی. په دې برخه کې، موږ د خپلو سرتېرو د زړورتیا او قربانیو منندوی یوو. موږ د نړیوالو ترهګرو په ځارولو، چې د خپلو خطرناکو بریدونو د ترسره کولو لپاره له افغانستان څخه د خوندي پناه ځای په توګه استفاده کوي، خپل هېوادونه له خطرونو ساتلي دي. همدا راز د ځواکمنو افغان ځواکونو د جوړولو په برخه کې، موږ افغانستان په یوه ځواکمن هېواد بدل کړی دی.

د افغان نارینه‌وو، ښځو او ماشومانو لپاره مو په ګډه د غوره راتلونکې زمینه برابره کړې ده. ناټو سازمان، شریکانو او افغانستان ددې پرمختګ لپاره، درون قیمت پرې کړی دی. هغوی چې په افغانستان کې خپل ځانونه له لاسه ورکړي، زموږ په خاطرو کې به پاتې وي. په همدې اساس، موږ خپلو ګډو هڅو ته په ژمن پاتې کېدو کولای شو د دغو قربانیو درناوی وکړو او ګډو ګټو ته په ژمنتیا کولای شو دې موخې ته ورسېږو.

د روان کال تر پایه به د افغانستان امنیتي ځواکونه د هېواد بشپړ امنیتي مسؤولیتونه پخپله غاړه

واخلي؛ زه باور لرم، چې هغوی ددې مسؤولیتونو د ترسره کولو لپاره بشپړ تیاری لري. نن مې د افغانستان د کومانډو ځواکونو یو شمېر قطعات ولیدل؛ واقعاً عالي وو. تاسو باید پر هغوی او د افغانستان په ټولو ۳۵۰ زره ځواکونو، چې د افغانستان د خلکو د امنیت ټینګښت لپاره بوخت دي، ویاړ وکړئ.

راتلونکی کال نوی ځپرکی پرانېزو، چې په هغه کې به، د افغانستان راتلونکی پخپله د افغانانو په لاس کې وي. زموږ ملاتړ او همکاری به دوامداره وي. زموږ نوی ماموریت او مالي ملاتړ به هم پیل شي، چې په هغه کې روزنه، مشوره ورکول او د افغان ځواکونو همکاري شامل دي. هماغسې چې ښاغلي جمهوررئیس او ما پرې بحث وکړ، موږ غواړو چې له افغانستان سره خپلو اوږدمهاله همکاریو ته پراختیا ورکړو. موږ د خپلو افغان همکارانو پر رول او برخې اخیستو باور لرو او پر دې پوهېږو، چې پر خپلو ژمنو ولاړ دي.

موږ په وخت د پارلمان له لوري په افغانستان کې د ناټو ځواکونو د وضعیت (SOFA) هوکړه‌لیک د تائید پروسې ته په تمه یوو او په لېوالتیا د ښې حکومتولۍ، قانون حاکمیت، بشري حقونو او د ښځو حقونو په برخو کې د لا زیاتو پرمختګونو لپاره شېبې شمېرو.

د جمهوررئیس له باتدبیره رهبرۍ او هغو اقداماتو مننه کوو، چې په دې برخه کې یې ترسره کړي دي. زه جمهوررئیس غني ته بلنه ورکوم، چې د ناټو سازمان د وزیرانو په غونډه کې، چې د ۲۰۱۴ د ډسمبر په دویمه ترسره کېږي، ګډون وکړي او هلته له موږ سره یو ځای حضور ومومي. همدا راز، اجرائیه رئیس ډاکتر عبدالله ته هم بلنه ورکوم، چې په دې غونډه کې ګډون وکړي.

د افغانستان خلکو د سولې او ډیموکراسۍ لاره انتخاب کړې او نن زه غواړم ټینګار وکړم، چې ناټو له افغانستان سره د خپلو مرستو او همکاریو دوام ته ژمنتیا لري. له ښاغلي جمهوررئیس غني او د افغانستان د اجرائیه رئیس ډاکتر عبدالله د ګرم هرکلي له امله مننه کوم او ورته بریالیتوبونه غواړم. هیله لرم، چې په دې حساس وخت کې، د افغانستان او ناټو ترمنځ همکاري دوام پیدا کړي.

ډېره مننه!

## پوښتنې او ځوابونه:

خبریال [ژباړه]: ښاغلی جمهوررئیس، ډېر ژر باید تاسې په یوازې د ترهګرۍ پر ضد مبارزه وکړئ، ستاسې پر وړاندې به تر ټولو لوی ننګونه څه وي او د څومره وخت لپاره له ناټو د ملاتړ تمه لرئ؟

جمهوررئیس غني [ژباړه]: اجازه راکړئ ستاسو پوښتنې ته په بل ډول ځواب ووایم، چې غوره فرصت څه دی؟ غوره فرصت دا دی، چې زموږ دولت، د افغانستان د ډېری خلکو استازولي کوي او ددې وړ ګرځېدلی، چې د افغانانو پخوانی موقف، چې له نورو متأثر و، د حقوقو او وجایبو په لرونکو کسانو بدل کړي. کله چې موږ له خپلې مخې د ننګونو لرې کولو ته متحد او ژمن واوسو، تاریخ ښودلې چې هېڅ هم بیا زموږ ننګه نشي ګرځېدلی. کوچني ننګونه ډېر دي، خو تاسو ته ډاډ درکوو، افغانستان هماغسې چې پنځه زره کاله وړاندې تېر کړي، خپلې لارې ته به دوام ورکړي.

موږ د خلکو له رواني اړخه قاطع یوو. موږ پوهېږو، چې څوک یوو او په هماغه ډول پاتې کېدو ته ژمن یوو. خو تر هغه هاخوا، اوس موږ په ۲۱ پېړۍ کې ژوند کوو، ۳٦ سلنه مېرمنو په ټاکنو کې برخه اخیستې؛ هغوی غواړي پخوانی تصویر بدل کړي. موږ یو لرغونی، خو په ورته مهال ځوان هېواد یوو. زموږ ځوانان غواړي فرصتونه ومومي، په همدې موخه موږ د پایداره سولې هیله لرو. موږ ژمن خلک یوو او دولت مو نورو ته ډاډ ورکوي، هغه ګټور ځواکونه، چې د نورو پر وړاندې تقابل بلل کېږي، د همکاریو د بستر د رامنځته کېدو لامل به وګرځي. زما په نظر (ډېری) فرصتونه شته دي. دا چې څه ننګونه زموږ پر وړاندې دي، مهمه نه ده، موږ به پر دغو ننګونو بریالي کېږو.

خبریال: ډېره زیاته مننه رئیس صاحب، لومړی خو افغانستان ته د ناټو سرمنشي (د راتلو) هرکلی کوو، دوه که درې ورځې مخکې په افغانستان کې د ناټو او امریکایي ځواکونو عمومي قوماندان جنرال جان کمبل له بهرنیو رسنیو سره په مرکه کې ویلي، تاسې ورسره ژمنه کړې، چې د طالبانو او وسله‌والو مخالفینو پر ضد په عملیاتو کې به هغه قیودات لیرې کوئ، چې پخواني ولسمشر حامد کرزي وضع کړي وو. دا هغه جنجالي موضوع وه، چې د ولسمشر حامد کرزي د (واک) پرمهال مطرح وه: د شپې عملیات او خپلسري عملیات. تاسې له جنرال کمبل سره څه ډول ژمنه کړې ده؟

جمهوررئیس غني: امنیتي وضع اقدامات غواړي. ما خپله امنیتي قواوو ته هدایت ورکړی، چې بهترینه طریقه، چې په هغه کې هم زموږ ملکي خلک همېشه محفوظ وي او هم زموږ عسکر او پولیس په شهادت ونه رسېږي هغه طریقې ماته وړاندې کړي او پر هغو به فیصله کوو. دغه هدایت دی، دوی پر دې بوخت دي او په دې اساس به وروسته له ډېر غور او دقت فیصله کوو.

د شمشاد خبریال: ښاغلی ولسمشر اوسمهال په ډېرو ولایتونو کې امنیتي وضعیت مخ پر خرابېدو دی او تاسې به هم شاهد اوسئ چې تېرو کلونو کې به دا مهال امنیتي ستونزې کمېدې، تاسو څومره مناسبه بولئ، چې د روان کال د ډسمبر تر پایه دې ناټو ځواکونه له افغانستان څخه ووځي؟

جمهوررئیس غني: مننه له تاسو نه. زه دا مطلق مناسبه بولم، چې د ناټو ځواکونه له افغانستانه ووځي؛ ځکه زموږ او ستاسې په ډېر اوږد تاریخ کې افغانانو یوازې یو وار اجماع وکړه، چې بین‌المللي قواوې راشي او دلته موږ سره مرسته وکړي.

اوس د خدای په فضل او د ولس د ارادې پر اساس هم ملي اردو او هم ملي پولیس ټول رضاکاره دي. کوم څوک مو مجبور کړی؟ که رضاکاره نه وای تاسو به نن په اردو کې وای، په دې ځوانۍ کې.

نو د افغانستان د خلکو اراده ټینګه ده، زه له ټولو امنیتي ځواکونو نه مننه کوم، چې د رضاکار په حیث ګډون کوي. موږ د هغو خلکو شاهدان یو و، چې د څلورم وار لپار یې بیا په رضاکارانه ډول نوم ثبت کړی. بله معنی یې دا نه ده، چې دنیا موږ یوازې پرېږدي، د ناټو ماموریت د جنوري په لومړۍ (نېټه) بدلیږي، چې له موږ سره مرسته وکړي. په تمویل کې، په تعلیم کې او په تجهیز کې. نو دا یو نوی فصل دی او ددې فصل په اساس به موږ مخته ولاړ شو.

اوسنۍ ناآرامۍ د یو ماحول تغییر دی، چې ټول منځنی ختیځ او اسلامي نړۍ په کې نښتې دي. یو مملکت نن له بل مملکت نه بېل نه دی، دا خطرات تغییر کوي او ځکه یې باید په اړه وارخطا نه شو. موږ ډېره ټینګه اراده لرو، چې د یو منسجم او هر اړخیز پروګرام په چوکاټ کې نه یوازې امنیت راولو؛ بلکې هغه شی، چې ضروري دی او هغه اقتصادي وده او بالاخره

سوله ده.

د ملي وحدت حکومت ټينګه اراده لري، چې بايد په افغانستان کې سوله راشي او په راتلونکو مياشتو کې موږ په تدبير او په تدريج دا ملي هدف بايد انشاءالله تعالی ترلاسه کړو.

خبريال [ژباړه]: ښاغلی جمهوررئيس! پخوانی جمهوررئيس د ناټو سکرترجنرال ښه ملګری نه و. تاسو او اوسنی سکرترجنرال په «شاتو مياشت» [honeymoon] کې قرار لرئ، تاسو يوه نوې همکارۍ رامنځته کوئ. له سکرترجنرال سره مو خپلې شخصي اړيکې څه ډول وينئ؟

[د ناټو سکرترجنرال ته په خطاب کې:] که وضعيت نور هم خراب شي، د افغان ځواکونو د هوايي ملاتړ او د طالبانو د رهبرانو نښه کولو په برخه کې به د ناټو موقف څه وي او تر کوم وخت پورې به له افغانستان سره خپلو مرستو ته دوام ورکړئ. تر ۲۰۱۶ يا تر ۲۰۲۴؟

د ناټو سکرترجنرال [ژباړه]: موږ هغه څه چې له وړاندې په پروګرام کې نيول شوي او پر هغو مو هوکړه کړې، ترسره کوو. لومړی، د آيساف ماموريت به په منظم او مسؤولانه ډول پای ته ورسېږي او په هغه پسې وروسته به د ۲۰۱۵ کال د جنوري په لومړۍ نېټه د غوښ ملاتړ ماموريت په څرنګوالي تمرکز وکړو. دا يو مهم ماموريت دی، ځکه چې موږ په دې ډول په افغانستان کې د افغان ځواکونو په روزنې، مشورې ورکولو او هوايي ملاتړ سره خپلو مرستو ته دوام ورکوو، څو دغه ځواکونه غښتلي او د هېواد د امنيت ټينګښت بشپړ مسؤوليت پخپله غاړه واخلي. پر دې سربېره، هماغسې چې جمهوررئيس غني وويل، موږ د افغانستان د امنيتي او دفاعي ځواکونو د مالي ملاتړ او همدا راز په دوامداره ډول له افغان دولت سره د اوږدمهاله همکاريو د پراختيا څرنګوالی له سره ارزوو. زموږ جنګي ماموريت پای ته رسېدلی دی او موږ به نور په جنګي عملياتو کې شامل ونه اوسو. نو په همدې دليل، موږ يو نوی څپرکی پيلوو، چې په هغه کې به د افغانستان د راتلونکي مسؤوليت پخپله د افغانانو پر غاړه وي. زموږ هېوادونه خوندي او افغانستان غښتلی شوی دی. په همدې دليل موږ کولای شو نوی څپرکی پيل کړو، چې د هغه په اساس به موږ د روزنې، مرستې او مشوره ورکونې په برخو کې، د افغان ځواکونو همکاري وکړو. د غوښ ملاتړ په تړاو بايد ووايم، چې ددې ماموريت د دورې په برخه کې، تر اوسه هېڅ ډول پرېکړه نه ده شوې او موږ به وروسته پر دې موضوع بحث وکړو. اوسمهال، د پروګرام په اساس، ټول تمرکز د ۲۰۱۵ کال د جنوري په لومړۍ نېټه د غوښ ملاتړ

ماموریت پیلولو ته شوی دی، چې موخه د افغان ځواکونو روزنه، مرسته او ورته مشوره ورکول دي.

جمهوررئیس غني [ژباړه]: اجازه راکړئ لومړی د ناټو له سکرترجنرال مننه وکړم، چې د ناټو په سرمشریزه کې، چې د ۲۰۱۴ د ډسمبر په پیل کې به ـ دقیق د لندن تر کنفرانس وړاندې ـ جوړېږي، راته د ګډون بلنه راکړه؛ زه په ویاړ دا بلنه منم.

زه ددې موضوع په یادولو سره غواړم پیل کړم، چې موږ نویو خبرو اترو، نوي څپرکي او زموږ د همکاریو د (دوام) لپاره نویو میکانېزمونو ته اړتیا لرو.

دویم، له ناټو سره د ښاغلي کرزي اړیکې، شخصي اړیکې نه وې؛ دا اړیکې په افغانستان کې د ناټو د ځواکونو د کاروني پر بنسټ وې او هر کله به چې د قوې استعمال په لوړه کچه ترسره کېده، نو د وضعیت د پېچلتیا لامل به ګرځېده. په همدې اساس، ددې کار د مخنیوي لپاره، جمهوررئیس کرزي به په ډېرې مهربانۍ‌له ما غوښتل، څو د امنیتي مسؤولیتونو لېږد رهبري کړم. تاریخ به ددې شاهد وي، چې امنیتي لېږد یوازې یوه خبر جوړونکې پروسه نه وه، بلکې په هغه کې موږ پر واضحو اهدافو تمرکز درلود او یوه ډېره شفافه پروسه وه، چې ما په ویاړ د هغه د ترسره کولو لپاره وړاندیزونه او دلایل وړاندې کړل.

درېیم، موږ او ناټو، ځانونه له هغو بدلونونو سره عیار کړي، چې په دې برخه کې موجود دي. موږ د همکارۍ لپاره یو پروګرام لرو او دا موضوع د «شاتو تر میاشتې» لویه ده، بلکې د دوامداره همکاریو د جوړېدو یوه موضوع ده. د شاتو میاشتې راځي او پای ته رسېږي، خو دوامداره همکارۍ ادامه پیدا کوي. [خندا]، زموږ همکاري، له ناټو سره اړیکې، د یوه ګډ خطر د (درک) له امله دي، چې موږ ګواښي. افغانستان له دغو ګواښونو سره د مبارزې په لومړۍ لیکه کې ځای لري، چې له امله یې په ناټو کې د شاملو هېوادونو خلک کولای شي په سوله‌ییز ډول ژوند وکړي یا امکان لري د هغوی ژوند ګډوډ شي. نړیوالتوب هم ښه او هم بد اړخونه لري. د هغه بد اړخونه دا دي، چې «پوځي کلا» وجود نه لري او هېڅ هېواد او هېڅ قاره نشي کولای په یوې پوځي کلا کې په محاصرې بدل شي. نه اروپا او نه امریکا کولای شي محاصره واوسي. موږ یو ګډ سرنوشت لرو او د هغو ګډو خطرونو حاصل دی، چې موږ ګواښي؛ دغه خطرونه زموږ د مشارکت لامل ګرځي.

موږ حاضر دمه د ښځو د حقونو، د اتباعو د حقونو، قانون حاکمیت، ډیموکراتیکې حکومتولۍ، هوساینې، د طبیعي سرچینو مدیریت او د چاپېریال ساتنې د موضوعاتو په برخه کې په همکارو تمرکز کوو، چې ددې همکاریو د دوام او ژورتیا لامل ګرځي. په همدې اساس، زما په نظر ښه زمینه مساعده ده او د دغو همکاریو د پیل او پراختیا لپاره د ښه ملګري، ښاغلي ستولټنبرګ، تر ټاکلو بل ښه انتخاب نشته. موږ دواړو تازه خپلې نوې دندې پیل کړې دي او د پایلې لپاره موږ ته لږ څه وخت راکړئ. [خندا]

د ناټو سکرترجنرال [ژباړه]: اجازه راکړئ، زما او د جمهوررئیس غني د شخصي اړیکو په اړه زیاته کړم، چې زه له ده سره همنظره یم او هغه دا چې زما او د جمهوررئیس ترمنځ د شخصي اړیکو د توصیف لپاره د «شاتو میاشتې» کلمې کارول سم نه دي. د شاتو میاشت پخپل ډول کې ښکلې ده، خو زموږ د اړیکو د توصیف لپاره ترې استفاده کول مناسب نه دي، دا ځکه چې د شاتو میاشت هغه مهال واقع کېږي، چې تاسو یوه نوې اړیکه پیلوئ، خو موږ د کلونو لپاره له یو بل سره اړیکې لرو. موږ دوه تجربه لرونکي کسان یوو او پر اوږدمهاله اړیکو کار کوو او په یو ځایي ډول به دغو اړیکو ته پراختیا ورکوو.

زما لپاره د خوښۍ ځای دی، چې د ناټو سکرترجنرال په توګه د نوې دندې پر مهال وکولای شم له جمهوررئیس غني سره د هغه د نوې دندې پر مهال خپلې اړیکې پراخې کړم. خو باید ووایم، چې موږ یو ځای کار کړی دی، په تېر کې مو یو بل لیدلي او دواړه یو بل د پخوانیو دندو پر مهال پېژنو. زه ډېر باوري یم، چې موږ کولای شو د ناټو سکرترجنرال او جمهوررئیس په توګه پخپلو نویو کاري چاپېریالونو کې نږدې اړیکې ولرو.

له تاسو مننه!

# د افغان ښځو د ځواکمنتیا (ارتقا) لپاره د امریکا او افغانستان د ګډ پروګرام پرانسته[1]

کابل | ۱۷ لړم ۱۳۹۳ | ۸ نومبر ۲۰۱۴




## اړوند سکتورونه:

**ټولنیز خوندیتوب ـ پوهنه او لوړې زده‌کړې**

## د وینا عمده محورونه:

- **په حکومتولۍ کې د ښځو مشارکت**
- **د افغان ښځو د ځواکمنتیا پروګرام (ارتقا)**
- **د ښځو د ارتقا لپاره د مرستو میکانیزم**

## غورچاڼ:

د ملي وحدت حکومت مسؤولین هوډمن دي، چې د ښځو په مشارکت کې بنسټیز کیفي بدلونونه رامنځته کړي. په یوې نجلۍ پانګونه، پنځه نسلونه بدلولی شي. د اسلام مبین دین هم د ښځو حیثیت ته قائل شوی دی. هماغسې چې له پیله ښځو پام وړ او لارښوونکی رول درلود، زموږ په تاریخ کې هم د لویو ښځو د کارنامو شاهدان یوو. تر کار لاندې پروګرامونه بدعت نه دی او زموږ په اسلامي تمدن او فرهنګ کې ژورې ریښې لري. د افغان ښځو د ځواکمنتیا پروګرام (ارتقا) پر څلورو پام وړ نقطو تمرکز لري، چې زموږ د ژورې پاملرنې

---

[1] The Afghan-US Partnership for Women's Empowerment (Promote).

لامل هم دي؛ رهبري او مديريت، د ښځو د مشارکت کچه، په اقتصاد کې د ښځو رول او د ښځو اړوند بنسټونو تقويت. ددې څلورو حياتي برخو د تحقق لپاره، اړيکه ده، چې د مرستو پر ميکانېزم بياکتنه وکړو، چې کولای شو؛ د ښځو له لوري اداره کېدونکی د ښځو لپاره د لومړني پوهنتون جوړېدل، په ضربتي ډول د ښځو د کار، ظرفيت او مديريت د تقويت يو شمېر انستېټيوټونو فعالول، د ښځو تر مديريت لاندې شرکتونو جوړول، او افغاني بنسټونو ته د ظرفيت لوړونې پروګرام د مسؤوليتونو او صلاحيتونو لېږد، يادونه وکړو.

## د جمهوررئيس غني وينا:

نحمده و نصلی علی رسوله الکريم. اما بعد اعوذ بالله من الشيطان الرجيم. بسم الله الرحمن الرحيم.

جناب داکتر صاحب عبدالله رئيس اجرايی دولت افغانستان، جناب داکتر صاحب شاه[۱] رئيس يو.اس.اِ.آی.دی، سفرای محترم، وزرای محترم، جلالتمآب وزير خارجه ناروی، خواهران و برادران، السلام عليکم و رحمت الله و برکاته!

اول، به نمايندگی از حکومت وحدت ملی می‌خواهم از تمام زنان افغانستان ابراز امتنان کنم که با مشارکت در انتخابات حماسه آفريدند. تشکر! [د حاضرينو چکچکې]

داکتر صاحب عبدالله، من و تمام اراکين حکومت وحدت ملی، مصمم هستيم که در مشارکت زنان افغانستان، يک تغيير بنيادی کيفی بيايد و زنان افغانستان در تمام ساحات زندگی سهم بگيرند. ما، اول، به زنان افغانستان به حيث «زن» احترام داريم. [د حاضرينو چکچکې] [حاضرو مېرمنو ته خطاب:] نقش‌های دومی‌تان، دومی است؛ نقش اولتان اساسی است.

در اين مرحله من می‌خواهم اول، از جلالتمآب رئيس‌جمهور اوباما و تمام اراکين دولت امريکا ابراز امتنان کنم که در اين موضوع حياتی همراه ما کمک می‌کنند و کمک‌شان هنوز هم دوام‌دار است.

دوم، من می‌خواهم خاصتاً از جناب داکتر صاحب شاه ابراز امتنان کنم؛ داکتر صاحب هميشه

[۱] Rajiv Raj Shah.

دوست و مدافع افغانستان بوده است.

[ډاکتر شاه ته خطاب ـ ژباړه:] ستاسو له ملاتړ او د مرستو له برابرولو مننه![۱]

جناب‌شان در زمان ریاست در یو.اس.اِ.آی.دی همیشه تمرکز سر ایجاد سرمایه بشری به صورت عموم و توسعه نقش زنان و دختران به صورت خاص، تمرکز داشته است. به حیث یک داکتر طب هم، دردهای عمیق جوامع مثل ما را درک کرده‌اند و در رفع آنها همیشه همکاری نموده‌اند.

همچنین از سفیر کبیر ایالات متحده امریکا جناب کنینگهم[۲] و خانم‌شان لیزلی[۳] کنینگهم ابراز امتنان می‌کنم. خاصتاً از خانم لیزلی کنینگهم که همیشه در تقویت نقش زنان افغانستان سهم گرفته سپاس‌گزاری می‌کنم؛ همیشه با ما باشید!

تجربه ثابت کرده وقتی که سر یک دختر سرمایه‌گذاری می‌شود، پنج نسل تغییر می‌کند. مردهای ما خفه نشوند! و اگر سر یک پسر سرمایه‌گذاری می‌شود، تنها یک نسل تغییر می‌کند.

او که ژوندی مثال غواړئ؟! زه یم. زما نیا په تبعید کې وه، په هندوستان کې او تحصیل یافته شوه، شپږو زامنو یې، لور یې [د حاضرینو چکچکې] او ټولو لمسیانو یې نه یوازې چې مکتب خلاص کړ؛ بلکې په هغه زمان کې یې دوکتورا ګانې ترلاسه کړې.

زما دعا په هر لمانځه کې اول نیا ته مې ده؛ ځکه که هغه نه وای نن به زه هم نه وم، نو هیله ده چې مورږ ټول د ښځو په اهمیت او د دوی په مدیریت او تحصیل باندې پوه شو. د اسلام مبین دین همېشه ښځو ته په یو ډېر پراخ او مهم حیثیت قایل شوی، تنها مثال یې دا دی د اسلام په صدر کې پنځو ښځو ته وګورئ، بي بي امنه هغه معظمه ښځه چې د بشریت پیشوا یې په کونډېتوب کې وروزه؛ بي‌بي خدیجه، آن زنی که از بزرگ‌ترین تجار دنیا و عربستان آن وقت بود؛ بی‌بی عایشه که اگر وجود نمی‌داشت امروز زیادتر از چهارصد حدیث صحیح

---

[۱] اصلي متن په انګلیسي: Thank you for advocacy. Thank you for delivery!

[۲] James B. Cunningham.

[۳] Leslie Genier.

در اختیار ما قرار نمی‌گرفت؛ (همچنین در مورد) بی‌بی فاطمه و بی‌بی زینب. بنابراین تاریخ اسلام نشان‌دهنده این است که زنان از ابتدای اسلام، نقش برازنده و رهنمودی داشته‌اند. همچنین در تاریخ خود ما، اگر ملکه گوهرشاد[۱] نمی‌بود فرهنگ تیموری یک چیز به نهایت دیگری می‌بود. امروز زیادترین اوقاف هرات و مشهد هنوز هم نتیجه سرمایه‌گذاری این زن بزرگ تاریخ ماست.

مه هېروئ چې رضیه[۲] د هندوستان پادشاه وه، نه ملکه. خپله یې قدرت ونیو، په هغه زمان کې په هغه پیړیو کې او روښاني حرکت د یوې ښځې له خوا رهبري کېده. نو دلته ضرورت دی همدارنگه معلوم‌دار نازو[۳] او زرغونه[٤] به مو همېشه په یاد وي. نکته بنیادی و خواهش من این است که (با توجه به این که) تاریخ ما نقش زنان برجسته و نقش زنان عادی ما را به صورت درست انعکاس نداده، ما ضرورت داریم که تاریخ خود و تاریخ اسلام را پس بدانیم؛ تا بفهمیم پروگرام‌هایی را که حکومت وحدت ملی روی دست دارد، نوآوری‌ها و بدعت نیست و ریشه‌ی عمیق در فرهنگ و تمدن بزرگ اسلامی ما دارد.

مشارکت زنان، قسمی که گفتم برای حکومت وحدت ملی نقش حیاتی دارد، و از این جهت چهار نکته‌ی قابل تمرکزی که امروز در پروگرام فعلی وجود دارد، نه‌تنها مورد تأیید بلکه مورد توجه عمیق حکومت و دولت خواهد بود.

اول ـ رهبری و مدیریت: زنان افغانستان همیشه مدیر بوده‌اند. من می‌فهمم که اگر نمی‌بودند، یک قسمت زیاد مردم سقف سرِ خانه و نان خوردن نمی‌داشتند. [خندا] یعنی مدیریت زنان ما همیشه در ساحه‌ی اقتصادی، خاصتاً، برجسته بوده؛ اما ضرورت است که این امروز به مدیریت قرن بیست و یک تبدیل شود.

دوم ـ نقش زنان در حکومت: (این نقش در) سیزده سال گذشته شاهد تغییرات بوده اما باید با وضاحت بگوییم که (سطح فعلی) مشارکت زنان، قابل قبول ما نیست؛ باید زیاد شده و به صورت اساسی تقویت شود. ما سر وعده خود ایستاده هستیم که اولین زن را در ستره‌محکمه

---

[۱] ملکه گوهرشاد بېگم: د سلطان شاهرخ تیموري مېرمن (۷۸۰ ـ ۸۶۱ سپوږمیز).
[۲] سلطان رضیه د شمس‌الدین ایلتمش لور: هغه مېرمن چې په ۱۲۳۶ ـ ۱۲۴۰ ز کلونو کې یې په ډیلي حکومت وکړ.
[۳] د میرویس خان هوتکي مور.
[٤] د احمدشاه بابا مور.

افغانستان انتصاب کنیم؛ [د حاضرینو چکچکې] اما همیشه معیار ما کفایت است. پنج عضو ستره‌محکمه در ظرف این پنج سال انتخاب می‌شوند و ما می‌خواهیم زنی که (در این جمع) انتخاب می‌شود به هیچ وجه کمتر از مردی که انتخاب می‌شود، نباشد. از این جهت سرمایه‌گذاری بنیادی در سال‌های آینده در (مورد) نقش زنان در قضا و قوه عدلی ما، به‌کار است؛ همچنین در دوایر دیگر حکومت.

سوم ـ نقش زنان در اقتصاد: این مهم‌ترین موضوعی است که ما با آن سر و کار داریم. زن افغان دوام‌دار کار می‌کند اما قسمت عمده کار زن افغان، بدون مزد است؛ از این جهت اکثر اوقات که از اطفال پرسان می‌کنیم: مادرتان مصروف چیست؟ می‌گوید: بیکار! کاش کسی این طور بیکار باشد که چهارده ساعت و یا شانزده ساعت در روز کار کند! بنابراین باید ارزش ارتباط زن افغان با مارکیت و با اقتصاد مستحکم شود.

چهارم ـ تقویت نهادهای زنان: تا از حقوق مشروع اسلامی و حقوقی که قانون اساسی ما (به زنان) داده دفاع کنند.

من و به نمایندگی از داکتر صاحب عبدالله و تمام اعضای حکومت، باز هم تأکید می‌کنم این چهار بخش که در این برنامه است نکات عمده و حیاتی است.

اما به این خاطر که کمک‌ها نتایج وسط‌مدت و درازمدت داشته باشد، ضرور است سر میکانیزم کمک‌ها غور کنیم.

اولین نکته این می‌باشد که امید است یک مقدار از این کمک‌ها و مخصوصاً از کمک‌هایی که ممالک دیگرِ همکار ما می‌کنند، برای ایجاد اولین پوهنتون زنان که از طرف زنان اداره می‌شود، صورت بگیرد. [د حاضرینو چکچکې] با وجودی که زمین در کابل به نهایت کم است ما تعهد می‌کنیم که (برای ساخت پوهنتون زنان) زمین می‌دهیم. امید است که یو.اس.اِ.آی.دی و همکاران دیگر ما یک قدم بزرگ را بردارند تا صد سال بعد از امروز هم مردم بگویند قدمی برداشته شده بود که دوام‌دار بود.

دوم، ایجاد انستیتوت‌هایی است که بتوانند به صورت ضربتی سر تقویت مدیریت و ظرفیت کار کنند. کورس‌های سه‌روزه و چهارروزه نتیجه‌دار نیست، از این جهت ما می‌خواهیم که اعضای ولسی‌جرگه و مشرانوجرگه ما ـ که نماینده‌های منتخب ملت هستند ـ بتوانند (در جلب

همکاریِ) پارلمان‌ها، مخصوصاً سه مملکت اسلامی ترکیه، مالیزیا، و اندونیزیا مشترکاً اقدام بکنند. همچنین در خلیج[۱] تغییر بی‌نهایت زیاد است؛ اکثریت شاگردان پوهنتون قطر، دختر است و تغییرات زیادی آمده است. وزرای ما، معین‌ها، رؤسا و والی‌های ما با همتاهای خود در ممالک (دیگر) از نزدیک طوری کار کنند که نتایج آن تغییر اساسی و بنیادی باشد.

نکته سوم، توجه به نقش زنان و ایجاد شرکت‌هایی است که از طرف زنان مدیریت می‌شود. زن افغان استعداد بی‌نهایت و زیادی دارد؛ مشکلش دسترسی به مارکیت است. دکتور شاه! [ژباړه:] موږ د «افغان ښځو په لاس د جوړو شویو تولیداتو» د لېبل په معرفي کولو کې، چې په نړیوالو بازارنو کې پلورل کېږي، له تاسو مرسته غواړو.[۲] [د حاضرینو چکچکې] اگر می‌خواهید کمک‌های‌تان دوام‌دار [مثمر] باشد، لطفاً چهل مارکیت عمده امریکایی را با زنان افغان مستقیماً ارتباط بدهید تا پیداوار ما در امریکا فروخته شود و شرکت‌هایی که در نیویارک، شیکاگو، و کالیفرونیا دیزاین فیشن می‌کنند، با نهادهای زنان ارتباط پیدا کنند. این موجب کمک پایدار می‌شود. من می‌فهمم که شما، علاقه زیادی به این دارید و به همین خاطر توجه‌تان را می‌خواهم.

و بالاخره نکته آخر. چون در تحت شرایط گذشته، این پروگرام مطرح شد، مسؤولیت اداره‌اش با یک قسمت از قراردادی‌های امریکایی است. امید است با اصلاحاتی که حکومت وحدت ملی به صورت سرتاسری روی دست می‌گیرد، یک پلان منسجم انتقال مسؤولیت و صلاحیت به نهادهای افغانی روی دست گرفته شود. [د حاضرینو چکچکې]

افغان‌ها به صورت عموم و تمام زنان افغان به صورت خصوص، حاضرند که از هر دالر حساب بدهند؛ شفافیت هدف ماست. اما امید است که مؤثریت استعمال پول را با هم بسنجیم و با هم عملی کنیم.

باز هم اولاً از همه حاضرین که از بیرون تشریف آورده‌اند، وزیر صاحب خارجه ناروی، جناب داکتر صاحب شاه، همکاران عزیزشان، معاونین‌شان، همکارهایی که از سال‌ها می‌شناسیم و حالا هم در یو.اس.اِ.آی.دی کار می‌کنند و غیره همکاران ابراز امتنان می‌کنم

---

۱ خلیج عربي هېوادونه.

۲ اصلي جمله په انگلیسي: "We really ask you Dr. Shah to help us with a 'made in' Afghan woman label to be marketed globally."

و همچنین از اعضای محترم کابینه، از تمام خواهرها و جناب داکتر صاحب عبدالله به خاطر همکاری مشترک در ایجاد یک دیدگاه واحد و تعهد ما به اصلاحات و تحول سرتاسری؛ که امید است موجب امید پایدار تمام مردم افغانستان مخصوصاً اطفال عزیز ما شود. [د ملي سرود غږونکي ډلې ته خطاب:] و از شما ابراز امتنان می‌کنم که سرود ملی را با این متانت و اهمیت نواختید. از هر کدامتان تشکر!

روزتان به خیر. ورځ مو په خیر!

# د پاکستان له لومړي وزير سره ګډ مطبوعاتي کنفرانس

اسلام‌آباد ـ پاکستان | ۲۴ لړم ۱۳۹۳ | ۱۵ نومبر ۲۰۱۴



## اړوند سکتورونه:

بهرنی سیاست ـ امنیت

## د وینا عمده محورونه:

- د افغانستان پالیسي او د بهرني سیاست پنځه کړۍ
- د افغانستان او پاکستان هوکړې
- د آسیا په اقتصادي یو ځای‌والي کې د افغانستان او پاکستان رول

## غورچاڼ:

افغانستان او پاکستان د خپلو خلکو د دردونو پای ته رسولو لپاره ګډ هوډ لري، هغسې چې په مسلمانو هېوادونو کې د ډیموکراتیکو پروسو غښتلتیا ښودلې، اسلامي نړۍ د داعش او نورو ګواښونو پر وړاندې درېږي. تر یوه واحد لیدلوري لاندې د ملي وحدت حکومت پالیسي د بهرني سیاست د پنځو کړیو په یو ځای کولو متمرکزه ده. په دې منځ کې پاکستان زموږ دوامداره همکار دی، څو په آسیا کې اقتصادي یو ځای‌والی رامنځته شي او افغانستان د انرژۍ د څلورلاري رول ترسره کړي. دواړو هېوادونو پر امنیت یو پراخ بحث پیل کړی دی، څو د باور فضا رامنځته شي او په تېر بریالي شوو او په سوله او ثبات ولاړ راتلونکي ته یو تعریف جوړ کړو. له تازه ګواښونو زموږ ګډ درک به په دوامداره ډول د هوکړو د عملي کولو پر مهال د عملي اقداماتو لامل وګرځي. موږ د مخ پر وړاندې تګ لپاره لویو ګامونو او سیستماتیکې مطالعې ته منتظر یوو.

## د پاکستان د لومړي وزیر، نواز شریف د وینا ژباړه:

د خوښۍ په ښودو، دویم کور پاکستان ته، د ځانګړو مېلمنو او قدرمن ورور جمهوررئیس غني راتلو ته ښه راغلاست وایم.

په همدې ترتیب، جناب جمهوررئیس او ورسره پلاوي ته یې د پاکستان د خلکو دوستانه او نیکې هیلې وړاندې کوم.

موږ د جمهوررئیس پرېکنده لیدلوري او بدلېدونکې رهبرۍ ته درناوی کوو او په تېر کې د هغه پراخې همکارۍ ته، چې د افغانستان د پرمختګ لپاره یې ترسره کړې او هغه رغنده رول ته، چې د افغانستان راتلونکي لپاره به یې ترسره کړي، د قدر په سترګه ګورو.

له فرصت څخه په استفادې، په سوله‌ییز ډول د واک د لېږد او د ملي وحدت حکومت جوړېدو له امله جناب جمهوررئیس او د افغانستان خلکو ته خپل صمیمانه مبارکي وړاندې کوو. دا تر ډېره د افغانستان د نویو رهبرانو د زمامدارۍ پایله ده، چې په دې هېواد کې به د ثبات او ملي وحدت د غښتلي کېدو لامل شي.

جمهوررئیس غني په یوې حساسې زماني مقطع کې، چې افغانستان د امنیتي، سیاسي او اقتصادي لېږد بهیر تر شا پرېږدي، د چارو مسوولیت پر غاړه واخیست. نوموړي پر ښې حکومتوالۍ، خلکو ته د دولت ځواب ویل، ټولنیز عدالت، د بېوزلۍ کموالي او په عامه هوساینې متمرکز یو هر اړخیز کورنی اصلاحي پروګرام پیل کړی دی.

د لېږد د یادو بهیرونو بریالي بشپړېدل به د یوه باامنه او سوکاله افغانستان را څرګندېدل تضمین کړي، چې زموږ د ټولو ملاتړ به ورسره وي. دې کې شک نشته، چې جمهوررئیس غني به پخپلې قاطع ارادې او هوډ بریالی کېږي. ان‌شاءالله!

د افغانستان او پاکستان ترمنځ اړیکې، استثنایي دي. مشترکه عقیده، نږدیکت او ګډ تاریخ، زموږ د وروروليٰ اړیکې نورې هم غښتلې کړې دي. موږ د یو بل په خوښیو او غمونو کې شریک یوو، یو ځای غمجن کېږو او یو ځای جشنونه نیسو. زموږ امنیت او راتلونکې هوساینه په یوه او بل پورې تړلې دي.

ما تل د پاکستان په لومړيتوب، چې هغه سوله‌ييز ګاونډيتوب جوړول دي، ټينګار کړی دی. د اساسي عامل په توګه، زما ليدلوری د افغانستان او پاکستان ترمنځ په هر اړخيز، ځواکمنې او دوامداره همکاری، ولاړ دی، چې د دواړو ملتونو ترمنځ به د امنيت او هوساينې لپاره همکاري او په سيمه کې د انکشاف او سولې لپاره به د هڅو غښتلتيا له ځان سره ولري. خوښ يم، چې جمهوررئيس غني هم په دې برخه کې له ما سره ورته ليدلوری لري.

موږ درک کوو، چې د ګډ کار لپاره يو تاريخي فرصت په لاس کې لرو او د دواړو هېوادونو ملي حاکميت او خپلواکۍ ته د متقابل احترام پر اساس غښتلې اړيکې جوړې کړو، چې د متقابل باور او درک او د نږدې همکارۍ بنسټ وکړي.

زموږ هېوادونه له لويو ننګونو لکه ترهګري او افراطيت، ناڅرګند امنيتي چاپېريال او بې‌پولې جرمونو سره مخ دي. باور لرم، چې په ګډې ارادې او هڅو کولای شو په اغېزناک ډول پر دغو ننګونو بريالي شوو.

لوی فرصتونه هم شته دي، خو موږ بايد د خلکو پراخ ځواک او دوه اړخيزه همکاري په بشپړ ډول عملي کړو، چې ددې لارې د قاطع پيل لپاره يو مناسب فرصت دی.

نن، ما او جمهوررئيس غني پر ټولو پورته موضوعاتو پراخې مشورې وکړې. ما څرګنده کړه، چې د يو سوله‌ييز، با ثباته، يو موټي او پر ځان بسيا افغانستان موجوديت د پاکستان په ګټه دی.

همدا راز، د روغې جوړې له بين الافغاني پروسې، چې نوي حکومت دا نوښت ترسره کړی دی، د پاکستان پر ملاتړ ټينګار کوم. دا پروسه، هماغسې مو چې هوکړه کړې، بايد د افغانانو په رهبرۍ او د افغانانو په مالکيت ترسره شي.

همدا راز، په ټولو کچو له هغې ډلې د پولو له امنيت دفاع، د افغانستان رغاونه او بيارغاونه، ظرفيت جوړول، د پارلمانونو تبادله او په فرهنګي، روزنيزو او ورزشي برخو کې د اړيکو په زياتولو د پاکستان پر ژمنتيا، ټينګار کوم.

موږ د سوداګرۍ د پراختيا، پانګونې د ودې، زېربناوو بنه کولو، د سړکونو او رېلارو جوړولو له لارې د يوه ځواکمن اقتصادي مشارکت جوړولو او د انرژۍ په برخه کې د همکاريو

زیاتولو لپاره، پخپلې ارادې ټینگار کوو. د دواړو هېوادونو مالیې وزیرانو داسې سند لاسلیک کړ، چې پورته موخو ته رسېدو کې چټکتیا رامنځته کوي.

موږ همدا راز د «نښلېدو» او «سیمه‌ییزې اقتصادي همکارۍ» پر موضوعاتو، چې زموږ د همکارۍ نه جلا کېدونکي عناصر دي، هوکړې ته ورسېدو. موږ وړاندوینه کوو، چې سوداگرۍ، انرژي او ارتباطي دهلېزونو ته به د لویو سیمه‌ییزو پروژو له لارې لکه «کاسا زر» او «تاپي» نللیکه، پراختیا ورکړو.

افغانستان د «تحول لسیزې» په اوږدو کې ځای لري. په دې مهم وخت کې، زه افغانو ورونو ته ډاډ ورکوم، چې پاکستان به د هغوی ترځنگ ودرېږي او سولې او رغاونې ته د رسېدو په برخه کې به د هغو د هڅو ملاتړ وکړي.

له تاسو مننده‌وی یم. اوس جمهوررئیس غني ته بلنه ورکوم، چې خپلې خبرې تاسو ته واوروي.

## د جمهوررئیس غني د وینا ژباړه:

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم، اما بعد، اعوذ بالله من الشیطان الرجیم، بسم الله الرحمن الرحیم.

د پاکستان جلالتمآب لومړی وزیر، د پاکستان دولت محترم غړي او رسنۍ!

لومړی اجازه راکړئ، چې د «واگه» د فاجعې له امله د افغانستان د خلکو د همدردۍ شریکولو وسیله شم. د پېښې په ورځ، ما د ټیلیفون له لارې غمرازي وکړه او اوسمهال بیا ځلي خپله همدردي څرگندوم. موږ د هغو خلکو په توگه، چې تل یې دردونه لیدلي، ستاسو درد احساسوو، هغه درد چې مشترک دی او زموږ هوډ، مشترک هوډ دی، څو د خپلو خلکو دردونو او تکلیفونو ته د پای ټکی کېږدو؛ په دې موضوع باید شک ونه لرو. له همدې امله موږ ستاسو له هغه ډاډ څخه هرکلی کوو، چې یو سوله‌ییز او باثباته افغانستان د آسیا پیاوړي کولو لپاره محوري رول لري، چې خپل تاریخي فرصت، چې د یوه قاره‌ییي اقتصاد جوړول دي، درک کړي.

همدا راز غواړم تاسو جلالتماب ته ستاسو د هغه ډاډ له امله، چې ومو ويل، د مسلمانانو په منځ کې ډيموکراسي د غښتلي کېدو په حال کې ده، مبارکي ووايم. په پاکستان کې د ډيموکراتيکو پروسو د غښتلي کېدو پر اساس د ټولو لوريو اجماع او په افغانستان کې زموږ بريالی ټاکنې او د ملي وحدت حکومت جوړېدل، هغه نښې دي، څو نړيوال پرې پوه شي، چې اسلامي نړۍ نور د داعش او نورو ګواښونو پر وړاندې لاس په کار شوې، نو په همدې اساس بايد نور په پاکستان او افغانستان کې د ډيموکراسۍ پر غښتلتيا تمرکز وشي.

په ملي وحدت حکومت کې ما د ټولو همکارانو او غړو، په ځانګړي ډول د ډاکتر عبدالله عبدالله سلامونه تاسو ته راوړي.

د ملي وحدت حکومت پاليسۍ منسجمې او متمرکزې دي، څو زموږ د بهرني سياست د پنځو کړيو د را يو ځای کېدو په اړه، يعنې ګاونډي هېوادونه، اسلامي نړۍ، ناټو ـ آيساف، آسيايي هېوادونه، نړيوال سازمانونه او خصوصي پانګه وال، تر يوه ليدلوري لاندې په يوه کتار کې ډاډ ترلاسه شي. ښاغلی لومړی وزير! هغه ليدلوری دا دی، چې پاکستان په دوامداره ډول زموږ شريک دی. زه له هغو لويو ګامونو، چې په تېرو درېيو ورځو کې په اقتصادي پرمختګ د لاسبرۍ لپاره اخيستل شوي دي، هرکلی کوم؛ موږ په تېرو درېيو ورځو کې پر ديارلس کلنو ستونزو بريالي شوو. له تاسو مننه! او زه غواړم په دې برخه کې ددې لويو لاسته‌راوړنو له امله له وزير ډار[1]، وزير خان[2] او وزير زاخېلوال[3] مننه وکړم.[4]

هغه څه چې موږ پرې هوکړې ته ورسېدو ګډ ليدلوری دی، چې په هغه کې به پاکستان او افغانستان د آسيا زړه په توګه وګڼل شي، څو ډاډ ترلاسه شي، چې په آسيا کې اقتصادي يو ځای‌والی په يوه واقعيت بدلېږي او د يوه خوب په بڼه نه پاتې کېږي. نن موږ اساسي ګامونه پورته کړل، څو باوري شو، چې سويلي آسيا له مرکزي آسيا او مرکزي آسيا له سويلي آسيا

---

[1] محمد اسحاق ډار: د پاکستان ماليې وزير.

[2] خرم دستګير خان: د پاکستان د سوداګرۍ وزير.

[3] حضرت عمر زاخېلوال: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د ماليې سرپرست وزير.

[4] په ليدنو کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سوداګريزو اړيکو د پراختيا، د صادراتو په برخه کې د افغان سوداګرو د ستونزو حل، د ترانزيټ په برخه کې د اسانتياوو رامنځته کول، په دوو کلونو کې له ۲,۵ ميليارد ډالرو ۵ ميليارد ډالرو ته د دواړو هېوادونو د سوداګرۍ زياتول او په يو شمېر لويو سيمه‌ييزو پروژو خبرې وشوې.

سره نښلېږي. د افغانستان لپاره زموږ لیدلوری یوازې د برېښنا او انرژۍ له لارې د «څلورلارې» او «انرژۍ دهلېز» په توګه نه دی، بلکې د ګازو او تېلو پایپونه هم په‌کې شامل دي. دا ټول بیا هم له سیمه‌ییزې اقتصادي همپالنې سره تړلي دي. فکر کوم، تاسو او زه، زموږ دولتونه او زموږ خلک، ټول کولای شوو په دې برخه کې لوی ګامونه پورته کړو.

موږ همدا راز پر دې بحث وکړ، چې په تېر باید بریالي شوو. موږ به اجازه ور نه کړو، چې تېر، زموږ راتلونکی نابود کړي. په همدې اساس موږ پر امنیت یو پراخ بحث پیل کړی دی، څو زموږ په امنیت دوه اړخیزه بحث وشي، تعریف شي او ممکنه شي، چې ځینې پروسې محک شي، څو د باور فضا رامنځته شي.

ښاغلی لومړی وزیر! اساسي برخه، چې غواړم په تړاو یې له تاسو مننه وکړم، دا ده، چې د افغانستان او پاکستان دولتونه او خلک غواړي داسې روایت جوړ کړو، چې زموږ راتلونکی تعریف کړي. په دې روایت کې، زموږ خلک، په ځانګړي ډول تر ټولو بېوزله خلک ـ زموږ تر ټولو محروم خلک ـ په باثباته او سوله‌ییزو هېوادونو کې د بریالي اقتصاد برخه‌وال وي. زموږ سرنوشت له یو بل سره تړلی دی، دا ځکه چې ترهګري هېڅ پوله نه پېژني؛ په پاکستان کې هره بې‌ثباتي، پر موږ اغېز لري او په افغانستان کې هر ډول ثبات پر تاسو اغېز لري.

فکر کوم له نویو ګواښونو زموږ ګډ درک، موږ ددې وړ ګرځوي، چې داسې لارې چارې تعریف کړو، څو د هغو پر اساس ملموس اقدامات ترسره شي، چې عملي اړخ ولري. دا کار لازمې توجه او پر هغه څه چې هوکړه شوې د دوامداره عمل لپاره بیا ځلي تمرکز ته اړتیا لري، څو د یو عمده بدلون ښودنه وکړي.

له ګرمې مېلمه پالنې او دا چې په یوه ډېر ښه وخت کې مو ما او همکارانو ته له اسلام آباد څخه د لیدنې زمینه برابره کړه، څو دې باور ته ورسېږو، چې زموږ د خلکو د هیلو لوی بنسټ یعنې سوله، امنیت او هوساینه، کېږدو مننه کوم.

زه کابل ته ستاسو راتلو او هلته ستاسو هرکلي ته سترګې پر لار یم. پوهېږم، چې تاسو له پخواني کابل څخه خاطرې لرئ او د هغو ورځو له قرغې او پغمان څخه اوربېدل درته په فوق‌العاده ډول ځواک دربښي. اوس به یوازې تفاوت په دې کې وي، چې تاسو به مجبور نه یاست یوازې د یوه ځانګړي فلم لیدو لپاره کابل ته ولاړ شئ، دا ددې لپاره چې په نورو ځایونو کې هم امکان لري. موږ په کابل کې ستاسو د راتلونکې لیدنې په تمه یوو، څو لا

لوی ګامونه پورته کړو. په سیستماتیک ډول مطالعه وکړو او د خپل لیدلوري او اړخ د واضح درک لپاره به، په سیمه کې مخ پر وړاندې حرکت وکړو. نړۍ به زموږ د ګډو هڅو او درک له امله لا نوره بډایه شي.

ښاغلی لومړی وزیر، مننه!

# د «نني هند» ګردی مېز [1]

نیپال، کټمانډو | ۴ لیندۍ ۱۳۹۳ | ۲۵ نومبر ۲۰۱۴




## اړوند سکتورونه:

**اقتصاد ـ بهرنۍ سیاست**

## د وینا عمده محورونه:

- **د وروسته پاتې‌والي تعریف او د هغه عوامل**
- **په سیمه کې د بازار همپالنه**
- **سیمه‌ییز اتصال**

## غورچاڼ:

په تېر د بریالي کېدو لپاره د یوه بهیر په توګه او په هغه کې د بنیادي عواملو موندلو لپاره د «وروسته پاتې‌والي» درک لازمي دی. وروسته پاتې والی کولای شو یو داسې وضعیت تعریف کړو، چې په هغه کې بېوزلي او نابرابري له منځه نه ده وړل شوې، خو د حل امکان یې شته. د وروسته پاتې‌والي د له منځه وړو لپاره موږ باید په سیمه‌ییزې همپالنې تمرکز وکړو. د توضیح لپاره باید ووایو، چې د سویلي آسیا حکومتونه لا تر اوسه نه دي توانېدلي په اقتصادي شاخصونو کې له عامل‌محور څخه اغېزمن‌محور او نوښت‌محور مرحلې ته ورسېږي. هند د فوق‌العاده پرمختګ په لرلو سربېره له چین او سنګاپور سره زیاته فاصله لري، دا ځکه چې شاوخوا داسې محدودیتونه شته، چې په سیمه کې د اړیکو د ځرنګوالي او د افکارو پر لېږد د نه تمرکز له امله دي. موږ لا تر

[1] India Today Roundtable.

اوسه هم ابتدايي خوځښت لرو، خو بنیادي تغییر لا نه دی عملي شوی. له دې وضعیت څخه د تېرېدو لپاره هوساینه او «د بازار همپالنه» کلیدي عوامل دي او د بازار د همپالنې پراختیا لپاره ستر فرصت موجود دی، نو ددې لپاره دلته درې موضوعات د بحث وړ دي؛ د بازار ناپرمختللی حالت. دویم، بازار نه یوازې ملي، بلکې سیمه‌ییز دی. دریم؛ په نړیواله کچه او د سیمه‌ییزې اقتصادي همپالنې ښه والي ترمنځ د سیالۍ نشتوالی. د نښلېدنې په برخه کې، زموږ تر ټولو مهم خنډ زموږ زېربنا ده؛ په داسې حال کې، چې انرژي او طبیعي ذخایر د نښلېدو محرکونه دي. د نښلېدو لپاره د مرکزي آسیا انتظار یو تاریخي فرصت دی او افغانستان کولای شي ددې نښلېدو یوه مرکزي نقطه وي. ددې رول ترسره کولو لپاره د سیمې په کچه پر پروژو تمرکز ته اړتیا ده او باید یوه داسې کړنلاره جوړه شي، چې د یوه سیستم د جوړېدو په برخه کې شته عناصر، له یو بل سره ونښلوي.

## د جمهوررئیس غني د وینا ژباړه:

مازیگر په خیر!

مېرمن ملهوترا[1]، د ډېرې سخاوتمندانه معرفي له امله مننه!

زما لپاره دا د ډېرې خوښۍ ځای دی، چې بېرته کټماندو ته را وگرځېدم. کټماندو، هغه ښار دی، چې ډېر ښه یې پېژنم او نیپال هغه هېواد دی، چې څلونه مې ورته سفر کړی دی. هغه موضوع چې غواړم پرې خبرې وکړم «د وروسته پاتې‌والي فرصتونه»[2] دي.

د تاریخ په اوږدو کې داسې ډېر کم پېښ شوي، چې عامل، فکر، مفکورې او ستراتېژي وکولای شي پر جوړښت، فضا، جغرافیې او هغه تاثیرات چې له تېر څخه راپاتې، غالب شي. سویلي آسیا هغه سیمه ده، چې په هغه کې، موږ له یوه لوري د خالصو، پاکو او اهمیت لرونکو مفکورو له نعمت څخه برخمن یوو او له بل لوري له یوې داسې سیمې سره مخ یوو، چې تر تجزیې اویا کاله وروسته هم تر اوسه نه ده توانېدلې پر هغو تاثیراتو بریالۍ شي، چې له تېر ورته پاتې دي. که ټاکل شوې هغه فرصت او تصور، چې نن د بدلون او نویو مفکورو د لېوالتیا لپاره برابر شوی، ترلاسه کړو، باید په تېر د بریالي کېدو هوډ ولرو او ددې لپاره «وروسته پاتې‌والي» ته د یوه بهیر په توگه وگورو او د هغه بنیادي عوامل وپېژنو او نه یوازې په تکثیر، تکرار او پلان جوړونې نه، بلکې پر نویو طرحو کولای شو ستونزې مشخصې کړو او پر دې موضوع بحث وکړو. اوس، ددې لپاره چې پر دې بحث خبرې اترې وکړای شو، زه د

---

[1] Jyoti Malhotra: لیکواله او ژورنالېسته؛ او د نننۍ هند د گردي مېز چلوونکې.

[2] The Advantages of Backwardness.

افغانستان په اړه نه، بلکې په عمومي ډول خبرې کوم.

د «وروسته پاتېوالي» معنی څه ده؟ وروسته پاتېوالی، داسې وضعیت دی، چې په هغه کې د بېوزلۍ او نابرابرۍ د حل امکان شته، خو دا کار نه کېږي. افغانستان یو وروسته پاتې هېواد دی. زموږ ۳۶ سلنه خلک د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي، چې د هېڅ بشر لپاره د زغم وړ نه ده؛ باید هم نه وي.

وروسته پاتېوالی، تاوتریخوالی دی. کله مې چې خبرو ته تیاری نیوه، زموږ ځوان اولادونه په پکتیکا کې د فوټبال په ډګر کې په وینو ولړل شول؛ ما سمدستي (د بیانیې) لیکل پرېښودل او د پوځي روغتون پر لور ولاړم. هلته مې ۱۸ ماشومان ولیدل، چې په مختلفو کچو ټپیان شوي وو. یو د هغوی روغتون ته د رسېدو په لاره کې ساه ورکړې وه. هغه شپه، د روغتون د جراحۍ څانګې، ۳۳ عملیات ترسره کړي وو.

موږ هره ورځ په سویلي آسیا کې په یو نه یو ډول د تاوتریخوالي له یو ډول سره لاس و ګرېوان یوو؛ د مېرمنو پر وړاندې تاوتریخوالی، د ماشومانو پر وړاندې تاوتریخوالی، د معلولینو پر وړاندې تاوتریخوالی، ... خو د تاوتریخوالي تر ټولو لوی ډول، د بېوزلو پر وړاندې ترسره کېږي. په دې سیمه کې زموږ په فوق‌العاده ډول پرمختګ سربېره، موږ لا تر اوسه هم د بېوزلۍ له تر ټولو بد ډول سره مخ یوو او دا حالت د زغملو نه دی. ددې ترڅنګ، سیمه‌ییزه سویلي آسیا ددې ځمکې پر مخ تر ټولو کمه اقتصادي همپالنه لري؛ موږ د خپلې سیمې پر ځای، د ځمکې پرمخ په نورو سیمو کې ډېره سوداګري کوو.

وروسته پاتېوالی، نړیوال اړخ لري. نااندولي دا مهال په یوې څانګړې مقولې بدله شوې ده، په داسې ډول چې د هر چا زېږنځای د ژوند فرصتونه ټاکي. د هېوادونو په داخل کې د څانګړو توپیرونو شته والی، ددې نااندولۍ بنسټیز عامل دی. په همدې دلیل، چې شتمنۍ راټولول محدودیتونه نه لري، موږ د نړۍ په کچه د بېوزلۍ او نااندولۍ تولید ته بیا ځلي دوام ورکوو.

موږ د نړیوالتوب په وروستۍ مرحلې کې ځای لرو. باید ووایو، چې نړیوالتوب د درېیو مرحلو لرونکی دی. لومړنی نړیوالتوب، پر مستعمرو متمرکز و، چې په آسیا کې نږدې له ۱۸۵۰ تر ۱۹۱۴ ز کال ترسره شو او آسیا د جوړښتي وروسته پاتېوالي لور ته ور ټېل وهل شوه. دویم

نړیوالتوب، له ۱۹۸۰ تر ۲۰۰۵ ز کلونو پورې دی، چې د آزادۍ (لیبرال) د اوج نقطه وه او پر اساس یې حکومتونه منزوي شول. په ورته مهال د نړیوالتوب په دویمه مرحله کې، آسیا خپلې منځنۍ طبقې جوړې کړې. په دې دوره کې د چین او هند فوق‌العاده پرمختګ د قدر وړ دی، چې په لومړي ځل له ۱۸۰۰ ز کال راهیسې، توانېدلي د نړۍ ناانډولۍ ته بدلون ورکړي. له ۲۰۰۸ ز کال وروسته، موږ له متفاوتې نړۍ سره سر و کار درلود، خو له ۲۰۰۸ ز کال وړاندې، دود شوی تصور دا و، چې د بازار تجربه په ښه ډول ښیي، چې د «پټو لاسونو»[۱] په موجودیت کې شک نشته. له ۲۰۰۸ ز کال وروسته، موږ د بازار او دولت ترمنځ په تعادل او تر هغه مهم دا چې له خلکو سره تعادل ته متوجه کېږو، چې سویلي آسیا په دې برخه کې د هیلو یوه دریڅه ده.

په ټوله آسیا کې د خلکو خوځښتونه، تاریخ بدلوي؛ که څه هم بل بُعد داسې بیانوي، چې دولتي نظامونه د تاوتریخوالي او ایډیالوژیو پر مټ تر برید لاندې نیول کېږي او په دغو نظامونو د خپل ځواک د نقطو پر اساس نه، بلکې د کمزورو نقطو له اړخه قضاوت کېږي. موږ ډېر ښه پوهېږو، چې په افغانستان کې هغه خوځښتونه، چې موږ له عادي شتوو هم محرومو‌ي، څه ډول له منځه یوسو؟

هر هغه څه چې نورو ته عادي ښکاري، زموږ لپاره عادي نه دي. هغه څه چې زموږ لپاره عادي ګڼل کېږي دا دي، چې پلی یا سپور ښوونځي ته ولاړ شو. زه د یوه ځوان په څېر باید فکر وکړم او په دې فکر کې واوسم، چې بېرته خپلو کورونو ته ګرځوو. دوه ورځې وړاندې، ما باید هغه اجساد ترلاسه کړي وای، چې وړاندې مې یادونه وکړه؛ تر هغه یوه اونۍ وړاندې، باید د هغې ځوانې مېرمنې له جسد سره مخ شوی وای، چې د پوهنتون څلور کاله یې تېر کړل او په یوه ځانمرګي برید کې یې خپل ژوند له لاسه ورکړ. تر هغو چې دولتي نظام په سویلي آسیا کې زموږ د خلکو د سولې او امنیت په بنسټیزې موضوع - چې په نامناسب ډول عادي خلک نومول کېږي - تمرکز ونه کړي، لومړنی هغه خنډ، چې موږ باید ورسره مقابله وکړو، د «بد چلند» حس دی. زموږ خلک فوق‌العاده اتلان دي او هیله لرم، چې وکولای شو هغوی درک کړو. په همدې دلیل، د خلکو خوځښتونه، د نخبه ګانو او مشرانو مذاکرات، چې په

---

[۱] Hidden Hand. اډام سمېت پخپل کتاب «د ملتونو شتمنی» کې دې موضوع ته اشاره کړې، چې په بازار کې د خلکو ګټو چلند د اقتصادي همغږۍ او تعادل لامل کېږي. په بل عبارت، شخصي ګټې د اقتصادي فعالیتونو د ځوښت تر ټولو مهم عامل دی او د شخصي ګټو د تامین د خوځښت په پایله کې به ټولنیزې ګټې په ښه ډول ترلاسه شي.

سنتي ډول ترسره کېږي، نه مني او غوښتنه لري، چې په خبرو اترو کې باید هغوی ته هم برخه ورکړل شي.

زه يوازې په دوو عمده موضوعاتو بحث کوم، په همدې اساس کولای شو پوښتنو ته هم وخت ولرو. څه ډول باید پر سیمه‌ییزې همپالنې تمرکز وکړو؟ لومړی که چېرې موږ د نړیوال اقتصادي ټولګې شاخص[۱]، د سیالۍ شاخص[۲] او اقتصادي شاخص[۳] ته پام وکړو، تاسو به د عامل‌محور[٤]، (له یوې مرحلې بلې مرحلې ته)[۵] لېږد، اغېزمنتیا[٦] او نوښت[۷] چې د هغه په کالم کې یاد شوي، سره مخامخ شئ. هغه «مرحلې» نومول کېږي، خو دا چې په یوه وخت کې رامنځته کېږي، نشو کولای هغه «مرحلې» ونوموو. د سویلي آسیا هېوادونه په کوم وضعیت کې دي؟ عامل‌محور. ان په سویلي آسیا کې یو دولت یا هېواد نشته، چې د اغېزمنتیا یا نوښت په حالت کې وي، چې پر اساس یې پاتې شوی میراث او په ورته مهال شته امکانات بررسي کړو.

د هند فوق‌العاده پرمختګ ټوله سویلي آسیا پورته کړې او پرېمانه امکانات یې برابر کړي دي، خو د چین او سنګاپور ستراتېژیکو کچو ته تر رسېدو پورې ډېره فاصله پاتې ده.

دلته د خپل چاپېریال د محدودیتونو په موضوع بحث کوو. زموږ په سیمه کې کولای شئ سهارنۍ په ډیلي، غرمنۍ په لاهور او د شپې ډوډۍ په کابل کې وخورئ او راتلونکې ورځ یې دوشنبې یا تاشکند ته سفر وکړئ او البته چې دا ټول د ځمکني سفر له لارې کولای شئ! خو تاسو پوهېږئ، چې څه خنډونه په مخ کې دي؟ باید له څو سرحدي نقطو تېر شئ؟ باید څو ورقې ډکې کړئ؟ باید څو ځله استدلال وکړئ؟ هر ډول لېږد، له هغې ډلې د افرادو او توکو لېږد که په پام کې ونیول شي، له محدودیتونو سره مخ دی.

---

[۱] World Economic Forum.

[۲] Competitiveness Index.

[۳] Economic Indicator.

[٤] Factor Productivity.

[۵] Transition.

[٦] Efficiency.

[۷] Innovation.

هغه ځای چې موږ په کې ازادي لرو، د افکارو لېږد دی. په دې معنی، چې موږ ټول کولای شو بالیوډ فلمونه وګورو [د حاضرینو خندا] خو په بنسټیزو بحثونو کې، د افکارو د لېږد په برخه کې د هغو د اړیکو پر ځرنګوالي هېڅ تمرکز نه دی شوی. کله هم چې تاسو د اروپا همپالنې ته وګورئ، د سیاسي ګوندونو د پولو نه منونکې یا ان تر اقیانوسونو هاخوا شبکې هم په دې همپالنه کې د اهمیت وړ دي.

موږ لا تر اوسه هم ابتدایي خوځښت لرو، خو بنیادي تغییر لا نه دی عملي شوی. په همدې دلیل، د راتلونکي لپاره حللاره د بازار په همپالنې او هوساینې کې نغښتې ده. د بازار د همپالنې ښه کېدو لپاره ډېر ښه فرصتونه شته دي. دلته موږ له درېیو موضوعاتو سره مخ یوو؛ لومړی، وروسته‌پاتې بازار. د بازار یو شمېر لوی محدودیتونه شته، چې کولای شي د «بازار بنسټپالنې»[۱] منل هغوی په کار واچوي. دویمه موضوع دا ده، چې بازار یوازې ملي نه، بلکې سیمه‌ییز دی. درېیمه دا چې، په نړیواله کچه د سیمه‌ییزې اقتصادي همپالنې په سیالۍ کې تناقض نشته دی. اروپایي ټولنه د جوړېدو له وخته تر اوسه د همدې ټولنې په محدوده کې او د نړۍ له نورو ځایونو سره، له کوم تناقض پرته ډېره زیاته راکړه ورکړه کړې ده.

خو، یو له مهمو عواملو څخه، زموږ نه نښلېدل ـ هم د اغېزمنتیا له اړخه او هم د هغه د جوړښت له اړخه ـ زموږ زېربنا ده. که تاسو د سویلي آسیا هېوادونو ودانیز صنعت ته په تېرو ۲۰ کلونو او په ځانګړي ډول په تېرو ۱۰ کلونو کې وګورئ، ډېر زیات تذبذب به ووینئ. ودانیز صنعت او بېوزلي ښایي کاملاً دوه جلا مقولې وي، خو په حقیقت کې د مهمو اړیکو د یوې مجموعې لرونکي دي، چې موږ‌و کولای شو ویې مومو، ځکه چې د ودانیز صنعت اغېز چاپېریال او جغرافیا بدلوي او هغه د نښلېدو په یوې فضا بدلوي؛ او همدلته ده، چې د انتخابونو له لړۍ سره مخ کېږو.

افغانستان د سویلي او مرکزي آسیا ترمنځ یو هېواد دی، چې له چین سره هم کوچنۍ سرحدي پوله لري، چې موږ له ختیځې آسیا سره نښلوي. که څه هم افغانستان د منځنۍ آسیا یو هېواد هم دی. زموږ انتخاب څه دی؟ انرژي یو محرک دی، چې سویلي آسیا یې له کمښت سره مخ ده. په کسپین کې شپږ سوه ټریلیون مترمکعب ګاز شته دي، چې د نړۍ په کچه د ګازو

---

[۱] Market fundamentalism: یوه سیاسي اصطلاح ده، چې د اقتصادي او ټولنیزو ستونزو په حل کې د ازاد بازار د وړتیا بیانولو لپاره کارېږي، په دې شرط چې ازاد بازار د برابرۍ او هوساینې ښودونکی وي او د بازار په بهیر کې هر ډول مداخله د ټولنیزې هوساینې د کموالي لامل ګرځي.

لویه سرچینه ده. اوسمهال، د یوې سیمې په توګه له مرکزي آسیا سره د سویلي آسیا د سوداګرۍ کچه تر ټولو کمه ده. طبیعي ذېرمې د سوداګرۍ له انتخابونو یو دی. آیا سویلي آسیا، چې له لسمې تر نوولسمې پېړۍ پورې یې له تاریخچې څخه ښکاره ده، د انرژۍ شبکو له لارې، ګاز او تېل، له مرکزي آسیا سره به ونښلول شي؟ یا آیا سویلي آسیا به مجبوره شي، چې بیا ځلي د کاربن سوند توکو ته په پام سره له سویل ختیځې آسیا سره ونښلېږي؟ مرکزي آسیا، اوسمهال نښلېدو ته منتظره ده. که چېرې د اروپا د انرژۍ پلانونو ته پام وکړو، هغوی په څه تمرکز کړی دی؟ مرکزي آسیا! که چېرې ختیځه آسیا درک کړو، هغوی چېرته توجه لري؟ مرکزي آسیا! که چېرې د روسیې د انرژۍ په سیستمونو تمرکز وکړو، د هغوی توجه چېرته ده؟

موږ په سویلي آسیا کې، یوازې د خوب لیدلو په حال کې یوو او د چلند عمل مو نه دی کړی. دا یو تاریخي فرصت دی، چې د افغانستان په څېر ځای، چې په تېرو سلو کلونو کې هره شېبه حاشیې ته ورل شوی، په یوې مرکزي نقطې بدل شي.

موږ په دې برخه کې د ګام پورته کولو لپاره یوه متفاوت لیدلوري او تګلارې ته اړتیا لرو، دا ځکه چې، موږ په معمولو تګلارو له پروژو څخه پروژې ته د کار په څېر یا په کوچنیو هڅو، د انکشاف وړتیا نشو موندی. که چېرې موږ ددې کار د عملي کېدو غوښتونکي یوو، باید د سیمې په کچه په پروژو تمرکز وکړو. موږ باید مالي او بشري سرچینې په متفاوت ډول په خوځښت راولو. ټول امکانات موجود دي؛ د یوې داسې تګلارې رامنځته کول، چې وکولای شي شته عوامل د یوه سیستم په ډول له یو بل سره ونښلوي، د ځانګړي اهمیت وړ ده. هیله لرم دا امکان ترلاسه کړو او ددې وړ وګرځو، چې پر سوق او اداره ولاړ نظریات او سیاستونه په همکارۍ او اړیکو بدل کړو.

زموږ یو شاعر سعدي داسې وایي: «به دریا دَر، منافع بی‌شمار است / و گر خواهی سلامت، بَر کنار است».[1]

---

[1] اصلي متن په انګلیسي کې: "Deep in the sea are riches beyond compare, but if you seek safety it is on the shore." (د پادشاهانو چال چلند لومړی باب، د شپاړسمې کیسې یوې برخې انګلیسي ژباړه، ګلستان سعدي؛ له The Sufis کتاب څخه اخیستل شوی، د Idries Shah لیکنه.)

زه په وچه کې ایسار یو ملت رهبري کوم، خو افغانستان به خپله راتلونکې په بحر کې پیدا کړي.

مننه!

# د سویلي آسیا د سیمه‌ییزو همکاریو سازمان (سارک)[1] اتلسمه سرمشریزه

نیپال | ۵ لیندۍ ۱۳۹۳ | ۲۶ نومبر ۲۰۱۴




## اړوند سکتورونه:

**بهرنی سیاست ـ اقتصاد ـ امنیت**

## د وینا عمده محورونه:

- **سمه‌ییزه همپالنه او په سیمه‌ییزو همکاریو کې د سارک رول**
- **د تاوتریخوالي له عواملو سره د دولتونو چلند**
- **د سیمې اقتصادي لیدلوری**

## غورچاڼ:

د سولې او هوساینې لپاره ژوره همپالنه یو الزامي امر دی. د تاوتریخوالي پر شبکو تکیه او له هغو څخه د سیالۍ په توګه استفاده کول، نظامونه بې‌ثباته کوي. په همدې اساس په سارک کې همپالنه د تاوتریخوالي عواملو د له منځه وړو په موخه له ربښتیني چلند او ژمنتیا سره تړلې ده، چې سیاسي اختلافات باید له سیاسي لارو حل شي. له بل لوري د آسیا اقتصاد په «قاره‌یي» ډول د راڅرګندېدو په حال کې دی. دې ته په پام چې افغانستان د آسیا په زړه کې موقعیت لري، د آسیا په څلورلاري ددې هېواد بدلېدل د سیمې لپاره سوله، ثبات او هوساینه له ځان سره لري او له همدې اړخه کېدای شي د سیمې لپاره نوی اقتصادي لیدلوری وټاکل شي. ددې په منځ کې، سارک د زېربنا د یوه کمېسیون په جوړولو او نښلولو کولای شي د سیمه‌ییزو همکاریو ګټې وڅېړي او بیان

---

[1] South Asian Association for Regional Cooperation (SAARC).

کړي.

## د جمهوررئیس غني د وینا ژباړه:

بسم الله الرحمن الرحیم.

جلالتمآب لومړی وزیر سوشیل کویر کویریلا[۱]، د دولتونو رئیسانو، د بهرنیو چارو وزیرانو، عالي جنابانو، اغلو او ښاغلو!

د خوښۍ ځای دی، چې نن په نیپال کې حضور لرم، هلته چې د ډیموکراتیکې اجماع له لارې سوله تامین شوې او سیمه‌ییزې همکارۍ د عملي کېدو په حال کې دي. غواړم ددې غونډې د عالي تنظیم له امله د نیپال له دولت او خلکو او همدا راز د هغوی له ګرمې میلمه پالنې مننه وکړم. په ورته مهال، پخپل وار زه هم د سارک سازمان ریاست ته د لومړي وزیر کویریلا د ټاکل کېدو مبارکي وایم. موږ په دې سازمان کې ستاسو د ځواکمنې رهبرۍ په تمه یوو او غواړم د افغانستان له اړخه د بشپړ ملاتړ او همکارۍ ډاډ درکړم.

اجازه راکړئ د مالدیف[۲] له جلالتمآب جمهوررئیس د سارک سازمان د عالي رهبرۍ له امله مننه وکړم او همدا راز ددې غونډې د سکرترجنرال او ټیم له ژمنتیا او نه ستړي کېدونکو هلو ځلو ستاینه وکړم.

د سولې او هوساینې لپاره ژوره همپالنه ـ چې هممهاله زموږ موخه هم جوړوي ـ یو الزامي امر دی. زموږ ورځنی ژوند او ملي امنیت د تاوتریخوالي شبکو له لوري، چې هېڅ پوله نه پېژني، له ګواښ سره مخ دی. په همدې اساس هغه محدودیتونه او فرصتونه چې زموږ د ښاریانو ژوند جوړوي، د حکومتونو د رهبرانو د ځواکمنتیا په اساس، د نړیوالو او سیمه‌ییزې فضا رامنځته کولو لپاره، تعریفیږي. په همدې اساس، هغه ازموینه چې رهبران یې په مخ کې لري دا ده، چې د ملتونو ترمنځ د لوبېدو قانون او د لوبېدو ډګر له سیالۍ، په همکارۍ بدل کړي.

---

[۱] Sushil Koirala: د نیپال لومړی وزیر (۱۱ فبروري ۲۰۱٤ ـ ۱۰ اکتوبر ۲۰۱۵).

[۲] عبدالله یمین عبدالقیوم.

زه د داسې هېواد رهبري کوم، چې په هغه کې تل بې‌گناه خلک د پرله پسې ترهگریزو بریدونو هدف گرځي. د پکتیکا ولایت د یحیی‌خېلو دردونکې پېښه، چې په هغه کې زموږ د هېوادوالو ۵۷ تنه د والیبال لوبې پر مهال په ډېر بې‌رحمانه ډول ووژل شول، د هغه یوه بېلگه ده او همدا ډول د پاکستان د واگې غمونکې پېښه، چې څه موده وړاندې رامنځته شوه. په روغتونونو کې د ټپي ماشومانو په غېږ کې نیول ـ هغسې چې د یکشنبې په ورځ زه له همداسې وضعیت سره مخ وم ـ موږ د بشردوستۍ له احساس او زموږ د مقدس دین له ارزښتونو د لرې والي ژورو ته متوجه کوي.

شرکتونه، شبکې او دولتونه، زموږ له یو بل سره تړلې نړۍ د نښلېدو عواملو ته زمینه برابروي. کار وړ دولتونه د قانوني شرکتونو او شبکو پراختیا او پرمختگ ته زمینه برابروي، خو د دولتونو ماته او ناکامي د بې‌کنټروله فضا رامنځته کېدو لامل گرځي، چې پخپل وار د جنایتکارو تشکیلاتو او د تاوتریخوالي شبکو رامنځته کېدو ته زمینه برابروي، څو د گډې اوسېدنې اړیکه جوړه کړي. دغه اړیکه هغه مهال وژونکې گرځي، چې دولتي عناصر غیر دولتي عناصرو ته د پناه ځایونو او سرچینو په برابرولو او د هغوی په تمویل، هغوی د نورو دولتونو پر وړاندې د سیالۍ لپاره په نیابتي توگه وکاروي.

د گډې اوسېدنې د اړیکو جوړښت استدلال ته له پام پرته، چې د سیالۍ د وسیلو په توگه په غیر دولتي عناصرو د دولت د تکیې لامل گرځي، باید په پام کې ونیسو، چې دغه ډول اقدامات معکوسې اغېزې لري او د دغه ډول دولتونو نظام بې‌ثباته کوي. په همدې اساس، په سارک کې تر هر څه زوره همپالنه، زمو د هېوادونو ترمنځ د بېلابېلو پټو او ښکاره سیالیو سره د رښتیني چلند درلودل لازمي کوي، چې زموږ له هېوادونو بهر او په کور دننه د تاوتریخوالي عواملو له منځه وړو او زموږ د ټولنو او خلکو لپاره د دوامداره سولې د تامین په موخه د همکاریو اسباب برابروي. موږ باید خپلو انساني ارزښتونو، تمدنونو او مذهبي ازادۍ ته په پام، وکولای شو د یو بل منلو لیدلورۍ او د بېوزلو او محرومو خلکو لپاره مشارکت، د خپلو فرهنگي خبرو اترو له لارې نندارې ته وړاندې کړو، څو له ټکرونو رامنځته شویو ټپونو ته د مرهم پټۍ شي.

تر هر څه زیاته ژوره همپالنه د سولې لپاره او همدا راز د حکومتوالۍ د نیمگړتیاوو منلو لپاره لازمه ده لکه فساد، د حذف سیاست، د زورواکو او شتمنیو په گټه بې‌عدالتي. له ځواک

مشروع استفاده او د مشروع ځواک د انحصار لپاره د دولتونو هڅې ایجابوي، چې سیاسي اختلافات له سیاسي لارې حل شي. د هرې ستونزې مبارزه باید د ځواک له لارې ونشي، په همدې اساس له سیاسي لارې د سولې هڅې او د ترهګرۍ ضد مبارزه د نورو ژمنتیاوو بله برخه ده.

ژوره همپالنه هوساینې ته زموږ د هېوادونو د رسېدو لپاره یو الزامي امر دی. د هند او ورپسې د سارک غړو هېوادونو باثباته پرمختګ، ثابته کړې، چې له اوسني وضعیت څخه د ځان د خلاصون وړتیا لرو، چې په نړۍ کې د ببوزلۍ له وړې کچې او د کم انسجام لرونکي اقتصادي سیمې په توګه ورسره مخ یوو. موږ تر اوسه په دې نه یو بریالي شوي، چې د واقعي همکارۍ سمدستي خبرې اترې یوې ټولیزې هوکړې ته ورسوو. د خنډونو ریښه، په سیاسي اراده او په اقتصادي او سیاسي مشخصو نخبه ګانو کې ده، چې له مختلفو لارو چارو خپل نظرونه عملي کوي.

د آسیا قارهیي اقتصاد د راڅرګندېدو په مرحله کې دی. خو دا چې د کسپین حوزې او مرکزي آسیا د انرژۍ سرچینې، چې له ٦۰۰ تریلیون مترمکعب ګاز او لسګونه زره میګاواټه برېښنا ده، له عامل‌محور[۱] څخه په اغېزناک‌محور[۲] او نوښت‌محور[۳]، څخه د سارک سازمان تېرو ته ځواک ببښي، زموږ د ټولو په ارادې پورې اړه لري. نن اروپا له کسپین او مرکزي آسیا سره د نښلېدو لپاره پر هوښیارو شبکو د پانګونې او پلان جوړونې په حال کې دی. وخت په تېرېدو دی او هر هېواد مکلف دی، چې د سیمه‌ییزې او نړیوالې پراختیا په اړه، چې د «مسیر اړوندوالي»[٤] لامل ګرځي، خپلې پرېکړې وکړي. د لوریو ټاکل کېدل، زموږ د ژوند چانسونه او له سویلي آسیا، ختیځې یا لویدیځې آسیا سره زموږ د ځوانانو بلدېدل، د جغرافیوي او تاریخي اړیکو له لارې نه، بلکې د اقتصادي اړیکو په ذریعه تعریفېږي.

له هغه ځایه چې افغانستان د آسیا په زړه کې موقعیت لري، په آسیا کې له هر حرکت او رکود

---

[۱] Factor-driven growth.

[۲] Efficiency-driven.

[۳] Innovation-driven.

[٤] Path Dependency: ان د نویو طریقو او انتخابونو په موجودیت هم پخوانیو سنتي طریقو ته ګروهنه او یا د هغوی ادامه غوښتل. په بل عبارت، له یوه محصول څخه په دوامداره ډول د استفادې لوری یا د ترجیح ورکولو پر اساس له یوه کار څخه تاریخي استفاده ده. د لوري تړل کېدل هغه وخت واقع کېږي، چې د یوه لوري دوام چې له وړاندې موجود وي، د نوي لوري د رامنځته کېدو په پرتله اسانه او ارزانه وي.

اغېزمن کېږي. موږ د آسیا په څلورلارې د بدلېدو لیدلوري ته په پام، چې په هغه کې محصولات، مفکورې او خلک په ټولو لوریو په حرکت کې وي ـ هغسې چې د دوه زره کالو په اوږدو کې د استعمارګرۍ تر پیدا کېدو همداسې و ـ د ځان او سیمې لپاره د سولې، ثبات او هوساینې راوستو ته هوډمن یوو. موږ پخپل بهرني سیاست کې د پنځو ترلو کړیو په برخه کې د همکارۍ چوکاټونه وړاندې کوو، یعنې زموږ ګاونډیان؛ اسلامي نړۍ؛ شمالي امریکا، استرلیا، اروپا او جاپان؛ آسیا؛ او انکشافي مؤسسې، سیمه‌ییز او نړیوال شرکتونه او د سیمه‌ییزو او نړیوالو ټولنو شبکې.

موږ به اجازه ور نه کړو، چې زموږ له خاورې د ګاونډیو پر ضد استفاده وشي. همدا راز موږ به هېچاته اجازه ور نه کړو، چې زموږ په خاوره کې خپله نیابتي جګړه ترسره کړي.

له یوه جمهوررئیس څخه بل منتخب جمهوررئیس ته په ډیموکراتیکه بڼه په لومړني ځل د واک لېږد په بشپړولو، موږ له هغه حاکم دود څخه تېر شو، چې ګټونکی باید ټول واک پخپل اختیار کې ولري او یو ملي وحدت حکومت مو جوړ کړ. غواړم د ملي وحدت حکومت د ټولو غړو، ډاکتر عبدالله عبدالله، د جمهوري ریاست مرستیالانو او همدا راز د پخواني جمهوررئیس حامد کرزي نیکې هیلې تاسو قدرمندو ته ورسوم.

دې ته په پام چې زموږ په هېواد کې د سولې تأمین زموږ په لومړیتوبونو کې ځای لري، موږ په دوامداره ډول په دې هڅه کې یوو، چې هغه ته مناسب ملي، سیمه‌ییز او نړیوال چاپېریال برابر کړو.

موږ د ګمرکي تعرفو د بن‌بست په له منځه وړو د کاسا زر پروګرام پیل کړی دی او هیله لرم چې د سارک غړو ترمنځ له مرکزي آسیا څخه د انرژۍ د لېږد لپاره د ګڼو پروژو ترمنځ لومړنۍ پروژه وي. همدا راز موږ د تاپي پروژې عملي کولو ته ژمن یوو، چې د هغه له لارې زموږ پټه پانګه به لکه جغرافیوي موقعیت، اوبه، ځمکه، کانونه، هایدروکابن، پیسې، او د افغانانو د تشبثاتو ظرفیت د خلکو د هوساینې په اسبابو بدل کړو. په همدې اساس موږ د حساب‌ورکونې یو داسې سیستم ته ژمن یوو، چې په رامنځته کولو به یې د خلکو او دولت، او د دولت او نړیوالو همکارانو په ځانګړي ډول د سارک غړو ترمنځ، د یو قرارداد رامنځته کېدو لامل شي.

په یوه ملي منزوري اقتصاد کې نه، بلکې په یوې سیمه‌ییزې شبکې کې د اتکاء نقطې په توګه د افغانستان مقام ته په پام، موږ کولای شو د سیمې لپاره یو نوی اقتصادي لیدلوری وټاکو. په شمال کې د نللیکو داسې کرښې شته، چې د مرکزي آسیا ژورو ته رسېږي. په لویدیځ کې تېلو او کارموندنې ته لاسرسی شته دی. په سوېل کې، موږ کولای شو ترانسپورټ ته پراختیا ورکړو او د ترانزیټ چارې ښې کړو. آسیا د یوې واحدې سیمې په توګه، موږ ته دا فرصت راکوي، چې د پرمختګ او پراختیا پر ستراتېژیو له سره کتنه وکړو.

په سوېل کې داسې سیمې شته، چې په چټکو لاسته‌راوړنو، پراخو فرصتونو او تر هر څه زیات په سیمه‌ییزو همکاریو تمرکز برابروي. د کاسا زر پروژې جوړول کولای شي د برېښنا تولید، لېږد او سوداګرۍ لومړني اقدامات وي او ورپسې کېدای شي د تېلو او ګازو نللیکې، مخابراتي شبکې، نوري فایبر او سټلایټ، اوسپنیزه کرښه او لویې لارې وي؛ که څه هم د کار پیل د اتصال په تأمین نه، بلکې د زېربناوو په طرحه، تمویل، ساختمان، ګټې اخیستو، عملیاتي چارو او ساتنه کې وي، چې ټول به زموږ د همکارۍ پایله او مخکینی شرط وي.

ساختماني صنعت چې د اقتصادونو په ښه‌کېدو کې د ګټې او نوښت پر بنسټ یو عمده محرک دی، زموږ په سیمه کې له یوه نامنظم پرمختګ سره مل و. که چېرې سارک، د زېربنا او اتصال په موخه د سیمه‌ییزې همکارۍ د ګټو څېړلو او ښکاره کولو لپاره د برخه‌والو اصلي ګروپونو او په ټولیز ډول ټولو خلکو لپاره یو کمېسیون جوړ کړی وای، موږ ښایي توانېدلي وای، چې خپلې لاسته‌راوړنې او لیدلوری مو له نورو سره برابر کړی وای. د افغانستان د ملي زېربنایي پلان په طرحه کې، موږ سیمه‌ییزو نوښتګرو پانګه‌والو ته بلنه ورکړې، څو د نړیوالو معیارونو پر اساس د اسانتیاوو په رامنځته کولو کې له موږ سره یو ځای شي.

دې ته په پام، چې افغانستان په ۱۹۷۸ ز کلونو کې په جګړه کې راګیر و، موږ د سولې، ثبات او هوساینې د یوې نجیبه کړۍ جوړولو ته ژمن یوو.

د افغانستان د جمهوررئیس او د خلکو، زما د بادارانو، د خدمتګار په توګه، د سولې او هوساینې په موخه د ژورې همپالنې په برخه کې د خپل هېواد ژمنتیا اعلانوم.

له تاسو مننه!

# اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون د توشیح مراسم

**کابل | ۹ لیندۍ ۱۳۹۳ | ۳۰ نومبر ۲۰۱۴**



## اړوند سکتورونه:

**حکومتوالي**

## د وینا عمده محورونه:

- **اطلاعاتو ته لاسرسی**

## غورچاڼ:

اطلاعاتو ته لاسرسی د خلکو اساسي حق او د مدني ټولنې د فعالیتونو بنسټ دی. هیله لرم، چې مدني ټولنه د شفافیت، حساب‌ورکونې او قانون حاکمیت په برخه کې اساسي رول ولري او د ترسره کولو په برخه کې یې له دولت سره همکاري وکړي. ځای لري، چې د ملي شورا له لوري د هغه د تأیید له امله مننه وکړم. په رسمي جریده کې ددې قانون په خپرولو سره، د هغه تطبیق د یو بل په مرسته او همکارۍ عملي کېدای شي.

## د جمهوررئیس غني وینا:

بسم الله الرحمن الرحیم.

دسترسی به اطلاعات یکی از حقوق اساسی شهروندی و جزئی از اساسات فعالیت یک

جامعه مدنی است. (در این باره) حکومت وحدت ملی تعهد واضح داشته؛ همچنان که در برنامه‌های دوران انتخاباتی جناب داکتر صاحب عبدالله عبدالله و هم ما (وجود داشت). و حال با وحدت کامل با توشیح این قانون امیدوار هستیم که جامعه مدنی افغانستان نقش بسیار بنیادی را در شفافیت، در حسابدهی و در حاکمیت قانون دست به دست با دولت اجرا نماید.

زه غواړم له تاسې ټولو نه مننه وکړم، چې هلې ځلې مو وکړې او د دې قانون د اماده کولو او مجلسینو ته د قناعت ورکولو لپاره تاسې خپل نظریات وړاندې کړل. مخصوصا د ټول دولت او حکومت په استازیتوب باندې له دواړو مجلسینو نه مننه کوم، چې دا ډېر مهم قانون یې وړاندې او نن دې مرحلې ته ورسیدلو، چې د اقدام خوا ته ځو. قانون به په رسمي جریدې کې خپور شي او د هغه په اساس باندې به موږ او تاسې د هغه په عملي لارو باندې یو بل سره ته لاس ور کوو او یو بل سره به مرسته کوو.

مننه!

# د نفوسو د احوالو ثبت قانون د توشیح مراسم

کابل | ۹ لیندۍ ۱۳۹۳ | ۳۰ نومبر ۲۰۱۴



## اړوند سکتورونه:

**حکومتوالي**

## د وینا عمده محورونه:

- **د نفوسو د احوالو ثبت قانون**

## غورچاڼ:

له ارقامو پرته، پلان جوړونه، د سرچینو وېش، متوازنه وده او د خدمتونو وړاندې کول او... له اساسي ستونزو سره مخ کېږي. په هغه ټولنه کې چې ولسواکي په کې د بنسټیز کېدو په حال کې ده، د دقیقو ارقامو لپاره د نفوسو د احوالو ثبت اړین دی. د نفوسو د احوالو ثبت قانون له توشیح کېدو سره په دې برخه کې یو عمده گام واخیستل شو. همدا راز د برېښنایي تذکرو د صادرولو لپاره، چې د خلکو بنسټیزه غوښتنه ده، اقدام کوو. موږ د ټولنې له ټولو قشرونو څخه غواړو، چې ددې قانون په تطبیق کې همکاري وکړي، څو په ښه ډول راتلونکو خدمتونو لکه د پاسپورټ او موټر چلونې لایسنس صادرولو او د ټاکنو ترسره کېدو لپاره زمینه برابره شي.

## د جمهوررئیس غني وینا:

بسم الله الرحمن الرحیم.

احصائیه، اساس پلان‌گذاری یک مملکت را تشکیل می‌دهد. ما تا حال با وجود کوشش‌های متعدد نتوانستیم که ارقام دقیقی از نفوس خود داشته باشیم. بدون این ارقام پلان‌گذاری، توزیع منابع، رشد متوازن و ارائه خدمات، همه به مشکلات اساسی دچار می‌شوند.

تنها مسأله‌ی انکشاف نیست؛ سهم‌گیری مردم در حکومت، مخصوصاً در انتخابات، یک اصل بنیادی است. در یک جامعه که روز به روز در آن مردم‌سالاری نهادینه می‌شود، ضرورت به ارقام دقیق و قابل حساب دارد تا ما بتوانیم واقعاً ضرورت و خواسته‌های مردم را عملی کنیم و اعتبار کامل سر شفافیت داشته باشیم. با توشیح این قانون ما قدم عمده در این بخش می گذاریم.

برای ایجاد تذکره برقی، چې د افغانستان د خلکو یوه ډېره اساسی او بنیادي غوښتنه ده موږ اقدام کوو. د دې لپاره چې برقي تذکره عملي شي موږ یوه بررسي د اوسني ظرفیت تر لاس لاندې نیولې چې په دقیقه توګه پوه شو، چې امکانات مصرفوو، د دې نتیجه ولس ته په بنیادي توګه د شفافیت او د قانون د حاکمیت زمینه برابره کړي او پس له دې نه ان‌شاءالله تعالی هر افغان به په دې وتوانیږي چې د خپلې تذکرې په ښودلو باندې د خپلو ټولو اساسي حقوقو د غوښتنو تثبیت ولري. او موږ پوه شو چې دا په شفافه توګه برخه اخیستل، د افغانستان په سیاسي ژوند کې په یو ډېر دوو قوانینو یو بل سره ټینګ تړلي دي. بیا هم له مدنی ټولنې، له ټولو سیاسیونو، د افغانستان له ټولو محترمو وګړو او خاصتاً له علماوو کرامو نه غوښتنه کوو، چې د دې قانون په عملي کولو کې مرسته وکړي. ځکه تر څو چې ټول خلک ځان تثبیت نه کړي او د هویت پاڼې په لاس کې و نه لري؛ نور مشکلات راځي او د دې قانون په پلي کولو سره به ان‌شاءالله تعالی پاسپورټ ساده شي او د موټروانې لایسنس به هم ساده شي؛ اما له ټولو نه عمده‌تر تذکره او رایه ورکول دي، چې دا اساسي حقوق دي او ان‌شاءالله تعالی دا به عملي کېږي.

# له امریکا متحده ایالتونو او ناټو سازمان سره د امنیتي هوکړهلیکونو د توشیح مراسم

کابل | ۹ لیندۍ ۱۳۹۳ | ۳۰ نومبر ۲۰۱۴



## اړوند سکتورونه:

**امنیت ـ حکومتوالي**

## د وینا عمده محورونه:

- **له امریکا او ناټو سره امنیتي هوکړهلیکونه**
- **د کابینې د غړو معرفي کول**

## غورچاڼ:

د ۲۰۱۵ کال د جنوري له پیله په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو جنګي ماموریت پای ته رسېږي او نړیوالې همکارۍ د ښوونې او روزنې، تجهیزاتو، تمویل او زموږ د قوتونو د تمویل په برخه کې پر ځای پاتې کېږي او دا ټول زموږ او د نړۍ د ګډو ګټو له امله دي. زموږ ځواکونه له خپلې خاورې د دفاع وړتیا لري، خو د هغه لوی زیان له امله، چې ۲۴۰ میلیارد ډالر اټکل شوی دی، موږ د نړیوالې ټولنې مرستو ته اړتیا لرو. په دې برخه کې د ملي شورا تر تایید وروسته له امریکا متحده ایالتونو او ناټو سره د امنیتي هوکړهلیکونو توشیح، د هغه د تطبیق زمینه برابره کړې ده. اوس زموږ ځواکونه باور لري، چې دوامداره تمویل، تجهیز او مرسته یې کېږي. ملي وحدت حکومت به په راتلونکو پنځو کلونو کې اقتصادي خوځښت رامنځته کوي، څو ملي عواید لوړ شي او نړیوالې مرستې راکمې شي. د کابینې د جوړښت په تړاو هم پوښتنې شته دي. باید وویل شي، چې کابینه به له

باکفايته کسانو څخه جوړه شي. د معين صاحبانو په سرپرست کېدو به د محترمو وزيرانو د سرپرستۍ دوره ختمه شي او دا چې د افرادو د انتخاب لپاره ارزونې او دقت ته اړتيا ده، نو د کابينې غړي به په تدريج پارلمان ته معرفي شي. زموږ ژمنتيا دا ده، چې په سکتوري پوستونو کې تخصص او مديريت په پام کې ونيول شي، څو روڼتيا او حساب‌ورکونه رامنځته شي. موږ به له شته ظرفيتونو اعظمي استفاده وکړو او پخوانيو تجربو څخه کار اخلو.

## د جمهوررئيس غني وينا ـ لومړۍ برخه:

د لوی او ښوونکي څښتن په نامه.

۳۱ ورځې پس له نن نه زموږ ستر تاريخ کې يو بل فصل شروع کېږي، بين‌المللي قواوې چې پس د سپټمبر له ۱۱ نېټې نه افغانستان ته راغلي، په دې نېټه به، افغانستان کې خپل جنګي ماموريت پای ته ورسوي. په تېرو درېيو کلونو کې د افغانستان دولت د ارادې او د بين‌المللي موافقې په اساس افغاني ځواکونو د افغانستان د ساتنې او پالنې وظايف په غاړه اخيستي وو.

د نوي کال د جنورۍ په اوله موږ يو بل فصل ته ځو. در اين فصل همکارهای بين‌المللی ما ممد ما واقع می‌شوند. اينها در تعليم و تربيه، تجهيزات، تمويل و در تقويه قوای ما ممد ما واقع می‌شوند. بنابراين دو نکته بنيادی قابل ذکر است:

يک ـ دنيا و ما (در اين) منافع مشترکی داريم که يک افغانستان باثبات، مرفه و دارای صلح و ثبات به وجود بيايد. بنابراين دنيا، افغانستان را ترک نمی‌کند، در پهلوی ما ايستاده است و ممد حکومت وحدت ملی افغانستان است و باورمند است که اين حکومت تعهداتی را که با مردم افغانستان کرده، عملی می‌کند. روز به روز اعتبار حکومت ما، ان‌شاءالله تعالی پيش دنيا و پيش مردم ما زيادتر می‌شود.

دوم ـ امروز به فضل خداوند متعال قوای افغانی به ظرفيتی رسيده‌اند که از خاک ما می‌توانند مثل هميشه، مثل هزارها سال (گذشته) دفاع کنند. ما در تاريخ خود هيچ وقت شاهد حالتی نبوده‌ايم که ضرورت به تقويت بين‌المللی داشته باشيم؛ اما ۱۳ سال گذشته، حالات بسيار خاصی بود به خاطر اينکه صدماتی که ملت و دولت و جامعه ما ديده بود، از حد زيادتر بود. بانک جهانی مقدار صدماتی را که تنها از نگاه اقتصادی، ملت افغانستان بين ۱۹۷۸ تا ۲۰۰۱ (۱۳۵۷ ـ ۱۳۸۰ ه.ش) تحمل کرد، يعنی کودتای ثور الی شروع پروسه بن، ۲۴۰ ميليارد

دالر تخمین کرد! ۲۴۰ میلیارد دالر، تنها می‌تواند به زبان بیاید.

سر قوای امنیتی ما سرمایه‌گذاری شده است. مخصوصاً حس فداکاری و وطن‌پرستی قوای امنیتی ما، قابل تقدیر است. ما باید بدانیم که هر فرد اردوی ملی، پولیس ملی و امنیت ملی ما، «رضاکار» است؛ هیچ کس اینها را مجبور نکرده که بروند این یونیفورم مقدس را بپوشند. هر کدام اینها بر اساس فیصله‌ی خود این تصمیم را گرفته‌اند. اینها اولاد صادق این خاک هستند و از منافع علیای این وطن صادقانه و وطن‌پرستانه دفاع می‌کنند.

در عین حال حکومت وحدت ملی همیشه تأکید کرده و باز هم تأکید می‌کند که صلح یکی از ضروریات حیاتی جامعه ماست. ما همیشه مشارکت تمام مردم افغانستان را در ایجاد یک افغانستان باثبات و مرفه خواستار هستیم. امید است که هر فرزند صدیق این خاک به این نتیجه برسد که صلح هدف بنیادی تمام مردم ماست و اعمالی مثل حمله بر یحیی‌خیل یا به کابل یا به کجه یا (همانند) اینها که می‌شود، نمایندگی از خواسته‌های مردم نمی‌کند. یک اقلیت بسیار کوچک می‌خواهد تمام ملت را گروگان بگیرد، و ما نمی‌توانیم این اجازه را بدهیم.

کسانی که می‌خواهند افغانستان عزیز را به یک میدان جنگ بین‌المللی مبدل کنند و زیر تأثیر نظریاتی واهی هستند، باید بدانند که مردم افغانستان این را قبول نمی‌کنند.

با امضای (تأیید) این موافقت‌نامه‌ها ـ چون پیمان‌ها قبلاً مورد تصویب مجلسین قرار گرفته بود که وسیله عملی (شدن) موافقت‌نامه‌های استراتیژیک بود ـ شورای ملی افغانستان یک گام بزرگ به پیش گذاشت. من می‌خواهم از هر دو مجلس، هم ولسی‌جرگه و هم مجلس مشرانوجرگه افغانستان ابراز تشکر کنم، اینها به دقت و غور تمام این دو موافقت‌نامه را مورد بررسی قرار دادند او د دوی نتیجه هغه وه چې مشورتي لویه جرگه وه.

دا موافقه د ولس له خوا چې ورباندې ډېره څېړنه شوې، ورباندې ډېر دقت شوی و او ډېر ور باندې غور شوی و او د انتخاباتو په دوران کې که په یاد مو وي، هم ډاکتر صاحب عبدالله او ما بې‌له هیڅ نوع تعلل نه ویلي و، چې دا موافقتنامې د افغانستان په گټه دي او ځکه اول موږ دا قدم واخیست چې موافقتنامه مو ومنله، اما نن د افغانستان مقننه قوا دا نتیجې ته ورروسوله، موږ د زړه له کومې له دوی څخه مننه کوو او په دې اساس باندې بل سبا چې موږ

له ناټو سره مجلس لرو په ډېر اطمینان باندې به په راتلونکي غږېږو، د شک او تردید فضا د افغانستان او نړۍ سره په عامه توګه او امریکا او ناټو سره په خاصه توګه له منځه تللې.

د افغانستان ملي ځواکونه به په اطمینان سره پر مخ ځي، ځکه د راتلونکو لسو کلونو تمویل، تجهیز او مرستې به انشاءالله تعالی په دوامداره توګه راځي، اما په دې کې باید هیڅ شک نه وي چې د ملي (وحدت) حکومت هدف دا دی چې موږ وکړای شو په دې پنځو کلونو کې هغه رقم اقتصادي تحرک راوړو، چې موږ وکړای شو خپل امکانات په راتلونکي کې انشاءالله تعالی ترلاسه کړو اما اوسنیو شرایطو کې درته معلومه ده چې زموږ امنیتي مصارف حد اقل دوه نیم چنده زموږ د ملي عوایدو دي او دا ضرور ده چې د دنیا مرسته راسره وي او د دنیا مرسته را سره ده او دا به په دې راتلونکو څلورو ورځوکې په اساسي توګه د افغانستان له ولس سره شریکه شي.

زه منته کوم چې نن دا څلور تړون او قوانین[۱] نتیجې ته ورسېدل او عملي به شي او اوس به له ډاکتر صاحب عبدالله نه غوښتنه وکړم چې دوی هم خپل نظریات له موږ سره شریک کړي او پس له هغه نه به بیا څه نور خبرونه در سره شریک کړم.

جناب داکتر صاحب!

## د اجرائیه رئیس ډاکتر عبدالله وینا ـ لومړۍ برخه:

بسم الله الرحمن الرحیم.

جناب رئیس‌جمهور محمد اشرف غنی، معاون صاحبان محترم ریاست جمهوری، معاون صاحبان محترم ریاست اجرائیه، حاضرین محترم، السلام علیکم و رحمت الله و برکاته!

خوشحال هستیم که شاهد توشیح دو قانون [اطلاعاتو او د نفوسو د احوالو ثبت ته لاسرسی] بعد از تصویب توسط شورای ملی و دو موافقت‌نامه بعد از تصویب توسط شورای ملی، توسط رئیس‌جمهور جمهوری اسلامی افغانستان هستیم.

[۱] د نفوسو د احوالو ثبت قانون، اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون او له امریکا متحده ایالتونو او ناټو سره امنیتي هوکړه‌لیکونه.

به هر دو قانون و دو موافقت‌نامه اگر از زوایای مختلف نگاه کنیم، هر کدامش اهمیت حیاتی در حفظ سلامت افغانستان و در تأمین و تضمین آینده بهتر برای مردم افغانستان دارد.

قانون دسترسی به اطلاعات، قانونی که نماینده‌های رسانه‌ها و جامعه مدنی و مردم افغانستان و شهروندان افغانستان یک مدت زیادی انتظار تصویب و توشیحش را می‌بردند، برای سلامت اداره، حکومتداری خوب، تأمین شفافیت در امور، حسابدهی، مبارزه با فساد، تأمین عدالت اجتماعی و حاکمیت قانون، یک شرط اساسی است. کشورهایی که این مشکلات ما را پشت سر گذاشته‌اند و تجربه بشری نشان داده‌اند که این [اطلاعاتو ته لاسرسی] یک ضرورت و یک حق اساسی برای افراد بشر است. (توشیح این قانون) یک قدم بسیار خوبی است که امروز خوش‌خبری‌اش برای مردم افغانستان می‌رسد. عملی شدن این قانون و حمایت حکومت وحدت ملی از این قانون برای تطبیقش ان‌شاءالله سبب بهبود در زندگی مردم افغانستان می‌شود.

نبود قانون ثبت احوال نفوس یک خلأ بسیار بزرگ بود. در حکومتداری، در پروسه دموکراسی و در تأمین حقوق ابتدایی و حقوق اساسی مردم افغانستان؛ که الحمدالله امروز شاهد توشیحش توسط رئیس‌جمهور افغانستان هستیم.

دو موافقت‌نامه [امنیتی] هم به تصویب شورای ملی رسید. جا دارد که از شورای ملی ما، از هر دو مجلس، از هیئت اداری و اعضای هر دو مجلس، تشکر کنیم؛ به خاطر تعهدشان به منافع ملی کشور و درک مصلحت و ضرورت افغانستان و به خاطر سرعت در تصویب این موافقت‌نامه‌ها و همچنین به خاطر نقشی که به صورت کل در تأمین ثبات و حاکمیت قانون و نظارت از اعمال حکومت در طول این مدت داشته‌اند. این دو موافقت‌نامه برای اطمینان بیشتر مردم ما از ادامه حمایت‌های بین‌المللی، قانونمند شدن حضور نیروهای بین‌المللی و تقویت نهادهای امنیتی ملی ما، قدم‌های بسیار بزرگ و اساسی است. حال که ما در آستانه کنفرانس ناتو در بروکسل قرار داریم و سفر داریم، جناب رئیس‌جمهور و من هم در معیت‌شان با هیئت افغانستان، با اطمینان از درک مردم افغانستان و حمایت مردم افغانستان از تصویب این موافقت‌نامه و بالاخره توشیحش می‌رویم. (در آن جا) قدم‌هایی را برای آینده و پیشنهاداتی را برای آینده و ادامه همکاری‌ها مطرح می‌کنیم که دولت افغانستان را در یک موقعیت خوب و بهتر قرار می‌دهد. همچنین که بعدتر ما به کنفرانس لندن می‌رویم.

یک وقتی به یاد دارم جناب رئیس‌جمهور! که شما و یا ما به حیث کاندیدا می‌رفتیم و صحبت می‌کردیم و بعضی‌ها به دیده شک می‌نگریستند که آیا در این تعهدات که ما به خاطر حقوق شهروندی داریم و یا در ارتباط به مسایل ملی و بین‌المللی داریم یا در رابطه بین‌المللی افغانستان داریم، آیا همین‌ها وعده‌های زمان انتخابات است یا بعدتر به دنبالش عمل هم هست؟ امروز ثبوت عملی است که در تعهد خود، ما و شما و تیم‌های ما و همکاران ما، صادق بودیم و این راه پر خم و پیچی را که در پیش رو داریم و مشکلات را ان‌شاءالله با هم، با تحکیم روحیه وحدت ملی، ان‌شاءالله به فرصت‌های خوبی برای مردم افغانستان تبدیل می‌کنیم. باز هم تشکر از شما و نقش رهبری‌تان در تصویب و توشیح موافقت‌نامه‌ها و قوانین مربوط! تشکر جناب رئیس‌جمهور صاحب!

## د جمهوررئیس غني وینا ـ دویمه برخه:

یک موضوع دیگر را هم به اطلاع می‌رسانم.

ما، جناب داکتر صاحب عبدالله و من، با یک هیئتی فردا به طرف بروکسل، بعد از آن لندن و برلین می‌رویم. قبل از آن فردا در آذربایجان یک توقف داریم تا ضرورت اساسی افغانستان را از نگاه مناسبات بین‌المللی تحکیم بخشیم. چون پرسش‌ها و سؤال‌هایی در اذهان عامه در قسمت تشکیل کابینه وجود داشته، چند نکته را همراه بزرگان و خواهران و برادران شریک می‌سازیم:

همه باید بدانیم که حکومت وحدت ملی یک تعهد اساسی قشر سیاسی افغانستان، مخصوصاً بزرگانی که دور میز هستند و جناب رئیس صاحب اجرائیوی، معاون صاحبان و من است. حکومت وحدت ملی خواسته مردم افغانستان است، او دې باندې یقین وئ، چې دا به پایدار وي، ان‌شاءالله تعالی او ټول دې پدې کې څه شک نلري.

موږ ډېر ښه بحثونه درلودل او په ځینو اساسي ټکو په نتیجې رسېدلی یوو.

اول ـ کابینه آینده از افرادی که قبلاً در کابینه تشریف نداشتند و دارای کفایت‌های همه‌جانبه‌ی مدیریت و رهبری باشند، ان‌شاءالله تعالی تشکیل خواهد شد.

دو ـ چون موضوع سرپرستی از طرف شورای ملی افغانستان مطرح شده بود که مدت دو ماه

است و امروز اگر به یاد داشته باشیم، روز حلف[۱] بود و دو ماه کامل است، حکومت وحدت ملی به این نتیجه رسیده که اکثریت وزرای محترم بعد از این سرپرست نخواهند بود؛ معین صاحبان، سرپرست خواهند بود، به جز چند تن از وزیر صاحبان که در کنفرانس لندن مسؤولیت دارند، تا ختم کنفرانس سرپرست خواهند بود. تعهد ما، هم جانب داکتر صاحب عبدالله و هم من، در دوران انتخابات بود که حکومت آینده همیشه متعهد به حاکمیت قانون خواهد بود و این جزو تعهد ماست.

سه ـ کابینه به تدریج در ظرف دو یا چهار هفته آینده به پارلمان افغانستان تقدیم خواهد شد. اختلافی نیست؛ افراد، بررسی کار دارند؛ و تنها از این جهت است که ما می‌خواهیم با دقت تمام پیش برویم.

چهار ـ در (مورد) پست‌های سکتوری که ضرورت به تخصص و مدیریت دارد، تعهد ما این است که افرادی که این شرایط را بتوانند عملی کنند ـ معلوم است با درنظرداشت شرایطی که در قانون اساسی به صورت مشخص ذکر است ـ انتخاب و معرفی خواهند شد.

از همه مهم‌تر تعهدی که هر دو تیم ما داشت، و امروز تیم حکومت وحدت ملی دارد، شفافیت و حسابدهی است. بنابراین ما با شفافیت کامل نه‌تنها دارایی‌های خود را ثبت خواهیم کرد و در اختیار ملت قرار خواهیم داد، بلکه تعهد همه‌جانبه خواهیم داشت که در افغانستان د ولس غوښتنې تر سره کوو او ان‌شاءالله تعالی په امانت او کفایت خپل وظایف او دندې انجام کوو.

دې باندې باید پوه شوو، چې وظیفوي تداخل په دولت کې زښت ډېر دی، هغه شی چې موږ ټول ورباندې کار کوو، دا دی چې اداره په واقعي توګه سالمه شي، موثره شي، کارکوونکې سي، ترڅو د خلکو غوښتنې تر سره کړي او ددې لپاره به چې دا په تدریجاً څکه اقدام کړي چې اول باید پوه شوي واي چې هم ظرفیتونه څه دي او هم مشکلات څه دي؟

خوشبختی در این است که هر روز نه‌تنها ما مشکلات را درک می‌کنیم، بلکه ظرفیت‌ها را هم پیدا می‌کنیم. هدف حکومت وحدت ملی این است که از ظرفیت‌های موجود استفاده

---

[۱] د لوړې مراسم، ۷ تله ۱۳۹۳ لمریز.

اعظمی بکنیم. از تجاربی که وجود دارد، درس بگیریم تا چیزهایی که فایده نداشته، تکرار نشود. اما برعکس، کارهایی که شده تقدیر شود، افرادی که با وطن‌پرستی و با تعهد کار کرده‌اند، موقع بیشتر برای‌شان داده شود. نسل جوان ما از یک طرف و علمای کرام ما، افراد سیاسی ما و اینها همه بتوانند در چارچوب حکومت وحدت ملی، جایگاه خود را پیدا کنند. من باز هم از همه تشکر می‌کنم، جناب داکتر صاحب کلمات زیادتری خواهند داشت.

## د اجرائیه رئیس ډاکتر عبدالله وینا ـ دویمه برخه:

بسم الله الرحمن الرحیم.

با تعهد به همان چهار اصلی که شما [جمهوررئیس غني] یادآوری کردید ـ در مورد تشکیل کابینه ـ که ما و شما روی آن بحث کردیم و با مراعات همین اصول، ان‌شاءالله در هفته‌های آینده که میان دو تا چهار هفته وقتش است، کابینه افغانستان که یک کابینه کارآ، کابینه‌ای بر اساس اصل شایستگی و با درنظرداشت تمثیل وحدت ملی افغانستان باشد، معرفی می‌شود.

هر چند تبصره‌هایی در مورد اختلاف و مشکلات می‌شود؛ که آنها را می‌شنویم، اما در عین زمان، تعهد خود را برای کامیابی حکومت وحدت ملی که خواست مردم افغانستان و ضرورت افغانستان و ضرورت بقا و سلامت افغانستان و ضرورت آینده بهتر برای مردم افغانستان است که مردم افغانستان همین توقع را از ما دارند و جامعه بین‌المللی هم که همکاری‌های زیادی در این راستا با ما کرده‌اند، این انتظار را دارند؛ در این راستا ان‌شاءالله با هم کار می‌کنیم و خبرهای خوشی در هفته‌های آینده برای مردم افغانستان خواهیم داشت.

قدمی که امروز به خاطر ختم سرپرستی برداشته شد ـ با تقدیر از خدمات وزرای محترم سرپرستی که خدمت کرده‌اند برای افغانستان ـ یک قدم در راستای حاکمیت قانون بود. ان‌شاءالله این نمونه‌ای از عملکرد حکومت وحدت ملی در سال‌هایی که صلاحیت از طرف مردم به این حکومت داده شده، خواهد بود.

تشکر از شما! به خیر باشید!

# د ناټو له سکرترجنرال او اجرائیه رئیس سره ګډ مطبوعاتي کنفرانس

په بلجیم کې د ناټو مقر | ۱۰ لیندۍ۱۳۹۳ | ۱ ډسمبر ۲۰۱۴




## اړوند سکتورونه:

بهرنی سیاست ـ امنیت

## د وینا عمده محورونه:

- د ناټو د جنګي ماموریت پای او د افغانستان او ناټو د همکاریو د نوې مرحلې پیل

## غورچاڼ:

د ۲۰۱۵ ز کال د جنوري په لومړۍ نېټه د افغانستان او ناټو د همکاریو نوې مرحلې ته داخلېږو. افغان ځواکونه له خپل هېواد څخه د دفاع د مسؤولیت او د نړۍ خوندیتوب ته تیار دي. د همکاریو نوې مرحله د جګړې په جبهاتو کې د ډېرو قربانیو محصول دی، چې قدرداني یې کوو. افغانستان د مبارزې په لومړۍ کرښه کې ځای لري، چې پایله یې د اروپا او شمالي امریکا ژغورل ګرځي. زموږ دوه اړخیزه ګټو یو بل ته نږدې کړي یوو او افغانستان په ډېره لېوالتیا د ناټو «د ځواکونو د وضعیت هوکړه‌لیک» عملي کېدو ته منتظر دی.

## د ناټو د سکرترجنرال ینس ستولټنبرګ[۱]، د وینا ژباړه:

خوښ یم، چې جمهوررئیس محمد اشرف غني او اجرائیه رئیس عبدالله عبدالله ته په داسې حال کې د ناټو مقر ته ښه راغلاست وایم، چې په کابل کې زموږ له وروستۍ لیدنې څو اونۍ تېرېږي.

د ناټو په مقر کې د هغوی حضور د ناټو او افغانستان ترمنځ د قوي مشارکت ښودنه کوي.

له یوې لسیزې زیات، د ناټو متحدین او ګډونوال اوږه په اوږه د افغانستان له خلکو سره ودرېدل، چې له دې هېواد سره مرسته وکړي، څو د نړیوالو ترهګرو له خوندي پټنځای څخه په یوه داسې هېواد بدل شي، چې په نړۍ کې په ویاړ خپل سر پورته کړي.

زه ستاسو په رهبرۍ د ملي وحدت حکومت جوړولو احترام کوم او د ناټو له ځواکونو او د امریکا متحده ایالتونو سره د امنیتي هوکړهلیکونو د تائید ګرم هرکلی کوم.

حاضر دمه هغه څه ته، چې موږ د خپل نوي ماموریت، غوڅ ملاتړ ماموریت، د پرمخ وړو لپاره ورته اړتیا لرو، زموږ په واک کې دي. له هغه ځایه چې افغانان د خپل امنیت د تامین مسؤولیت پر غاړه اخلي، غوڅ ملاتړ ماموریت زموږ د ګډو لاستهراوړنو پر بنسټ ترسره کېږي او د روزنې او مشورې په برخه کې زموږ همکاري به د افغانستان له امنیتي او دفاعي ځواکونو سره د ۲۰۱۵ کال د جنوري له لومړۍ نېټې (۱۱ مرغومې ۱۳۹۳) پیل شي.

موږ د افغانستان د امنیتي او دفاعي ځواکونو د تمویل په برخه کې خپلو مرستو او دوامداره مشارکت ته پراختیا ورکوو. زه په ډېره لېوالتیا په تمه یم، چې د افغانستان د ګټو، سولې او نړیوال امنیت ته د رسېدو لپاره له تاسو سره کار وکړم.

## د جمهوررئیس غني د وینا ژباړه:

د ناټو او افغانستان ترمنځ همکارۍ، چې له تراژیدیو او قربانیو سره مل وې، خپلې نوې مرحلې ته رسېږي. د ناټو جنګي ماموریت د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر په ۳۱ (۱۰ مرغومې ۱۳۹۳) پای ته

---

[۱] Jens Stoltenberg.

رسېږي. د افغانستان امنیتي ځواکونه د خپلو هېواد پاله دندو ترلاسه کولو لپاره، چې هماغه له خپل هېواد څخه دفاع او په ورته مهال د نړیوال امنیت خوندیتوب دی، تیار او لېواله دي.

د ۲۰۱۵ کال د جنوري په لومړۍ مورږ د همکاریو نوې مرحلې ته داخلېږو، چې د ډېرو قربانیو او زمورږ د ګډ مسؤولیت ترسره کولو محصول دی. زه د ناټو د پرسونل له ۳۴۰۰ زیاتو کسانو قرباني، د ۳۰ زرو ټپیانو او له سلګونه زره نورو سرتېرو له زړه مننه کوم، چې د جګړې په جبهو کې وو. د افغانستان خلکو هم په دې برخه کې ډېرې قربانۍ ورکړې دي. هغه څه چې مورږ یو بل ته نږدې کړي یوو، زمورږ د دوه اړخیزه ګټو لازمي حالت دی.

افغانستان د مبارزې په لومړۍ کرښه کې ځای لري؛ او د ناټو په ژمنتیا کې دغه مبارزه د اروپا او شمالي امریکا د ژغورلو په معنی ده. مورږ تمه لرو، چې زمورږ د همکاریو نوې مرحله، زمورږ د خلکو د ثبات او هوساینې د تامین او همدا راز د نړیوال امنیت د ټینګښت لامل وګرځي.

ښاغلی سکرترجنرال، خوښ یم چې له تاسو سره یم. د افغانستان ملي وحدت حکومت د افغانستان د مطلق اکثریت خلکو استازولي کوي. د افغانستان خلکو د خپلو منتخبو استازو له لارې، د دغه همکارۍ په اړوند زمورږ اجماع او هوکړه څرګنده کړې. مورږ یې په ډېره زیاته لېوالیتا عملي کېدو ته په تمه یوو.

## د اجرائیه رئیس عبدالله عبدالله د وینا ژباړه:

منښه ښاغلی سکرترجنرال!

دا چې مورږ ته مو دا فرصت راکړ خوښ یم او مننه کوم. زما په نظر د ملي وحدت حکومت په جوړېدو او د امریکا متحده ایالتونو سره د دوه اړخیزه امنیتي هوکړه‌لیک او له ناټو سره «د ځواکونو وضعیت هوکړه‌لیک» په لاسلیکېدو، افغانستان نوې مرحلې ته داخل شوی دی. باید وویل شي، چې جمهوررئیس غني له ناټو سره د ځواکونو د وضعیت هوکړه‌لیک تېره شپه توشیح کړ؛ په پایله کې یې، په دې برخه کې یو قانوني چوکاټ وجود لري. لېوالتیا لرم، چې د ناټو له همکارو هېوادونو، چې د افغانستان د ثبات په برخه کې زمورږ د هېواد له بنسټونو سره همکاري کوي، مننه وکړم.

د دغو همکاریو، د ناټو او نړیوالې ټولنې د ملاتړ، له امله اوسنی افغانستان یو متفاوت ځای دی. افغانستان به نور د ترهګرو د فعالیتونو مرکز نه وي او ترهګرې ډلې نور د سپټمبر یوولسمې پېښې په څېر د بریدونو ترسره کولو وړتیا نه لري؛ خو موږ ستاسو دوامداره مرستو ته اړتیا لرو. د نویو همکاریو په هغه روحیې، چې په ملي وحدت حکومت کې رامنځته شوې، د چاپېریال د بدلون ډګر نه یوازې د افغانستان لپاره، بلکې د سیمې او همدا راز د نړۍ لپاره لکه څنګه چې تصور یې کوو د هغه نه زیات پراخ دی.

مننه ښاغلی سکرتر جنرال!

# په بروکسل کې د ناټو سازمان د بهرنیو چارو وزیرانو غونډه

**د ناټو مقر ـ بروکسل، بلجیم | ۱۱ لیندۍ ۱۳۹۳ | ۲ ډسمبر ۲۰۱۴**



## اړوند سکتورونه:

**امنیت ـ بهرنۍ سیاست**

## د وینا عمده محورونه:

- **د غوښ ملاتړ ماموریت**
- **د ځان بسیاینې ستراتېژي**
- **له ناټو سره ګډ ګوابنونه**

## غورچاڼ:

موږ له ناټو سره د همکاریو نوې مرحلې، غوښ ملاتړ ماموریت، هرکلی کوو. ددې همکاریو په تړاو، افغانستان سیاسي او ملي اجماع لري. متاسفانه لا تر اوسه هم امنیت زموږ تر ټولو مهم لومړیتوب دی او زموږ خلک د تحمیل شوې جګړې د ماهیت په درک کولو سره د خپلو هېوادپاله ځواکونو بشپړ ملاتړ کوي. موږ د اصلاحاتو عملي کولو او د خپل هېواد د امنیتي ځواکونو لپاره د سرچینو تخصیص ته ژمن یوو، خو د ناټو دوامداره ملاتړ ته اړتیا لرو، په ورته مهال د پر ځان بسیاینې ستراتېژۍ عملي کولو ته هم هوډمن یوو. په دې ستراتېژۍ کې ۷ اصول شامل دي: د سیاسي پانګې جوړول، په سیاسي ارادې سمبالېدل، د ښې حکومتوالۍ عامول، پر صادراتو ولاړ رقابتي اقتصاد رامنځته کول، له ګاونډیو هېوادونو سره د سولې خبرې اترې، نړیواله همکاري او د خلکو لپاره د ثبات تامین. د سولې په تړاو باید ووایو، چې زموږ ملي لومړیتوب دی او موږ په دې برخه کې د افغانانو پخپل مالکیت یوې ټولشموله پروسې ته ژمن یوو. موږ پخپله خاوره کې د نورو د باطلو افکارو عملي

کېدو اجازه نه ورکوو او وضاحت ورکوو، چې دغه ډول معکوس څه به هم، چې د هغو دولتونو د بې‌ثباتۍ لامل گرځي، ترسره نشي. بل واقعیت دا دی؛ هغه گواښونه چې دلته د ناټو د حضور لامل گرځي، لا تر اوسه هم شته دي او په مختلفو برخو کې په دوامداره ډول ظهور کوي؛ ددې موضوع له امله اړتیا ده، چې د ناټو سازمان لید باید نړیوال شي. راځئ د ناټو غوڅ ملاتړ ماموریت څخه د یو فرصت په توگه استفاده وکړو او د درک، زغم او ستراتېژیکو اقداماتو پر اساس خپلو ستراتېژیکو اړیکو ته پراختیا ورکړو.

## د جمهوررئیس د وینا ژباړه:

بسم الله الرحمن الرحیم.

د ناټو سازمان ښاغلی سکرترجنرال[۱]، د بهرنیو چارو محترمو وزیرانو، آغلو او ښاغلو!

د افغانستان او ناټو سازمان ترمنځ شته همکاري، چې د تراژیدیو له امله رامنځته شوې او په گډو قربانیو غښتلې شوې، یوې نوې مرحلې ته داخلېږي. موږ نه یوازې په افغانستان کې د ناټو د جنگي ماموریت د پای ته رسېدو، بلکې تر هغه زیات، د ناټو د غیرجنگي نوي ماموریت هرکلی کوو.

زموږ امنیتي ځواکونه تیار دي، چې له خپل هېواد څخه د دفاع ملي وجیبه پر غاړه واخلي. زموږ باور او ددې ملي وجیبې ترسره کول، په دې خبر نور هم غښتلي کېږي، چې د روزنې، ملاتړ او د ناټو «د غوڅ ملاتړ ماموریت »[۲]، په برخه کې به زموږ له امنیتي ځواکونو سره مرسته کېږي.

د ناټو جنگي ماموریت ډېرې مالي او ځاني قربانۍ له ځانه سره لرلې. د یاد ماموریت پر مهال، د ناټو پرسونل له ۳۴۰۰ زیاتو کسانو د جگړې پر مهال خپل ځانونه له لاس ورکړل، له دېرش زرو زیات سرتېري د جگړې په ډگر کې ټپي شوي او د هغوی سلگونه زره نور د خپل پوځي خدمت ترسره کولو لپاره په افغانستان کې له خاطرو سره ژوند کوي. موږ د دغو قربانیانو، ټپیانو او هغو کسانو چې پوځي خدمت کړی دی، احترام کوو او د الله (ج) له دربار څخه هغوی او دوستانو ته یې د هوساینې او ارامۍ هیله لرو.

---

[۱] Jens Stoltenberg: ینس سټولټنبرگ.

[۲] Resolute Support Mission.

موږ له ناټو او امریکا سره د ستراتېژیکو همکاریو په اړه، سیاسي او ملي اجماع لرو. د مشورتي لویې جرګې[۱]، د پرېکړې پر اساس د ملي وحدت حکومت په توګه زموږ لومړنی ګام د امریکا متحده ایالتونو[۲] سره د دوه اړخیزه امنیتي هوکړه‌لیک او له ناټو سره د ځواکونو د وضعیت[۳] هوکړه‌لیک لاسلیکول وو. د ملي شورا له لوري د دغو هوکړه‌لیکونو تائید، چې ما یې د ۲۰۱۴ کال د نومبر پر ۳۰ (۹ لیندۍ ۱۳۹۳) د توشیح وياړ درلود، دا موضوع نوره هم ثابتوي، چې زموږ خلک او دولت له ناټو سازمان سره همکاریو ته په اهمیت قایل دي.

زه او د ملي وحدت حکومت اجرائیه رئیس ډاکتر عبدالله عبدالله، د خپلو بادارانو، یعنې د افغانستان خلکو په استازولۍ، د ناټو له دوامداره او ځواکمن ملاتړ مننه کوو او همدا راز د خپلو امنیتي هڅو په برخه کې، د ناټو ځواکونو د برخې پر اهمیت ټینګار کوو.

د لوی الله شکرګزار یوو، چې په تېره یوه لسیزه کې په افغانستان کې د ناټو ځواکونو په حضور کې؛ شمالي امریکا، اروپا، استرالیا، جاپان او نورو هېوادونو، چې افغانستان ته خپل سرتېري استولي وو، له لویو ګواښونو خوندي شول.

زموږ ماشومان، ځوانان، ملکي کسان او پوځیان هم زموږ په عامه ځایونو لکه جوماتونو، مارکېټونو، ښوونځیو، د اوسېدو په کورونو او زېربناوو په بریدونو هره ورځ د ترهګرو د شومو اعمالو ښکار وګرځېدل. د والیبال له ډګر څخه د یو ماشوم ټوټه، ټوټه وجود پورته کول یا له هغه پلار سره خبرې کول، چې ځوانه لور یې پوهنتون ته پر لاره په چاودنه کې ټوټه، ټوټه شوې وي، د ازادۍ غوښتونکي اسلامي تمدن له ارزښتونو څخه زموږ د فاصلې ژورې ښیي.

موږ پخپل هېواد کې د ناټو ځواکونو حضور ته ډېر لېواله وو، چې زموږ د خلکو لپاره به په امنیت او خوندیتوب د ژوند زمینه برابره کړي او زموږ ټولنه به ددې وړ وګرځوي، چې خپل پام ښوونځي او همدا راز د ښځو او ځوانانو ځواکمنتیا ته وګرځوي. متاسفانه، امنیت تر اوسه هم زموږ له مهمو لومړیتوبونو څخه دی. زموږ خلک پر موږ د تحمیل شوې جګړې د ماهیت

---

۱ مشورتي لویې جرګې د ۱۳۹۲ کال د لیندۍ میاشتې په ۳ تر څلور ورځنی بحث او خبرو اترو وروسته د ۳۱ ماده یې پرېکړه لیک په خپرولو، له واشنګټن سره د کابل امنیتي او دفاعي هوکړه‌لیک تائید کړ.

۲ Bilateral Security Agreement (BSA).

۳ Status of Forces Agreement (SOFA).

په درک کولو او په ورته مهال سولې ته د رسېدو هیلې په لرلو سره، له امنیتي ځواکونو بشپړ ملاتړ کوي. دا کار موږ ته ځواک راکوي، چې د ملي وحدت حکومت د رهبرانو په توګه، د خپلو امنیتي ځواکونو استازولي وکړو، په هغوی ویاړ وکړو او د هغوی مدیریت او رهبري وکړو.

زما لپاره د ویاړ ځای دی، چې د داسې هېوادپاله وسله‌والو ځواکونو اعلی سرقوماندانې او په بشپړ ډول د هغوی استازیتوب کوم. زموږ دفاعي او امنیتي ځواکونه یو نوی، خو د باور وړ ځواک دی، چې په تېرو دیارلسو کلونو کې یې له یوې پوځې فرقې څخه درې سوه او پنځوس زره نفري مسلکي ځواک ته ارتقا کړې ده.

د جمهوري ریاست تر ټاکنو وړاندې ما له نړیوالو ځواکونو افغان ځواکونو ته د امنیتي مسؤولیتونو د لېږد بهیر رهبري پر غاړه لرله؛ په همدې اساس، د هېواد د سرتېرو، برید ملانو او افسرانو له وضعیت څخه خبر لرم، ځکه د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کې مې د هغوی له روزنیزو مرکزونو او بارکونو لیدنه کړې ده. زموږ د امنیتي ځواکونو له ژمنتیا او اندېښنو څخه په خبرېدو، موږ د حساب‌ورکونې سیستمونو جوړېدو، مدیریت او د پرسونل په موخه د لازمو اصلاحاتو عملي کېدو ته ژمن یوو، چې پخپلو رهبرانو د نارینه او ښځینه پوځیانو باور تضمین کړي. زموږ ځوانان د یوه نوي ملت جوړولو لپاره مبارزه کوي او قربانۍ ورکوي. ان‌شاءالله په تېر به بریالي کېږو.

سره له دې چې عواید مو ډېر محدود دي، خو بیا هم موږ د خپل هېواد ډېرې سرچینې د امنیتي ځواکونو ملاتړ ته ځانګړې کړې دي. که چېرې زموږ د ملي امنیت عمومي ریاست لپاره هغه مالي مرستې بېرته شاملې شي، چې په شیکاګو[1] کنفرانس کې حذف شوې وې، نو په دې برخه کې به زموږ مالي ملاتړ ۷۵۰ میلیون ډالرو ته ورسېږي، چې د هوکړه شویو ۵۰۰ میلیون ډالرو، پنځوس په سلو کې به ډېرې وای.

په تېرو دوو کلونو کې د عملیاتو د رهبرۍ مسؤولیت په لرلو، زموږ امنیتي ځواکونه اوس تیار

[1] د ناټو د غړو هېوادونو د مشرانو ناسته د افغانستان د لوړ پوړي پلاوي او د ناټو د ۲۲ همکارو سازمانونو د استازو په حضور کې د امریکا متحده ایالتونو په شیکاګو ښار کې د ۲۰۱۲ کال د مې له ۲۱ـ ۲۲ (۱ـ۲ غبرګولي ۱۳۹۳ ل) ترسره شوه. د ناټو مشرانو د افغانستان د امنیتي ځواکونو د تمویل او په کلني ډول دغو ځواکونو ته د څلور میلیارد ډالر برابرولو، هوکړه وکړه.

دي، چې د راتلونکي زیږدیز کال له پیله په بشپړ ډول امنیتي مسؤولیتونه پخپله غاړه واخلي. په شیکاګو کنفرانس کې د امنیتي مسؤولیتونو د لېږد له مطرح کېدو وروسته، په څلورو کلونو کې د هغه تطبیق موږ ته پام وړ لاسته‌راوړنه ده.

د ځواکمنې ژمنتیا باوجود موږ تر اوسه نشو کولای ټولې چارې په یوازې ترسره کړو، نو ځکه ستاسو دوامداره ژمنتیا به د تېرو دیارلسو کلونو د ګډو لاسته‌راوړنو د ساتنې او دوام کیلي وي. په ځانګړي ډول، موږ د خپلو ځواکونو د اوږدمهالې پایدارۍ د تامین لپاره د لازمو سیستمونو او پروسو رامنځته کولو لپاره ستاسو مرستې ته اړتیا لرو، څو له دې لارې وکولای شو د تحول لسیزې په اوږدو کې ستاسو د هغو مالي ژمنو مننه وکړو، چې په شیکاګو کنفرانس کې شوې دي.

هماغسې چې د هېواد په مهمو سیمو کې د ناټو غړو هېوادونو حضور یو حیاتي امر دی، د برابرۍ او عیني باور په موخه د غوڅ ملاتړ ماموریت لپاره د ځواکونو د شمېر له اړخه د خلا ډکول، هم د اهمیت وړ دي.

زموږ د امنیتي ځواکونو لګښت، زموږ د ملي عوایدو نږدې دوه نیم برابره دی. موږ نه تر نامعلوم وخته د اوږدې مودې لپاره ستاسو د مالي ملاتړ غوښتونکي یوو او نه هم د هغه څه توقع لرو؛ موږ هوډمن یوو، چې «د ځان بساینې ستراتېژي»[۱] عملي کړو. د ملي وحدت حکومت تر جوړېدو او د جمهوررئیس په توګه د لوړې تر مراسمو وروسته، زموږ اقداماتو زموږ تر خبرو زیات، دغه کار په عمل کې ثابت کړی دی، چې موږ د خلکو او دولت ترمنځ او د افغان حکومت او همکارو حکومتونو او نړیوالو سازمانونو ترمنځ د قرارداد رامنځته کولو لپاره پخپلو ژمنو عمل کوو. اجازه راکړئ چې ددې ستراتېژۍ ځینې بنسټیز اصول بیان کړم.

زموږ لومړنی اصل «د سیاسي پانګې» جوړول او له هغه کار اخیستل دي. د ملي وحدت حکومت په رامنځته کېدو، چې زموږ د هېواد د مطلق اکثریت استازولي کوي، موږ په سویلي آسیا او منځنې ختیځ کې بې‌بېلګې ګامونه پورته کړي دي. دا اصل باید زموږ د ظرفیت په اړه بشپړ باور رامنځته کړي، څو د خلکو پر وړاندې د خپلو ژمنو په عملي کولو تمرکز وکړو او

---

۱ Strategy of Self-reliance.

دا باور ترلاسه کړو، چې موږددې کار د ترسره کولو وړتیا لرو.

دویم اصل، موږ «سیاسي اراده» لرو او دا مو ثابته کړې، چې د سیاسي ارادې په واسطه نوي واقعیتونه رامنځته کړو. امنیتي دوه اړخیزه هوکړه‌لیک او د ځواکونو د وضعیت هوکړه‌لیک یو بېلګه او کابلبانک ـ په هېواد کې د فساد سمبول په ډول ـ بله بېلګه ګڼل کېږي. په خوښۍ تاسو ته یو بل خبر درسوم، چې زموږ سترې محکمې، د کابلبانک په تړاو د استیناف محکمې پرېکړه تائید کړې ده. غواړم ټینګار وکړم، چې د کابلبانک له قضیې سره به زموږ د هېواد د نافذه قوانینو پر بنسټ چلند وشي. همدا راز د ملي شورا له لوري د امنیتي هوکړه‌لیکونو تائید، ددې لپاره چې سیاسي اراده به د همکارۍ فضا رامنځته کېدو لامل وګرځي، یوه بله مهمه نښه ده.

زموږ د ټول حکومت او ټول دولت له نظره، دریېم اصل، د «ښې حکومتوالۍ» عامول دي. موږ ژمن یوو، چې یوازې زموږ له خوا د اصلاحاتو پرمخ وړل، منل او عملي کول تضمین کړو؛ خو دا هغه مهال چې موږ ډاډه ترلاسه کړو، چې موږ او (نړیوال) همکاران مو په دې برخه کې هوکړې ته رسېدلي یوو. د مرستو برابرولو په برخه کې موږ د نړیوالې ټولنې له ستړیاوو خبر یوو، په همدې اساس غواړو نه یوازې د نورو هېوادونو د حکومتونو او پارلمانونو مرسته ترلاسه کړو، بلکې زموږ د خلکو مرسته هم ترلاسه کړو. موږ علاقه لرو، چې په همغږۍ او اړیکو له تاسو سره کار وکړو. د ښځو حقوق زموږ لپاره اهمیت لري او ژمن یوو، چې حد اقل څلور مېرمنې پخپله کابینه کې د وزیرانو په توګه وګماروو. د نوې کابینې جوړښت به له دوو تر څلورو اونیو وخت واخلي او ښځې به د کابینې شپاړس سلنه جوړه کړي. د افغانستان نوې کابینه به له نویو ځېرو د وړتیا، ژمنتیا، حساب‌ورکونې او روڼتیا پر بنسټ جوړه شي.

زموږ څلورم اصل «پر صادراتو ولاړ رقابتي اقتصاد» جوړول دي. موږ غواړو له خپلو ټولو مهمو شتمنیو څخه د هغه اقتصاد جوړولو په برخه کې ګټه پورته کړو، چې هم په امنیتي او هم د بېوزلۍ په راکمولو کې زموږ اړتیاوو ته ځواب ویونکی واوسي.

زموږ پنځم اصل د ګاونډیو هېوادونو «د سولې په تړاو ډیالوګ»، ثبات او هوساینه کې شاملول دي. په تېرو دوو میاشتو کې زموږ اقدامات باید په دې برخه کې روښانه وي. تېره ورځ مې آذربایجان ته سفر درلود او همدا راز له ګاونډیو او عربي هېوادونو سره هم په دې برخه کې پرمختګونو ته رسېدلي یوو. موږ د یوې داسې سیمه‌ییزې اجماع د رامنځته کولو په هڅه کې

يوو، چې د امنيت او هوساينې لپاره د يوه سوله‌ييز او باثباته افغانستان شته والی او په ورته مهال، د آسيا د قاره‌يي اقتصاد تقويت او ظهور اړين دی.

شپږم اصل «نړيوالو همکاريو» ته د زمينې برابرول دي. د جګړې د خبيثه کړۍ په مرکز د بدلېدو پر ځای، غواړو خپل هېواد د همکاريو په نجيبه کړۍ بدل کړو.

زموږ اووم اصل د خلکو لپاره د «ثبات» تامين دی، چې دا اصل د ځان بسياينې ستراتېژۍ لپاره تر ټولو مهم اصل ګڼل کېږي. د امنيت ټينګښت، چې د مشروع قوې له کارونې رامنځته شوی دی، ايجابوي، چې په يو باثباته چوکاټ کې تنظيم شي، په همدې اساس د تداوم د رضايت او د خلکو د اجماع لپاره زموږ د هر اړخيزو اصلاحي پروګرامونو اراده ـ په ځانګړي ډول د امنيتي ځواکونو په اړه ـ پخپل ځای ده.

په داسې حال کې، چې سوله زموږ ملي لومړيتوب ګڼل کېږي، موږ ژمن او هوډمن يوو، چې د سولې يو ټولشموله پروسه پخپله د افغانانو په مالکيت او رهبرۍ پيل کړو. سياسي اختلافات بايد د سياسي حل لارو په واسطه حل و فصل شي. موږ هېچاته اجازه نه ورکوو، چې د خپلو باطلو افکارو د تحقق لپاره زموږ له هېواد څخه د جګړې د ډګر او د جنايتکارو شبکو د فعاليتونو يا د هغوی د روزنې د مرکز په توګه استفاده وکړي. جرمي او تاوتريخوالي غوښتونکې شبکې له ترهګرۍ ملاتړ کوي، خو د هغه عمده علت، هغه دولتونه دي، چې په لنډ فکر پرېکړې کوي، چې له دغه ډول شبکو سره ګوزاره وکړي يا له هغوی څخه د وسيلو په توګه استفاده وکړي.

بايد دا موضوع درک کړو، چې له منطقي دليل پرته د د اړيکو جوړول، چې د سيالۍ د وژونکو وسيلو په توګه په غير دولتي عناصرو د يو شمېر دولتونو د تکيې لامل ګرځي، دغه ډول اقدامات سرچپه اغېزې هم لرلی شي، چې پخپله د همدغو دولتونو د بې‌ثباتۍ لامل به وګرځي.

په داسې حال کې، چې افغانستان او ناټو د دغه سازمان پر غوښ ملاتړ ماموريت ټينګار کوي، موږ بايد دې واقعيت ته پام ولرو، هغه ګواښونه چې ناټو سازمان يې افغانستان ته په راتلو مجبور کړی، نه يوازې دا چې تر اوسه هم موجود دي، بلکې په دوامداره ډول په مختلفو شکلونو هم څرګندېږي. لازمه ده د ناټو سازمان ليد نړيوال وي. د هغو هېوادونو د ګاونډيو د

وضعیت ارزونه، چې ناټو په کې حضور لري، په هره طریقه چې وي د ورانکارو غیردولتي عناصرو د کړنو د ځانګړنو نه منلو او نه ملاتړ لپاره د دولتونو د هڅونې په برخه کې د مکلفیتونو او حقونو نظام په توګه د نړیوالې دولتدارۍ نظام پر تقویت تمرکز به له یو بل سره تړلې نړۍ د ثبات او خوندیتوب لپاره ډېرې ګټې له ځان سره ولري.

موږ ـ د افغانستان خلک او حکومت ـ دا ژمنتیا او اراده لرو، چې په تېر بریالي شوو او د خبرو اترو له لوري او نړیوالو همکارانو سره د ارزښتونو پر اساس تړونونه رامنځته کړو. نو راځئ د ناټو غوښ ملاتړ ماموریت پیل یو فرصت وبولو، د تلپاتې همکاریو اصول واضح کړو او پر هغه هوکړه هم وکړو. له تاسو سره زموږ ستراتېژیکې اړیکې په داسې ډول دي، چې په کې په ستراتېژیک درک، ستراتېژیک زغم او ستراتېژیکو اقداماتو پوهېدل لازم دي.

ښاغلی سکرترجنرال، ستاسو دوامداره همکارۍ ته ډېر زیات لېواله یوو او ډاډ ولرئ، چې په کابل کې د نویو همکاریو په تړاو داسې روحیه رامنځته شوې، چې دا پروسه به تر دې لا ډېره پرمخ یوسي.

مننه!

# د افغانستان لپاره د لندن کنفرانس

لندن ـ انگلستان | ۱۳ لیندۍ ۱۳۹۳ | ۴ ډسمبر ۲۰۱۴




## اړوند سکتورونه:

**حکومتوالي ـ امنیت ـ اقتصاد**

## د وینا عمده محورونه:

- **سیاسي او امنیتي لېږد**
- **په حکومتولۍ کې د تحول رامنځته کول**
- **په راتلونکې کې د حکومت فعالیتونه**
- **د ملي وحدت حکومت پر ځان بسیاینې پروگرام**

## غورچاڼ:

د افغانستان خلک له نړۍ او نړیوالو همکارانو سره د خپلو همکاریو په تړاو ټولنیزې او سیاسي اجماع ته رسېدلي دي. موږ وتوانېدو پر ټولو بدبینیو سربېره، سیاسي او امنیتي لېږد ترسره کړو. د دولت د تشکیل او تحکیم او د افغانستان سیاسي اجماع نه گرځېدونکې ده او د حکومت امنیتي سقوط هم یوازې یو باطل خیال دی. موږ د ناټو د غیر جنگي ماموریت هرکلی کوو او هغه د باور هغه رایه بولو، چې ترلاسه کړې مو ده. موږ ماتې نه منوو او پر گواښونو به بریالي کېږو؛ سوله یو ملي لومړیتوب بولو او هوډمن یوو، چې سیاسي اختلافات له سیاسي لارې پای ته ورسوو، خو له اساسي قانون او ملي ارزښتونو څخه د خپلې ټولې پېروۍ له لارې نه منحرفېږو. د تحول د رامنځته کېدو پر مهال، پنځه عمده نقطې لرو: د حکومت کاري لیډلورۍ د خدمتگارۍ پر اساس ټاکل شوی دی؛ سیاسي پانگه مو رامنځته کړې او هغه مو په سیاسي پانگه بدله کړې؛ مشارکت مو په سم ډول روان

دی او هغه روحیه مو هم رامنځته کړې ده؛ سیمه‌ییزه همکاري مو په سمه توګه ترلاسه کړې؛ او د نظر په یووالي د حکومت د عملي پروګرامونو د تطبیق په حال کې یوو. زموږ د فعالیتونو په تړاو، لومړی به د بنسټونو په ښه والي تمرکز وکړو. بله نقطه د درې اکثریت قشرونو، چې ښځې، ځوانان او بېوزله خلک په کې شامل دي، ځواکمنتیا ده. همدا راز موږ په متفاوت ډول انکشافي چارې پیل کړې دي، چې په هغه کې اصلاحات لومړیتوب لري. موږ د پروګرامونو د ترسره کېدو لپاره، له خپلو شریکانو سره په همکارۍ د مشخصو میکانېزمونو طرحو ته اړتیا لرو او هغوی ته بلنه ورکوو، چې د حساب‌ورکونې په تر ټولو غوره سیستم باندې له موږ سره هوکړه وکړي. موږ د ځان بسیاینې پروګرام په لټه کې یوو، چې پر یو رقابتي اقتصاد پر تکیې، په نړۍ کې شامل شو. موږ غواړو د کار له پروژیي ماهیت څخه تېر شو او د پایلو په تړاو په لګښتونو هوکړې ته ورسېږو، څو د لوریو رضایت ترلاسه شي.

## د جمهوررئیس د وینا ژباړه:

لومړی وزیر کېمرون[۱]، لومړی وزیر شریف، اعلیحضرت[۲]، جلالتمآب ډاکتر عبدالله، وزیر صیب کېري[۳]، اغلو او ښاغلو!

په ټوله خوښۍ د ځان، ډاکتر صیب عبدالله، د افغانستان د خلکو او ملي وحدت حکومت په استازویتوب، ددې مهمې غونډې د کوربه توب له امله له لومړي وزیر کېمرون، مننه کوم.

اجازه راکړئ چې له دې فرصت څخه په استفادې د ناټو / آیساف له ۳۴۰۰ پرسونل څخه، چې په افغانستان کې یې ځانونه له لاسه ورکړي، له ډېرش زرو زیات، چې ټپیان شوي او سلګونه زره روزل شوي نور سرتېري، چې زموږ غرونه، درې او دښتې به یې تل په یاد وي، مننه وکړم.

غواړم له جمهوررئیس اوباما، وزیر صیب کېري او د ناټو او آیساف د ټولو غړو له ژمنتیا، رهبرۍ او قربانۍ، چې په تېرو ۱۳ کلونو، په ځانګړي ډول وروستیو لسو کلونو کې زموږ لپاره ورسره مخ شوي، مننه وکړم.

همدا راز غواړم د ټولو افغان ماشومانو، نارینه‌وو او ښځو هم مننه وکړم، چې له ټولو ستونزو سره، سره یې هم د دغو همکاریو ګرم هرکلی کړی دی. له شک پرته موږ د خپلو همکاریو

---

[۱] David Cameron: د انګلستان لومړی وزیر (۲۰۱۰ـ۲۰۱۶ ز).

[۲] اعلیحضرت کریم آغاخان: د اسماعیله شیعیانو پېشوا.

[۳] John Kerry: د امریکا متحده ایالتونو بهرنیو چارو وزیر (۲۰۱۳ـ۲۰۱۷ ز).

په تړاو، په عمومي ډول له نړۍ او په ځانګړي ډول د هغوی په تړاو، چې اوږه په اوږه له موږ سره درېدلي، بشپړه تړلنیزه او سیاسي اجماع لرو. د امریکا متحده ایالتونو[۱] سره دوه اړخیزه امنیتي هوکړه‌لیک او له ناټو[۲] سره د ځواکونو د وضعیت هوکړه‌لیک تصویبېدو په اړه د ملي شورا د دواړو خونو د رایو کارولو په دې برخه کې د هر ډول شک له منځه تلو ته زمینه برابره کړې ده.

د ۹۹,۹ سلنه مسلمانانو په لرلو سره افغانستان، په دې مشارکت ویاړ کوي او پر هغه په پابندۍ خوښ دی. دا په فرد پورې یوه منحصره موضوع ده او ټول هغه رهبران باید وستایل شي، چې له دې مشارکت او همکارۍ سره د خلکو د هوکړې رامنځته کولو کې یې رول لرلی دی. موږ ـ زه او ډاکټر عبدالله ـ مشخصاً دې مشارکت او همکارۍ ته ژمن یوو او هوډمن یوو، چې د خپلو خلکو د ارادې پر اساس به عمل کوو.

۲۰۱۴ ز کال زموږ افغانانو لپاره د غیر ممکنو لاسته‌راوړنو کال و. که تاسو د ۲۰۱۴ کال د پیل یا د ۲۰۱۳ کال د پای وضعیت ته پام وکړئ، فکر کوم د نړۍ نږدې ټولو ورځپاڼو د افغانستان د نابودۍ وړاندوینه کړې وه. هغوی ویلي وو، چې افغانستان د لېږد درې مرحلې په مخ کې لري او څه ډول کولای شي ان له یوې څخه یې هم په سم ډول تېر شي؟ موږ دوه مرحلې په بریالیتوب تېرې کړې دي او دریمه هم د بریالي کېدو په حال کې ده.

لومړنۍ هغه یې «سیاسي لېږد»[۳] و. د افغانستان په تاریخ کې په لومړي ځل، موږ له یوه منتخب رهبر څخه بل منتخب رهبر ته د اقتدار د لېږد شاهدان وو، نه د قدرت. زه پر دې باور یم، هغه مشارکت او هوکړه چې ما او جلالتمآب ډاکتر عبدالله رامنځته کړې، زموږ د خلکو د پوهې ستاینه ده. ملي وحدت حکومت د افغانستان د مطلق اکثریت خلکو استازیتوب کوي او دا لېږد په دې معنی دی، چې د دولت د تشکیل او تحکیم بهیر او د افغانستان سیاسي اجماع بېرته نه ګرځېدونکې ده.

پرېږدئ چې زموږ دوستان یې وستایي او بد غوښتونکي مو په یاد وساستي، چې تاریخ بیا نه

[۱] Bilateral Security Agreement (BSA).

[۲] Status of Forces Agreement (SOFA).

[۳] Political Transition.

تکرارېږي، موږ په تېر بریالي شوي یوو او د بشپړ یووالي او لوړ ډاډ لرونکې، راتلونکې سره مخ یوو.

دویم، «امنیتي لېږد»[۱] و. په دې تړاو څلور کاله وړاندې، کله چې موږ امنیتي لېږد پیل کړ، داسې اوازې وې، چې موږ به د امنیت تأمین له مسؤولیت څخه ونه وځو. زه د وسله‌والو ځواکونو د اعلی سرقوماندان په توګه، ویاړم، چې امنیتي او دفاعي ځواکونه به خپله هېوادنۍ مینه، چې له هېواد څخه دفاع ده، پخپله غاړه واخلي.

که له امنیتي اړخه د حکومت د سقوط احساس موجود وي، دا یوازې یو باطل خیال دی. ملي پوځي ځواکونه زموږ د دوستانو او نړیوالو همکارانو په ملاتړ ځواکمن شوي او د خپلو دندو ترسره کولو په حال کې دي. هغه ځواکمنتیاوې چې په تېرو څلورو کلونو کې رامنځته شوې دي، بېسارې دي او ځای لري، چې له ټولو نړیوالو شریکانو او همکارانو پر افغان امنیتي ځواکونو د پانګونې له امله مننه او قدرداني وکړو. له افغانستان څخه ستاسو دوامداره ملاتړ ـ هغسې چې تېره ورځ د غوڅ ملاتړ ماموریت د هوکړه‌لیک په ترڅ کې څرګنده شوه ـ موږ ته ډاډ راکوي، چې تاسې به زموږ ترڅنګ ولاړ یاست، د یو غیر جنګي ماموریت په توګه.

له جنګي څخه غیرجنګي رول ته ددې لېږد ګرم هرکلی کوو. هغه ضمانت چې د روزنې، مشورې ورکونې او پوځي همکاریو په دوام کې شته، د باور رایه ده، چې ترلاسه شوې. په افغانستان کې له خپلو امنیتي او دفاعي ځواکونو او افغان ځواکونو ستاسو دوستانو د مالي ملاتړ منندوی یوو. زه ستاسو او خپلو امنیتي ځواکونو خبرې کوم، دا ځکه چې موږ د ګډو ګټو او ګډو ګواښونو پر وړاندې ولاړ یوو او هوډمن یوو، چې پر دې ستونزو به بریالي کېږو.

ترهګریزې کړنې شرمونکې دي. هو! زموږ ماشومان قرباني کېږي. هر ځل چې د هغوی بې‌روحه جسدونه وینم، زړه مې ماتېږي. کله چې د هغې نجلۍ له پلار سره، چې لور یې پوهنتون ته پر لار وژل شوې وي یا د هغه ماشوم له پلار سره، چې ماشوم یې د والیبال لوبې پر مهال قرباني شوی وي، اړیکه نیسم، یوازې خدای پوهېږي، چې په زړه مې څه تېرېږي. خو باوري اوسئ، چې موږ د هغې رهبرۍ لپاره نه یوو انتخاب شوي، چې پایله یې ماته وي!

۱ Security Transition.

موږ به له دغو ګوابښونو سره مخ شوو او دا واضح ده، چې پر هغو به بريالي کېږو.

په ورته مهال، سوله زموږ له ملي لومړيتوبونو ده او موږ هوډمن يوو، چې سياسي مخالفتونه له سياسي لارو پای ته ورسوو، خو د هېڅ فشار له وجې به له هغې لارې چې ټاکلې مو ده، د اساسي قانون او ملي ارزښتونو له پېروۍ، ونه ګرځو.

د اسلام مقدس دين، د زغم تمدن دی. هغسې چې زموږ د علماوو شورا ويلي، دغه ډول اعمال زموږ په تاريخ کې هېڅ ځای او اساس نه لري. موږ له خپلو ټولو شريکانو او ګاونډيانو غواړو، چې زموږ ترځنګ ودرېږي، ځکه چې هېڅ هېواد د جګړې ډګر نه دی او موږ ټول اړتيا لرو، څو خپل ځواکونه متحد کړو.

درېيم، «اقتصادي لېږد»[۱] دی. موږ ووېل، چې ښه فعاليت مو نه دی کړی، خو خنډ هغه څه دی، چې موږ ته په ميراث را پاتې او ورسره مخ يوو. فکر کوم له درېيو د دوو لېږد (په بريالي ډول ترسره کول) يو ښه ريکارډ دی. په همدې اساس، اجازه راکړئ د تحول په تړاو خبرې وکړم.

هغه اساسي موضوعات چې غواړم روښانه يې کړم، پنځه نقطې دي:

لومړی ـ په دې دوو مياشتو کې ملي وحدت حکومت توانېدلی خپل کاري ليډلوري په سم ډول وټاکي. هيله لرم تاسو ته مو قناعت درکړی وي، چې موږ چېرته او په څه ډول په حرکت کې يوو او څه ډول کولای شو هغه ترلاسه کړو. ښاغلی لومړی وزير! زما ليډلوری دا دی، چې بايد د خلکو خادم واوسو. د ملي وحدت حکومت ليډلوری دا دی، چې له خلکو سره د حکومت په تړاو بنسټيز بدلون رامنځته کړي. (په دې ليډلوري کې) خلک اصل دي او حکومت د هغوی خادم. دا يعنې دا چې موږ د خلکو پر وړاندې حساب‌ورکوونکي يوو، ځکه چې د افغانستان خلک ملي وحدت حکومت ته د رايې ورکولو لپاره، د ټولو ګوابښونو پر وړاندې په زړورتيا د رايې ورکونې په اوږدو کتارونو کې ودرېدل او بالاخره بريالي شول.

ښاغلی ډاکتر عبدالله او زه هوډمن يوو، چې د خلکو د خدمتګارانو په توګه د هغوی خدمت وکړو. هيله لرم، چې دا تحول، د نجيبه کړی لپاره د پيل يوه نقطه وي، څو موږ وتوانېږو د تېرو

---

[۱] Economic Transition.

۳۵ کلونو پر ستونزو بریالي شو.

دویم ـ موږ وښوده، چې څه ډول کولای شو سیاسي پانګه برابره کړو. ملي وحدت حکومت د خلکو د مطلق اکثریت ارادې استازیتوب کوي او تاسو شاهد وئ، چې د ملي وحدت حکومت په جوړېدو سره ډېر ژر ملي اجماع جوړه شوه. پرون چې کله ډاکتر عبدالله او ما دلته د پناه غوښتونکو په ډله کې خبرې کولې، هغوی ته مو وویل، چې د یووالي او ملي وحدت له پیغام سره راغلي یوو. په تېر کې چې هر ځل راغلي وو، هغوی به ویل: کابل ته ولاړ شئ او متحد شئ! حاضر دمه موږ هغوی ته وایو، چې موږ متحد شوي یوو او تاسو هېواد ته راوګرځئ او له موږ سره یو ځای شئ. له ښه مرغه، ډېری نارینه او ښځینه ځوانانو هېواد ته د بېرته ګرځېدو او خپل هېواد ته د خدمت کولو وړاندیزونه ورکړي دي.

باید ووایو، چې موږ نه یوازې سیاسي پانګه برابره کړې، بلکې سیاسي پانګه مو په سیاسي ارادې بدله کړې ده. موږ په لومړنیو کاري ورځو کې، د امریکا متحده ایالتونو سره دوه اړخیزه امنیتي هوکړه‌لیک او له ناټو سره د ځواکونو د وضعیت هوکړه‌لیک لاسلیک کړ او په دویمه ورځ مو، د کابلبانک د موضوع په تړاو، چې د افغانستان لپاره یو حیثیتي خطر بلل کېږي، خبرې وکړې. خوښ یم، چې اعلانوم، د افغانستان سترې‌محکمې تېره ورځ [۱۲ لیندۍ ۱۳۹۳] د استیناف محکمې پرېکړه تائید کړه، چې په یوه میاشت کې تورن مکلف دي خپل تأدیات ترسره کړي؛ له هغه پرته به یې پر وړاندې جزایي اقدامات پیل شي.

موږ د ستونزو د حل په برخه کې هېڅ شک نه دی ښودلی. هیله لرم، چې زموږ کاغذ [= سند] په پراخ ظرفیت او پرېمانه ستونزو د پراختیا په حال کې هېواد له لوري تر ټولو رښتینی برابر شوی سند واؤسي. موږ پخپلو ستونزو خبر یوو او هغه منو. له نړیوالې ټولنې سره زموږ د خبرو اترو ډول بدلون موندلی. تاسو زموږ شریکانو او همکارانو ته اړتیا نشته، چې موږ ته وښیئ، فساد یوه ستونزه ده یا بنسټ‌جوړونه یوه موخه ده. دا زموږ ستونزې دي او پر هغو به بریالي کېږو او اوس خبرې له «ولې» (... ستونزې شته دي) په «څه ډول» (... دغه ستونزې باید حل شي) بدلې شوې دي.

درېیم ـ مشارکت دی. موږ د مشارکت (مفهوم) ته په سم ډول رسېدلي یوو. زه هیله لرم د مشارکت هغه روحیه چې په کابل کې رامنځته شوې، پراخه واؤسي. دلته ستاسو د هر یوه حضور، د یو باثباته او سوله‌ییز افغانستان لپاره د باور د یوې رایې په توګه؛ موږ له تاسو هر

يوه ډېره، ډېره مننه کوو.

په ياد ولرئ، چې ملي وحدت حکومت (په حکومت کې) د تشکيلاتي نيمګړتياوو په تړاو د شريکانو نظرياتو ته درناوی لري، موږ د رښتينو او متمرکزو بحثونو غوښتونکي يوو؛ او تر بحثونو زيات، موږ عمل ته اړتيا لرو، ځو ددې ستونزو له مسؤوليت څخه ووځو.

څلورم ـ سيمه‌ييزه همکاري ده، چې موږ په تېرو دوو مياشتو کې هغه په سم ډول ترلاسه کړې ده. موږ له خپلو ګاونډيو سره يو فعال سيمه‌ييز تعامل لرو او له هغوی سره د خپلو خبرو اترو له بهير څخه خوښ يوو. د لومړي وزير شريف له اشارې څخه مننه، چې ويې ويل، يو نوی ستراتېژيک فرصت برابر شوی دی. موږ هيله لرو، چې دا ستراتېژيک فرصت غښتلی شي، څو وکولای شو په دوه اړخيزه ډول عمل وکړو او د دوو خپلواکو دولتونو ترمنځ برابري رامنځته کړو ـ دوه خپلواک دولتونه، چې همکاري يې د آسيا د قاره‌يي اقتصاد عملي کېدو ته، ډېره مهمه ده.

موږ يو انتخاب لرو، يا د آسيايي هېوادونو نښلولو لپاره يو محور واؤسو، چې سړکونه زموږ له هېوادونو تېر شي او د مرکزي آسيا، سويلي آسيا، ختيځې آسيا او لويديځې آسيا هېوادونه له يو بل سره ونښلوي او يا به يو بن‌بست ته ځو، چې د تاريخ په يوې له ياده اېستل شوې برخې بدل شو؛ دا ځکه چې وخت په تېرېدو دی. موږ د وخت اهميت په ښه ډول درک کړی. اوسمهال د نړيوالتوب درېيمه څپه کولای شي موږ د سيمې په کچه له بېوزلۍ وباسي. موږ ته لازمه ده له دې شېبې په ګټنې هر اړخيزه همکاري وکړو او د خپلو خلکو لپاره يوې نوې راتلونکې ترسيم کړو.

پنځم ـ موږ د عملي پروګرام د ترسره کېدو په حال کې يوو، چې وړاندې له تاسو سره شريک شوی دی. ښاغلی ډاکټر عبدالله چې ددې کنفرانس پيلونکی و تاسو ته خبر درکړ، چې موږ له دې کنفرانس څخه تر تلو وروسته، له دوو تر څلورو اونيو کې خپله کابينه جوړوو. موږ هوډمن يوو، چې وړ، ژمن او رښتيني کسان پخپله کابينه کې شامل کړو، څو د ملي وحدت حکومت پروګرامونه رهبري کړي.

کله چې ډاکتر عبدالله خپل نظر د آذربايجان له جمهوررئيس سره شريک کړ، زه ډېر خوشاله شوم. هغه وويل، چې موږ په ډېری برخو کې له يو بل سره هوکړې کړې او اوس حيرانوونکې

ده، چې موږ څه ډول یو د بل پر وړاندې درېدلي وو! [ډاکتر عبدالله ته خطاب:] مننه وروره چې له ما سره یو ځای شوی یې!

او د نظر دا یووالی په ټولو برخو کې شته دی. موږ یوازې په کوچنیو موضوعاتو هوکړه نه ده کړې، بلکې په ټولو لویو او کوچنیو موضوعاتو د نظر یووالی شته دی. هغه لار چې موږ خپله کړې ـ چې په سیمه کې بېسارې ده ـ موږ هیله مند یوو، چې ملي گټو ته پر ټولو راپاتې اختلافاتو ترجیح ورکړو، چې دا پخپله زموږ د خلکو د ځواکمنتیا لپاره یو اړین امر دی.

وروستی موضوع زموږ فعالیتونه دي. موږ خبرو او بحثونو کې موافقې ته رسېدلي یوو، خو زموږ خلک د خبرو پر اساس نه، بلکې زموږ د ظرفیت او فعالیتونو پر اساس قضاوت کوي، ځکه له موږ د عمل تمه لري. په همدې اساس زموږ شریکان او نړۍ هم له موږ د عمل تمه لري.

زه دلته د غورچاڼ په توگه درې موضوعات بیانوم:

لومړی ـ په لومړۍ مرحله کې، د ملي وحدت حکومت پام به پر بنسټونو متمرکز وي. اجازه راکړئ هغه څه له تاسو سره شریک کړم، چې تېره ورځ ډاکتر عبدالله له تاسو شره شریک کړل. موږ غواړو ډاډمن شو، چې ملي وحدت حکومت چې له ځانه کوم میراث پرېږدي، اساسي قانون د یوه ورځني واقعیت په توگه وگڼل شي، موږ هېڅکله هم اساسي قانون له پامه نه غورځوو؛ ټاکنیز اصلاحات به په سم ډول عملي کړو؛ لویه جرگه به رابولو؛ او همدا ډول یو شمېر نور موارد. په همدې دلیل، په اوسنیو شرایطو کې به ځینې تعدیلات رامنځته شي، خو هیله لرو دا وروستي تعدیلات وي، چې ډېر اړین دي.

ښاغلو، همکارانو او دوستانو! هغه څه چې غواړو، چې پر اساس یې زموږ په تړاو قضاوت وشي، له پنځه کاله وروسته افغانستان سره د نننی افغانستان پرتلنه ده. د افغانستان خلک، وروسته نړۍ او په پای کې به لایزال خدای (ج) زموږ د ژمنو پوره کولو پر اساس زموږ په تړاو قضاوت وکړي. ان‌شاءالله چې پخپلو ژمنو به عمل کوو.

دویم ـ زموږ په هېواد کې د شمېر له اړخه، درې اکثریت قشرونه شته دي، چې له اقتصادي، سیاسي او ټولنیز اړخه په لږه کیو کې ځای لري او باید په سم ډول هغوی ځواکمن کړو:

لومړی؛ مېرمنې چې زموږ د راتلونکې کیلي ده. د نیمې ټولنې په محرومولو، «ښاروندي» په

بشپړ ډول نشي جوړېدای. له تاسو ټولو او په ځانګړي ډول له پرمختللو او د پرمختګ په حال کې اقتصادونو (هېوادونو) زموږ غوښتنه دا ده، چې خپل بازارونه مو زموږ د ټولنې ښځو پر وړاندې پرانېزئ. پنځه ورځني روزنيز پروګرامونو (د ښځو له ځواکمنتيا) سره مرسته نه کوي. راځئ د (افغان) ښځو له مهارتونو په بنسټيز ډول استفاده وکړئ او پرېږدئ چې د هغوی جيبونو ته هم پيسې ورسېږي. ما تېره ورځ د فرانسې له بهرنيو چارو وزير څخه د فرانسې د موډ او فېشن په برخه کې همکاري وغوښته، څو هغوی تکې طراحي کړي، چې زموږ ښځې يې د توليد وړتيا لري. افغان ښځې ښه مهارتونه لري، خو د هغوی توليدات يوازې په روغتونونو کې ليلامېږي. موږ غواړو له تاسو سره کار وکړو. له موږ سره مرسته وکړئ، چې په افغانستان کې لومړنۍ ښځينه پوهنتون تاسيس کړو. له موږ سره مرسته وکړئ، چې که څه هم ابتدايي وي، خو د مېرمنو لپاره د فرهنګي نورمونو پر اساس انستېټيوټونه جوړ کړو، څو سمې پايلې ترلاسه کړو. روزنيز پروګرامونه مو موږ ته برابر کړئ او پرېږدئ چې زموږ د ټولنې ښځې له نورو ښځو سره اړيکې ټينګې کړي.

په همدې اساس، په دې درک د ښځو سمه ځواکمنتيا، چې يو پخوانی او تاريخي خنډ دی او د حل لپاره يې دوامداره او اغېزناکې هڅې لازمي دي، يوه ډېره مهمه موضوع ده. موږ ښايي له فرهنګي اړخه حساس واوسو، خو زموږ فرهنګ کولای شي تر ډېرې کچې (له فرهنګي بدلونونو) سره جوړښت وکړي، له همدې اړخه بايد فرهنګي بدلونونه جدي ونيسو.

دويم؛ زموږ ځوانان دي. زموږ د نفوس مطلق اکثريت تر ۳۰ کلونو کم عمر لري. زموږ درې نسلونو په جګړه کې ژوند وکړ. موږ په سوله کې د لومړني نسل په توګه د ژوند په تمه يوو؛ نه يوازې چې په سوله کې ژوند ولري، بلکې د سولې، ثبات او غوړېدنې پروسې رهبري کړي. زموږ پر ځوانانو پانګونه نه يوازې زمو د هېواد لپاره، بلکې د نړۍ د ثبات لپاره ډېر اهميت لري. موږ هيله مند يوو د ځوانانو د ځواکمنتيا هغه بهير چې ملي وحدت حکومت پيل کړی، غښتلی شي. له تاسو غواړو، چې زموږ د ځوانانو لپاره په تعليمي او پر هغه سربېره د مهارتونو او مديريتي او رهبرۍ وړتياوو غښتلي کولو په برخه کې د پرمختګ فرصتونه برابر کړئ، څو هغوی وکولای شي يو سرلوړی او اقتدار لرونکی افغانستان رهبري کړي؛ چې دا له لاسرسي لرې نه دی.

او دريم؛ زموږ بېوزله خلک دي. ۳۶ سلنه بېوزلي، په مقاوم ډول په هېواد کې پاتې ده. په يو

ډالر او پنځه ویشت سنټو ورځنیو عوایدو نشو کولای باعزته ژوند وکړو او که چېرې زموږ کډوال او عمده فعالیتونه نه وای، ستونزه به تر دې په څلونو زیاته لویه وای. تاسو پوهېږئ، چې موږ یو پُل په ۲ میلیون ډالره لګښت جوړو، خو یو څوارلس کلن تنکی ځوان هغه په پنځوس ډالره جوړو شویو چاودېدونکو توکو له منځه وړي؛ بېوزلي د بې‌ثباتۍ اصلي محرک دی؛ د نړیوالو جنایتکارو ډلو له لوري جلب و جذب او همدا راز د نشه‌يي توکو کښت زموږ د ستونزو بله برخه ده. تاسو پوهېږئ، چې د کوکنارو کروندګرو ته د ورځې له ۱۴ تر ۱۷ ډالرو ورکول کېږي، په داسې حال کې، چې زموږ د دولتي ادارو د غوره پروګرامونو کارکوونکو ته د ورځې ۲ ډالره عواید ورکول کېږي.

موږ باید بېوزلي د یوې بنسټیزې ستونزې په توګه له منځه یوسو او پر هغه تمرکز وکړو. دا د ښاروندی یو له مهمو اجنډاو څخه ده. یوه ټولشموله ټولنه ټولو ته اړتیا لري. موږ له ښاري نظام او د ځمکو ملکیت څخه اصلاحات پیلوو، څو هر افغان له لازمو اسنادو او د ملکیت له ټولو حقوقو سره یوه ټوټه ځمکه ولري؛ د ٦ یا ۹ کالو په تېرېدو، د ښوونې او روزنې سیستم به د واقعي کلمې په معنی وجود ولري، څو خلک وکولای شي د هغه له لارې دنده واخلي، نه یوازې د دوو یا درېیو ژبو زده‌کړه.

په همدې اساس په هغه ټولنه کې د خدمتونو وړاندې کول، چې ټول په‌کې شریک وي، اړینه ده. خوشبختانه موږ ټولشموله سیاست رامنځته کړی، چې کولای شي د ټولشموله اقتصاد لپاره بنسټ وي او په پای کې موږ هغه هیلې ته ورسوي، چې یوه ټولشموله ټولنه یې لري.

او دا زما وروستۍ خبره ده؛ اړتیا ده، چې موږ په متفاوت ډول انکشافي کارونه ترسره کړو. کله چې حکومت پخپلو ادارو کې لازم اصلاحات ترسره نه کړي، موازي بنسټونه رامنځته کېږي، ځانګړې پروژې ترسره کېږي، ترمنځ یې تخنیکي همکارۍ رامنځته کېږي او حکومت له پامه غورځوي. که حکومت اصلاحات ترسره نه کړي، شریکان یې خپل حق بولي، چې له خپلو مالونو او کارونو ساتنه وکړي، خو نړیوالو تجربو دا موضوع ډېره ساده کړې، چې موازي ادارې کار ور نه وي. هایتي یوه ښه بېلګه ده او ډېرې نورې بېلګې هم شته. له همدې اړخه موږ له خپلو شریکانو غواړو، چې په راتلونکو میاشتو کې له موږ سره یو ځای شي، څو د هغو پروګرامونو د ترسره کولو لپاره چې وړاندې شول، مشخص میکانیزمونه وړاندې کړو.

موږ د نړۍ د مالیې د غوره وزیرانو په توګه چې دلته راټول شوي یوو، تاسو ته بلنه درکوو، چې له موږ سره د حساب‌ورکونې په تر ټولو غوره سیستمونو هوکړې ته ورسېږئ، خو پرېږدئ چې دغه سیستم د پروګرامونو د طرحې له اړخه، تسلسل، ظرفیت او له انسجام څخه برخمن وي، څو په پایله کې یې موږ وتوانېږو د خپلو پایداره لاسته‌راوړنو یو تاریخ جوړ کړو.

د ځان بسیاینې کاغذ [= پروګرام] په ښه‌والي، افغانستان ددې ظرفیت لري، چې د خپلو لګښتونو له عُهدې ووځي، خو د پخوا په څېر ځان بسیاینه نه، چې له نړۍ سره اړیکې قطع کړو، بلکې هغه ځان بسیاینه چې موږ پر یو «رقابتي اقتصاد»[۱] پر تکیې په نړۍ کې شامل شو. په همدې اساس، د یو مشروع اقتصاد رامنځته کول، چې وکولای شي د ښاروندی د اجنډا پرمخ وړو لامل وګرځي او پر هغه په تکیې وکولای شو خپل امنیتي لګښتونه برابر کړو، ډېر اهمیت لري.

موږ هوډمن یوو، چې خپلې دندې په متفاوت ډول ترسره کړو. موږ هیله لرو، چې زموږ شریکان د راکړې ورکړې د شراکت د یوې منظمې معاملې پر اساس همکاري وکړي؛ یو د بل خبرې واوري او بیا وروسته هوکړې ته ورسېږي، چې څه ډول حرکت وکړو. په دې اړه موږ وړاندیزونه لرو، دا چې د خپل کار ماهیت د مطلوبې پایلې په تړاو د ورکړې په پروژې بدل کړو. راځئ په توقع د وړ پایلو هوکړې ته ورسېږو. تاسو وروسته له هغې پیسې ورکړئ، چې موږ کار په سم ډول ترسره کړو او په همدې ترتیب راتلونکي او راتلونکي کارونه. دا میکانېزم د ټولو لوریو په رضایت سربېره موږ ته ډاډ راکوي، چې سمه لار مو انتخاب کړې.

په پای کې اجازه راکړئ چې ستاسو ښاغلي لومړي وزیر له شخصي دوستۍ او هغو سفرونو له امله مننه وکړم، چې افغانستان ته مو درلودل. په یاد مې دي، چې کله تاسو د مخالف ګوند رهبر وئ او په لومړي ځل مو هلمند ته سفر وکړ؛ په هغه سخته ګرمۍ چې څوک په کې د درېدو زغم نه لري، تاسو په حوصله د هغه افسر ـ چې چا یې هم د اورېدو لېوالتیا نه لرله ـ او افغان همکارانو خبرې واورېدې؛ چې دا ټول د یوه رهبر ځانګړتیاوې ښیي. ددې کنفرانس د کوربه توب او هغه رول له امله، چې له افغانستان سره د همکارۍ لپاره مو د نړۍ رهبران وهڅول، مننه کوم.

---

۱ Competitive economy.

اجازه راکړئ یو وار بیا د خپل حکومت او افغانستان خلکو په استازیتوب، ډاکتر عبدالله او پخپله زه له ښاغلي لومړي وزیر (کیمرون)، اعلیحضرت، د امریکا د بهرنیو چارو ښاغلي وزیر، عالي جنابانو، آغلو او ښاغلو ددې بریالي کنفرانس جوړولو او د افغانستان په راتلونکې ستاسو د باور رایې له امله، مننه وکړم.

موږ د افغانستان خلک مننداوی یوو او هیله لرو، چې ستاسو ترڅنګ او ټول له یو بل سره له غوره امنیت څخه برخمن شو او هغه موخې ته ورسېږو، چې موږ ټولو یې د ترلاسه کولو لپاره پرېمانه قربانۍ وزغملې او هغه د یو باامنه او خوشبخته افغانستان لرل دي!

مننه!

# د ناکامو دولتونو د رغاونې بحث؛ له تیورۍ تر عمل [۱]

چاتم‌هاوس [۲] ـ لندن، د نړیوالو چارو سلطنتي انسټیټیوټ | ۱۳ لېندۍ ۱۳۹۳ | ۴ ډسمبر ۲۰۱۴




## د رابین نبلېټ له لوري د پروګرام معرفي:[۳]

خانم‌ها و آقایان!

آغلو او ښاغلو، چاتم‌هاوس ته ښه راغلاست! دا چې نن له موږ سره یو ځای شوئ خوښ یم. هیله لرم چې تاسو به له ما او همکارانو سره مې یو ځای د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس ډاکتر محمد اشرف غني ته ښه راغلاست ووایئ. [جمهوررئیس غني ته خطاب:] د خوښۍ ځای دی، چې نن بیا ځلي له تاسو سره وینم؛ په حقیقت کې په وروستي ځل چې کله تاسو په بشپړ متفاوت ډول په چاتم‌هاوس کې حضور وموند، ۲۰۰۸ کال و. زه د ډېرې خوښۍ احساس کوم، چې نن یو وار بیا تاسو ته ښه راغلاست وایم.

اجازه راکړئ د نننې پروګرام د جوړښت او ډول په اړه تاسو ته معلومات درکړم، چې څه ډول

---

[۱] Fixing Failed States: From Theory to Practice. د پروګرام عنوان، د ډاکتر محمد اشرف غني او کلیر لاکهارټ د لیکل شوي اثر «د ناکامو دولتونو بیارغاونه» له نوم څخه اخیستل شوی دی

[۲] Chatham House, the Royal Institute of International Affairs: د سیاست خپلواکه مؤسسه، لندن، برېتانیا.

[۳] Robin Niblett.

مو د هغه د برابرولو لپاره ګټور کارونه کړي دي. زما په نظر هغه طریقه، چې ښاغلی جمهوررئیس (محمد اشرف غني) هم ورسره موافق دی، دا ده، چې په حقیقت کې هغه له وړاندې د یوې تیارې شوې وینا پر ځای، زما له همکار مایکل کېټېنګ[۱] سره خبرې وکړې او وروسته یې د حاضرینو پوښتنو ته ځواب ووایه. فکر کوم په همدې طریقې کولای شو له نننۍ خپرونې ډېره ګټه واخلو.

باید ووایم، دا چې په دې پروګرام کې شامل یوو، ځانګړی احساس لرم، ځکه چې ښاغلی مایکل کېټېنګ هم زموږ د پروژې یو له پر مخ وړونکو څخه دی. «په بحران کې فرصت»[۲] زموږ دوه کلنه پروژه ده، چې همدا اوس د ترسره کېدو په حال کې ده. ددې پروژې عنوان هماغسې چې مایکل یو نیم کال وړاندې ښودلی و، ښایي ډېر بې‌باکانه وي، خو په ښه ډول کولای شي په «بحران» کې د «فرصت» موجودیت ترسیم کړي. [جمهوررئیس ته خطاب:] فکر کوم نن موږ په داسې شرایطو کې تاسو له ځان سره لرو، چې له یوه لوري لندن کنفرانس او هغه هوکړه، چې د افغانستان له ټاکنو وروسته شوې دې هېواد ته د یوه «فرصت» په توګه دی او له بل لوري افغانستان په یوې ستونزمنې زماني مرحله کې واقع دی. موږ په دې برخه کې ستاسو خبرو ته په تمه یوو.

ددې پروژې له پیل څخه یو کال تېرېږي او په دې دید خپل فعالیت ته دوام ورکوي، چې څه ډول کولای شي ستاسو او نورو په ملاتړ کې برخه واخلي، چې د سولې ټینګښت، روغې جوړې، انکشاف او د افغانستان د امنیت په برخه کې یې درلود. په دې تړاو د لیکنو ټولګه زموږ په سایټ کې خپره شوې، که لېوالتیا لرئ ترې استفاده کولای شئ.

یادونه کوم، چې اوسنۍ خپرونه ثبتېږي، په ورته مهال کولای شئ د خپرېدو پر مهال یې هم ووینئ. په همدې اساس هغه غړي او مېلمانه چې موږ د تلویزیون له لارې ویني، ورته ښه راغلاست وایوو.

که څه هم جمهوررئیس غني دلته په کافي کچه پېژندل شوی دی، خو ویاړ لرم، چې هغه په لنډ ډول معرفي کړم، په ځانګړي ډول د هغو کسانو لپاره چې په تېر کې د هغه له خبرو نه دي مستفید شوي. ډاکتر محمد اشرف غني، په افغانستان کې لوی شوی، خو د ډېری نورو په څېر

---

[۱] Michael Keating: د آسیا په پروګرام کې د چاتم‌هاوس ستر سلاکار.

[۲] Opportunity in Crisis.

مجبور شوی، چې د لوړو زده‌کړو د دوام لپاره له هېواده بهر سفر وکړي. هغه په علمي او اکاډمیکه برخه کې، هم د انسان پېژندنې[1] او هم د سیاسي علومو په برخه کې ډېره وړتیا لري. پر دې سربېره یې په نړیوال بانک کې هم له خپلو مهارتونو استفاده کړې، چې هلته د کار له امله یې په سویلي آسیا کې د نړیوال انکشاف په برخه کې تخصص ترلاسه کړ. د طالبانو د رژیم تر نسکورېدو وروسته په ۲۰۰۱ کال کې بېرته افغانستان ته وګرځېد. هغه مهال محمد اشرف غني د افغانستان د لنډ مهالي حکومت د جمهوررئیس حامد کرزي سلاکار او مالیې وزیر په توګه دنده ترسره کړه. په ۲۰۰۴ کال کې له حکومت څخه د وتو پر مهال یې له کلیر لاکهارټ[2] سره په ګډه «د دولت مؤثریت انسټېټیوټ»[3] تأسیس کړ. [جمهوررئیس ته خطاب:] فکر کوم په لومړي ځل مې چې له تاسو سره ولیدل ۲۰۰۸ کال و او تاسو په دې انسټېټیوټ کې فعالیت درلود. هغه بېرته افغانستان ته وګرځېد او په ۲۰۱۰ کال کې د لېږد بهیر د همغږۍ کمېسیون[4] (امنیتي مسؤولیتونه) د رئیس په توګه کار پیل وکړ او د جمهوري ریاست د ټاکنو بهیر تر پیل پورې یې په دې پوسټ دنده ترسره کړه. نوموړي په ۲۰۱۳ کال کې د امنیتي لېږد کمېسیون له ریاست استعفا وکړه او د ۲۰۱۳ [۱۳۹۳ لمریز] کال د جمهوري ریاست په ټاکنو کې یې د جمهوري ریاست د کاندید په توګه برخه واخیسته. په پای کې، د ۲۰۱۴ د سپټمبر په ۲۲ نېټه [۱۳۹۳ وږي ۳۱] د افغانستان د جمهوررئیس په توګه وټاکل شو.

فکر کوم په کافي کچه مې نوموړی تاسو ته معرفي کړ.

[جمهوررئیس غني ته خطاب:] نوبت به تاسو ته درکړو او غواړو ستاسو د افکارو او د راتلونکې په تړاو ستاسو د لرلید په اړه ډېر څه واورو.

اوس نوبت مایکل ته ورکوم. غواړم په دې پروژه کې د مایکل له همکارانو، ښاغلي مټ والډمن[5] او مینا بهادر[6] چې په نه سترګې کېدونکي ډول یې په ناروې، د امریکا متحده ایالتونو

[1] Anthropology.

[2] Clare Lockhart.

[3] Institute for State Effectiveness.

[4] Transition Coordination Commission.

[5] Matt Waldman.

[6] Mina Bahadur.

او افغانستان کې کار کړی دی، مننه وکړم. خوښ یم، چې وکولای شو د هغوی لیدلوری تعقیب کړو. مایکل! نوبت تاسو ته درکوو؛ ستاسو ټولو له راتلو مننه.

**مرکه:**

مایکل کېټېنگ:

ښاغلی جمهوررئیس! د رابین د خبرو په تائید، د ډېرې خوښۍ او ویاړ ځای دی چې تاسو له ځان سره لرو. دا چې تاسو دلته په لندن کې څومره بوخت یاست، پوهېږم. د کرکټ په ورزش کې د «گوگلي»[۱] اصطلاح شته، کله چې توپ د یو چا پر لوري غورځول کېږي او هغه یې له سره هېڅ تمه هم نه لري! همدغه ډول تاسو هم زما پر لوري یو توپ را وار کړ او زه مو غافلگیره کړم... [د نوبت ورکولو خبرو ته اشاره]

جمهوررئیس غني:

تاسو ځلونه له ما سره دا کار کړی او دا څه نوې خبره نه ده! [خندا]

مایکل کېټېنگ:

دا چې تاسو له وړاندې تیاره شوې بیانیه نه لرئ، موږ به خبرې اترې ولرو. لږ وروسته به فرصت حاضرینو ته ورکړم، څو خپلې پوښتنې مطرح کړي، ځکه پوهېږم، چې ډېری حاضرین لېواله، چې له تاسو پوښتنې وکړي.

له تاسو مې لومړنۍ پوښتنه دا ده، چې کله به ستاسو راتلونکی کتاب[۲] خپور شي؟ اته کاله وړاندې تاسو خپل کتاب لیکلی او دا ډېر کم واقع کېږي، چې یو لیکوال ته چانس پیدا شي، چې په عمل کې یو دولت اداره کړي او هغه تئوري عملي کړي، چې پخپل کتاب کې یې

---

[۱] Googly: د کرکټ په لوبه کې د سیال پر وړاندې په پېچلي او غافلگیره ډول د توپ غورځولو ته وایي.

[۲] Fixing Failed States: A Framework for Rebuilding a Fractured World: د ډاکتر محمد اشرف غني او کلیر لاکهارټ کتاب دی، چې په ۲۰۰۹ کال کې د اکسفورډ پوهنتون د خپرندوی له لوري په ۲۷۲ مخونو کې چاپ شوی.

وړاندې کړې وي. تاسو له هغه وخته چې ٦ یا ۷ کاله وړاندې مو له کلیر لاکهارټ[۱] سره کتاب ولیکه، څه یاد کړي دي؟

جمهوررئیس غني:

د بښونکي او مهربانه خدای په نامه. لومړی ستاسو د بلنې له امله مننه کوم. تمه کېږده، چې د چاټم‌هاوس قوانین پخپله په چاټم‌هاوس کې رعایت شي [د حاضرینو خندا]، خو دغه ډول عمومي خبرې اترې مې هم خوښېږي او ستاسو له مینه ناکو خبرو مننه کوم.

ستاسو د پوښتنې په ځواب کې باید ووایم: هو، یادول یو دوامداره بهیر دی. غواړم د یادونې په اړه څو موضوعات مطرح کړم. لومړني څه مې چې یاد کړي «د سیاسي پانګونې»[۲] د ځرنګوالي جوړول دي. هغه څه چې په اساسي ډول په تخنیکي بحثونو کې له پامه غورځول کېږي دا دي، چې د دولت جوړونې ټول بهیرونه سیاسي او اخلاقي دي. باید یو اخلاقي لوری موندونکی قطب نما ولرې، چې هېواد له ځانه لوړ وګڼئ؛ یعنې سیاسي پانګه باید جوړه کړې، نه سیاسي وېش[۳]. هغه څه چې دوست او همکار مې ډاکټر عبدالله، زموږ مرستیالان او دوستان مو په افغانستان کې په ترسره کولو بریالي شول د ارادې او اخلاقي زړورتیا لازمتیا ده؛ همدا راز هغوی درک کړه، چې د وېش سیاست[٤] د رد او د هغو فرصتونو نه منلو لامل ګرځي، چې د مطلق اکثریت خلکو لپاره شته دي. په پایله کې، دا لومړنی نقطه ده.

دویمه نقطه دا ده، چې په لیکنو، کتابونو او بحثونو کې د سیاسي ارادې په اړه ډېر موارد شته دي، خو هېڅ یو یې لومړني اصول نه بیانوي. هغوی وایي، چې یو هېواد سیاسي اراده لري یا یې نه لري. د سیاسي ارادې د جوړېدو محرک څه شی دی؟ د سیاسي ارادې لپاره لومړنی اساس، سیاسي پانګه ده، ځکه چې هغه مهال تاسو محاسبه کوئ، چې غواړئ د هغې پانګې څومره یې مصرف کړئ او څه ډول یې نوې کړئ.

---

[۱] Clare Lockhart: عامل مدیر او د دولتي مؤثریت انسټیټوټ (ISE) یو له بنسټپالو دی. هغه په ۲۰۰۱ کال کې د بُن پروسې پر مهال په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د یوه سلاکار په توګه دنده ترسره کړې ده.

[۲] Political Capital.

[۳] Political Division.

[٤] Divisive Politics.

یو له هغو موضوعاتو چې «د ناکامو دولتونو بیارغاونه» کتاب کې ورته اشاره شوې دا ده، چې د دولت موخه خلکو ته د خدمتونو وړاندې کول دي. زه یو «خادم» یم او د یوه خادم په توګه پوهېږم چې باداران مې څوک دي. زما باداران، ښاروندان دي. په همدې اساس، موږ باید وکولای شو پرېکړه وکړو، چې په دې بهیر کې د تحرک د رامنځته کېدو لامل شي. موږ سختې پرېکړې کړې دي، چې په لنډ مهالي ډول د سیاسي پانګې د کمېدو لامل شوې دي، خو دا چې دغه پرېکړې د سنجیده او مدبرانه اقداماتو پر اساس وې د سیاسي پانګې د زیاتېدا لامل شوې دي.

د اکاډمیک تفکر خلاف، حکومت کول یو بې‌وقفې بهیر دی، چې په هغه کې، «وخت» منتظر نه پاتې کېږي. که موږ د حکومت په دویمه ورځ د کابلبانک له موضوع سره مقابله نه کولای، ما به اوس هېڅ ډول سیاسي پانګه نه لرلی، چې په اړه یې نړۍ او خپلو خلکو ته وضاحت ورکړم. که چېرې موږ د امریکا متحده ایالتونو سره دوه اړخیزه امنیتي هوکړه‌لیک[۱] او د ځواکونو د وضعیت هوکړه‌لیک[۲] د تائید په اړه پرېکړه نه وای کړې، اوسمهال به له هر ډول اجماع محروم وای. په همدې اساس دا د موضوع مهمې برخې دي.

بله موضوع تئوري ده. ددې لپاره چې تئوري عملي شي، تمرکز ته اړتیا لري. تمرکز په دې معنی دی، چې تاسو د څه وارث یاست. هغه څه چې تاسو یې وارث یاست هم ناسم چلند او هم مثبت نقاط لري. د ستونزې تعریف او د دولتي بهیرونو رامنځته کېدل ارادې ته اړتیا لري. د هغه د حل لپاره د ستونزې منل، یوه بنسټیزه موضوع ده. که دا ونه منو چې ستونزه شته، نشو کولای خپل لیدلوری ترسیم کړو.

مایکل کېټېنګ:

هغه نظر پوښتنې چې په افغانستان کې ستاسو په اړه شوې دي واقعاً په زړه پورې دي. داسې ښکاري، چې تاسو د دغې نظر پوښتنې له پیله، ډېر پلویان لرئ او په حقیقت کې بریالي شوي یاست چې لوړ مقام خپل کړئ. تاسو د هیلو او تمو د مدیریت په اړه خبرې کړې دي. خو تاسو لا تر اوسه په اقتصادي، امنیتي، سیاسي او نورو برخو کې له ډېرو نویو ننګونو سره مخ یاست. څه ډول کولای شئ چې د هیلو او تمو پوره کېدو ته دوام ورکړئ او هغه په سم ډول

---

[۱] Bilateral Security Agreement (BSA).

[۲] Status of Forces Agreement (SOFA).

مدیریت کړئ؟ تاسو د تمرکز د لرلو په اړه خبرې وکړې، چې په ښکاره ستاسو موخه لومړیتوبونه دي. آیا دغه لومړیتوبونه باید د خلکو د غوښتنو پر اساس تنظیم شي؟

جمهوررئیس غني:

دلته دوه موضوعات شته. نظر پوښتنې ډېرې جدي مه نیسئ، هغه ډېر ژر تېرېږي او بدلون مومي. [د حاضرینو خندا] کیلیدي موضوع دا ده، چې تاسو باید یو (اخلاقي) لوری موندونکی ولرئ. که تاسو لوری موندونکی ونه لرئ او د هوا له جهت سره حرکت وکړئ، تاسو نشئ کولای خلکو ته خدمت وکړئ. زه د مشهورېدو لپاره نه، بلکې د اغېزناک‌والي لپاره ټاکل شوی یم. خلک به زما مؤثریت او چلند ته په کتو زما په اړه قضاوت وکړي. زموږ خبرې حقیقت لري، خو دا چلند دی چې د باور رامنځته کېدو لامل ګرځي.

دویمه موضوع دا ده، چې افغانانو لویه پوهه وښوده. زه د هغوی پوهې ته د درناوي سرټیټوم. وګورئ، ۳۸ سلنه ښځو په ټاکنو کې ګډون وکړ. هغه مېرمنې چې د دېرشو کلونو لپاره له کورونو نه وې وتلې، له خپلو خاوندانو سره په موټر کې سپرې شوې او د رایو ورکونې مرکز ته ولاړې او رایې یې وکارولې؛ باید ووایو، چې هغوی په تېر کې هغه نارینه و، چې خپلو ښځو او لوڼو ته یې له کوره د وتو او د رایې کارولو اجازه نه ورکوله. هغوی څه غواړي؟ هغوی ولې د افغانستان په لرې پرتو سیمو کې له خپلو کورونو ووتل؟ سره له دې چې ما پیسې، رسمي ملاتړ او نور نه لرل، ولې خلکو په پراخ ډول په ټاکنو کې ګډون وکړ؟ په دې دلیل چې هغوی لوی بدلونونه غواړي!

په سیاسي علومو او نورو برخو کې داسې نظریه شته، چې خلک «خاموش اکثریت» دي. اوس دا درک شته، چې خلک خاموش اکثریت نه دی. باید ووایو، چې افغانان خاموشه نه دي. موږ غږ لرو او دا غږ ډېر لوړ او روښانه دی. هغه څه چې زموږ خلک غواړي د ځانونو لپاره یې نه غواړي، بلکې د خپلو اولادونو د متفاوت ژوند لپاره یې غواړي، هغوی په تېرو ۳۵ کلونو یو بېساری برۍ غواړي. په همدې اساس، زما لومړیتوبونه هماغه دي، چې خلک یې په ورځني، اونیز او میاشتني ډول په ژوند کې د تعادل راوستو په مفهوم غواړي. دا هماغه درک دی، چې ماته لارښونه کوي. فکر کوم موږ کولای شو پر ستونزو بریالي شوو، ځکه بل انتخاب نشته دی.

مایکل کېټېنګ:

د ټاکنو په اړه یو له تفسیرونو دا دی، چې خلکو په پوره زړورتیا د ناامنیو پر وړاندې رایې ورکړې. هغوی د هغه انتخاب د حق لپاره، چې درلوده یې رایه ورکړه. هغوی د خوندي راتلونکې لپاره رایه ورکړه. لطفاً د ټولو هغو تاوتریخوالو لپاره زموږ تأسف ومنئ، چې ترسره کېږي، موږ تر اوسه په وحشتناک ډول د تاوتریخوالي کچې زیاتېدو شاهدان یوو؛ دغه زیاتوالی د ملکي تلفاتو، د اردو او پولیسو د وژل کېدو او ټپي کېدو او د خلکو په بېځایه کېدو کې څرګند شوی دی. ستاسو په نظر د تاوتریخوالي زیاتېدا لپاره څه توجیه شته ده؟ دا یو تمایل دی یا اوج ته رسېدنه؟ حاضر دمه چې امنیت د هر شخص تر ټولو لومړی لومړیتوب دی، څه ډول کولای شو د تاوتریخوالي له دې اوج ته رسېدنې سره مقابله وکړو؟

جمهوررئیس غني:

لومړی، اجازه راکړئ یوه پرتلنه ولرم. تاوتریخوالي زېږونکې حرکتونه سولې ته له رسېدو وړاندې زیاتوالی مومي. که په نړۍ کې د سولې هوکړه‌لیکونو ته نظر وکړو، تر سولې وړاندې تاوتریخوالي تل صعودي بڼه لرلې ده. دا زیاتوالی په مذاکراتو کې د ځان په ګټه د فضا جوړول دي او هدف یې دا دی، چې د تاوتریخوالي او سولې ترمنځ اړیکه رامنځته کړي.

دویم، پر ملکیانو بریدونه د ځواک نښه نه، بلکې د کمزورۍ نښه ده. له یو ډارن شخص پرته بل څوک د والیبال په ډګر کې خلک وژني؟ ماشومان د خدای لپاره (وژني)! دا هماغه فلاکت یا بدبختي ده، چې موږ په کې غورځېدلي یوو. اسلامي تمدن د بشریت پراخ تعریف وړاندې کوي. موږ د یونان، هند او چین تمدنونه ژباړلي او نړۍ ته مو وړاندې کړي دي. آیا د والیبال په ډګر کې د ماشومانو وژل موږ ډاروي؟ موږ باید پوه شو، چې دغه عملونه د کمزورۍ نښه ده، نه د ځواک!

درېیم، هغوی یا بل هر څوک که احساسوي، چې د افغانستان دولت به راوپرځوي، زه تاسو ته یو خبر لرم؛ موږ پنځه زره کاله ژوند کړی او د پنځو زرو نورو کلونو لپاره به هم ژوند وکړو! زموږ په اړه غلط قضاوت ونه کړئ! [د حاضرینو چکچکې]

پر دې سربېره، موږ قاطع اراده لرو. موږ د یوه لومړیتوب په توګه د سولې په تړاو ملي اجماع لرو. تاوتریخوالي ته له یوه بل ځایه لارښوونه کېږي، څو موږ سولې ته د رسېدو له لارې منحرف کړي. موږ نه منحرف کېږو! سیاسي ستونزې باید په سیاسي ډول حل و فصل شي،

خو ځینې دغه ستونزې چې د تاوتریخوالي رامنځته کېدو ته ځانګړې شوې دي، حاشیې ته به یوړل شي. د اوبو هغه حوض به وچ شي چې [د تاوتریخوالي محرکین] په کې لامبي. راځئ چې یو روښانه دریځ ولرو.

زموږ امنیتي او دفاعي ځواکونه ـ لومړی ورته احترام اداء کوم ـ د هماغې دندې د ترسره کولو په حال کې دي، چې د آیساف او ناټو یو سل او پنځوس زره ځواکونو ترسره کوله؛ او د تېرو څلورو کلونو د وړاندوینو خلاف یې، دغه دنده په ښه ډول ترسره کړې ده. د افغانستان دوستانو او بدخواهانو! موږ امنیتي موخو ته د رسېدو په حال کې یوو. د آیساف ـ ناټو جنګي ماموریت د ۲۰۱۴ د ډسمبر په یو دېرشمه پای ته رسېږي. افغانان به یو وار بیا د مشروع قوې د استعمال مسؤولیت پر غاړه واخلي. د مشروع قوې د کارېدو د ټولو پرېکړو واک به له افغان حکومت سره وي، چې د تحرکاتو او اوسني تصور د بدلون لامل ګرځي ـ دغه تصور پای ته ورسېد، چې امریکایي ځواکونه دلته حضور لري، بهرنیانو افغانستان اشغال کړی او هغوی به دغه هېواد هېڅکله هم پرېنږدي. موږ مسؤولیت پخپله غاړه اخیستی او موږ یو منتخب حکومت یوو. پر منتخب‌والي سربېره، موږ یو ملي وحدت حکومت یوو، چې باید د ډېرو مسایلو ځواب ویونکي واوسو.

مایکل کېټېنګ:

ښاغلی جمهوررئیس! فکر کوم تاسو په هغو څرګندونو چې سوله راوستل لومړیتوب دی، د ډېری افغانانو روحیه لوړه کړې. د سارک په وروستۍ ناسته کې د یوه لومړیتوب په توګه د سولې په راوستو هم تاسو خبرې وکړې. همدا راز، تاسو زیاته کړه، چې ډېری مهال د سولې بهیر تر پیلېدو وړاندې تاوتریخوالی زیاتوالی مومي. آیا دا په دې معنی ده، چې د سولې بهیر تر یوې کچې ترلاسه کېدونکی دی؟ او آیا تاسو د سولې بهیر ته د تاوتریخوالي د پای ته رسولو په برخه کې د یوه بنسټیز عامل په سترګه ګورئ؟

جمهوررئیس غني:

د سولې بهیر د تاوتریخوالي پای ته رسېدو لپاره، بنسټیز اهمیت لري. زه نه غواړم د سولې بهیر په اړه یوه عمومي ډیپلوماسي ترسره کړم. دا بهیر باید یو سنجیده بهیر وي. موږ د سولې راوستو په لټه کې یوو؛ موږ نه غواړو د راوستو د څرنګوالي به اړه یې خبرې وکړو. موږ ته

وخت او د عمل ازادي راکړئ؛ پایلې به یې حتمي ووينئ.

مايکل کېټېنګ:

تاسو يو کنفرانس په بريالي ډول پای ته ورساوه، چې په هغه کې ملي وحدت حکومت د هېواد لپاره د يوه عالي فرصت په توګه وستايل شو. تاسو د لېږد د درېيو بهيرونو په اړه خبرې وکړې؛ اقتصادي، سياسي او امنيتي. داسې ښکاري، چې تاسو «اقتصادي لېږد» د يوه تر ټولو عاجل لېږد په توګه ياد کړی دی. ومو ويل، چې په هغه کې ډېر کم پرمختګ تر سترګو کېږي او يوه اندازه علت يې د پيسو د چټک جريان له وجې، ستونزه د بودجې دوامداره کسر او نور موارد وي. هغو لومړيتوبونو ته په پام چې تاسو يې لرئ او کارموندنې په برخه کې مو د خپلو ژمنو په اړه څه کارونه په پام کې دي ، له ستونزو سره د مبارزې او د هغو د تحقق لپاره مو څه اقدامات ترسره کړي دي؟

جمهوررئيس غني:

لومړی، اقتصاد له دې امله خراب شو، چې آيساف او ناټو زموږ د هېواد په تر ټولو لويو اقتصادي لوبغاړو بدل شوي وو. په همدې دليل، د يوه لوی پوځي سازمان غير قصدي حضور پخپله د اقتصاد د خرابېدو لامل ګرځي. د بېلګې په توګه، د ترانسپورټ برخې دومره وده وکړه، چې نږدې ۲۲ سلنه د کورنيو ناخالصو توليداتو ځواب ويونکی و، دا ځکه چې د بارونو او اکمالاتو لېږد د افغانانو له لارې ترسره کېده، همدا راز په ساختماني برخه کې يې هم زيات اغېز درلود. د کرنې هغه سلنه چې په ملي ناخالصو توليداتو کې رول لوبوي، د هر کال په تېرېدو کموالی مونډلی. افغانستان ته ډېرې پيسې راغلې، خو په «پانګونې» بدلې نشوې. همدا راز، زموږ د اقتصاد يوه برخه په لويه پيمانه «جرمي» شوې ده، چې هغه هم د نړيوالو جرمي شبکو يوه برخه ده. د هغه اټکل له مخې، چې په داووس[1] کنفرانس کې وشو، په نړيواله کچه جرمي اقتصاد ۱,۷ تريليون ډالره دی. د نشه‌يي توکو له جرمي اقتصاد څخه ترلاسه کېدونکې زياته ګټه د نړيوالې مافيا جيبونو ته ځي.

له دغو ټولو ځانګړنو سره، کله چې موږ د امنيتي مسؤوليتونو د لېږد بهير پيل کړ، په يوې ليکنې کې مې استدلال وکړ، چې د افغانستان اقتصاد ښايي له عمده ستونزو سره مخامخ شي.

---

[1] د نړيوال اقتصادي فورم غونډه (World Economic Forum) د سوئيس په داووس ښار کې په کلني ډول ترسره کېږي.

متأسفانه، په انکشافي ټولنه کې زموږ همکارانو زما دلايلو او خبرو ته پام ونه کړ. هغوی ډېر خوشبين وو او وړاندوينې يې لرلې. ما استدلال وکړ، چې ښايي د ودې نرخ [1] دوه سلنې يا نږدې سفر ته ورسېږي، چې همدا اوسمهال يې شاهدان يوو.

مايکل کېټېنګ:

فکر کوم، اوس به (د ودې نرخ) ۱,۵ سلنه وي.

جمهوررئيس غني:

دقيقاً ۱,۵ سلنه. په همدې اساس، اوس بايد موږ څه کار وکړو؟ لومړۍ موضوع دا ده، چې د مارکېټ‌جوړونې بهير ډېر کمزوری دی. انکشافي نړيواله ټولنه د خصوصي سکتور په اړه داسې خبرې کوي، چې هغه يوه بنيادي پديده ده او هر چېرته حضور لري. مارکېټ‌جوړونه يو تاريخي بهير دی. په بريتانيا کې تاسو شاهدان وئ، چې څه ډول ازادي پر کاريګرو اتحاديو د وضع شويو محدوديتونو د له منځه وړو له امله ترلاسه شوه، دا ځکه چې مدني حقونه پر سياسي حقونو مخکې دي.

موږ بايد هغو ستونزو ته پام وکړو، چې مارکېټ يې د حل کولو ځواک ولري. لوی ظرفيت او پوټېنشيل شته دی. د بېلګې په توګه، اټکلونه ددې ښودنه کوي، چې د کابل ۷۵ سلنه اوسېدونکي ددې پر ځای چې د ملکيتونو بشپړو حقونو ته لاسرسی ولري، د غيررسمي مالکيتونو حقوق لري، په داسې حال کې چې په ۱۹۷۸ ز کال کې د هغو خلکو کچه چې د غير رسمي مالکيتونو حقوق يې درلودل له پنځه سلنې نه زياتېدل. راتلونکې کال موږ خلکو ته همالته چې اوسېږي د بشپړو ملکيتونو د حق ورکړې پروګرام پيلولو هوډ لرو. فکر کوم دا ستونزه حل کېږي او موږ به د يوه بېساري پرمختګ شاهدان واوسو.

مايکل کېټېنګ:

دا بهير په لاتينه امريکا کې ازمويل شوی دی.

جمهوررئيس غني:

---

[1] Rate of Growth.

دا بهير په لاتينه امريکا کې ازمويل شوی، خو په کمه کچه. موږ دا بهير په داسې ډول ترسره کوو، چې د لاتينې امريکا او نورو له زده شويو درسونو په کې استفاده وشي. زما دوست ډيسوټو[۱]، دا تئوري مطرح کړې ده. فکر کوم د هغه او نورو په مرسته کولای شو هماغه کچه چې ډېره مهمه ده، خپلې موخې ترلاسه کړو.

دويم عامل، د افغانستان د شتمنيو ارزونه ده. په لومړي مرحله کې، ټول غواړي زموږ د منرالونو په اړه خبرې وکړي. زه غواړم دا پروسه معکوس کړم. موږ اول غواړو د خپل جغرافيايي موقعيت په اړه خبرې وکړو. زموږ موقعيت د تېرو دوه سوه کلونو لپاره په خبرو بلل کېده، خو په راتلونکو شلو کلونو کې، زموږ موقعيت د سرو زرو ارزښت لري. د سويلي او مرکزي آسيا ترمنځ د ټولو لارو نښلېدل يوازې د افغانستان له لارې امکان لري. موږ کولای شو ختيځې آسيا ته د لېږد نقطه [د ترانزيټ مرکز] هم واوسو.

مايکل کېټېنګ:

يعنې دی يوې څلورلارې په توګه!

جمهوررئيس غني:

د يوې څلورلارې، د آسيا څلورلارې په توګه! په همدې اساس، موږ لومړنی ملي زېربنايي پروګرام پيلوو، څو اتصال ته نږدې شو. دا بهير د ځواک او وړتيا رامنځته کېدو لامل کېږي. موږ له نظري عملي لوري ته ګامونه پورته کړي. د مرکزي آسيا او سويلي آسيا د اتصال په برخه کې؛ کاسا زر هغه پروژه ده، چې د برېښنا انرژي له قرغېزستان څخه تاجکستان، افغانستان او په پای کې پاکستان ته لېږدوي. ددې پروژې طرحه او هوکړه‌ليک لاسليک شوی او پر هغه د پانګونې لپاره ۱،۲ ميليارد ډالر ځانګړي شوي دي. موږ په دې هڅه کې يوو، چې خپل يو تر ټولو مهم سيند د برېښنا انرژۍ د توليد او اتصال په يوې سرچينې بدل کړو.

اوبه، زموږ دويمه پانګه ده. موږ پنځه سيندونه لرو. له چين پرته، موږ هر ګاونډي ته اوبه برابرو، خو په عصري مديريت موږ تر اوسه ايله له لس سلنه اوبو څخه ګټه اخلو. موږ په

---

۱ Hernando de Soto Polar: د پېرو (هېواد) يو اقتصادپوه دی، چې پر غير رسمي اقتصاد او د کسب و کار د حقوقو په اهميت د کار کولو له امله پېژندل شوی دی. هغه په ۱۹۴۱ ز کال کې زېږېدلی، د پېرو په ليما کې د (ILD) ازادۍ او ډيموکراسۍ مؤسسې رئيس دی.

کلنې ډول له اته سوه میلیون تر ۱،۵ میلیارد مترمکعب اوبه د سیلابونو او وچکالۍ له امله له لاسه ورکوو. په همدې اساس د اوبو مدیریت او مهارول د هېواد یوه حیاتي موضوع ده. پر دې سربېره، د شلو بندونو د جوړېدو بهیر چې ټول یې زموږ د هېواد په سیندونو جوړېږي، کولای شي د هېواد د اوبو په مدیریت کې اغېزناک واقع شي.

درېیم، موږ پیسې لرو، خو پیسې مو «پانګه» نه ده، ځکه چې د سوداګریزو تاسیساتو (شرکتونو) په جوړولو کې ترې هېڅ راز کار نه دی اخیستل شوی. دا د خصوصي سکتور حاشیې ته وړل او د جلا کولو په معنی نه ده، بلکې د کوچنیو، منځنیو او لویو شرکتونو جوړېدو په معنی ده. موږ په یوې وسیلې د بودجې د بدلېدو په حال کې یوو. زموږ بودجه څلویښت سلنه د هېواد کورني ناخالص تولیدات جوړوي، خو له هغو څخه د اقتصادي فعالیتونو د رامنځته کېدو لپاره استفاده نه ده شوې. له بل لوري د عرضې او تقاضا ترمنځ یوه انتزاعي رابطه شته ده. په پای کې موږ غواړو، چې له نوې هوکړې وروسته یو شمېر پراخ کاري پروګرامونه پلي کړو. د هغو کارونو او هغو تګلارو په ترکیب سره، چې موږ له نورو زده کړي، کولای شو ستونزې له منځه یوسو او اقتصادي فعالیتونه پیل کړو.

مایکل کېټېنګ:

د افغانستان ګاونډیان له څه کم و زیات ۳۶ کاله جګړې وروسته ښایي یوې انګېزې ورکولو ته، چې افغانستان ـ ستاسو د یادونې په اساس ـ هغه ځای دی، چې کولای شي په هغه کې په خوندي ډول پانګونه وکړي او نه یوازې ددې هېواد خلک، بلکې ګاونډي هېوادونه هم کولای شي له هغو سرچینو ګټه واخلي چې په افغانستان کې شته دي. آیا تاسو فکر کوئ، چې هغه اندېښنې، تعبیرونه او اوږدمهالي لیدلوري، چې افغانستان ته د یوه ستونزمن هېواد پر ځای د یوې ګډې زېرمې په توګه وکتل شي، اسانه کار دی؟

جمهوررئیس غني:

په دې برخه کې بېلابېل اړخونه موجود دي.

لومړی ـ باید ووایم، چې موږ (په نړۍ کې) یوازې د خطر یوه سرچینه نه یوو.

مایکل کېټېنګ:

دا رښتیا ده.

جمهوررئیس غني:

پخوانیو تجربو ښودلې، چې زموږ سرنوشت له یو بل سره تړلی دی. که تاسو «دولتي نظام» په پام کې ونیسئ، دولتونه د یوه نړیوال نظام جوړونکي واحدونه دي. کله چې یو دولت یا د هغوی یوه ډله جلا شوې او د غیر دولتي لوبغاړو په څېر یې چلند کړی، دغه بهیر د ټول نړیوال نظام د کمزورۍ کېدو لامل ګرځېدلی دی.

دویم ـ یو راپرځېدلی یا ناکام دولت، خپلې کمزورۍ یا زیان لیدلې نقطې څرګندوي او دغه څرګندونې پراختیا مومي. موږ یو له هماغو شرایطو کې واقع یوو؛ دا موضوع د سوریې، عراق، لیبیا او یمن په اړه هم صدق کوي. اوس نشو کولای خطرونه له پامه وغورځو. وړاندې تر دې د «ښه» او «بد» په نوم ترهګر وېشل کېدل او د هغوی ملاتړ کېده. په همدې اساس، اوسمهال دا درک د ظهور په حال کې دی، چې ګواښونه ګډ دي او یوازې د یوه هېواد عکس‌العمل بسنه نه کوي. نشو کولای د یوه هېواد یا یوې قارې شاوخوا کلا جوړه کړو. په همدې اساس، زه دغه زمینه د یوې نوې مرحلې پیل بولم.

درېیم ـ د پخواني شوروي اتحاد پاشلتیا او د مرکزي آسیا اوسنی پرمختګ له سرچینو څخه د استفادې امکانات او زمینه برابروي، هغه امکانات چې وړاندې نه و برابر شوي. موږ له پخواني «تېر» سره د نوې نښلېدنې په حال کې یوو.

فردریک ستار[۱] د «ورکې شوې روښانتیا»[۲] په نوم یو ښکلی کتاب لیکلی؛ غواړم په اړه یې تاسو ته یو څه ووایم. دغه کتاب له میلاد څخه وړاندې له درېیمې تر دولسمې پېړۍ پورې د مرکزي آسیا په تړاو موضوعات بیانوي. د کتاب متن ښيي، چې مرکزي آسیا تر کومې کچې له اقتصادي او فرهنګي اړخونو له یو بل سره نښتې وه او اقتصاد او فرهنګ څومره یو پر بل متقابلې اغېزې لرلې. په همدې اساس، زموږ ژور جوړښت موږ ته دا وړتیا راکوي، چې بیا یې پیل کړو.

په همدې دلیل د څلورلارې په اړه زموږ خبره، نوې موضوع نه ده. په څلورلارې بدلېدل د

---

۱ S. Fredrick Starr.

۲ Lost Enlightenment.

عملي کېدو په حال کې دي او دا موږ ته فرصت برابروي، چې بیا سره ونښلېږو.

مایکل کېټېنګ:

تاسو په (لندن کنفرانس) کې د سوریې او اوکراین په اړه خبرې وکړې. یوې موضوع چې زما توجه جلب کړه او نن [د لندن کنفرانس] د ځینو خبرو په اورېدو، زه له وړاندې لا ډېر متیقین شوم دا ده، چې د نړیوالو ګټو راټولول تر کومې کچې د ملي وحدت حکومت په بریالیتوب کې رول لري. تاسو نشئ کولای دا موضوع د ډېرو نورو هېوادونو په پرتله...

جمهوررئیس غني:

په نورو هېوادونو کې ملي وېش موجود وي، خو زموږ په هېواد کې ملي وحدت حکومت. [خندا]

مایکل کېټېنګ:

هو. تاسو وویل، چې په خبرو نه، بلکې په عمل او هغو اقداماتو قضاوت وکړئ چې تاسو یې ترسره کوئ. تاسو د هغو خنډونو په اړه چې د کار په پیل کې مو موجود وو لکه کابلبانک، د امریکا متحده ایالتونو سره دوه اړخیزه هوکړه‌لیک او نور په چټکۍ تېر شوئ. خو دې هېواد په تېر کې هم د ائتلافي حکومت د جوړېدو تجربه لرله، چې البته اسانه کار نه دی. هغو ستونزو ته په پام چې د پرېکړې پر مهال ورسره مخ کېږئ، فکر کوئ تر ټولو لوی خنډ چې د یووالي ساتلو په برخه کې ستاسو پر وړاندې شته کوم دی؟

جمهوررئیس غني:

فکر کوم زموږ پر وړاندې احتمالي خطرونه لږ دي. د بنسټونو په واک کې لرل، هم د ځواک او هم د کمزورۍ یوه نقطه ده؛ ځکه کله چې تاسو هغه بنسټونه ولرئ چې له وړاندې رامنځته شوي، پر اصلاحاتو هوکړه ستونزمن کار دی.

مایکل کېټېنګ:

یعنې اصلي خبره د کار وړ او ځواب ویونکو بنسټونو ده؟

جمهوررئیس غني:

بلکل، خبره د کار وړ او ځواب‌ویونکو بنسټونو ده. موږ دواړه ـ زه او ډاکټر عبدالله ـ د فساد پر وړاندې مبارزه کې پر صفر زغم پالیسۍ ټینګار لرو؛ هغه څه چې موږ به یې په یو ځایي ډول پخپل کاري دستور بدل کړو. بله موضوع احتمالي خطرونه دي، هماغسې چې تاسو ورته اشاره وکړه او همدا راز ګواښونه دي، چې موږ ورسره مخ یوو او دغه څه موږ اړباسي چې پر اړینو موضوعاتو تمرکز وکړو، نه پر سطحي. په همدې اساس زه بشپړ باوري یم چې کولای شو ستونزې حل کړو. پربېږدئ هغه مشهور شک چې اشرف غني یو تونډخویه شخص دی، ثابت شي. [خندا]

مایکل کېټېنګ:

یوه دقیقه وروسته به حاضرینو ته چانس ورکړو. هیله ده پوښتنې مو تیارې کړئ.

[جمهوررئیس غني ته خطاب:] دا چې پوښتنې هم اخلئ، مننه کوم.

## پوښتنې او ځوابونه:

مایکل کېټېنګ:

ستاسو له حضور څخه خلک خبر وو، نو موږ یو شمېر پوښتنې ترلاسه کړې دي. یوه له دغو پوښتنو چې غواړم له تاسو یې وپوښتم دا ده، چې «چین» د ملي وحدت حکومت په بریالیتوب کې او ستاسو پر وړاندې شته اقتصادي او امنیتي خنډونو ته د رسېدو په برخه کې څومره اهمیت لري؟

جمهوررئیس غني:

افغانستان د پنځو کړیو د یو ځای کولو په نقطه کې قرار لري، چې عبارت دي له: د افغانستان ګاونډي هېوادونه؛ اسلامي نړۍ؛ غرب، استرالیا او جاپان؛ آسیا؛ نړیوال سازمانونه او شرکتونه. چین په دوه کړیو کې ځای لري. چین او هند د بشري تاریخ په مختلفو مرحلو کې بېساری روایت لري. په دې هېوادونو کې سلګونه میلیونه کسان له بېوزلۍ ژغورل شوي دي. څلور سوه میلیونه کسان په چین او نوي میلیونه کسان په هند کې ددې هېوادونو منځنۍ قشر جوړوي. په بل عبارت، موږ د درې میلیارد کسانو په منځ کې ځای لرو. د افغانستان اقتصادي

وده په هر ډول چې کېږي باید ددې مارکېټ پر لوري تنظیم شي، چې یو ډېر معقول کار دی.

دویم؛ د جمهوررئیس شي جینګ پینګ[۱] د وربښمو لارې کمربند پروژه، چې په دې اړه موږ ورسره مفصل بحث کړی دی، په ګاونډیو هېوادونو کې د چین د ودې لپاره لار پرانېزي. که تاسو سویلي آسیا ته پام وکړئ، د دغې سیمې هېڅ هېواد له عامل‌محور ودې[۲] مرحلې نه دی بهر شوی. د یادونې وړ ده، چې وده په درېیو مرحلو وېش کېږي؛ عامل‌محور، مؤثریت محور[۳] او نوښت محور[٤]. د هند په ګډون د سویلي آسیا هېڅ هېواد د مؤثریت محور مرحلې ته نه دی رسېدلی. چین د مؤثریت په محور او سنګاپور د نوښت محور په مرحله کې ځای لري. دا موضوع موږ ددې وړ ګرځوي، چې اقتصادي تنوع ولرو، دا ځکه چې د معدني سرچینو د ارزښت په کړیو کې، کرنه او نورې سرچینې چې موږ پر هغوی کار کوو، چین په کې یو عمده عامل ګڼل کېږي. او دویم دا چې چین زموږ دېوال په دېوال ګاونډی دی.

مایکل کېټېنګ:

ښاغلی جمهوررئیس! لطفاً واخان دهلېز مه خرابوئ. [د حاضرینو خندا]

جمهوررئیس غني:

تاسو زموږ اقتصادي راتلونکې مه خرابوئ! [د حاضرینو خندا]

ستاسو په څېر کسان ـ دا چې دغه عبارت کاروم، ښښنه غواړم ـ موږ ته ډېر ښه نصیحت کوي، خو پخپله د چاپېریال ساتنې د نابودۍ لامل ګرځي. لطفاً د نړۍ د ککړولو مخه ونیسئ او وروسته له ما وغواړئ چې د واخان دهلېز ساتنه وکړم. تاسو ته یو وړاندیز لرم، یوه هوکړه کوو؛ تاسو زموږ د لمر یوه اندازه وپېرئ او په بدل کې یې موږ ته یو څه باران راکړئ! [خندا]

مایکل کېټېنګ:

---

[۱] Xi Jingping: د چین ولسي جمهوریت رئیس.

[۲] Factor-driven.

[۳] Efficiency-driven.

[٤] Innovation-driven.

ښايي وکولای شو په دې برخه کې هوکړې ته ورسېږو.

جمهوررئيس غني:

بلکل، موږ به په سم ډول د واخان دهلېز ساتنه وکړو او موږ په بشپړ ډول دې کار ته ژمن يوو. خو د «اتصال» موضوع ځانګړې اهميت لري او موږ بايد وکولای شو ورته ورسېږو. بالاخره له کسپين څخه چين ته د ترکمنستان د ګازو نلليکه، بنسټيزه موضوع ده او موږ د هغه پر اساس ځانونه عياروو.

پر دې سربېره، چين د زېربنا په برخه کې عالي تجربې لري. که تاسو زېربناوو ته پام وکړئ، په راتلونکو شلو کلونو کې به (په نړيواله کچه) په زېربنايي برخو کې له ۳٦ تر ۷۰ ټريليون ډالر پانګونه وشي، چې د هغه عمده برخه به د آسيا په قاره کې مصرف شي. موږ غواړو خپلې ملي زېربناوې جوړې کړو او چين به په دې برخه کې له موږ سره يو ځای شي او همکاري به مو وکړي. تر هغه وروسته، زموږ معدني پانګه د [اتصال او زېربناوو] دواړو په برخه کې لازمي ده. له ترانسپورټي دهلېزونو بايد استفاده وشي. د معدني پانګې په اړه، اړتيا ده له ترانسپورټي دهلېزونو ګټه واخيستل شي.

مايکل کېټېنګ:

يوه موضوع چې تاسو پرې ډېرې وخت ټينګار کوئ دا ده، چې د افغانستان تر ټولو غوره پانګه ددې هېواد انساني او په ځانګړي ډول مېرمنې دي.

جمهوررئيس غني:

هو.

مايکل کېټېنګ:

ځينې داسې استدلال کوي، چې د چين پانګونه، د بېلګې په توګه په افريقا کې ګټوره نه وه؛ په هغه ډول يې کولای شول د انساني پانګې پر تقويت يې تمرکز کړی وای، خو ځينې مهال ان دغه پانګه حاشيې ته وړل شوې.

جمهوررئيس غني:

زه په لاتينه امريکا کې د چين د پانګې په اړه معلومات لرم، ډېره ګټوره ده. موږ يو افريقايي

هېواد نه یوو، ځکه چې موږ خپل سرنوشت پخپله ټاکو. موږ هېڅاته دا حق نه ورکوو، چې اقتصادي سرنوشت مو وټاکي، بلکې پخپله يې ټاکو. دا یو مشارکت دی. د کانونو د استخراج غربي شرکتونه په ټوله نړۍ کې ناخوښۍ چند لري او موږ له هغه درسونه زده‌کړي دي. ځینو دغو شرکتونو ته پام وکړئ، چې د سازماني مسؤولیتونو خبرې کوي، خو د هغوی تاریخچه د نورو په وینو او درد لیکل شوې ده. موږ غواړو له دغه ډول شرکتونو لرې واوسو، دا ځکه چې کلیدي موخو ته رسېدل اړین دي. په همدې اساس، دا موضوع مطرح نه ده، چې کومه کمپنۍ له کوم ځایه راځي، مهمه دا ده، چې له موږ سره په کومو شرایطو او طریقه کار کوي.

مایکل کېټېنګ:

دا د قانون حاکمیت په برخه کې هم مطرحه ده؟

جمهوررئیس غني:

تاسو سم وایئ، د قانون حاکمیت هم بشپړ اړین دی.

مایکل کېټېنګ:

اجازه راکړئ حاضرینو ته فرصت ورکړو. دوه یا درې پوښتنې اخلو.

لومړۍ پوښتنه:

ویلیام پټي[1]: ښاغلی جمهوررئیس! خوښ یم چې تاسو ته په دې نوم خطاب کوم. تاسو ته د ټاکل کېدو مبارکي وایم. له هغه وخته چې افغانستان مې پرېښی، هېڅ څه هم دومره خوشبینه کړی نه یم، لکه ستاسو ټاکل کېدو. لطفاً له زړه زما مبارکي ومنئ.

هر کله چې د افغانستان په اړه خبرې کوم، یوه موضوع چې تل له ما پوښتل کېږي او زه هڅه کوم خپله خوش‌بیني وساتم، له افغانستان سره د نړیوالو مرستو د اهمیت په اړه ده، چې له تاسو سره مرسته کوي، څو خپلو موخو ته ورسېږئ. تاسو همدا اوس لندن کنفرانس پای ته ورساوه، چې له افغانستان سره د پخوانیو ژمنو د بیا تازه کولو په موخه جوړ شوی و. آیا د (لندن) کنفرانس له پایلو راضي یاست او آیا باوري یاست چې له نړیوالو په هماغه کچه

[1] William Patey: د ۲۰۱۰-۲۰۱۳ کلونو په منځ کې په کابل کې د بریتانیا سفیر.

مرستې ترلاسه کړئ، چې تاسو ورته له پنځو تر لسو راتلونکو کلونو کې اړتیا لرئ؟

جمهوررئیس غني:

ښاغلی ویلیام له تاسو مننه. له تاسو سره په لیدو خوشاله یم. مننه له هغو خدمتونو چې خپل او زما هېواد ته مو ترسره کړي دي. تاسو مې په ډېرې لېوالتیا په یاد پاتې یئ، لطفاً بیا افغانستان ته راشئ [د حاضرینو خندا]. زه په تاسو نشم تحمیلولی چې بیا د بریتانیا سفیر شئ، مګر د یوه دوست په توګه افغانستان ته راشئ. موږ په ډېره لېوالتیا، له دندې وړاندې او وروسته ستاسو او ستاسو د همکارانو شخصیت په یاد لرو.

هو، زه په ډاډ د افغانستان په تړاو له ژمنو راضي یم. پر دې سربېره، د یوه سیاسي جوړښت لپاره چې موږ رامنځته کړی او د اصلاحاتو یو بهیر مو پیل کړی، د باور رایې له ترلاسه کولو راضي یم. راتلونکې زموږ د کارونو سرته رسولو له څرنګوالي سره تړلې ده. دا یو طرفه اړیکه نه ده. راځئ یو بنسټیز حقیقت ومنو؛ هوکړه وکړو؛ د پرمختللو هېوادونو خلک ـ تمویلوونکي یا ډونران ـ ستړي شوي دي. که خدای‌نخواسته دوه کاله وروسته افغانستان د روڼتیا نړیوال سازمان[۱] په درجه بندۍ کې وروستی ځای ونیسي، تازه مرستې به نه وي او دا به د هېڅا لپاره د زغملو نه وي. که موږ د خپلو ژمنو پوره کولو لپاره بریالی عمل ونه کړو، مرستې به نور دوام ونه مومي. په همدې اساس وضعیت بشپړ درک کوو.

هغه دلیل چې زه وایم موږ باید پخپلو ستونزو اعتراف وکړو، همدا دی. موږ به په حکومت کې د اصلاحاتو بهیر پیل کړو. فکر کوم ډېر وخت به تېر نشي، چې مرستندویه سازمانونه به په موږ پسې منډې ووهي او راته به ووایي، چې موږ تاسو ته ډېرې مرستې درکوو، لطفاً د اصلاحاتو بهیر ودروئ. جدي وایم! [خندا]

دویم؛ هېڅ هېواد په مرستو نه دی مالداره شوی. باید ووایم، له یوه لوري پانګونه او سوداګري او له بل لوري بنسټونو ته لاسرسی کولای شي د بدلونونو راوستو لامل وګرځي. هغه بېوزلي چې زموږ ۳٦ سلنه خلک ورسره لاس و ګرېوان دي، د یو ډالر او پنځه ویشتو سنتو ورځنیو عوایدو په اساس یې ژوند برابر کړی، چې له اتو کلونو راهیسې په همدې ډول پاتې دی. څه ډول کولای شو له یو ډالر او پنځه ویشتو سنتو په کمو ورځنیو عوایدو ژوند وکړو؟ په ورته

[۱] Transparency Internationl.

مهال زموږ ځینې هېوادوال یوازې د واده په مراسمو کې دوه میلیونه ډالر مصرفوي! دغه فاصله د زغملو نه ده.

له همدې اړخه، شتمنی باید مشروع شي. دا زموږ لومړنی موخه ده او موږ یې عملي کولو ته ژمن یوو. تکراروم؛ یوه نجیبه حلقه شته چې د افغانستان په تړاو د «وړاندیز شوي ارزښت»[۱] د لوړولو او د ټولنې د مختلفو قشرونو د ژوند کچې ښه‌کولو لپاره زموږ اصلاحات او چلند په کې شامل دي. اجازه راکړئ په یو بل ډول یې بیان کړم؛ اوسمهال د برنډېنګ[۲] [: اعتبار ښلو] موضوع مطرح ده. د تېر خلاف چې زموږ برنډ[۳] [: اعتبار] له ستونزو سره مخ و، نن شهرت موندلی دی. موږ باید دغه مخ او شهرت وځلوو. هغه مهال چې دغه کار ترسره شي، مرستې به را ورسېږي. خو تر مرستو وړاندې به د پانګونې، ترانزیټ او سوداګرۍ زمینه برابره شي.

ښاغلی ویلیام! د هوساینې او خوشبختۍ کیلي په بهرنیو مرستو پورې نه، بلکې په سیمه‌ییزې اقتصادي همپالنې پورې تړلې، چې موږ ته ځانګړې پاملرنه لرو.

دویمه پوښتنه:

ښاغلی جمهوررئیس! تاسو د خپل اصلاحي پروګرام په اړه خبرې وکړې، چې «غوره» برېښي...

جمهوررئیس غني:

کله چې څوک وایي، غوره ښکاري، پوهېږم چې وروسته څه پېښېږي! [د حاضرینو خندا]

د دویمې پوښتنې دوام:

دا چې ټول کارونه تاسې کوئ، په اوږدو یې زه ستړی شوم.

... آیا اساسي نه ده، چې تر بل هر ګام وړاندې، کابینه ولرئ؟

---

[۱] Value proposition: وړاندیز شوی ارزښت. د سوداګرۍ د مدیریت اصطلاح ده او د یوه تائید شوي ارزښت په اړه د ورکړل شوې ژمنې د مفهوم په معنی ده.

[۲] Branding.

[۳] Brand.

جمهوررئیس غني:

موږ اعلان کړی، چې زموږ کابینه له دوو تر څلورو اونیو کې جوړېږي.

د دویمې پوښتنې دوام:

سمه ده. غوښتل مې له تاسو بله پوښتنه ولرم: تاسو د عراق او هلته د شته ستونزو یادونه وکړه. موږ په تېرو دوو اونیو کې په افغانستان کې د بریدونو د زیاتوالي شاهدان یوو. آیا نړیواله ټولنه له وخت وړاندې افغانستان نه پرېږدي، یا تاسو ته کافي سرچینې او پانګه پر ځای پرېږدي، څو له اوسني امنیتي وضعیت سره مقابله وکړئ؟

جمهوررئیس غني:

نړیواله ټولنه د یوه زماني جدول پر اساس افغانستان پرېږدي؛ خو باید ووایو چې هغوی افغانستان نه پرېږدي. موږ وړاندې، کله چې ما د امنیتي مسؤولیتونو د لېږد بهیر رهبري کاوه، په دې برخه کې هوکړې ته رسېدلي وو. ښاغلی ویلیام هغه مهال په افغانستان کې و. ټول څه د زماني جدول پر اساس پرمخ ځي. پرون د بلجیم په بروکسل کې د غوڅ ملاتړ په پروګرام هوکړه وشوه. موږ د اړیکو نوې مرحلې ته داخل شوي یوو، چې د تېر په پرتله څو برابره دي. لومړی دا چې افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو ته د مالي سرچینو د برابرولو ژمنه ده او په دې برخه کې هم ډاډ ورکړل شوی دی. په دې ژمنتیا کې غیر پوځي ماموریت لکه روزنه، مشورې او مرستې شاملې دي. که زموږ تاریخ ته وګورئ، تېر دیارلس کاله په بشپړ ډول غیر معمول تېر شوي دي؛ په تېر کې همدا موږ افغانان وو، چې د نورو امنیت مو ټینګوه او مرستو ته مو اړتیا نه لرله. اوس زموږ امنیتي بنسټونه په کافي کچه ځواکمن شوي او ددې وړتیا لري، چې خپله هېوادنۍ وجیبه په ښه ډول ترسره کړي. یوازې یو ساده حقیقت بیانوم، د افغانستان د ملي اردو هر یو غړی، د افغانستان د ملي پولیسو هر یو غړی، داوطلب افغانان دي. د اردو او پولیسو په لیکو کې حضور په هېچا هم نه دی تحمیل شوی.

هو، له تلفاتو سره مخ کېدل ډېر سخت دي. کله چې د قانون د تطبیق موضوع مطرح کېږي، ښایي زموږ پولیس له ستونزو سره مخ وي؛ خو باید وویل شي چې موږ د ډېرو داسې مواردو شاهدان یوو، چې زموږ بېسارو زړورو پولیسو ځانمرګي بریدګر په غېږ کې نیولي دي! یو ځل دوه ځله نه، بلکې په ځلونه یې د نورو د ژغورنې لپاره خپل ځانونه قرباني کړي دي. دا کار د هېوادنۍ مینې ژور احساس ښیي؛ هماغه احساس چې پرې حساب کوو.

که څه هم په دې برخه کې د شک او بدبینۍ ځای شته، خو موږ دغه احساس په بشپړ ډول درک کړی دی. څلور کاله وړاندې، ډېری ژورنالېستانو داسې متونه ولیکل، چې نن به افغانستان سقوط کړی وای! خو موږ سقوط ونه کړ او وبه یې هم نه کړو.

درېیمه پوښتنه:

ستاسو او پخواني حکومت ترمنځ توپیر څه دی؟ په بله وینا، تاسو غواړئ څه کار ترسره کړئ، چې پخواني دولت نه دی ترسره کړی؟ تر ټولو مهمه دا چې د کوکنارو او هیروئینو په اړه، که په واضح ډول ووایم، د نشه‌يي توکو د تولید اړتیا وړ خام توکي. له هغه ځایه چې افغانستان په نړۍ کې د نشه‌يي توکو تر ټولو لوی برابرونکی دی، د نشه‌يي توکو د کر کیلې مخنیوي لپاره به څه لارې چارې عملي کړئ؟

څلورمه پوښتنه:

څو شېبې وړاندې مې په هغه کنفرانس کې حضور درلود، چې په هغه کې دېوېډ کامرون[1] او جان کېري[2] ستاسو له لوري د فساد پر وړاندې اخیستل شوي گامونه ـ په ځانگړي ډول د کابلبانک دوسیې بیاپرانستل ـ وستایل. کله به د یو داسې دولت شاهدان واوسو، چې له یو جگپوړي وزیر څخه [د فساد په تړاو] پوښتنې گروېږنې وشي؟ دا کار کولای شي له مجازاتو د معافیت فرهنگ پای ته رسېدل وي؛ ځکه چې په تېرو دیارلسو کلونو کې، ان د حکومت یو جگپوړی غړی د فساد له امله له عدلي او قضایي څار سره نه دی مخ شوی او مجازات شوی نه دی.

پنځمه پوښتنه:

ډاکتر غني! غواړم لندن او همدا راز چاتم‌هاوس ته ستاسو راتلو ته ښه راغلاست ووایم. غواړم له تاسو د افغانستان د ستراتېژیک جغرافیایي موقعیت په اړه پوښتنه وکړم. له امریکا متحده ایالتونو سره د دوه اړخیزه هوکړه‌لیک او له ناټو سره د ځواکونو د وضعیت هوکړه‌لیک په لاسلیکېدو سره تر کومې کچې د افغانستان د «بې طرفۍ» دودیزه پالیسي له گواښ سره مخ

---

[1] David Cameron: د بریتانیا لومړی وزیر.

[2] John Kerry: د امریکا متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزیر.

شوې ده؟ په حقيقت کې امکان لري دا کار په نړۍ کې د افغانستان د غږ د راښکته کېدو لامل وګرځي. د بې‌طرفۍ پالیسي یو قوي او پر اصولو ولاړ موقف و او تاسو هغه په یوه کمزوري موقف تبادله کړ.

جمهوررئيس غني:

اجازه راکړئ په معکوس ډول پوښتنو ته ځوابونه ووایم:

لومړی ـ غواړم وروستۍ پوښتنې ته ځواب ووایم. افغانستان به د همکاریو بستر برابر کړي، «بې‌طرفي» د ۱۹۵۰ کلونو اصطلاح ده. آیا اوس هم کولای شو په ۲۰۱۴ کال کې له دې پالیسۍ څخه استفاده وکړو؟ فکر کوم تاسې د موضوع د اړخونو په ارزولو، باید خپله پوښتنه بېرته واخلئ ځکه نننۍ نړۍ متفاوته ده.

موږ د نښلېدو یوه نقطه یوو. موږ غواړو داډ ترلاسه کړو، چې د جګړې یو ډګر نه یوو او ددې موضوع په تړاو بې‌اعتنا هم نه پاتې کېږو. موږ هره ورځ قرباني کېږو؛ تاسو فکر کوئ دا قرباني کېدل د «بې طرفۍ» لپاره دي؟! موږ باید ډاډ ترلاسه کړو چې ټوله نړۍ سره یو شي. زموږ ټرلې نړۍ موږ په بې‌طرفه، ښي، کیڼ، سرو او شنو اړخونو نشي وېشلی. دا زموږ له یو بل سره د ټرلې نړۍ لپاره د همپالنې یوه اړینه کړنلاره ده. موږ د سولې، ثبات او هوساینې پر اساس د سیمه‌ییز قرارداد قوي مدافعین یوو. د آسیا د تقاطع نقطې په توګه زموږ موقعیت موږ مجبوروي، چې پر دې موضوع غور وکړو. له منفي اړخه، د نړیوالتوب له امله زموږ زیانمنېدل موږ دې ته مجبوروي، چې متحدین ولرو او دا کار په نړۍ کې زموږ او زموږ د خلکو د ساتنې لپاره دی.

له همدې اړخه، موږ په نویو شرایطو کې قرار لرو، چې د هغه پر اساس غواړو باوري شوو، چې لومړی به زموږ له خاورې د ګاونډیو پر وړاندې استفاده نه کېږي او زه تاسو ته ډاډ درکوم، چې دا کار به ونشي. دویم، موږ هېڅاته اجازه نه ورکوو، چې زموږ له خاورې د نیابتي جګړو د پرمخ وړو لپاره استفاده وکړي. موږ د نورو د لوبو توکي نه یوو. موږ د سولې لپاره خپل حقوق ترلاسه کړي او ډاډ ورکوو، چې زموږ د هېواد په کچه به هېڅوک هم د نورو د منفي لیدلوري د تطبیق یوه برخه نه وي. له مثبت اړخه، موږ د همکاریو بستر یوو او دا به ثابته کړو.

دویم ـ د جګړو ځپلو چاروا کو عدلي او قضايي څار په خلکو پورې اړه لري. موږ تازه اطلاعاتو

ته د لاسرسي قانون تصويب کړی. د خلکو خوځښتونه دا حق لري، چې افراد محاکمې ته راکش کړي. راځئ چې یوه ممهه موضوع درک کړو؛ ځانونو ته ځواب‌ویونکې راتلونکې ترسیم کړو، نه دا چې پخوانیو ۳۵ کلونو ته وګرځو. هغو اصلاح غوښتونکو چې د «تحول» او «تداوم» ترمنځ له تعادل څخه غلط درک درلود، د ټولو برخو او جوړښتونو د نابودۍ لامل ګرځېدلي دي. زه نه غواړم په لېنن تانګو[1] کې راګیر شم: یو ګام وړاندې او درې ګامه شاته! موږ غښتلې اراده لرو.

د نوي حکومت هر غړی به د خپل کار له لومړۍ ورځې خپله شتمنی ثبت او اعلان کړي او په دې برخه کې به ځواب‌ویونکی وي او د وروستیو بدلونونو ډاډ به ورکړي. موږ تېر ته په کتو، د قانون حاکمیت په هڅه کې یوو. هغه څه ته په پام چې پخوا تېر شوي، د قانون حاکمیت په ټینګښت کې به اغېزناک وي او موږ به پرې دوامداره تمرکز ولرو. خو له ما په یوه ورځ کې د معجزې تمه مه لرئ. موږ باید خپل تمرکز وساتو او ډاډه شو چې مخ پر وړاندې حرکت کوو.

(درېیم ـ) نشه‌يي توکي درې برخې لري: مصرفوونکي؛ تولیدونکي او لېږدونکي؛ او پروسس کوونکي.

هو، موږ منو چې د نشه‌يي توکو لوی تولیدونکی او پروسس کوونکی یوو، خو په دې خونه کې ناست کوم یو به لاس پورته کړي او وبه وايي، چې د نشه‌يي توکو لوی مصرفوونکي کوم هېوادونه دي؟ په افغانستان کې د یو اونس نشه‌يي توکو بیه یو ډالر او لس سېنټه ده او په ایران کې یو ډالر او پنځلس سېنټه ده. نړیوالې کړۍ شته دي. راځئ له دې موضوع سره په یو ځايي ډول مقابله وکړو. موږ د ملامتولو له لوبې پرته یوه تړون ته اړتیا لرو.

---

[1] «یو ګام وړاندې، دوه ګامه وروسته؛ زموږ په ګوند کې بحران» د ولادیمیر لېنن هغه کتاب دی، چې په ۱۹۰۴ ز کال کې چاپ شوی. د لېنن فرضیه دا وه، چې د حزب مرکزي کمېټه ځانګړی حق ولري، څو د حزب ټولې سیمه ییزې کمېټې او د سیمه‌ییزو ډلو ټول ګټور بنسټونه له Geneva تر Liege، او له Tomsk تر Irkutsk او همدا راز په ټولو د حزب د لارښوونې لپاره د خپلو اماده کړو قوانینو تحمیل او د سیمه‌ییزو تشکیلانو د بیارغاونې یا له منځه وړو او نورو چارو په اړه د پرېکړې حق ولري. په همدې اساس مرکزي کمېټه کولای شي له خپلې غوښتنې سره سم، د حزب د بنسټونو عالي ترکیب وټاکي. په حزب او نورو ټولو تشکیلانو کې به یوازې متفکر عنصر مرکزي کمېټه وي. (د لېنېنزم یا مارکسېزم روسیې سوسیال ډیموکراسۍ تشکیلانو له مسایلو څخه اخیستل شوی. لیکوال: روزا لوکزامبورګ. ژباړه: کورسو آذر)

که د نشه‌يي توکو مصرفوونکي هېوادونه د هغه د قانوني کولو اراده ولري، موږ په دې برخه (تولید) کې هېڅ نسبي[۱] ګټه نه لرو؛ کولای شي هغه په هره شنه خونه کې وکري. خو کله چې دغه ډول سیاسي اراده نشته، بیا راځئ دا ستونزه په ګډه حل کړو.

ددې ستونزې حللاره څه ده؟ ددې ستونزې د حل کیلي، د افغانستان د کرنې متحول کول دي. د نشه‌يي توکو سوداګر غیرمسلکي کاریګرو ته د ورځې د ۱۷ ډالرو معادل مزد ورکوي، په داسې حال کې، چې په تر ټولو لوی عامه پروګرام کې یوازې ۲ ډالر ورکول کېږي. ستاسو په نظر، بېکاره خلک کوم یو انتخابوي؟ له نظري اړخه، موږ د پرمختللو صنعتي هېوادونو مارکېټونو ته لاسرسی لرو، خو په عمل کې داسې نه ده؛ ځکه چې موږ کافي پوه نه لرو، په بل عبارت د ارزښت زنځیر[۲] په اړه پوهاوی نه لرو. څوک کولای شي په دې برخه کې له موږ سره ډېره مرسته وکړي؟ تسکو[۳]، وال‌مارټ[۴] او د زنځیري سوپر مارکېټونو کنسرسیوم، مشترکې اتحادیې د عرضې او تقاضا د تنظیم په څرنګوالي پوهېږي.

پر دې سربېره، موږ د سعودي عربستان، متحده عربي اماراتو او نورو هېوادونو د هڅولو په لټه کې یوو، چې خپل غذایي خوندیتوب زموږ په کرنیز سکتور کې له اوږدمهالې پانګونې سره یو ځای کړي. کولای شو دا بهیر یو بنسټیز تحول وبولو؛ پر هغه سربېره، کولای شو د بېلګې په توګه په تایلنډ او نورو هېوادونو کې د نشه‌يي توکو د له منځه وړو تاریخچې ته مراجعه وکړو.

زموږ توپیر چېرته دی؟ هغه برخه چې موږ په‌کې له نورو سره بنسټیز توپیر لرو، پر اقتصاد تمرکز دی، یعنې زموږ سیمه‌ییزه اقتصادي همپالنه. زموږ ښاغلي پخواني جمهوررئیس ـ زه اوس هم هغه ته د جمهوررئیس په نوم خطاب کوم ـ د هېواد د اداره کولو مسؤولیت په ډېرو سختو شرایطو کې پر غاړه واخیست. د سپټمبر یوولسمې تر پېښې وروسته د هغه او نړۍ لپاره الګو نه وه. هغه، هغه څه ترسره کړل، چې په وس کې یې وو؛ هغه د شرایطو د متوازن کولو

---

[۱] Comparative Advantage.

[۲] Value Chain: د یوه محصول یا بازار ته د ارزښت لرونکو خدمتونو د وړاندې کولو په موخه د یوه سازمان یا یوه شرکت له لوري د عملیاتو مجموعه ده. د ارزښت په زنځیر کې له طرحې، تولید، بازار موندنې او وېش پورې ټول بهیر شامل دی، چې له «مفهوم» څخه «پېرېدونکي ته تر تسلیمېدو» پورې په خدمت د یوه محصول بدلول دي. د ارزښت په زنځیر کې د فعالیتونو څرنګوالی، د لګښتونو پر ټاکلو او عوایدو اغېز لري.

[۳] Tesco: په بریتانیا کې د غذایي توکو د پرچون پلور یو لوی شرکت دی.

[۴] Wal-Mart: د پرچون پلور څو ملتي لوی امریکایي شرکت دی.

لپاره سخت کار په مخکې درلود. تاریخ به یې په اړه قضاوت وکړي. د یادونې وړ ده، چې هغه د هېواد په پنځه زره کلن تاریخ کې هغه مقام خپل کړ، چې د لومړني شخص په توګه یې واک د قانون په اساس خپل ځای ناستي ته پرېښود. له همدې اړخه، هغه د ستاینې او قدر وړ دی او موږ غواړو ډاډ ترلاسه کړو، چې دا کار باید وشي.

زموږ پروګرامونه توپیر لري او زه به د سیمې په همپالنې او اقتصادي مسایلو کې مخامخ مدیریتي رول ولوبوم، چې ددې کار د ترسره کولو لپاره ما خپل ټول عمر وقف کړی. هیله لرم هغه پایلې چې ترلاسه کېږي زموږ د هر یوه، زما او جمهوررئیس کرزي، استازولي وکړي.

شپږمه پوښتنه:

زما پوښتنه دا ده، چې پاکستان تر کومې کچې د افغانستان په سیاسي راتلونکې او اقتصادي انکشاف کې خنډ او اسانچاری دی؟

اوومه پوښتنه:

په ننني ناسته کې، د بشري حقونو په اړه خبرې ونشوې، په همدې اساس په دې اړه زه لنډې پوښتنې لرم.

لومړی ـ څه وخت به د افغانستان د بشري حقونو کمېسیون له لوري د ارزونو راپور خپرېدو شاهدان وو؟

دویم ـ غوښتل مې وپوښتم، چې آیا تاسو به د هغو حکومتي چارواکو د عدلي او قضایي څار امر صادر کړئ، چې د ملګرو ملتونو له لوري د خپرو شویو اسنادو پر اساس یې په پراخو او سیستماتیکو ځورونو کې لاس درلود؟

اتمه پوښتنه:

ښاغلی جمهوررئیس! آیا کولای شئ په افغانستان کې د ښځو د ازادۍ په اړه خپل راتلونکي پلانونه بیان کړئ؟

جمهوررئیس غني:

افغانستان او پاکستان یو تاریخي فرصت لري. آیا موږ په یوه هغه بن‌بست بدل شو، چې د

آسیا د اقتصادي همپالنې پر وړاندې خنډ کېږي یا ددې همپالنې محور؟ موږ یو د بل لپاره مهم یوو. هغه بحثونه چې موږ پیل کړي، زیري ورکوونکي دي او په محتاطانه ډول هغه ته خوشبین یوو. دا کار د دواړو هېوادونو متقابل امنیت، د آسیا راتلونکې او نړیوال امنیت ته اړین دی. موږ په ګډ ډول ستونزه درک کړې او د حل لپاره به یې ګډو کړنلارو ته ورسېږو.

د بشري حقونو کمېسیون کولای شي خپل راپور خپور کړي؛ ځکه دا کمېسیون خپلواک دی او په هېڅ ډول پورې تړلی نه دی. د ټاکنیزو کمپاینونو پر مهال مې ژمنه کړې وه، زه خوشاله کېږم، چې د بشري حقونو خپلواک کمېسیون هر کال د بشري حقونو اړوند اسناد او سوابق هغه چې زموږ په اړه وړاندې کېږي، وارزوي. موږ د هغوی موندنو ته جدي پام کوو او د هغو پر اساس عمل کوو.

عدلي او قضایي څار د محاکمو د نظام اړوند کار دی، نه د حکومت. د محاکمو په تړاو قانون روښانه دی او وړاندې د پارلمان له لوري تائید شوی دی. افراد په ازاد ډول کولای شي خپلې قضیې مطرح کړي. د اسلام قانون په مشخص ډول د حق‌الله او حق العبد ترمنځ توپیر روښانه کړی دی. دولت کولای شي د خدای حق وبښي، خو د بنده هېڅکله نشي ښښلی. په حقیقت کې جنسیت‌پالنه په اسلام کې ځای نه لري؛ په واقعیت کې دا بشر دی چې د خپل تعبیر پر اساس ښځې او نارینه جلا کوي. په بل عبارت حق‌العبد تل خوندي حق دی، چې هېڅوک نشي کولای هغه سلب کړي او اساسي قانون هغه تضمین کړی دی.

ښځې، (د افغانستان په راتلونکې کې) مطلقاً مهمې دي. ددې پوښتنې له امله له تاسو مننه کوم. که څه هم زه باید لنډې خبرې وکړم، خو نشم کولای ددې موضوع له جزیاتو همداسې تېر شم. خوشاله کېدم، چې ددې موضوع په اړه مې لس دقیقې خبرې کړې وای. له حقوقي اړخه، د ښځو د حقوقي شخصیت جوړېدو لپاره د یو شمېر اسنادو صاردول ډېر اړین دي. دا اسناد عبارت دي، د زېږون، واده، طلاق ـ کله چې جلا کېږي، ځکه اوس دا موضوع په ځلونو واقع کېږي ـ او میراث اسناد. موږ غواړو ډاډمن شو چې ښځو ته حقوقي شخصیت ورکول کېږي، ځکه د هغوی د قانوني حقونو یو اساس دی.

دویم، محاکم دي. ویاړم چې زموږ د سترې محکمې سرپرست دلته حضور لري. هدف مې ښاغلی راشد راشد دی؛ هغه شخصیت چې په ربښتینولۍ او قضاوت مشهور دی. په ستره‌محکمه کې روان کال د دوو قاضیانو ګمارنه او راتلونکی کال د درېیو ګمارنه زما

مسؤولیت دی او دا یو حساس مسؤولیت دی. موږ به له قاضیانو سره مرکې وکړو؛ باید ووایم چې شخصاً به زه پخپله له یو شمېر قاضیانو سره مرکې وکړم. په ستره‌محکمه، د محاکمو نظام او لویې څارنوالۍ کې اصلاحات ځانګړې اهمیت لري. د قانون حاکمیت د ښځو د ځواکمنتیا بنسټیزه برخه ده، څو د شرعیت په چوکاټ کې هغه حقوق ورته ورسېږي، چې په مدني قانون او د جرمونو قانون کې یې لري.

خو بشپړه بنسټیزه موضوع، د ښځو اقتصادي ځواکمنتیا ده. له نړیوالې ټولنې غوښتنه کوم، چې لطفاً دوه ورځني روزنیز کورسونه ودروئ. هغه څه مې چې تېره ورځ د فرانسې بهرنیو چارو وزیر ته وویل له تاسو سره شریکوم. هغه ته مې وویل: که چېرې واقعاً غواړئ زموږ له مېرمنو سره مرسته وکړئ، په لندن، فرانکفورټ، پاریس، نیویارک او توکیو کې له طراحانو وغواړئ، څو په ګډه «د افغان ښځو تولیدات» طراحي کړي. د خپلو زنځیري پلورنځیو دروازې زموږ د ښځو د تولیداتو پر وړاندې پرانېزئ. د ښځو د تشبث لپاره موږ ته کوچنی پورونه مه راکوئ، د هغه پر ځای زموږ (د ښځو تولیداتو) ته واقعي باور وښئ. راځئ لوی فکر وکړو. غرب لېواله دی، چې د ښځو د حقونو په اړه خبرې وکړي: آیا کولای شئ هغه په عمل کې ثابت کړئ. موږ په دې برخه کې اراده لرو؛ آیا تاسو په دې برخه کې له موږ سره همکاري کوئ، چې موږ وکولای شو ښځو ته مو واقعي ځواکمنتیا ور په برخه کړو؟

د یوې ځواکمنې مېرمنې تصویر کولای شو زما د انا په شخصیت کې ومومو. هغې شپږ زامن لرل، چې یو یې هم د هغه له اجازې پرته جرئت نه درلود، چې څو زره جریبه هغه ځمکه وربېي، چې له خپل خاوند ځخه ورته په میراث پاتې وه. اوس مې د انا له مړینې څلویښت کاله تېرېږي او زامنو یې تر اوسه هم ځمکې نه دي وېشلې او د نه لېږدېدونکې شتمنۍ (غیرمنقول جایداد) په توګه پر ځای پاتې دي. په دې کار کې دوه دلیلونه موجود دي؛ لومړی، انا مې یوه لوستې مېرمن وه او زده‌کړې یې له هېواده بهر په هند ترسره کړې وې او تر لوړو زده‌کړو وروسته هېواد ته ګرځېدلې وه. دویم دا چې هغې شتمني درلوده. له ملاتړ او اقتصادي بنسټ پرته نشو کولای شرعي حقونو ته لاسرسی ومومو. دې کار ته اساسي پام ځانګړی اهمیت لري.

متأسفانه د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ډېری پېښې د اقتصادي دلایلو له امله دي. بېوزلي تاوتریخوالی رامنځته کوي. په همدې اساس، موږ باید له دې پدیدې سره مبارزه وکړو. ښاري

مېرمنې، په ځانګړي ډول د هغوی ببوزله قشر تر ټولو آسیب پذیره مېرمنې دي. کلیوالې مېرمنې حد اقل خوړو ته په برابر ډول لاسرسی لري، دا ځکه چې هغوی پخپله یو له اقتصادي عاملینو [تولیدونکو] دي.

وروستی موضوع فرهنګي بدلون دی. د هغې مطالعې پر اساس چې په ټوله سویلي آسیا کې ترسره شوې، هر چېرته چې د میراث وېش د پلار واکۍ پر اساس دی، ښځې ددې طریقې ملاتړ کوي، تر دې کچې چې ترجیح ورکوي لومړی زامن او نارینه خواړه وخوري او وروسته یې بیا دوی وخوري؛ دا ځکه چې په پای کې د زړښت په دوره کې د هغوی ملاتړ او ساتنه د نارینه‌وو پر غاړه ده. ختیځې آسیا په عمده ډول دا طریقه بدله کړې، هماغسې چې د ښځو کاروبار، اقتصادي تحرک متحول کړی دی. هیله لرم چې موږ هم وکولای شو د فرهنګي بدلون په موخه له دې طریقې کار واخلو، خو باید ووایم، چې ددې بهیر تر ټولو ستونزمنه مرحله ده. په بل عبارت، فرهنګونه له پخواني وخته راپاتې دي او له مالدارو نیولې تر بېوزلو، له شمال نیولې تر سویل او لویدیځ پورې ټول قشرونه یې متأثره کړي دي؛ په همدې اساس، ما په دې برخه کې تل له خپلې انا الهام اخیستی دی.

مایکل کېټینګ:

ښاغلی جمهوررئیس! ډېر خوشاله یم ، چې د ښځو د ځواکمنتیا له موضوع سره ستاسو لېوالتیا ددې لامل شوه، چې دربانديې ناوخته شي. [د حاضرینو خندا]

جمهوررئیس غني:

له تاسو مننه!

# د امریکا متحده ایالتونو دفاع وزیر سره ګډ مطبوعاتي کنفرانس

**کابل | ۱٦ لیندۍ ۱۳۹۳ | ۷ ډسمبر ۲۰۱۴**



## اړوند سکتورونه:

**امنیت ـ بهرنی سیاست**

## د وینا عمده محورونه:

- **افغان ځواکونو ته د امنیتي مسؤولیتونو بشپړ لېږد**
- **سیمه‌ییزه سوله او ثبات**

## غورچاڼ:

د ۲۰۱۵ ز کال له پیله د ملګرو ملتونو د پرېکړه لیک (۲۰۰۱ ز) په چوکاټ کې په افغانستان کې د قوې استعمال پای ته رسېږي او افغان امنیتي ځواکونه د هېواد هر اړخیزه ساتنه پخپله غاړه اخلي. په ورته مهال له امریکا متحده ایالتونو سره نوې اړیکې د امنیتي هوکړه‌لیک پر اساس، چې د ملي شورا له لوري تصویب شوی دی، پرمخ وړل کېږي. شته خطرونه او فرصتونه د هر اړخیزو سیمه‌ییزو او نړیوالو همکاریو د رامنځته کېدو لامل ګرځي. نړۍ له ګډو ګواښونو سره مخ ده او افغانستان په دې برخه کې د امریکا متحده ایالتونو له مرستو منندوی دی.

## د جمهوررئیس غني وينا:

د لوی او ښونکي څښتن په نامه.

نن ماته وياړ ځای ده، چې د امریکا د دفاع د چارو وزیر جناب هیګل[۱] صیب ته ښه را غلاست وایم.

موږ حد اقل دوه لسیزې کیږي چې یو بل پېژنو، دوی د خپل سناتورۍ وخت کې افغانستان سره علاقه درلوده. لومړی وار په ۲۰۰۲ کې یې تشریف راوړ او له هغې ورځې نه همېشه راغلی دی. ماته خاصاً دا وياړ و، چې د اتلانتیک کونسل په وخت کې، کله چې دی د هغه مشر و، زه د ده مشورتي بورډ غړی وم، نو دوی او د دوی نظریات مې له نږدې څخه لیدلي او ورسره اشنا یوو او له هغې ورځې څخه یې چې دوی ډېره مهمه وظیفه د وزارت دفاع په غاړه نیولې، د دوی د افکارو تاثیر هر اړخیز و.

بحث امروز ما سر چند نکته عمده تمرکز داشت:

اول؛ آمدن ایشان [د امریکا متحده ایالتونو دفاع وزیر] در فرصتی است که مناسبات ایالات متحده امریکا و افغانستان، ۲۵ روز بعد به صورت اساسی تغییر می‌کند. استعمال قوه در افغانستان در چارچوب قطع‌نامه ملل متحد که در ۲۰۰۱ میلادی شروع شده بود، در روز ۳۱ دسمبر (۲۰۱٤) به انجام می‌رسد.

از اول جنوری ۲۰۱۵، قوای امنیتی افغانستان مسؤولیت همه‌جانبه حفاظت وطن عزیز ما را بر دوش می‌گیرند و این جزو افتخارات ماست، اما در عین حال در اول جنوری مناسبات نو با ایالات متحده امریکا بر اساس پیمان استراتیژیک و موافقت‌نامه امنیتی که پارلمان افغانستان هفته پیش‌تر با اکثریت آرا آن را تصویب کرد، آغاز می‌شود. ما درباره تقویت، تعلیم و ممد بودن همه‌جانبه و تمویل قوای امنیتی خود همراه اینها صحبت داشتیم و از ابتکار و تقویت اینها که هم در کنفرانس بروکسل در مقر ناتو انجام دادند و هم امروز ایشان [د امریکا متحده ایالتونو دفاع وزیر] شخصاً اطمینان دادند، ابراز امتنان می‌کنم.

موضوع دوم ما ضرورت صلح، ثبات و کوشش همه‌جانبه برای ثبات منطقوی بود. همه ما به

---

[۱] Chuck Hagel: د امریکا متحده ایالتونو دفاع وزیر (۲۰۱۳/۲/۲۷ ـ ۲۰۱۵/۲/۱۷).

این نظر هستیم که خطرات از یک طرف و فرصت‌ها از طرف دیگر، ایجاب همکاری همه‌جانبه‌ی منطقوی و جهانی را می‌کند.

دنیا با خطرات مشترک مواجه است و ما مصمم هستیم که از این خطرات جلوگیری شود و از فرصت‌هایی که با ختم انتخابات و تشکیل حکومت وحدت ملی به وجود آمده، استفاده اعظمی شود تا یک افغانستانی که در صلح باشد، به ثبات برسد و به طرف رفاه می‌رود، ایجاد شود. از کمک‌های اینها [د امریکا متحده ایالتونو] در این بخش باز هم ابراز امتنان می‌کنم.

صلح یکی از اولویت‌های بنیادی جامعه ما است. موږ پر دې باندې ټینګ ولاړ یوو چې باید هر اړخیزې سولې ته ورسېږو. د سولې د نقشې لپاره ملي، منطقوي او بین‌المللي شرایط باید اماده شي او دا منسجم او هر اړخیزه فکر او کار غواړي او موږ غواړو دا په تدبیر، تأمل او دقت سره ان‌شاءالله تعالی سرته ورسوو.

زه غواړم ښاغلي هیګل ته یو وار بیا ښه راغلاست ووایم.

تاسې د افغانستان دوست یاست، تاسې زما شخصي ملګري یاست او همېشه دلته ښه راغلاست، نو ستاسې له ډېرو ښو نظرویاتو نه او ستاسې له بین‌المللي شخصیت نه موږ همېشه هرکلی کوو.

ښه راغلاست!

## د امریکا متحده ایالتونو د دفاع وزیر چک هېګل د خبرو ژباړه:

مننه! جمهوررئیس غني ډېره زیاته مننه! ماته د ویاړ ځای دی، چې دلته یم او یو وار بیا خپله زړه دوستي ـ هماغسې چې تاسو یې یادونه وکړه ـ نوې کوم. په ځانګړي ډول خوښ یم، چې ستاسو د نوي مسؤولیت مبارکي درته وایم او همدا راز غواړم ووایم، چې اجرائیه رئیس ډاکتر عبدالله عبدالله زموږ پخوانی دوست دی او خوښ یم، چې هغه هم بیاځلي وینم. غواړم په دې مطبوعاتي کنفرانس کې له ښاغلي جمهوررئیس غني سره لنډې خبرې ولرم. همداراز غواړم د امریکایي تبع لوک سامِرز ، د وژل کېدو یادونه وکړم، چې څو ساعته وړاندې مې هم په همدې تړاو یوه اعلامیه خپره کړه. لوک سامِرز په یمن کې د امریکایي ځواکونو د هغو

عملیاتو پر مهال ووژل شو، چې د ترهګرو له بند څخه د هغه د خلاصېدو په موخه ترسره شول. په دې پېښه له زړه غمجن یم او غواړم د هغه کورنۍ ته تسلیت ووایم. پر دې سربېره، یو بل برمته شوی شخص هم په دې عملیاتو کې ووژل شو؛ ددې پېښې له ټولو غمجنو کورنیو سره په غم کې شریک یوو او هغوی ته تسلیت وایوو. دا، تر دې زیات د امریکا متحده ایالتونو هغه ژمنتیا ښیي، چې تل یې د خپلو برمته شویو اتباعو د خلاصون هڅه کړې او دا ټول یې له دې توپیر پرته ترسره کړي، چې هغوی چېرته دي، بېرته یې آزاد کړي او هېواد ته یې ګرځولي دي. دا ماموریت چې لا زیات جزیات به یې په راتلونکې کې وړاندې کړم، په بشپړ ماهرانه ډول ترسره شول، خو په ورته مهال یو پېچلی او خطرناک ماموریت و. دا ډول ماموریتونه تل له خطرونو سره مل وي. نن مې خپلې خبرې د لوک سامِرز[۱] د وژل کېدو په پېښې پیل کړې او یو وار بیا د زیانمنو کورنیو په غم کې شریک یوو او هغوی ته تسلیم وایو.

غواړم د افغانستان او امریکا متحده ایالتونو ترمنځ په همکاریو، دوستۍ او اړیکو وغږېږم. هماغسې چې د خبرو په پیل کې مې وویل، ملي وحدت حکومت د جمهوررئیس غني او اجرائیه رئیس ډاکټر عبدالله له لوري اداره کېږي او دا د افغانستان د خلکو پر وړاندې د هغوی د ژمنتیا ښودنه کوي. د امریکا متحده ایالتونه له ملي وحدت حکومت څخه هر اړخیز ملاتړ کوي. بیا هم غواړم له ښاغلي جمهوررئیس غني او ډاکټر عبدالله مننه وکړم، چې د افغانستان ګټو ته یې، هماغسې چې خلکو یې غوښتنه کوله، لومړیتوب ورکړ.

هماغسې چې تاسو یې یادونه وکړه، موږ ټول په هغو ننګونو خبر یوو، چې پر وړاندې مو موجود دي؛ په افغانستان کې تاریخي او سوله‌ییز لېږد یو کال او څو میاشتې وړاندې ترسره شو، چې یوه بېساري پېښه وه او دا هم د ترهګرۍ د ګواښونو پر وړاندې نه یوازې د افغانستان د رهبرانو، بلکې د خلکو دردېدل او د افغانستان اسلامي جمهوریت په ټاکنو کې ګډون و، چې د نوي حکومت جوړېدو لامل وګرځېد او دا ټول د ستاینې او مننې وړ دي. په ورته مهال په تېرو څو میاشتو کې په افغانستان کې د امریکا له ماموریت او د هغوی د همکاریو له امله مننه کوم. په ځانګړي ډول، په افغانستان کې د امریکا متحده ایالتونو نوي سفیر ښاغلي مک‌کینلي[۲] ته، چې فکر کوم نن سهار کابل ته راغلی دی، ښه راغلاست وایم. همدا راز د

---

[۱] Luke Somers.

[۲] Peter Michael McKinley.

جنرال کمبل[۱]، د هغه له ټیم او همکارانو هم مننه کوم، چې د آیساف په چوکاټ کې یې په افغانستان کې فعال رول لوبولی او وبه یې لوبوي.

په افغانستان کې د امریکا متحده ایالتونو له پخواني سفیر ښاغلي کنېنګهم څخه هم مننه کوم، چې خپل هېواد ته یې قدر وړ خدمتونه کړي او په ځانګړي ډول د دواړو هېوادونو ترمنځ یې د اړیکو په تقویت کې رول لوبولی دی. موږ له هغه او کورنۍ یې مننه کوم او ورته د لا زیاتو بریالیتوبونو هیله لرو.

غواړم زموږ له ټولو نارینه او ښځو، چې دلته په افغانستان کې یې په ملکي او پوځي چوکاټونو کې فعالیت کړی دی، مننه او ستاینه وکړم؛ په ځانګړي ډول کله چې موږ (د کرسمس) رخصتیو ته نږدې کېږو، هغه قربانۍ چې هغوی په افغانستان کې ورکړې دي، موږ ته د ځانګړي اهمیت وړ دي؛ دا ځکه چې هغوی دا ټول څه له خپلو کورونو او کورنیو لرې ترسره کوي.

همدا راز، جمهوررئیس اوباما او د امریکا ټول دولت، ستاسو د قربانیو مننه کوي.

زموږ د دوستۍ په اړه د جمهوررئیس د خبرو په تایید باید یادونه وکړم، چې د امریکا متحده ایالتونو د دفاع وزیر په توګه د لوړې تر مراسمو وروسته، لومړنی هېواد افغانستان دی، چې ورته سفر کوم. د دفاع وزیر په توګه دا افغانستان ته زما څلورم سفر دی. هغه مهال چې زه په امریکا متحده ایالتونو کې سناتور وم، ۲۰۰۲ کال، هم افغانستان ته راغلی وم. په هغو سفرونو کې چې په تېرو څو کلونو کې مې په افغانستان کې لرل، د انکشاف، ډیموکراسۍ، امکاناتو او د خلکو د هیلو په برخه کې پام وړ پرمختګونه رامنځته شوي دي، چې زما په نظر د امریکا او افغانستان ترمنځ د غښتلو همکاریو ښودنه کوي.

نن تر ماسپښین وروسته مې، یوه نوي څپرکي ته د افغانستان او امریکا متحده ایالتونو د همکاریو داخلېدو او پرمختلګونو په تړاو د افغانستان له جمهوررئیس غني او اجرائیه رئیس سره خبرې لرلې. که په تېر اوړي او د ټاکنو پر بهیر بیاکتنه وکړو، له هغه مهاله تر اوسه افغان ځواکونه د خپلو خلکو او هېواد د دفاع لپاره د پوځي عملیاتو رهبري پر غاړه لري. افغان

[۱] John Campbell: په افغانستان کې د ناټو ځواکونو عمومي قوماندان.

ځواکونو په دې برخه کې واقعاً پام وړ هڅې ترسره کړې دي، خو لا هم ګڼ خنډونه او کارونه په مخ کې شته، چې باید ترسره شي.

د آیساف ماموریت د رواني میاشتې په وروستیو کې پای ته رسېږي او د ناټو نوی ماموریت د «غوښ ملاتړ ماموریت» په نوم افغان ځواکونو ته د روزنې، مشوره ورکونې او مرستې په ډول پیلېږي، چې دا ښیي، د هېواد او خلکو د امنیت بشپړ مسؤولیت تر دې وروسته د افغان ځواکونو پر غاړه دی.

نوی ماموریت، د افغانستان د خلکو ملاتړ له ځان سره لري، چې د بریالیتوب لپاره یې حیاتي دی. د جمهوررئیس غني او ډاکتر عبدالله له رهبرۍ مننه، چې پارلمان تېره میاشت په افغانستان کې د ناټو ځواکونو د حضور څرنګوالي او امریکا سره امنیتي هوکړهلیکونه تایید کړل.

د دغو هوکړهلیکونو د لاسلیک ځنډېدو له امله، د غوښ ملاتړ ماموریت لپاره د تشکیل جوړېدو په موخه اقدامات له خنډ سره مخ دي؛ دا ځکه چې داسې هیله وه، چې دا کار همدا اوس ترسره شي. پر دې ټولو سربېره، جمهوررئیس اوباما د امریکا متحده ایالتونو پوځي قوماندانو ته دا نعطافپذیري برابره کړه، چې څو ائتلافي ځواکونه ځای پر ځای کېږي، امکان لري د ځواکونو لنډمهالی کموالی د څو میاشتو لپاره مدیریت او تنظیم تجربه کړي. دا به په دې معنی وي، چې زموږ د نږدې زرو سرتېرو د اېستنې بهیر به له ځنډ سره مخ شي. په همدې اساس، لس زره او اته سوه امریکایي عسکر ـ چې وړاندې نهه زره او اته سوه وو ـ د ۲۰۱۴ کال تر پایه او د راتلونکي کال په څو لومړنیو میاشتو کې به په افغانستان کې پاتې شي.

د جمهوررئیس اوباما د پرېکړې پر اساس په افغانستان کې د ځواکونو شمېر او د اېستنې ضربالاجل د بدلون وړ نه دی او په ورته مهال، هماغسې چې پلان جوړ شوی په کابل او بګرام کې د غوښ ملاتړ ماموریت حضور به یوازې یو ساحوي حضور پورې محدود وي. ددې ماموریت د یوې برخې په توګه، د امریکا متحده ایالات تیار دی، چې د افغان ځواکونو محدود پوځي ملاتړ وکړي. پر دې سربېره، امریکایي ځواکونه دا حق او ظرفیت لري، چې د بریدونو پر وړاندې له ځانه دفاع وکړي.

زموږ د ترهګرۍ ضد ماموریت به د القاعده او د هغو د بقایاوو پر وړاندې په محدود ډول پر

ځای پاتې وي، دا ځکه چې زموږ جنګي ماموریت کموالی موندلی، خو موږ دا موضوع له یاده نه وباسو، چې لس کاله وړاندې څه افغانستان ته د امریکا د راتلو لامل شوه. موږ ژمن یوو، چې د امریکا متحده ایالتونو د ګواښلو لپاره له افغانستان څخه د خوندي پټنځای په توګه د القاعده د استفادې مخنیوی وکړو او زموږ او د افغانستان د خلکو همکاران پاتې شوو.

موږ به د طالبانو د هغو غړو پر وړاندې هم اقدام وکړو، چې په افغانستان کې ائتلافي ځواکونه یا امریکا ګواښي او د القاعده مخامخ ملاتړ لري.

نن له ماسپښین وروسته، ما، جمهوررئیس او ډاکتر عبدالله د بروکسل او لندن په وروستیو کنفرانسونو کې د هغو مهمو ژمنو په اړه خبرې وکړې، چې د ائتلاف شاملو هېوادونو کړې دي. امریکا به د ۲۰۱۲ ـ ۲۰۱۵ کلونو ترمنځ د ملکي همکاریو په برخه کې اته میلیارد ډالر له افغانستان سره مرسته کوي او زموږ ژمنې به دوامداره وي. د طالبانو د بریدونو وروستۍ څپې دا موضوع روښانه کړه، چې نړیواله ټولنه باید د یو باثباته، امن لرونکي او هوسا افغانستان له ملاتړ څخه سترګې پټې نه کړي. غواړم یو وار بیا له خپلو دوستانو جمهوررئیس غني او اجرائیه رئیس ډاکتر عبدالله څخه د هغوی د غوره رهبرۍ او د همکارۍ په تړاو له ژمنو مننه وکړم. یوازې د امریکایي ځواکونو نه، بلکې د ائتلافي ځواکونو، نړیوالو همکارانو او په ورته مهال د افغانستان د ملي ځواکونو له قربانۍ هم مننه کوم، چې د هغوی ژمنتیا د افغانستان د راتلونکي او ددې هېواد د خلکو لپاره د ښو فرصتونو رامنځته کېدو لامل شوې ده.

ډېره مننه!!

## پوښتنې او ځوابونه:

د تُرکي آژانس خبریال [ژباړه]: ښاغلی د دفاع وزیر! د ۲۰۱۲ یا ۲۰۱۳ ز کلونو په جریان کې جمهوررئیس بارک اوباما پلان درلود، چې له افغانستان څخه خپل ځواکونه وباسي او د دغو ځواکونو جنګي ماموریت پای ته ورسوي، خو اوس تاسو وایئ، چې تر راتلونکي کال پورې به هم امریکایي ځواکونه په جنګي ماموریت کې شریک وي، د جنګي عملیاتو د دوام دلایل څه دي؟

جمهوررئیس غني [ژباړه]: فکر کوم سوءتفاهم شوی دی. جنګي ماموریت دوام نه کوي. تاسو په تېروتنې غلط برداشت کړی دی.

د امریکا متحده ایالتونو دفاع وزیر [ژباړه]: ما پخپلو څرګندونو کې وویل، چې د امریکایي ځواکونو د ماموریت په تړاو د جمهوررئیس اوباما تصمیم تغییر نه دی کړی او روان کال زموږ جنګي رول پای ته رسېږي. خو د هغو خالیګاوو د ډکولو لپاره، چې ښایي د آیساف د یو شمېر ځواکونو تر ایستنې وروسته ـ چې اوسمهال په غوڅ ملاتړ ماموریت بدل شوي دي ـ په افغانستان کې رامنځته شي، پر پخوانیو ځواکونو به زر تنه نور اضافه شي او ښایي تر راتلونکو څو میاشتو پورې به دلته حضور ولري. په همدې اساس، جمهوررئیس اوباما یوازې (د امریکایي ځواکونو د ایستنې) بهیر د دغه وروسته پاتېوالي د جبران لپاره ځنډولی دی. خو په ماموریت کې بدلون نه رامنځته کېږي او زموږ جنګي رول پای ته رسېږي.

د خورشید خبریال: در قسمت تجهیز نیروهای امنیتی، تعهدات امریکا در نشست‌هایی که انجام شده چیست؟ نیروهای امنیتی افغانستان در مجموع تمامی مسؤولیت‌ها را پس از این بر دوش می‌گیرند، (اما) از لحاظ تجهیزات سنگین مشکلات دارند. گام‌های امریکا چه خواهد بود؟

جمهوررئیس [د امریکا متحده ایالتونو دفاع وزیر ته په خطاب کې ـ ژباړه]: لومړی، غواړم په یمن کې ستاسو د هېوادوال ښاغلي سامِرز د وژل کېدو له امله تسلیت ووایم. همداراز اجازه راکړئ، چې فرصت غنیمت وبولم او له هغو کورنیو هم مننه وکړم، چې نارینه او ښځې یې په افغانستان کې قرباني شوې دي. په تېره یوه لسیزه کې په افغانستان کې ناټو له ۳۴۰۰ ډېرو کسانو په قرباني کولو درونده قیمت پرې کړی؛ د هغوی له دېرش زرو زیات کسان ټپیان شوي او سلګونه زره تنه تجربه لرونکو (پوځیانو) په افغانستان کې ژوند کړی دی او پوهېږم، چې زموږ د هېواد دښتې، درې او غرونه به د تل لپاره د هغوی په یاد کې پاتې وي. د ټولو هغو کسانو لپاره چې په دې لاره کې یې قرباني ورکړې دعا کوم او له تاسو هم مننه، چې د افغان ځواکونو د قربانیو یادونه مو وکړه.

موږ یوه لویه لار وهلې او غواړو ډاډمن شو، چې په دې تاریخي شېبه کې، د امریکایي ښځینه او نارینه پوځیانو کورنۍ درک کړي، چې د هغوی اولادونه چې څه غواړي ترسره کړي، د خپل هېواد د ساتنې او له موږ سره د مرستې لپاره دي. موږ د هغوی په قربانۍ خبر یوو او هیله

لرو، چې مخکې یو سوله‌ییز کرسمس ولرو. یو وار بیا، ستاسو له راتلو مننه!

[د خورشید خبریال ته خطاب:] جواب سؤالتان این است که بحث‌های متمرکز داشتیم. تعهداتی که شده پا برجاست. این تعهدات در بروکسل و در بلجیم، تکرار شد. حال، مرحله عملی کردن این تعهدات است و (زمان) بهتر ساختن طرز رهبری و مدیریت خود ما (است)، تا بتوانیم استفاده اعظمی را انجام بدهیم. این بحث، معلوم (است که) بحث یک‌روزه نیست. اهداف به ارقام و اعداد و همانند اینها تبدیل می‌شود. (دوباره) کمک شنیدید. کمک عمده‌ای که در قسمت تمویل است، مطلق دوباره تکرار و تأیید شده. این عمده‌ترین نکته است که قوای امنیتی ما باید مطمئن باشند که (منبع) تمویل دارند.

در قسمت تجهیز و تعلیم تعهدات واضحی وجود دارد. این پروگرام‌ها، هم درازمدت است و هم یک‌ساله است. کار سر پروگرام یک‌ساله به شدت جریان دارد تا بتوانیم نکات بنیادی را ان‌شاءالله تعالی فراهم کنیم.

خبریال [د امریکا متحده ایالتونو دفاع وزیر ته خطاب ـ ژباړه]: تاسو د هغه برید په تړاو، چې په یمن کې د ښاغلي سامِرز د ژغورنې په موخه وشوه، ځان مسؤول بولئ؟ آیا تاسو په دې باور یاست، چې که امریکا په دې برخه کې اقدام نه کاوه، برمته کوونکو به ښاغلی سامِرز وژلی وای؟

[جمهوررئیس غني ته خطاب ـ ژباړه]: ستاسو امنیتي ځواکونه د امریکا متحده ایالتونو له لوري څه اضافي مرستو ته اړتیا لري؟ آیا ستاسو ځواکونه د راتلونکي کال لپاره، د تجهیزاتو له کموالي سره مخ دي؟

د واشنګټن پوسټ خبریال [د امریکا متحده ایالتونو دفاع وزیر ته خطاب ـ ژباړه]: زما پوښتنه، په افغانستان کې په موقت ډول د دریو کلونو لپاره د زرو سرتېرو د ساتلو پرېکړې په اړه ده. آیا فکر نه کوئ، چې ستاسو دا پرېکړه به هغې وروستۍ پرېکړې ته، چې تر ۲۰۱۴ کال وروسته به امریکایي ځواکونه یوازې هوایي ملاتړ او مشخص واکونه ولري، په افغانستان کې د جګړې پای ته رسېدو لپاره د امریکا پیغام ته زیان ورسوي؟ او آیا تاسو د غوڅ ملاتړ ماموریت په چوکاټ کې د ناټو هېوادونو له لوري د استول کېدونکو ځواکونو د شمېر په تړاو په راتلونکي کال کې مشخصه نېټه ترلاسه کړې، چې هغه مهال تاسو وکولای شئ د امریکایي

سرتېرو شمېر ۹۸۰۰ تنو ته راکم کړئ؟ مننه!

د امریکا متحده ایالتونو دفاع وزیر [ژباړه]: هغه پرېکړه چې (د امریکا) جمهوررئیس په افغانستان کې د زرو اضافي سرتېرو د پاتې کېدو په اړه کړې، په غوڅ ملاتړ ماموریت کې د (اړتیا وړ سرتېرو) د خالیګا ډکولو لپاره ده، څو تر یوه وخته دغه خالیګاه ډکه شي. هماغسې مې چې وویل، د افغانستان د جمهوري ریاست ټاکنو بهیر اوږدېدل ددې څنډ لامل شو. باید ووایم، د جګړې د پای ته رسېدو په پیغام زموږ دغه پرېکړه اغېز نه پرېباسي او د جمهوررئیس اوباما د پالیسۍ بدلون او د امریکایي ځواکونو شمېر ته د هغه د ژمنتیا د تغییر لامل نه ګرځي. دا پرېکړه د جنرال کمبل او ښاغلي ډِمپسي ـ د امریکا متحده ایالتونو لوی درستیز ـ له لوري ماته د وړاندیز پر اساس او جمهوررئیس ته تر راجع کولو وروسته نهایي شوه. (د امریکا متحده ایالتونو) ملي امنیت شورا په دې وړاندیز کې د امریکا له جمهوررئیس سره ورته نظر درلود. په همدې اساس، دا پرېکړه هېڅ هم نه خرابوي او د امریکا د جمهوررئیس د ستراتېژۍ هېڅ برخه هم نه بدلوي.

د ناټو له لوري د ځواکونو د استولو او د هغو د شمېر په تړاو، موږ د نهایي کولو په مرحله کې یوو. هماغسې چې تاسو پوهېږئ، دا زموږ د کار یوه برخه وه. د بهرنیو چارو وزیر جان کیري، جنرال کمبل او نورو د ناټو د بهرنیو چارو وزیرانو او لندن کنفرانس په وروستیو غونډو کې پر دې موضوع بحث وکړ. څلور هېوادونه په دې برخه کې ژمن دي او پاتې به هم په راتلونکو څو اونیو کې مشخص شي. جنرال بریدلاو[1] له جنرال کمبل سره په دې برخه کې کار کوي. په همدې اساس، زه باور لرم، چې موږ به د هغو ژمنو په عملي کولو بریالي شو.

په یمن کې زموږ د تبع د وژل کېدو په اړه! لومړی، هر شخص که په هره دنده او هر ماموریت کې وي، د موضوعاتو او پېښو په تړاو خپل ځانګړي مسؤولیتونه لري. دویم، د برمته شویو د ژغورنې ماموریت، یوه پېچلې او ستونزمنه موضوع ده او په دغه ډول ماموریتونو کې، باید دقیق استخباراتي معلومات موجود وي، څو د هغو پر اساس هر څه پرمخ یوړل شي او ان تر عملیاتو وړاندې باید ټول ملاحظات په پام کې ونیول شي. استخبارات، د برمته شویو د ځای، برمته کوونکو او د برمته کوونکو له لوري د امنیتي خطرونو د کچې په تړاو ټول معلومات لري. بله برخه پخپله د عملیاتو پلان دی، چې هغه هم ډېره مغلقه برخه ده، چې په هغه کې

[1] General Breedlove.

په یوه وخت څو نورې برخې هم ترسره کېږي.

بل مهم فکتور دا دی، چې آیا د برمته شویو ژوند په خطر کې و؟ آیا موږ د برمته شویو د خلاصون لپاره خطر قبول کړ؟ دا هغه موضوعات دي چې باید په نظر کې ونیول شي. نور جزیات هم شته، چې په هغه اړخ او مختلفو ملاحظاتو کې، د برمته شویو د خلاصون په برخه کې تر هر ډول اقدام وړاندې باید وارزول شي. بیا هم وایم، چې له زړه د لوک سامِرز د وژل کېدو له امله متأثره یوو. هغه برمته شوی و او یقیناً چې ژوند یې له خطر سره مخ و. موږ د امریکا جمهوررئیس ته وړاندیز وکړ او موږ باید د خپلو ټولو اقداماتو او فعالیتونو او ان د خپلو کمیو مسؤولیتونه ومنو.

د طلوع‌نیوز خبریال: رئیس صاحب جمهور! تعهداتی که در نشست لندن به جامعه جهانی نمودید، چه‌گونه مطمئن هستید که در شش ماه آینده این تعهدات را می‌توانید برآورده بسازید؟

جمهوررئیس غني: تعهدات ما در لندن، تعهداتی است که ما به ملت خود کردیم؛ اصلاحات بنیادی، تدریجی و همه‌جانبه! اینها تعهداتی نیست که از بیرون سر ما تحمیل شده باشد. کاغذ [= سند] را ما نوشتیم، قسمت عمده کاغذ را من شخصاً نوشتم.

از یک طرف اجماع سیاسی در سرتاسر اقشار افغانستان موجود است که باید تغییرات بنیادی بیاوریم، ملت ما آماده تغییرات است و آن را استقبال می‌کنند. از طرف دیگر اراده سیاسی موجود است که عملاً باید اقدام کنیم. امید است دیده باشید که ما توانِ اراده را داریم و تمرکز می‌کنیم. اما همه چیز در یک روز نمی‌تواند به انجام برسد و عملی شود. بنابراین یک تعادل ـ که همیشه گفته‌ام ـ بین تحول و تداوم باید وجود داشته باشد تا ما بتوانیم هر قدمی را که می‌گذاریم، یک قدم دوام‌دار باشد و نتایجش برای ملت در کوتاه‌مدت، وسط‌مدت و درازمدت موجب تغییر زندگی شود. تعهد ما در همینجا است.

جمهوررئیس غني [ستاسو امنیتي ځواکونه کومو اضافي امنیتي مرستو ته اړتیا لري؟ پوښتنې په ځواب کې ـ ژباړه]: له پوښتنې مو مننه کوم. تر ټولو لومړی له شته وړتیاوو استفاده مهمه ده. هېڅ پوځي ځواک او هېڅ ملکي برخه نشته، چې لا زیاتو مرستو ته اړتیا ونه لري. خو زموږ ـ د حکومت رهبری ـ دنده دا ده، چې له ځانه وپوښتو، آیا شته ټولې سرچینې چې په

لاس کې لرو په مؤثر، مسؤولانه او شفاف ډول کارېږي؟ له دې اړخه، زموږ لومړی تمرکز په امنیتي بنسټونو کې د اصلاحاتو په راوستو دی، څو هره پیسه چې مصرفېږي، هره نقلیه واسطه، چې په اُردو کې ترې استفاده کېږي او له هرې وسلې چې کار اخیستل کېږي، بېرته یې حساب اخیستل هم موجود واوسي.

موږ حاضر دمه په انفرادي جگړو نه، بلکې پر سیستم، مدیریت او رهبرۍ، او زموږ د امنیتي ځواکونو پر وړتیاوو تمرکز لرو. په تېرو دوو میاشتو کې بېشاري گامونه اخیستل شوي دي، چې په پایله کې یې د عمر او فزیکي وړتیاوو د معیارونو له امله پنځلس عالي‌رتبه جنرالان تقاعد شوي دي، چې په اویاوو لوړو پوستونو کې یې تغییراتو ته زمینه برابره کړې ده. ټول دغه اقدامات د یوه ډېر دقیق بهیر له لارې ترسره شوي دي. د هېواد د وسله‌والو ځواکونو د اعلی سرقوماندان په توگه مو ژمنه کړې، هر افسر چې برید جنرالۍ ته ارتقا کوي یا د برید جنرالۍ یا تر هغه لوړ پوست کې گمارل کېږي، شخصاً به زه ورسره مرکه کوم. په همدې اساس، زموږ لومړنۍ دنده دا ده، چې په لاس کې له شته ټولو امکاناتو څخه ښه او مؤثره استفاده وکړو او ترې ډاډ ترلاسه کړو.

په دې اړه، غواړم له جنرال کمبل او د هغه د ټیم له هڅو مننه وکړم؛ دا ددې لپاره چې د افغانستان په یوه لوی تصویر تمرکز لري ـ همدا راز له وزیر صیب هېگل او د امریکا متحده ایالتونو له ټیم څخه مننه کوم، چې په دې برخه کې یې د همکارۍ زمینه برابره کړې ده. دغه تصویر، د افغانستان د سولې د ټینگښت، ثبات او هوساینې تصویر دی. هره ستونزه د زور له لارې نشي حل کېدای؛ اړتیا ده، چې د حکومتولۍ، اقتصاد او قانون حاکمیت په برخه کې پر اصلاحاتو تمرکز ولرو. په همدې اساس، دا یوه پراخه ستراتېژي ده، چې په هغه کې له خپلو سرچینو استفاده کوو.

دویمه برخه، د شیکاگو هوکړه شوی پلان دی. له امریکا سره د دوه اړخیزه هوکړه‌لیک پر اساس، هوکړه شوې، چې له سرچینو څخه د استفادې لپاره باید دا پلان په تدریجي او دقیق ډول عملي شي او پر هغو ساحو دقیق تمرکز وشي، چې په دې هوکړه‌لیک کې شاملې دي. البته موږ په ځینو برخو کې له کمیو سره هم مخ یوو، چې زموږ په دوه اړخیزه او څو اړخیزه بحثونو کې پرې بحث شوی دی. موږ ډېر هیله مند یوو، چې زموږ ځواکونه غښتلي شي.

اجازه راکړئ د افغانستان له امنیتي ځواکونو په مننې نتیجه‌گیري وکړم. د افغانستان د وسله‌والو

ځواکونو هر غړی یو داوطلب دی او هېڅوک پوځي خدمت ته مجبور شوی نه دی. د هغوی هېوادنۍ مینه او له هېواد سره د ژمنتیا لپاره قرباني ددې لامل ګرځي، چې موږ خپل حرکت ته دوام ورکړو. له شک پرته موږ له داسې ګواښونو سره مخ یوو، چې په هغو خبر یوو. موږ د ګواښونو د چاپېریالونو له بدلون سره مخ یوو؛ خو یو څه باید په روښنايۍ درک شي، چې موږ بېرته په شا نه ګرځو او هوډمن یوو، چې د خپلو خلکو د امنیت ټینګښت لپاره هغوی خوندي کړو.

هغه څه چې موږ یې لپاره هڅه کوو یو مطلوب وضعیت دی، چې په هغه کې یو نیکه له خپل لمسي سره د سړک پر غاړه قدم ووهلی شي او بېرته خوندي (کور ته) وګرځي؛ کله چې زموږ یو زده‌کوونکی د ښوونځي پر لور ځي، پخپل امنیت ډاډمن وي او د چاودنې ښکار نشي؛ کله چې زموږ ماشومان د والیبال لوبې لپاره ډګر ته ورځي، له هغه خوند واخلي، نه دا چې بدنونه یې ټوټه، ټوټه شي.

په همدې اساس، په داسې حال کې چې موږ د سولې راوستو ته ژمن یوو، له دې هم خبر یوو، چې جګړه باید له سیاسي لارې پای ته ورسېږي. دا موضوع هم باید درک شي، چې زموږ پر ملکي خلکو، په ځانګړي ډول پر ماشومانو، ښځو، دیني عالمانو او مذهبي ځایونو په بزدلانه بریدونو مو روحیه نشي کمزورې کولی.

او دا زموږ قاطع اراده ده، چې بالاخره به د تغییر لامل ګرځي او هر کس به درک کړي، چې افغانستان له منځه نشي تللی او پاتې کېږي.

یو سوله‌ییز افغانستان، هېڅوک نه ګواښي. یو باثباته افغانستان، د سیمې د هوساینې کیلي ده. موږ هغه سیمه‌ییزې خبرې اترې په لېوالتیا پرمخ وړو، چې پیل کړې مو دي او ډېر هیله مند یوو، چې سولې ته ورسېږو.

له تاسو مننه!

# د سي.آی.اې له لوري د بندیانو د ځورونې په تړاو مطبوعاتي کنفرانس

کابل | ۱۹ لیندۍ ۱۳۹۳ | ۱۰ ډسمبر ۲۰۱۴



## اړوند سکتورونه:

ټولنیز خوندیتوب ـ امنیت

## د وینا عمده محورونه:

- د سي. آی. اې د مامورینو له لوري د بندیانو د ځورونې راپور

## غورچاڼ:

د وړاندې شوي راپور په اساس، د بشري حقونو او منل شویو اصولو د نقض له امله افغان دولت د سي. آی. اې د مامورینو او قراردادیانو له لوري د بندیانو ځورونه په کلکو ټکو غندي. موږ غواړو د هغو افغانانو شمېر معلوم کړو، چې ځورول شوي دي او د هغوی حقوق او حیثیت باید بېرته اعاده شي. له امریکا سره د دوه اړخیزه امنیتي هوکړه‌لیک په اساس د ۲۰۱۴ کال له پای ته رسېدو سره سم، هغوی نشي کولای زندان جوړ کړي. موږ د خپل ملي حاکمیت یوې نوې مرحلې ته داخل شوي یوو او د مشروع قوې استعمال یوازې زموږ صلاحیت دی. تر دې وروسته به زموږ همکارۍ غیر جنګي وي.

## د جمهوررئیس غني وینا:

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم؛ اما بعد، اعوذ بالله من الشیطان الرجیم،

بسم الله الرحمن الرحیم.

امروز روز جهانی حقوق بشر و روز ملی یادبود و گرامیداشت از قربانیان جنگ در افغانستان است.

د ټولو شهداوو د روح لپاره دعا کوو او له خدا(ج) نه دوی ته جنتونه غواړو او د دوی کورنیو ته صبر جمیل.

ارزش‌های اسلامی ما و نص قانون اساسی ما، ارزش والایی برای حقوق بشر قایل شده. در دین مبین ما و در قانون اساسی ما زیادترین احترام برای بشر، به حیث «بشر» گذاشته شده. اما شنیده می‌شود که تخطی‌هایی وجود دارد، ما مصمم هستیم که این تخطی‌ها را از بین ببریم و حقوق حقه‌ی هر افغان را تأمین کنیم. و ان‌شاءالله تعالی با اقدامات لازمه این مأمول را به دست می‌آوریم.

اما دلیلی که امروز می‌خواهم برای خواهران و برادران‌مان صحبت کنم، به خاطر روز جهانی حقوق بشر نیست، آن را بعداً تجلیل می‌کنیم؛ جناب داکتر صاحب [سیما سمر] لطف کرده‌اند، چند روز بعدتر. نن د دې لپاره راټول شوي یوو چې هغه راپور باندې، چې پرون د امریکې د سنا لخوا خپور شو خپل دریځ څرګند کړو. دا راپور د ۲۰۰۲ او ۲۰۰۸ (زیږدیزو) کلونو په باره کې دی.

این راپور ۴۹۹ صفحه است، من از دیروز یازده بجه شب که راپور را از انترنت به دست آوردم تا امروز هر کلمه‌اش را خوانده‌ام. راپور تکان‌دهنده است. تمام اصول قبول‌شده‌ی حقوق بشر، قانون ایالات متحده امریکا، اخلاق قبول‌شده‌ی جهانی، از طرف یک عده مأمورین سی.آی.ای و قراردادی‌های‌شان زیر پا گذاشته شده است. دولت افغانستان این اعمال غیرانسانی را به شدیدترین وجه تقبیح می‌کند.

زموږ په اوسنۍ نړۍ کې هېڅ نوع توجیه د دا رقم اعمالو لپاره او د انسان د شکنجې لپاره وجود نه لري.

دا یوه خبیثه حلقه ده، وختې چې یو شخص په غیرانساني توګه شکنجه شي، په غیرانساني توګه عکس‌العمل ښیي، له بده مرغه او یو خبیثه حلقه د عمل او عکس‌العمل مینځ ته راځي او ټول له هغه نه صدمهویني.

این راپور بدبختانه نشان می‌دهد که وطنداران افغان ما نیز تحت شکنجه قرار گرفته‌اند و حقوق‌شان پایمال شده است. تعداد دقیق این افراد معلوم نیست، اما از اشخاص خاصی با نام‌شان ذکر شده. یک لست موجود است که در آخر راپور است، اما ملیت افراد در آن راپور ذکر نشده. ما می‌خواهیم که تعداد این افغان‌ها معلوم شود تا ما برای اعاده حیثیت و حقوق‌شان به صورت جدی و بنیادی عمل نماییم.

موږ غواړو، چې د دوی نومونه معلوم شي، تعداد یې تعیین شي او موږ په دې پوه شوو چې دوی څوک دي؛ ترڅو د دوی د حقوقو د اعادې او د حیثیت د ساتنې لپاره اقدام وکړو. خاصتاً دا ډېره د درد او رنج خبره ده چې په دې راپور کې واضح شوې، چې ځینې د دې اشخاص، چې د شکنجې لاندې وو، مطلق بېګناه وو او ثابته شوې وه چې بې‌ګناه وو او له بې‌ګناه افرادو سره دا رقم چلند معلوم دار چې زموږ ټول اسلامي عقاید او حقوقي موازین تر پښولاندې ږدي.

طبق معاهده امنیتی دوجانبه میان افغانستان و امریکا بعد از ختم سال ۲۰۱۴، یعنی ۲۱ روز بعد از این، هیچ کس نمی‌تواند در افغانستان زندانی بگیرد یا زندان بسازد.

ټول وطنوال دې په دې پوه شي، چې د امنیتي قرارداد یو مهم اصل دا دی چې پس له دې نه هېڅ بین‌المللي قوه به د دې حق و نه لري، چې افغان بندي کړي، کور ته یې ننوځي یا خپله خاصه بندي خانه ولري.

موږ د ملي حاکمیت یوې نوې دورې ته داخلېږو، چې د (قوې) مشروع استعمال د تصمیم صلاحیت زموږ او یوازې زموږ ده، څکه موږ سره همکاری غیرجنګي همکاري ده؛ د تقویې، تعلیم او تمویل خبره ده.

مسأله بنیادی برای ما به حیث یک ملت و جامعه‌ای که سال‌هاست خشونت جنگ و نتایجش را دیده‌ایم این است که در حالت جنگ دوام‌دار تمام ارزش‌های انسانی پامال می‌شود. خون پیش چشم را می‌گیرد، عقل را زیر شعاع قرار می‌دهد و انتقام، عوض عقل، عمل را تعیین می‌کند. از این جهت تکرار ما سر این است که ضرورت مبرم این جامعه به صلح پایدار است.

دې ټولنه کې اجماع شته فضل د خدای، چې باید پایداره سوله پلې شي ترڅو، چې موږ له

دې اعمالو څخه ووځو او د ثبات او رفاه او سولې په چوکاټ کې ژوند وکړو، د نوي حکومت لومړیتوب سوله ده او موږ باید یو بل ته تل لاس ورکړو، ترڅو د دې جګړې له خبیثه حلقې څخه ځان خلاص کړو.

زه غواړم، چې له علماوو شورا، د سولې د شورا او د بشري حقونو د کمېسیون د مشرې نه او ټولو نه مننه وکړم، چې نن موږ ټول یو واضح ملي دریځ لرو.

انکشافات په ابتدایي مرحله کې دي معلومات شاید ډېر شي او په راتلونکو اوونیو کې او هر وخت، چې معلومات ډېر شول موږ به بیا پرې په دقت غور وکړو. همدارنګه جلالتمآب حامد کرزی له افغانستان څخه د باندې دی چین کې زه پرون ورسره په ټیلیفون وغږېدم او کله چې هغوی جلالتمآب هم بېرته تشریف راوړي؛ د افغانستان نخبګان به ټول سره کینو چې بیا غور وکړو او په دقت څېړنې وکړو.

نیکمرغه و اوسئ! هیله ده چې دا بدې ورځې موږ شاته کیدو او په امید راتلونکي ته وګورو او خپل مناسبات له نړۍ سره په اساسي توګه په هغه چوکاټ کې کېږدو، چې ان‌شاءالله تعالی د جنګ له فضا نه ووځو، پایدارې سولې ته ورسېږو او بیا د افغانستان د بیا رغاونې او ودانولو لپاره به خپل ټول کوښښونه وکړو.

شپه مو پخیر! شبتان به خیر!

# د بشري حقونو نړيوالې ورځې نمانځونډه

**کابل | ۲۳ لیندۍ ۱۳۹۳ | ۱۴ ډسمبر ۲۰۱۴**




## اړوند سکتورونه:

**ټولنیز خوندیتوب ـ امنیت ـ حکومتوالي ـ بهرنۍ سیاست**

## د وینا عمده محورونه:

- **د بشري حقونو معیارونه**
- **د بشري حقونو نړیواله اعلامیه**
- **د بشري حقونو د ارزښتونو پرضد ګواښونه**

## غورچاڼ:

اسلامیت او انسانیت زموږ د بشري حقونو معیارونه دي. ترور، د اخلاقي زوال نښه ده او ځورونه له وحشت سره برابره ده. کله چې متمدنه نړۍ تر وحشت پورې راټیټه شي، له یوې نړیوالې اجماع سره، چې اسلامي نړۍ یې هم یوه برخه ده، د بشري حقونو نړیواله اعلامیه د تمدن له اوسنیو افکارو سره په ټکر کې واقع کېږي. دغه اعلامیه نن په یوه نړیوال ارزښت بدله شوې، چې ددې ارزښت د عملي کولو په برخه کې، اساسي قانون د هغه دندې تعریف کړې دي. ددې ترڅنګ، د دغه ارزښت پر وړاندې ځینې ګواښونه رامنځته شوي، چې له هغې ډلې خبیثه غیر دولتي شبکې، ناکام دولتونه، هغه بنسټونه، چې په سیاست کې له دې خبیثه بنسټونو څخه استفاده کوي، بېوزلي او اداري فساد دي. همداراز له دې درک پرته، چې «دولت جوړونه» په اوسني وخت کې له ملي مسؤولیت څخه په نړیوال مسؤولیت بدله شوې، نشو کولای ارزښتونه پر ځای کړو. ملي اراده، ملي وحدت، سیاسي اراده او موجوده واقع‌بیني له موږ سره سولې او بالاخره د بشري حقونو په ټینګښت کې مرسته

کولای شي. بشري حقونو ته د لاسرسي لپاره، دولت د بشري حقونو خپلواک کمېسیون خپلواکی ته په احترام قائل دی او ددې کمېسیون همکار به وي.

## د جمهوررئیس غني وینا:

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم. اما بعد، اعوذ بالله من الشیطان الرجیم. بسم الله الرحمن الرحیم.

محترمه ډاکتر صاحب سیما سمر، عالي قدرو حاضرینو، خویندو وروڼو له ټولو نه دمخه د بشریت ستر پیشوا تحفه در وړاندې کوم: السلام علیکم و رحمت الله و برکاته!

اول د افغانستان د شهیدانو پاکو ارواوو ته دعا کوو، چې خدای دې دوی ته جنتونه ورکړي او خدای دې موږ ته دا توان راکړي، چې خپل کوچني، خپلې مېرمنې او خپل وګړي مصوون وساتو او د وحشت له فضا نه یې وباسو.

معیار حقوق بشر چیست؟ جواب بسیار ساده است: «اسلامیت» و «انسانیت»!

ارزش‌های دین مبین اسلام، ارزش‌های دوام‌دار و پایداری است که انسانیت را تعریف کرده است. شکنجه در دین مبین اسلام جای ندارد (در این باره) احادیث نبوی صحیح وجود دارد.

قضاوت را کی می‌کند؟ وجدان فرد، وجدان جمعی! وجدان اجتماعی در افغانستان به فضل خداوند به نهایت قوی است. و وقتی که وجدان اجتماعی ما یک عمل را محکوم می‌کند، آن عمل باید محکوم باشد. «قدسیه»[1] چی گناه کرده بود؟ ده سی‌پاره قرآن شریف را حفظ کرده بود، همان روز (شهادت) با روزه از خانه برآمد. اطفال ما در یحیی‌خیل پکتیکا څه ګناه کړې وه، چې والیبال یې کاوه؟

دلته اجتماعی وجدان باید په یو غږ ووایي: بس ده! نور یې نه منوو! دا اعمال نور د منلو وړ نه دي، دا اسلامي نه دي، دا انساني نه دي؛ او ټولنه باید په یوه غږ اواز جګ کړي. خاصتاً

[1] قدسیه: هغه محصله نجلی، چې د ۱۳۹۳ د لړم په ۲۵ د کابل په دهمزنګ سیمه کې په یوه ځانمرګي برید کې په شهادت ورسېده.

علمای کرامو نه غواړم، له ټولو قومي رهبرانو نه او د مدني ټولنې له ټولوغړو څخه غواړم، چې په یوه اواز جگ شئ: ترور نه منوو!

که خلک د دې په چورت کې دي، چې زموږ اراده به په دې اعمالو ماته کړي؛ ورته و وایئ، چې افغانستان پنځه زره کاله دوام کړی او پنځه زره کاله به نور هم دوام وکړو. څوک یې هم نه شي ماتولای. [د حاضرینو چکچکې]

ترور، شاخص اِفلاس اخلاقی است. کسی که به ترور دست می‌زند در حقیقت اعتراف می‌کند که به افلاس اخلاقی رسیده است. شکنجه از طرف هر کس که صورت می‌گیرد، تنزل به وحشت است. ما هر نوع شکنجه را، دولتی باشد، بین‌المللی باشد و یا غیردولتی باشد به یک زبان محکوم می‌کنیم و از حقوق افراد خود و از حقوق ملت، به یک آواز دفاع می‌کنیم. چون شکنجه (عمل) انسانی نیست. وقتی که چشم انسان را خون بگیرد، به شکنجه دست می‌زند و شکنجه قابل قبول نیست.

سر حقوق بسیار زیاد صحبت کردیم. قسمت عمده حقوق در اعلامیه حقوق بشر، فردی است. اما افغانستان به حق اولی خود ضرورت دارد که مصونیت جامعه از ترس و مرگِ ناگهانی است.

موږ نن دې ته ضرورت لرو، چې ټولنه مو له ډار څخه مصوونه و اوسي.

طفل افغان چی گناهی کرده که وقتی از خانه می‌براید، مادرش، پدرش و برادرهایش و یا خواهرانش تا آخرین دقیقه در دلهره باشند که پس زنده می‌آید یا نمی‌آید. موږ د ټولنې په حیث مصوونیت ته ضرورت لرو، سر این موضوع دوباره صحبت می‌کنم.

اعلامیه حقوق بشر!

اول ـ ماحول آن را ببینید که چرا اعلامیه حقوق بشر به وجود آمد؟ چون دنیای متمدن، خاصتاً اروپا، به وحشت تنزل کرده بود. میلیون‌ها انسان در کوره‌ها سوخته شد. قیمت جنگ را دنیا درک کرد و بنابراین یک اجماع بین‌المللی ایجاد شد که باید تکرار این حوادث صورت نگیرد. اجماع، جهانی بود، چون دنیای اسلام (نیز) بر این اجماع صحه گذاشت. بزرگ‌ترین متفکرین وقت دنیای اسلام، اعلامیه حقوق بشر را تأیید کردند. این اعلامیه نتیجه فکر یک

تمدن نیست؛ فکر تلفیق تمدن‌های موجود است.

دوم ـ از چهار نفری که در این اعلامیه نقش بنیادی داشتند، دو تن از آسیا بود. نماینده چین و نماینده لبنان. به من خاصتاً جای افتخار است که نماینده لبنان در پوهنتون امریکایی بیروت، معلم من بود؛ شارل مالک[۱]!

از این جهت این اعلامیه را باید نتیجه تراوش یک نوع فکر نبینیم؛ سر این، چند سال بحث شد؛ ده‌ها کتاب تهیه شد تا بالاخره نتیجه‌اش یک اعلامیه‌ی خلص شد.

سوم ـ اعلامیه، فعلاً از اعلامیه گشته و به «ارزش جهانی» مبدل شده است. کدام قانون اساسی دنیا را خواهید دید که در آن اعلامیه (جهانی حقوق بشر) صدفیصد یا حداقل هشتاد یا نود فیصد موجود نباشد. حرف و نکته دیگر چیست؟ از حرف به معیار رفتیم! معیارها به تدریج اما به صورت اساسی قایم شده رفت.

محک بنیادی ما، جناب داکتر صاحب او ټول همکاران! اعلامیه نه ده، زموږ اساسی قانون دی، دا ځکه نه چې موږ اعلامیې سره کوم بنیادی توپیر لرو. بلکې دا چې زما په قاصر نظر باندې، زموږ اساسي قانون له اعلامیې نه څو قدمه اوچت تر شی.

اعلامیه، تنها نصحیت است؛ قانون اساسی تعهد است، وجیبه است و وسیله است. (در قانون اساسی) اول، حقوق افراد است؛ فصل دوم قانون اساسی ما تمام حقوق و ارزش‌های بین‌المللی را در خود دارد. اما (موضوع) دوم، بر هر یک از این ارزش‌ها وجایب دولت، واضح تعیین شده است؛ چون بدون وجیبه، ارزش، تنها به حیث نصیحت باقی می‌ماند. و سوم، وجایب افراد و نهادهای اجتماعی در قبال یکدیگر تعریف شده است.

تأکید ما، قسمی که جناب داکتر صاحب [سیما سمر] ۹ نکته را بیان کرد؛ هغه ټکي مو چې ویلي وو، دا دي چی دولت په دې وتوانېږي څو خپل وجایب ترسره کړي. زما عرض تاسې ته دا دی چې نن دولت مسوول وساتئ. زه ډېر ممنون یم. د افغانستان د جمهوررئیس په حیث باندې چې صلاحیت ونه لرم مسوولیت ولرم. فوق‌العاده امر باید زموږ له فرهنګ څخه لرې شي. فوق‌العاده امر یعنې څه؟ یعنې قانون تر پښو لاندې ایښودل، نو ځکه لازمه ده چې

---

[۱] Charles H. Malik: شارل حبیب مالک (۱۹۰۶ ـ ۱۹۸۷ ز) لبنانی ډیپلومات او د بشري حقونو نړیوالې اعلامیې یو لیکوونکی.

ټولې مدني ټولنې، د حقوق بشر کمېسیون، زموږ علمای کرام، زموږ مېرمنې او زموږ ځوانان، دولت خپلو وجایبو ته متوجه کړي.

یو وار چې دولت وجایب ترسره کړل بیا دویمه مرحله کې دولت کولای شي د حقوقو مدافع شي؛ اما په اوله مرحله کې، جنجال په خپله دولت کې دی. چې زه بېرته وربانديې راځم.

تهدیدات علیه این ارزش‌ها از کجا می‌آید؟

اول ـ شبکه‌های غیردولتی خبیثه: در فضایی که اعلامیه جهانی حقوق بشر اعلام شد، نهادهای خبیثه بین‌المللی و غیردولتی وجود نداشت. یک حلقه بسیار خبیثه بین حلقه‌های جرمی دنیایی، و سیاست‌های افراطی به وجود آمده است. سریلانکا اولین ملکی بود که در آن ترور فرد به حیث وسیله استعمال شد. این هدیه آسیای جنوبی به دنیا بود. این پدیده‌ی شوم عام شد. این تهدید، بنیادی است، این تهدید را باید ما درک کنیم و انواع جلوگیری از این تهدید ضرور است.

دوم ـ دولت‌های ناکام است: هر چه دولت ضعیف‌تر شود و نتواند (به) ارزش‌های قانونی خود عمل کند و وسیله اجرای حاکمیت قانون شود، به همان اندازه تهدید (برای) حقوق بشر و حاکمیت قانون است.

سوم ـ دولت‌هایی که نهادهای خبیثه غیردولتی را به حیث سیاست دولتی استعمال می‌کنند: حال باید ثابت شده باشد؛ مخصوصاً در منطقه ما که تروریزم خوب و تروریزم بد وجود ندارد. افراطیت خوب و افراطیت بد وجود ندارد. نمی‌توانید بلا را سر همسایه یله کنید، خانه خود را مصون نگاه کرده نمی‌توانید! هیچ مملکت کلا نه ده. خپله ژبه هم کلا ده او هم بلا. دولتي سیاست هم کلا ده هم بلا. که دولتي سیاستونه په دې وي چې همسایه ځمکه د جنګ په میدان باندې بدله شي، خپل کور یې د جنګ په میدان بدلېږي. دې باندې باید ټول پوه شي چې نن نړۍ سره تړلې ده. په یوې واحدې نړۍ کې کلا ګاڼې نه شي جوړولای. نو ځکه بنیادي ضرورت دا ده چې موږ دا خطر په ګډه جمع کړو.

در عین حال دولت‌های متمدن باید به شکنجه دست نبرند. دولت‌هایی که به دولت‌های دیگر دنیا، دوام‌دار، سفارش تأیید ارزش‌های بشری را می‌کنند، باید خودشان نمونه شوند. یعنی جای شرم است که دو متخصص روحیات با گرفتن قرارداد هشتاد میلیون دالر، وسیله

شکنجه بین‌المللی شوند.[۱] تنزل از علم، اخلاق و تعهد نمی‌تواند بیش‌تر از این به وجود بیاید. ما باید همه خود را مسؤول نگاه کنیم.

چهارم ـ فقر و محرومیت، بی‌عدالتی و فساد اداری: اینها تهدیدهای بزرگی در مقابل ارزش‌های بشری است. زموږ ټولنه کې ۳۶ فیصده (خلک) یو ډالر او ۲۵ سېنټو باندې ژوند کوي. یعنې د ۵۰ افغانی نه تر ۷۰ افغانیو پورې په ورځ کې. یوه کورنۍ به څنګه په دې باندې ژوند وکړي. لس کلن هلک یا انجلی، څلور کلنو یا پنځه کلنو ماشومانو غوندې ښکاري. مېرمنې څو ساعته په ورځ کې کار کوي اما په جیب کې یې څه دي؟ او خدای مو له باډي ګارډانو وساته که څوک یې مخ ته ودرېږي، خیال کوي چې دنیا (ده) ته د خدای هدیه ده. په دې اساس باندې بېرته راځو جمعي مسوولیت ته او بیا ارادې ته.

در قسمت مسؤولیت‌های جمعی، (در) نظام بین‌المللی دولتی باید دوباره بر اساسات روابط بین دولت‌ها تجدید نظر کنیم. (وجود) ضعیف‌ترین حلقه در نظام بین‌المللی دولتی، ضعف تمام نظام را نشان می‌دهد. از این جهت، تا به یک اجماع اساسی نرسیم که در این مرحله از قرن ۲۱، «دولت‌سازی» تنها یک مسؤولیت ملی نیست، بلکه یک مسؤولیت بین‌المللی است، ما نمی‌توانیم ارزش‌ها را به جای آوریم. دوم (این که) همکاری منطقوی برای ثبات و رفاه حتمی و ضروری است. سرنوشت ما در منطقه به هم گره خورده، بدون همکاری همه‌جانبه منطقوی، ما از این حالت‌ها برآمده نمی‌توانیم.

آخري عرضونه: ځان ته متوجه شو، اول ځان نه څه غواړو؟ «ملي اراده» لرو. ضعفونه مو تر هغه وخت دوام کوي چې خلک فکر وکړي موږ تقسیم یوو، موږ ویشلې یوو، او موږ نه شو کولای په مصممه توګه کار وکړو.

نو اول شی چې زموږ ضرورت دی، ملي اراده ده، ملي وحدت دی. حکومت وحدت ملی سمبول وحدت ملی این کشور است، کس سر این مملکت بی‌باور نباشد که خدای نکرده وحدت ما از هم می‌پاشد. هر کس که سر نفاق افغان‌ها قمار زده، باخته. ما متعهد هستیم، ما واحد هستیم و با اراده‌ی واضح ان‌شاءالله تعالی به پیش می‌رویم.

دویم، «سیاسي اراده» ده. سیاسي اراده یعنې څه؟ سیاسي اراده یعنې دا چې اول ومنو چې

---

[۱] تر دې غونډې څو ورځې وړاندې د سي. آی. اې له لوري د بندیانو د ځورونې خپاره شوي راپور ته اشاره ده.

مشکلات لرو. د مثال په توگه، که سبا ډاکتر صاحب سیما سمر اعلان وکړي چې زموږ بندي خانو کې شکنجه ده. سیاسي اراده دا معنا نه ورکوي چې موږ غوږونه پټ کړو یا سترگې پټې کړو. سیاسي اراده دا معنا ورکوي چې ورسره کینو، وایو چېرې شکنجه ده، څنگه یې منع کړو، څنگه یې له تکراره نه مخه ونیسو. که بې ځایه شوي دي هر یک از نو مسأله وی. این مسایلی است که به آن باید اعتراف کنیم که اینها مشکلات بنیادی ماست بعد از آن اراده این است که باید تصمیم بگیریم که تکرار نمی‌شود.

سوم، باید «دیدگاه» داشته باشیم (برای مثال) که از فرهنگ خود کلمه بیجاشده داخلی را در ظرف پنج سال آینده دور کنیم. همه چیز در یک روز نمی‌شود، اما در یک جای ثابت بودن، تنها موجب نزول است.

بنابراین بخش دیگر اراده سیاسی این است که واقع‌بین باشیم. واقع‌بینی به این معنی که بتوانیم ظرفیت‌های خود را تا حد اعظم به کار بیندازیم و تعادل را بین «تحول» و «تداوم» حفظ کنیم.

و بالاخره می‌آیم سر صلح! صلح ضرورت حیاتی اجتماع ماست. صلح پایدار معنی‌اش این است که باید از حالت بی‌ثباتی دوام‌دار، به طرف ثبات دوام‌دار برویم و این تدبیر، تأمل و حوصله می‌خواهد. اگر اهداف اعمال تروریستی این است که ما از صلح انکار کنیم، دست‌یافتنی نیست؛ اما اگر فکر می‌کنند که با اعمال تروریستی اراده ما را ضعیف می‌سازند، این را هم باید بفهمند که ملت افغانستان اراده واحد دارد و هیچ وقت تسلیم ترور نمی‌شود. منطق صلح، منطق ثبات است، منطق رفاه است، منطق حقوق است. تمام ممالکی که جنگ را گذرانده‌اند، مجبور بوده‌اند که اوضاع خود را به دقت بسنجند و راه‌های بنیادی و اصولی صلح پایدار را جست‌وجو کنند. ما در جست‌وجوی این شعارها هستیم و با شرایط پیچیده‌ای که ما از نگاه داخلی، منطقوی و بین‌المللی داریم، همه اینها را در یک چارچوبی می‌آوریم که اقدامات ما مؤثر، پایدار و همه‌جانبه باشد.

په آخره کې زه د (بشري حقونو) کمېسیون نه مننه کوم او څو کلمې لرم.

اول ـ دولت د تاسې استقلال ته احترام لري. اساسي قانون تاسې ته استقلال درکړی، په استقلال کار وکړئ. اساسي قانون ځکه تاسې ته استقلال درکړی چې غواړي د افغانستان

دولت ټولنې ته مسوول واوسي. نو ځکه موږ تاسې ته احترام لرو او غواړو هغو ارزښتونو لپاره چې تاسې هره ورځ کار کوئ؛ ټول ولس هره ورځ کار وکړي.

دويم ـ دولت او کمېسيون په تضاد کې نه دي. د تضاد معنی دا ده، چې تاسې ووايئ، دا حقايق دي او موږ ووايو دا نه دي. د همکارۍ معنی دا ده، چې مشکلاتو باندې په ګډه کار وکړو. بله برخه د همکارۍ دا ده، چې د حل لارې لپاره په ګډه کار وکړو. نو غوښتنه مو دا ده چې مرسته وکړئ. اول، د اساسي قانون ارزښتونه ټولنې ته تشريح کړئ. دويم، دولت بايد د دې ارزښتونو نمونه شي. خاصتاً زما غوښتنه دا ده، نه د رئيس‌جمهور په توګه؛ بلکې د افغانستان د يوه تبعه په حيث، که زه له لارې نه و وځم، سم مې کړئ، لارې ته مې راوړئ؛ [د حاضرينو چکچکې] ځکه زما باداران د افغانستان ولس دی. زه د افغانستان واک دار نه يم، زه د افغانستان خادم يم او د خادم معنی دا ده، چې اصول يې بايد قانون، ټولنه او ټولنيز وجدان وټاکي.

از قضاوت وجدان افغان ما بايد در هراس نباشيم؛ بالعکس با احترام کامل به وجدان جمعی و با تجليل از وجدان فردی، ان‌شاءالله تعالی اراده ما روز به روز محکم‌تر خواهد بود تا خواسته‌های برحق مردم افغانستان را عملی کنيم.

چون از کمپاين ياد کرديد يک کلمه آن را دوباره تکرار می‌کنيم. هر شش ماه، حکومت وحدت ملی حاضر است که سر اوضاع عمومی حقوق بشر همراه با کميسيون (حقوق بشر) ما بر اساس يک راپور تحليلی و ارزيابی تحريری شما، به صورت منظم بنشينيم تا اقدامات بعدی را تعيين کنيم.

تل دې وي افغانستان! پاينده باد افغانستان!

# د یحیی‌خېلو ولسوالۍ پېښې د شهیدانو یادغونډه

پکتیکا | ۲۵ لیندۍ ۱۳۹۳ | ۱٦ ډسمبر ۲۰۱۴



## اړوند سکتورونه:

**امنیت ـ حکومتوالي**

## د وینا عمده محورونه:

- **محرومو ولایتونو ته پاملرنه**
- **د پایداره سولې ټینګښت**
- **د امنیت ټینګښت**

## غورچاڼ:

ټول افغان ملت د پکتیکا درد درک کوي او په دې کې شک نشته، چې د یحیی خېلو درد د ټولو افغانانو درد دی. د کابل د امنیت لپاره نه باید، د هغه شاوخوا دېوال راتاو شي، بلکې د پکتیکا په څېر ولایتونه باید امن شي. موږ په حکومتولۍ کې د بدلون راوستو غوښتونکي یوو او په سختو شرایطو کې په ټاکنو کې د ګډون له امله د پکتیکا له خلکو مننه کوم. خلکو داسې باور جوړ کړی، چې په تاریخ کې یې بېلګه نشته؛ په همدې اساس زه مجبور یم پور مې اداء کړم. د ستونزو په څېر توقعات هم زیات دي، خو ان‌شاءالله حل به شي. د پکتیکا په څېر د افغانستان لسو ولایتونو ته کمه پاملرنه شوې ده. زه دې لسو ولایتونو ته ځانګړې پاملرنه کوم. په ورته مهال مې له خلکو د ملي وحدت د ټینګښت غوښته ده، دا ځکه چې موږ ټول افغانان او مسلمانان یوو. پکتیکا په حقیقت کې بېوزله نه ده، د پراختیا لپاره ښه امکانات لري لکه تېل. خو یوه بنسټیز پلان ته اړتیا ده، څو هر ولایت په هغه کې خپل ځان ووینې، چې څو بندونه او... په کې جوړېږي. زموږ انساني او ملي دنده، د

پایداره سولې ټینګښت دی. په غیر انساني او غیر اسلامي اعمالو به د سولې لور ته ولاړ نشو. د ماشومانو وژل به زموږ اراده کمزورې نه کړي، هماغسې چې د يحيى خېلو د مشرانو اراده يې کمزوې کړې نه ده. زموږ اوسپنيزه اراده به هر اړخيزه او پایداره سوله رامنځته کړي. خو د سولې او امنيت ترمنځ توپير شته دی؛ سوله يوه سياسي موضوع ده او امنيت يوه جرمي. له مجرمينو سره بايد قانوني چلند وشي، څو زموږ ماشومان خوندي پاتې شي. هر افغان چې سياسي اختلاف لري، کولای شي د مذاکرې مېز ته راشي؛ هغه مسايل چې په مذاکره حل کېدای شي، په وسله نشي حل کېدای. افغانستان د جرګې، خبرو اترو او شريعت ځمکه ده. هماغسې مې چې ټولې نړۍ ته ويلي، موږ غواړو چې ماشومان مو ښوونځيو ته ولاړ شي، بېرته خوندي کورونو ته وګرځي او وکولای شي واليبال وکړي.

## د جمهوررئيس غني وينا:

نحمده و نصلی علی رسوله الکريم. اما بعد، اعوذ بالله من الشيطان الرجيم. بسم الله الرحمن الرحيم.

ډېر قدرمن مشران، د پکتيکا شمله ورو مشرانو، د ولسي جرګې او د مشرانو جرګې ډېرو معززو وکيل صاحبانو او سناتور صاحبانو، له کابل نه راغليو ډېرو قدرمنو مشرانو! د ټولو نه لومړی د بشريت د پيشوا تحفه در وړاندې کوم: السلام عليکم و رحمت الله و برکاته!

امروز کل ملت افغانستان درد پکتيکا را درک می‌کند. بنابراين از تمام نقاط افغانستان، به يک آواز، مردم خود را پکتيکاوال می‌دانند؛ ټول درسره پکتيکاوال دي. دې کې شک مه لرئ چې د يحيی‌خېلو درد د ټولو افغانانو درد دی. له خدای(ج) نه لومړی تاسو ته صبر غواړم. حاجي صاحب ګلان خان وغږېده. حاجي صاحب سرور خان مخکې وغږېده. هم يې د زړه درد او هم يې خواله را ته و ويلې. اما د دې په څنګ کې د مېړانې او د غيرت عزم و. زه اول تسليت درکوم، دوم مننه کوم. د زړه له کومې مننه. په غم کې که څوک داسې ټينګ عزم ولري مانا يې دا ده چې افغانستان به تل افغانستان وي! [د حاضرينو چکچکې]

زه له ډاکتر صاحب عبدالله نه مننه کوم چې ما ولېږه او ژر يې تاسو ته احوال در ولېږه. زه ځکه دباندې بهر لاړم چې د سارک (غونډه) کې د ټولې آسيا مشران را ټول وو او پوهېږئ هلته ما ورته څه و ويل؟ افغانستان پنځه زره کاله په پښو درېدلی و، پنځه زره کاله به نور هم وي. [د حاضرينو چکچکې] څوک دې شک نه لري او دا مې ورته و ويل چې د يحيی‌خيلو بچي ما تېره شپه په غېږ کې نيولي. هر بچی مې په غېږ کې نيولی، وکيل صاحبان را سره

دریدلي وو. هغه خاطره به هېڅ وخت زما هېره نه شي. اما په عین حال کې یحیی‌خیلو د مېړانو او د ټولو پکتیکاوالو او ټولو افغانانو پیغام مې ورکړ. موږ د چا د جنګ میدان نه یوو، چا ته د نیابتي جنګ اجازه نه ورکوو. په دې باندې باید ټول پوه شي او زه د زړه له کومې مننه کوم.

زه غواړم د پکتیکا د شمله ورو مشرانو او یوه خور هم دلته کیناستلې، وکیل صاحبان هم کیناستلي، له خویندو په ځو دلیلونو مننه وکړم. اول له غیرت نه، له مېړانې نه، له تاریخ نه. پکتیکا دېوال نه دی، بلکې پکتیکا د دې ولس دروازه ده. د کابل دروازه، دروازه د لاهوري نه ده د کابل دروازه پکتیکا ده. وازه خوا ده، نو دلته باید پوه شوو او اول هدایت مې امنیتي قواوو ته ورکړ، جنرال صاحب او لوی درستیز صاحب ناست دي، نور به په کابل کې ځان نه حصاروو، پکتیکا به خوندي کوو. [د حاضرینو چکچکې] لوی درستیز صاحب د قواوو تابیا مو له سره وسنجوئ چې قواوې چیرې دي. اورګون کې به څوک کنډک ته ضرورت نه لري انتقال یې کړه چې ورته ضرورت شته. [د حاضرینو چکچکې] نو ځکه په امنیتي برخه کې اطمینان درکوم چې موږ به پرې له سره غور وکړو، په جدي توګه ټول افغانستان باندې ما خاصتاً ستاسو پیغام واورېده. دویم له پکتیکاوالو نه زه مننه کوم چې په ډېرو سختو شرایطو کې مو انتخاباتو کې ګډون وکړ. ډاکتر صاحب ته مو رایه ورکړه ما باندې چې مو لاس کېښوده د زړه له کومې مننه کوم او درېیم مننه په دې چې زما د مقام په مانا پوه شوئ. جناب ګلاب خان! زه مو خادم یم. زه د دې وطن اول خادم یم، اخر خادم یم. [د حاضرینو چکچکې] هر بیانیې کې مې وګورئ ما ویلې دي چې زما واک دار د افغانستان ستر ولس دی. زه د افغانستان واک دار نه یم، زه د افغانستان د واک دار ولس خادم یم. نو ځکه ما باندې مو حق دی. ما ته تاسو یو ډېر لوی پور راکړ. د میلیاردها ډالرو پور مو راکړ. د هغه پور په قیمت باندې خدای(ج) او زه پوهېږم، هغه پور څه دی هغه پور اعتبار دی زه یې په یو قسط نه شم درکولای. نو هیله ده چې دا را سره ومنئ چې په قسطونو به یې درکړم. [د حاضرینو چکچکې] سمه ده؟ اما قسطونه به منظم ورکوو او سره حساب به کوو. څلورم؛ زه نن ډېره مننه کوم چې شکایتونه مو ونه کړل، مشرانو صدقه مو شم. رښتیا درته وایم. کاش تعلیم یافته د افغانستان دومره پوه وي چې تاسو یاست. [د حاضرینو چکچکې] شکایت مو ونه کړ خو مطالب مو ډېر واضح و. دې ته پوهه وایي. نو مننه کوم چې مسایل مو ډېر واضح او په سپینه توګه را ته وویل؛ اما د شکایت په ژبه مو ونه ویل؛ ځکه په شکایت څه نه حل کېږي. په پاکۍ باندې، په وضاحت باندې موږ او تاسې مطلب ته رسېدلی شو.

نو دویمه خبره مې دا ده چې؛ په حکومتدارۍ کې بدلون غواړئ نو د حکومتدارۍ په به ژر تر ژره انشاءالله تعالی بدلون درته راوړم. [د حاضرینو چکچکې] زه هم خو کوچی یم، په خبره پوهېږم. له یو بل سره به کوچاني غږېږو. سپین وغږېدئ، سپین به غږېږو. خبره په دې کې ده چې ستاسو پیغام ما واخیست، له ما عمل غواړئ انشاءالله تعالی اقدامات به وکړو او څنگه چې مو وویل په قسطونو به یې درکوو. تر اخره پورې زما پور له تاسو سره نه خلاصیږي، دا درته رښتیا وایم. زما پور تر هغې ورځې چې ما کې یوه سلگۍ ده نه خلاصېږي. دې ولس په‌خپل دې بچې باندې داسې یو لوی اعتبار کړی چې په تاریخ کې ساری نه‌لري، نو ځکه زه مجبور یم چې درته یې ادا کړم. اما ستاسو خواهشونه ډېر دي، د وطن مشکلاتو باندې تاسو پوهیږئ نو په گډه به یې انشاءالله تعالی حل کوو. امنیت کې مې درته وویل، په حکومتدارۍ کې مې درته وویل.

درېیمه برخه دا ده چې؛ تاسو وویل، د مور او میرې سلوک درسره شوی دی. دا سلوک یوازې پکتیکا سره نه دی شوی. لس ولایتونه د افغانستان دي چې له ټولو نه ورته کمه توجه شوې؛ ځکه چې یا غرني دي یا دښتې دي یا ورته بدامنه وایي. د پکتیکا او د بامیان، د پکتیکا او د جوزجان ډېر، ډېر صفتونه سره مشابه دي. د پکتیکا او نورستان، د کنړ، د سرپل او بادغیس. عرض مې دا دی چې زما ژمنه دا ده چې دغه لسو ولایتونو ته به زه خاصتاً خپله توجه کوم [د حاضرینو چکچکې] او له وکیل صاحبانو، سناتور صاحبانو او مشرانو نه مې غوښتنه دا ده چې پکتیکا شامل کړئ له دې نورو سره، ملي وحدت په دې ټینگېږي ټول سره یو ځای کېږو. له بامیانو نه یو څو وکیل صاحبان راغلل پکتیکا ته، وروسته پوهېږئ ما ته یې څه و ویل، چې موږ فکر کاوه له موږ سره د مور او میرې چلند شوی خو اوس مو چې پکتیکا ولیده، اوس پوه شوو چې د مور او میرې چلند څه دی. خبره دا ده چې ټول د خدای په فضل افغانان یوو. فضل د خدای دی د دې خاورې اکثریت مطلق مسلمانانو یوو. د قضاوت معیار شته. موږ او تاسو، راشئ چې دا وطن قاضی کړو چې څنگه وطن مخې ته لاړ شي. مانا دا نه ده چې هرات به دروو یا به کندهار دروو یا ننگرهار، هغوی به په خصوصي پانگه راشي یا په بله لار به راشي، اما دلته ضروره ده چې په دغو ولایتونو پسې وگرځو. ټرانزیټي کېږئ انشاءالله قرارداد دوه ورځې مخکې امضا شوی. [د حاضرینو چکچکې] د ښرنې او انگور اډې قرارداد امضا شوی. زما کار دا دی چې دغه لار ټرانزیټي شي له پاکستان سره په خبرو کې دې نتیجې ته رسیدلې یوو. باید واقعي ټرانزیټي لاره خلاصه شي، انشاءالله تعالی. [د حاضرینو چکچکې]

بله برخه مو د بیارغاونې ده، پکتیکا غریب (ولایت) نه ده، تاسو ټول په دې پوهېږئ. ډېر امکانات لري. تیل یې واقعې دي، ګاز به ان‌شاءالله تعالی له هغه ډېر وي. همدارنګه ځمکه مو ده، وخت راکړئ ورونو چې دغه خبرې درته راټولې کړم. شپږ میاشتې مو په کار دي وکیل صاحبانو ته مې ویلي چې د ملي زیربنایو پلان جوړ کړم. هره ورځ درته خلک درواغ وایي چې دا مطالعات شوي او دا شوي دي، نه‌دي شوي ورونو. زه غواړم چې یو منسجم پلان جوړ کړم چې هر ولایت پوه شي چې څومره بندونه، کومې لارې به په کې وي چې یو ځلې یې را ټول کړو چې هره ورځ دا خبره تکراري نه شي. د ټولو ولایتونو له وکیل صاحبانو سره مې لیدلي دي، سناتور صاحبانو سره مې لیدلي دي، وزارتونو سره مې لیدلي دي. اوس به یې سره ټولوو. نوې کابینه؛ یو نفر به مخکې په کابینه کې خدمت نه وي کړی چې نوې ځېرې راشي او په یو نوي قرارداد راشو. [د حاضرینو چکچکې] له نورو مشرانو مننه کوم په مشورې او په نورو کارونو ورنه استفاده کوو. اما ستاسو غوښته هم داده چې بدلون راشي نو دغه بدلون به ان‌شاءالله تعالی په دوو هفتو کې درته راولو او پس له هغه نه ورنه کار غواړو. کار په دې غواړو چې که په خپل قرارداد یې له موږ سره خلاص نه کړ او له تاسو سره یې ونه کړ بیا نو ورته خدای په امانې وایو. دا خو زه درته معلوم یم. [د حاضرینو چکچکې]

اوس راغلو ستاسو د ډېرې بنیادي، انساني او ملي وجیبې په لور؛ هغه دا ده، موږ او تاسې پایداره سوله غواړو. دا وطن بې‌له سولې ژوند نه‌شي کولای، نو اول په دې باندې دې خلک پوه شي چې په غیرانساني او غیراسلامي اعمالو موږ سولې ته نه شي مجبور کولای. موږ سوله منلې ورونو، تاسو ولې انتخاب کړم؟ د دې لپاره چې سوله راولم. [د حاضرینو چکچکې] نو څوک چې افغان وي، څوک چې مسلمان وي، زموږ بچي دې نه وژني. زموږ د بچیو په وژلو باندې زما اراده نه کمېږي. لکه چې د یحیی‌خېلو د یوه مشر اراده نه‌ده کمه شوې. مخکې سرور خان وویل چې موږ اوسپنه یوو، هر څومره چې مو وهې لا کلک کېږو. ولسمشر مو له اوسپنې جوړ شوی دی، نه له خټو نه؛ [د حاضرینو چکچکې] اما د اوسپنې اراده سوله ده. پایداره او هر اړخیزه سوله. بین‌المللي شرایط مو جوړ کړي. دا څو میاشتو کې زه کرار په ځای نه یم ناست، بین‌المللی شرایط مو جوړ کړي دي، منطقوی شرایطو کې مو پرمختګ کړی. مشرانو! دا تدبیر غواړي او بل بې‌له علمای کرامو نه، بې‌له جهادی شخصیتونو نه، بې‌له قومي مشرانو نه دا سوله نه، پایداره کېږي.

زه نه غواړم چې تاسو ته بې ځایه وعدې در کړم یا په ټلویزیونو کې خبرې وکړم. تاسې له ما نه سوله غواړئ، سمه ده؟ په ګډه، په ترتیب او په تدبیر به یې راولو چې وطن ارام شي چې پس له هغه نه وکړای شو په بیارغاونې باندې ورګرځو. مګر دا نه کوو چې ځان وغولوو. تاسې راته ویلي چې امنیت کې راسره ودریږئ، درسره درېږم. ځکه د سولې او امنیت ترمنځ فرق وکړئ. سوله سیاسي ده او امنیت جرمي ده. مجرمین باید د قانون منګولو کې راشي او زموږ بچي باید محفوظ وي. نو دا ضرور ده چې هغه رقم سوله راولو چې ان‌شاءالله تعالی پایداره به وي او د دې لپاره که زما سر هم لاړ شي زما سر دې د دې وطن قربان. [د حاضرینو چکچکې] دا چوکۍ د خدمت چوکۍ ده نه د ټینګ نیولو. هر افغان چې سیاسي اختلاف لري، راځي د مذاکراتو مېز ته دې کېنئ. ستاسې په پرتله په دنیا کې پوه جرګه‌مار نه‌شته. تاسې مینځ کې قضاوت وکړئ. هغه خبره، هغه ستونزه او هغه غمیزه چې په خبرو حل کېږي؛ په ټوپک نه حل کېږي.

ما ته یو پکتیکاوال تیر وار چې اورګون ته راغلم، عجیبه خبره وکړه. ما ټولې دنیا ته تکرار کړه. یو قوماندان و لوی غره ته ختلی و، خلکو ورته ویلي و چې ښکته شه، ویل یې چې نه، ما خپل ټوپک ته روزه ورکړې. راشئ چې ټوپک ته روزه ورکړو او د خبرو د دقت په اساس باندې د وطن ستونزې حل کړو. دا وطن د جرګو وطن دی. دا وطن د مرکو وطن دی. دا وطن د شریعت وطن دی. په دې چوکاټ کې به یې ان‌شاءالله تعالی حل کوو او دېته به رسېږو چې بیا به د دې خاورې بچي خدای مه‌کړه نه به شهیدان کېږي. ما ټولې دنیا ته ویلي چې افغانان څه غواړي، موږ دا غواړو چې بچي مو له کوره وځي مکتب ته لاړ شي، بېرته راشي مور او پلار یې پرېږدي چې والیبال میدان ته ووځي موږ یې ننداره وکړو؛ نه دا چې اجازه ورنه‌کړي، نو د دې لپاره ضرور ده ملا مو تړلې اراده مو ټینګه ده او ان‌شاءالله تعالی دا ټول شیان به په ځای شي. د خدای(ج) دربار لوی دی. اول ټولو شهیدانو ته د خدای(ج) دربار نه جنتونه او تاسې ته صبر غواړم. هیله ده چې دا غمشریکي چې موږ او تاسې ټول افغان یې لرو، لږ مو درد سپک کړي وي. په دې پوه شئ چې هر افغان یحیی‌خېلو ته دعا کوي او د باندې هم دغه خبره عامه شوې چې یحیی‌خېلو کې څه غمیزه وه. ټول درسره درېدلي یوو. ان‌شاءالله تعالی د پکتیکا راتلونکي لپاره چې هوسا اوسي، امن اوسي او د دې وطن ټینګه غړنۍ دروازه اوسي او د تعلیم او تربیې له لحاظه په افغانستان کې سر لوړی واوسي، په دې دعا کوو. ګورئ که ستاسې یو ورور د لوګر نه د دنیا علمي درجو ته رسېږي هر پکتیکاوال کې دا صفت شته دی. زه هر پکتیکاوال ځوان ته د خپلې ځوانۍ په حیث

گورم او هیله مو دا ده چې په بین‌المللي او ملي سویه دا ځوانان ان‌شاءالله تعالی په پښو ودرېږي. گلان خانه! او ملک صاحب شهباز خانه! دا پیغام مو چې پکتیکا په علم باندې آباد کړئ، د زړه له کومې منو او ان‌شاءالله تعالی ورباندې اقدام کوو.

تل دې وي افغانستان! پاینده باد افغانستان!

# په لوړو زده‌کړو کې د معلوماتي ټکنالوژۍ رول یوولسم ملي کنفرانس؛ پرمختګونه او ننګونې

**د کابل پوهنتون | ۲۶ لیندۍ ۱۳۹۳ | ۱۷ ډسمبر ۲۰۱۴**



## اړوند سکتورونه:

**پوهنه او لوړې زده‌کړې**

## د وینا عمده محورونه:

- **په زده‌کړو کې تحول او په هغه کې د ټکنالوژۍ اهمیت**
- **د افغان محصلینو د ځواک نقطې**
- **په فرهنګ کې له ټکنالوژۍ کې ګټه اخیستنه**

## غورچاڼ:

د پوهې، پوهانو او زده‌کړو تعریف په بنسټیز ډول د تحول په حال کې دی. نن معلومات بې‌انتها دي او حافظه یې د احاطه کولو وړتیا نه لري. په دې منځ کې افغان ځوانان دوه مثبتې نقطې لري، مغز یې غیر مستعمره دی او د پوهې تږي دي. موږ د درسي سیستم اصلاح ته اړتیا لرو، څو تر څلورم ټولګي پورې د لومړي ټولګي د لېواله ځوانانو نوښتونه له منځه ولاړ نشي. باید پر داسې لوري ولاړ شو، چې د استاد او زده‌کوونکي اړیکه پر همکاریو ولاړه وي.

همداراز له زېربنايي اړخه باید ټول پوهنتونونه له نوري فایبر شبکې سره وصل شي. په دې کار سره به د درسونو چوکاټونه او نصاب تغییر وکړي. خو هغه څه چې ثابت پاتې کېږي، د مسلمان او افغان په توګه زموږ هویت

دی. دا باید درک کړو، چې ټکنالوژي له فرهنګ سره په ټکر کې نه ده او پوهې او هغه فرصت ته د لاسرسي یو ډول تغییر دی، چې د خپل فرهنګ په تاریخ باید لا ډېر زیات پوه شو.

## د جمهوررئیس غني وینا:

بسم الله الرحمن الرحیم.

محترم فریده مهمند صاحب وزیر تحصیلات عالی، جناب دکتور صاحب قیومی، جناب دکتور صاحب پیروز، سفیر محترم آلمان، استادان گرامی همکاران عزیز، محصلین عزتمند ما! السلام علیکم و رحمت الله و برکاته!

ما امروز در دنیایی زندگی می‌کنیم که تعریف دانش، دانشمند و تحصیل، به صورت بنیادی در حال تحول است، که اویا کاله مخکې یې انجنیري لوستې وه تقریبا پنځوس کاله یې انجنیري ثابته وه، اما نن که څوک کمپیوترساینس لولي په شپږو میاشتو کې تغییر کوي، به این خاطر تعریف علم به صورت بنیادی تغییر کرده. در دورانی که دکتور صاحب قیومی[۱] و من در پوهنتون کابل شامل شدیم، بعد به پوهنتون امریکایی بیروت رفتیم، علم یک محدوده بود؛ باید سر صد کتاب یا دوصد کتاب یا چهارصد کتاب، آدم احاطه می‌داشت و بر اساس آن یک قسمت معلومات را باید در مغز خود می‌داشت. اما امروز معلومات بی‌انتها شده، هیچ نوع انتهایی برای معلومات وجود ندارد. بنا بر این تعریف علم این نیست که احاطه‌ی محدود سر چند کتاب داشته باشیم یا خدانکرده سر نوت‌های پدرکلان‌های ما، [په خندا] از دل محصلین می‌گویم یا نی؟ [د حاضرینو چکچکې]

معنی علم این است که آدم باید بتواند سؤالات اصلی را مطرح کند. سؤال است که آدم را به جست‌وجو داخل می‌کند. اگر سؤال درست را مطرح نماییم، یک قسمت بسیار زیاد جواب‌ها موجود است. به این خاطر اکنون حافظه به معنی سابقش نیست. وقتی که من در فاکولته بودم، حافظه معنی بی‌نهایت مهم داشت، چون کسی که حافظه بسیار خوب می‌داشت، می‌توانست دانش خود را ثابت کند. اما امروز معنی حافظه به صورت بنیادی فرق کرده، چون معنی حافظه این است که طرق جست‌وجوی سؤالات و راه حل را داشته باشیم،

---

[۱] په زېربنایي چارو کې د جمهوررئیس غني ستر سلاکار، ډاکتر محمد همایون قیومي.

نه اینکه احاطه. یک کمپیوتر به آسانی جواب چند میلیون یا چند میلیارد انسان را می‌تواند بدهد. چون سرعت (گسترش) علم در حال تغییر است، نوع دانش ما باید به صورت بنیادی تغییر کند.

پیشرفتی که افغان‌ها در اینجا دارند یا نکته‌ای که در آن جوان افغان صاحب یک ابتکار خاص است چیست؟ مغز جوان افغان تا حال به فضل خداوند(ج) مستعمره نشده. وقتی من شرف خدمت در پوهنتون را داشتم، مغز جوان افغان را غیرمستعمره‌شده یافتم. جوان‌های افغان به فضل خداوند(ج) گل‌های خودرو هستند. [په خندا] شاید در بیرون کمی خار داشته باشید اما در بین خود بسیار محکم هستید. دلیل این که مغزتان مستعمره نشده این است که به صورت خودجوش علم را پیدا کردید.

نکته دوم در قسمت جوان‌های افغان این است ـ که خوشبختانه دخترها و بچه‌ها، هر دو، حضور دارند ـ واقعاً عطش بسیار زیاد برای آگاهی دارند. در بسیار نقاط دنیا من درس داده‌ام یا درس خوانده‌ام، اما سؤالات بسیار مهمی را که جوان‌های افغان در ضمن بحث‌ها (مطرح) می‌کنند، در کمتر نقاطی دیده‌ام و این موجب امیدواری بسیار بزرگ ما می‌شود. اما مشکل ما در چیست؟ مشکل ما در این است که سیستم درسی ما هنوز به صورت اساسی اصلاح نشده است، همان جوان‌هایی که در صنف اول فاکولته با نهایت اشتیاق می‌آمدند ـ امید است که حالا پیشرفت‌های پوهنتون زیادتر شده باشد ـ دورانی که من ریاست را به عهده داشتم، در صنف چهارم خسته می‌شدند؛ ابتکارشان در پوهنتون کشته می‌شد.

به یاد دارم که یکی از استادان با تخته‌پاک یک محصل را زده بود، به خاطر این که هنوز هم کتابی که استاد درس می‌داد، سر سیاست اتحاد شوروی سابق بود و اتحاد شوروی سابق وجود نداشت. بدین جهت، با تمام احترام به استادان گرامی که عمر خود را برای تعلیم و تربیه جوان‌های ما مصرف کرده‌اند، بی‌نهایت ضرور است که همه ما باید با دنیای نو تطابق کنیم.

دنیای نو در قسمت اول آزادی فکر را تقویت می‌کند؛ نوع ارتباط استاد و شاگرد به صورت بنیادی در حال تغییر است چون حالا هر دوی‌شان همکار هستند. هیچ استادی در تمام دنیا وجود ندارد که سر یک علم، به تمام معنایش، احاطه داشته باشد و چون این احاطه وجود

ندارد بنابراین هیچ نوع شرمی در این نیست ـ البته در فرهنگ ما یک شرم است ـ که بگوییم من نمی‌دانم. حالی باید این را قبول کنیم که چون دانش بی‌انتها است ما محدودیت داریم. دوم، همکاری است؛ چون مشترکاً باید جواب‌های نو را دریافت کنیم.

از جناب پیروز صاحب[۱] من می‌خواهم خاصتاً ابراز امتنان کنم. وقتی من از وزارت مالیه به پوهنتون آمدم، از برکت پیروز صاحب بود که من و خانمم تنها جایی که دوام‌دار می‌توانستیم از انترنت استفاده کنیم، اتاق اول بود که اینها ایجاد کرده بودند. [ډاکتر نذیر پیروز ته خطاب:] فکر می‌کنم در برلین خانمم هم از شما تشکر کرد. توجه پیروز صاحب تنها به پوهنتون کابل نبوده، به پوهنتون قندهار و پوهنتون هرات و تمام پوهنتون‌های دیگر توجه داشته‌اند، به این خاطر از دیدگاه بسیار وسیع و ملی‌شان من ابراز امتنان می‌کنم، چون تمام پوهنتون‌های افغانستان را به یک چشم می‌دیدند.

مسأله در این است که امروز، تکنالوژی در دانش دخیل شده است. پیش از ایجاد انترنت بین تکنالوژی و دانش یک فاصله بود، اما امروز این فاصله وجود ندارد. بنابراین یکی از نکات عمده‌ای که دولت پیش رو دارد، این است که زیربنای تکنالوژی دانش را فراهم کند. هدایت من به وحیدی صاحب، وزیر صاحب مخابرات، به همین خاطر در قسمت اول این بود که شبکه فایبر نوری باید تکمیل شود و تمام پوهنتون‌های ما باید به شبکه فایبر نوری وصل شود. در پهلوی این معلوم است که انواع مختلف قمر مصنوعی را هم پیدا می‌کنیم، اما شبکه فایبر نوری، زیربنا است. در این چارچوب درس تغییر خواهد خورد و همچنین معنی نصاب، معنی درس، معنی دانش.

در پهلوی این معلوم است چیزی که ثابت می‌ماند این است که ما باید «هویت» خود را درک کنیم. مسلمان بودیم، مسلمان هستیم و تا ابد مسلمان خواهیم بود؛ افغان بودیم، افغان هستیم و تا ابد افغان خواهیم بود. حالا در چارچوب دانش نو و یک دنیای متغیر، هویت ملی ضرورت به سرمایه‌گذاری دارد. ۵۰ زبان دیگر را یاد بگیرید اما ضرور است که به زبان‌های خود حاکم باشید. باید بدانیم که تکنالوژی و فرهنگ در تصادم نیست.

با یک مثال دیگر حرف‌هایم را ختم می‌کنم. من قسمت‌های زیادی از عمرم را وقتی که استاد پوهنتون بودم سر تاریخ طرق صوفیه گذراندم، وقتی که در بالتیمور در پوهنتون جانز

---

[۱] د معلوماتي ټکنالوژۍ په چارو کې د لوړو زده‌کړو وزارت سلاکار ډاکتر نذیر احمد پیروز.

هاپکینز[۱] درس می‌دادم. بعضی کتب تنها در کتابخانه کانگرس امریکا پیدا می‌شد، معنایش این است که من باید هفته‌ای دو بار به واشنگتن می آمدم و دو ساعت را در راه می‌گذراندم (در حالی که) کتابخانه هشت ساعت باز می‌بود اما امروز یک سرچ انترنت مقدار زیادتری از معلومات را در هشت ساعت در اختیارمان قرار می‌دهد، تا چهار سال بررسی اینها. چون کل این کتاب‌ها غیر قابل پیدا شدن بود و فقط در کتابخانه کانگرس پیدا می‌شد یا هم در موزیم انگلستان، تنها ده کتابخانه امریکا به بعضی از این کتاب‌ها دسترسی داشت. بعضی مواقع سه ماه وقت می‌گرفت که یکی از این کتاب‌ها به ما برسد. حالا چون نوع دانش و نوع دسترسی ما به آن تغییر کرده، می‌توانیم تاریخ فرهنگ خود را به مراتب بیشتر بفهمیم.

در این بخش، چیزی که در ده سال گذشته راجع به تاریخ علوم در اسلام رخ داده واقعاً یک انقلاب فکری است. ده سال پیش ما نمی‌فهمیدیم که سهم مسلمان‌ها در ایجاد فرهنگ عصری و علمی تا چه اندازه است؛ البته تا امروز هم به اندازه‌ی سهم چینایی‌ها، تثبیت نشده. اما تغییر دوام‌دار است، مخصوصاً در قسمت الجبر که در تمام زبان‌ها آمده اساس تمام تکنالوژی معاصر و تکنالوژی تخنیکی را تعیین می‌کند.

من باز هم می‌خواهم از جناب پیروز صاحب، از جناب مهمند صاحب، از سفیر صاحب آلمان و تمام همکارها ابراز امتنان کنم که این کنفرانس را دایر کردند.

من به این خاطر خدمت‌تان آمدم که اول همراه‌تان شریک کنم که این موضوع، بی‌نهایت حیاتی و مهم است و دوم درخواست کنم کنفرانس‌تان که به نتیجه رسید، پیشنهادهای‌تان و پروگرام‌های آینده‌تان را همراهم شریک کنید تا بتوانیم به تفصیل سر آن بحث کنیم و تصمیم بگیریم.

تل دې وي افغانستان! پاینده باد افغانستان!

---

[۱] Johns Hopkins University: د امریکا متحده ایالتونو لرغونی څېړنیز پوهنتون، چې د مریلند ایالت په بالتیمور ښار کې موقعیت لري. جانز هاپکنز پوهنتون په ۱۸۷۶ ز کال کې «حقیقت دې آزادوي» تر شعار لاندې په فعالیت پیل وکړ. تر اوسه ددې پوهنتون ۳۷ محصلینو او استادانو د نوبل جایزې ګټلې دي.

# په بريالي ډول د امنيتي مسؤوليتونو د لېږد پای ته رسېدو او د امنيتي ځواکونو د زړورتيا ستايلو مراسم

کابل | ۱۱ مرغومی ۱۳۹۳ | ۱ جنوری ۲۰۱۵




## اړوند سکتورونه:

**امنيت ـ حکومتوالي ـ بهرنی سياست**

## د وينا عمده محورونه:

- **افغان ځواکونو ته د امنيتي مسؤوليتونو د لېږد پروسې پای**
- **له افغان ځواکونو ملاتړ**
- **په سيمه کې امنيتي ګواښونه او له هغو سره مقابله**

## غورچاڼ:

د امنيتي مسؤوليتونو لېږد ترسره شوی او په افغانستان کې مسؤول بنسټونه د مشروع قوې کارونه او انحصار پخپل لاس کې لري. امنيتي او دفاعي ځواکونه د خلکو د امنيت ټينګښت په لاره کې د قربانيو له امله، د ټولو اقشارو کلک ملاتړ لري. علما، ښځې، د مدني ټولنو بنسټونه او رسنۍ له امنيتي او دفاعي بنسټونو سره يو ځای په يوه واحد صف کې ولاړ دي. د افغانستان اتل امنيتي او دفاعي ځواکونه ددې هېواد له خاورې او ناموس څخه دفاع کوي او ملي وحدت حکومت د هغوی د ترفيع لپاره، ټولنيز امکانات، تعليم، اصلاحات او د هغوی اړوند د سرچينو مصرف لپاره اساسي اقدامات پيل کړي دي. امنيتي مسؤوليتونه په داسې حال کې ولېږدول شول، چې موږ له ګڼو خطرونو سره مخ يوو. نړيوال نظامونه له خپلواکو دولتونو جوړ شوي دي، چې ملي پرېکړو

او ملي خپلواکۍ ته درناوی يې لازمه اړتيا ده، خو موجوده خبيثه کړۍ «د حکومتولۍ نړيوال نظام» له خطر سره مخ کړی دی. په داسې حال کې چې افغانستان په لومړۍ ليکه کې واقع دی، خو خطرونه يوازې افغانستان ته متوجه نه دي. موږ هغه ګواښونه مهاروو، چې له امله يې د هر امريکايي، جاپاني او اروپايي ژوند له ګواښ سره مخ دی. ګډ ګواښونه، ګډې ګټې رامنځته کوي. د نوي چاپېريال او مقرراتو، او نويو خطرونو او فرصتونو لپاره لازمه ده، چې هره ورځ بايد نړيواله همغږي زياته شي. په بل اړخ کې، آسيا له افغانستان پرته ثبات او هوساينې ته نشي رسېدلی او د آسيا اقتصادي تحول د افغانستان له موقعيت او طبيعي سرچينو څخه له معقولې استفادې سره تړلی دی. زموږ ګاونډيان بايد پوه شي، چې د افغانستان سيمه‌ييز فرصتونه ډېر دي او بايد له موږ سره ګډ کار کول وټاکي، يا ځان په انزوا کې واقع کړي. موږ د چا د جګړې ډګر نه يوو او نه پخپله خاوره کې چاته د نيابتي جګړې اجازه ورکوو. موږ په ملي وحدت، غښتلې سياسي ارادې او آزادۍ غوښتنې روحيې سره، د روانې جګړې پای ته رسولو ته ژمن يوو.

## د جمهوررئیس غني وينا:

نحمده و نصلی علی رسوله الکريم. اما بعد، اعوذ بالله من الشيطان الرجيم. بسم الله الرحمن الرحيم.

جلالت‌مآب حامد کرزی، زموږ مشر، جناب دانش صاحب، جناب داکتر صاحب عبدالله، معاونين اجرائيه، جناب رئيس صاحب ولسی‌جرګه، جناب رئيس صاحب مشرانوجرګه، جناب کشاف صاحب، اعضای کابينه، بزرګان وطن، قوماندان صاحب آيساف، سفرای محترم، خواهران و برادران، السلام عليکم و رحمت الله و برکاته!

نن د مبارکۍ او مننې ورځ ده. زه غواړم له ټولو مخکې د افغانستان ولس ته دا مبارکي ورکړم چې نن زموږ ملي ځواکونه په دې بريالي شوي، چې د افغانستان د ملي حاکميت، د دې خاورې د ناموس د ساتنې او د وطن د دفاع بشپړ مسووليت په لاس واخلي. از تمام اراکين قوای امنيتی و دفاعی افغانستان تشکر می‌کنم. اين مسؤوليت بزرگ و خطير را برای‌شان تبريک می‌گويم. ناموس وطن در دست شما است، وطن به شما اعتماد دارد و با اعتماد کامل، (برای) پنج هزار سال آينده از اين خاک دفاع خواهيم کرد. [د حاضرينو چکچکې]

دوم، می‌خواهم اين روز را به جلالت‌مآب حامد کرزی تبريک بگويم! تلاش‌های بی‌شمار جناب شما (اين بود که) دوباره حاکميت کامل افغانستان به دست افغان‌ها تأمين شود، (اين) نتيجه تلاش‌های شما است. از اين که در آن دوران، اعتماد کرديد مسؤوليت انتقال امنيتی را به من سپرديد باز هم از جناب شما تشکر می‌کنم.

زه د افغانستان له سیاسي قشر او خاصتاً زما له ورور ډاکتر صاحب عبدالله عبدالله نه مننه کوم، زموږ دښمنان په دې فکر وو، چې د افغانستان سیاسي قشر به دا پوهه، دا توان او دا اتحاد ونه لري چې سیاسي انتقال ترسره کړي. موږ ثابته کړه چې واحد ملت یوو، متحد سیاسي قشر یوو او په هېڅ توګه د هېچا له خوا استعمال کېدای نه شو.

تبریکی به ملت غیور افغانستان ضرور است. در طول تاریخ پنج هزار ساله ما، همیشه، ملت نگهبان این خطّه بوده و به اراده خداوند(ج) و تسلیمی به هدایات پیغمبر اکرم(ص)، بعد از این که ما مسلمان شدیم، همیشه با وحدت تمام، از تمامیت تمام این خاک دفاع کردیم. محمود طرزی صد سال پیش چه خوب گفت که دشمن اگر قوی است، نگهبان قوی‌تر است! ولی باز هم نباید هیچ گاه از این اندیشه‌ها فارغ بود. به قدر یک لحظه هم، در حبّ وطن و جان‌سپاری در راه وطن، باید غفلت و بی‌پروایی و بی‌باکی را از خود دور داشت.

به حفظ و حبّ وطن لحظه‌ای مشو بی‌باک / بنوش باده‌ی حبّ وطن ز تاک وطن

ز حق نیاز کند عاشق وطن «محمود» / که دشمنان وطن باد زیر خاک وطن[1] [د حاضرینو چکچکې]

موږ له خپلو امنیتي او دفاعي ټولو افرادو نه، بریدملانو نه او ساتنمنانو نه، افسرانو نه جنرالانو نه مننه کوو. په دې ۱۳ کالو کې زیاتې قرباني مو ورکړې، هر ورځ قرباني ورکوئ. دا وطن په تاسې ویاړي او په تاسې اعتماد لري.

همدارنګه موږ له خپلو متحدینو نه مننه کوو. او پس له څو شېبو به په واضح توګه له هغوی څخه مننه وکړم. او اوسنی ماحول به تشریح کوم.

معنی انتقال امنیتی چیست؟ انحصار و استعمال مشروع قوه. از امروز تصامیم اساسی و عمده راجع به استعمال قوه از طرف نهادهای مسؤول در افغانستان گرفته می‌شود. هدف ما انحصار مشروع قوه در سرتاسر خاک ما می‌باشد. در ۱۳ سال گذشته (به دلیل) شرایطی که بر اساس مشکلات عظیم منطقه و دنیا به وجود آمده بود، این صلاحیت، مشترک بود. از این روز به بعد این صلاحیت و همراهش مسؤولیت اخروی و دنیوی، تنها و تنها متوجه خود افغان‌ها

---

[1] د ورځپاڼه لیکوونکي، سیاستوال او افغان روښانفکر محمود طرزي شعر (۱۲۴۴ ـ ۱۳۱۲ لمریز).

است. البته ما تنها نیستیم، متحدین داریم و در این چارچوب اتحاد خود را دوام می‌دهیم.

من می‌خواهم در شش بخش مختصراً صحبت کنم.

اول ـ قوای امنیتی و دفاعی ما، اولاد صدیق ما، از افغانستان دفاع کرده‌اند، امروز ضرور است که تمام مردم افغانستان در یک صف واحد، پشتیبانی سرتاسری خود را از قوای دفاعی و امنیتی افغانستان ابراز کنند. [د حاضرينو چکچکې]

(دوم ـ) اولین خواهش ما از علمای کرام و بزرگان اقشار اجتماعی افغانستان است. جناب کشاف صاحب[۱]! ستاسې له اعلامیې نه مننه کوم. آرزو و تمنای من این است که از هر مسجد و مدرسه افغانستان پیام واضح اعتماد به قوای امنیتی و دفاعی افغانستان بالا شود. [د حاضرينو چکچکې] «میر افغان»[۲]، پولیس شجاعی که زندگی خود را اهدا کرد تا دیگران حفظ شوند، اولاد صدیق این خاک و شهید این خاک است. [د حاضرينو چکچکې] از علمای کرام ما تقاضا داریم که قربانی اولاد ما را تقدیر کنند. از بزرگان اقشار اجتماعی تقاضا داریم، لکه چې همېشه د دې خاورې رهبران وئ او د عزت وړ وئ او د افغانستان شمله مو ساتلې؛ بیا دا شمله وساتئ. او لومړی تر ټولو بچو ته مو ووايئ چې امنيتي قواو ته راشي، امنيتي قواوې د دوی دي او دوی دې له امنيتي قواوو سره په يو خط کې ودرېږي.

(سوم ـ) زنان افغانستان. (با وجود) تهدیداتی که متوجه خواهر ما شکریه بارکزی شد، قهرمانانه دو روز بعد، باز هم به تالار شورای ملی رفت تا از موکلین خود نمایندگی کند. این نمایانگر شجاعت زن افغان و تعهد زن افغان به حاکمیت ملی این خاک است. [د حاضرينو چکچکې] هیچ کس برابر با زن افغان از جنگ زجر نبرده است. نو ځکه له ټولو ښځو نه مې غوښتنه دا ده، چې د سولې اواز او د ثبات اواز جگ کړئ او په يو اواز ووايئ چې دا خاوره سوله غواړي پايداره سوله غواړي او تاسي د جنگ اجازه نه ورکوئ او په عين حال کې چې په خپلو بچيو باندې مو اعتماد کړی، زموږ امنيتي او دفاعي ځواکونه تشکيل کړي او د الله کلمه لپاره خدمت وکړي، ورسره ودرېږئ.

چهارم ـ نهادهای جامعه مدنی. نهادهای جامعه مدنی ما نمی‌توانند بدون امنیت زندگی کنند.

---

[۱] مولوي قيام‌الدين کشاف، د افغانستان د سراسري عالمانو شورا رئيس.

[۲] مير افغان: د ملي پوليسو يو غړی و، چې د کابل ښار په نهمه حوزه کې د يوې ځانمرگې ډلې د پېژندلو او ځارلو پر مهال د ۱۳۹۳ د لېندۍ مياشتې په ۲۷ په شهادت ورسېد. کورنيو چارو وزارت هغه ته د «اتل پوليس» لقب ورکړ.

متأسفانه نه‌تنها نهادهای جامعه مدنی ما بلکه اراکین ملکی دولت ما، اکثراً، خود را در یک فاصله از قوای امنیتی دور نگه داشته‌اند. ملت، نهادهای امنیتی و دفاعی و دولت، یک صف واحد هستند. خواهش من این است که در ماه آینده تمام افراد ملکی ما به نهادهای امنیتی ما یک بار سر بزنند؛ به قول اردوها بروید، به قوماندانی‌های امنیه بروید، به امنیت ملی بروید، ببینید که اینها برای وطن چی می‌کنند و تقدیرشان کنید. تا نهادهای جامعه مدنی در امنیت باشند و بتوانیم حاکمیت قانون و سهم مردم را عملی کنیم.

(پنجم ـ) رسانه‌های ما. آزادی بیان، اساس قانون اساسی است. در ممالکی که واقعاً حاکمیت قانون را پیاده کرده‌اند، رسانه‌ها در ملت‌سازی سهم بزرگ داشته‌اند. [رسنیو ته خطاب:] امید است که ضعف‌ها را که می‌گویید، قوت‌ها را هم بگویید، خوبی‌ها را هم ذکر کنید؛ و در ذهنیت‌سازی عامه بر اعتماد و اعتبار بالای نهادهای امنیتی و دفاعی ما کمک کنید. این یک بحث ملی است؛ جمع شدن همه افغان‌ها زیر عَلَم مقدس و بیرق پرافتخار ملی ما است.

(ششم ـ) خطاب دیگر من به قوای قهرمان امنیتی و دفاعی ما است؛ «انحصار مشروع قوه» و «استعمال مشروع قوه»، بعد از این به عهده شما است. هر دوی این وظایف بی‌نهایت مشکل و دشوار است. امروز در دورترین دشت‌های افغانستان در شامخ‌ترین قله‌های افغانستان قوای امنیتی ما در هر دقیقه از این خاک دفاع می‌کنند. در هر دقیقه از ناموس این وطن دفاع می‌کنند.

ځکه چې تاسې دومره زړه ور یئ نو ضرور ده چې اعمال مو د قانون په چوکاټ کې او د قانون د انفاذ لپاره وي. که نور خلک د خدای(ج) احکام او د رسول اکرم(ص) هدایات تر پښو لاندې کوي؛ زموږ امنیتي قواوې ټول متعهد دي چې دا احکام عملي کړي. مېړانه هغه ده چې تر فشار لاندې سړی دېته مجبور نه شي چې شکنجې ته لاس وروړي او یا د قانون او شریعت پر خلاف اقدام وکړي. موږ په تاسې افتخار کوو، نو ځکه ستاسې اعمال باید د ټولو ولس د افتخار وړ وي.

به پاس خدمات خاص، من می‌خواهم چند نکته را خدمت اراکین قوای امنیتی و دفاعی‌مان اعلام کنم:

اول ـ برای تمام کسانی که در پنج سال یا زیادتر از آن، بنا بر عدم موجودیت بست ترفیع

نکرده‌اند، یک رتبه ترفیع فوق‌العاده منظور می‌شود. [د حاضرینو چکچکې]

(دوم ـ) برای ایجاد امکانات اجتماعی از قبیل مسکن، مکتب و سایر خدمات در جوار قول اردوها و قوماندانی‌های امنیه و غیره یک پلان منسجم ترتیب می‌شود و در ختم سال گزارش تطبیق آن را برای‌تان ارائه می‌کنم. [د حاضرینو چکچکې]

(سوم ـ) ساتنمن‌های ما و بریدملان ما دوام‌دار قربانی می‌دهند، اما نظر به مشکلات خاص، زمینه ترفیع و پیشرفت آنها نبود؛ ما اول می‌خواهیم زمینه ترفیع ساتنمنان و بریدملانی که شرایط (لازم را) دارند، فوراً مساعد شود و دوم برای آنهایی که از نگاه تعلیم مشکلات داشتند، شرایط خاص تعلیم ویژه فراهم شود تا بتوانند به صف افسران اردوی ملی و پولیس ملی داخل شوند. هدایت من به وزارت‌های محترم داخله و دفاع این است که به‌زودی زمینه کار اینها را فراهم سازند. ساتنمنان و بریدملان، پل ارتباطی بین سربازان و افسران هستند و این پل باید به نهایت قوی باشد. قوای امنیتی ما همه رضاکار هستند، هیچ کس اینها را مجبور نساخته، جز حس وطنپرستی‌شان! بنابراین، این بخش را خاصتاً ما تقدیر می‌کنیم.

(چهارم ـ) زموږ شهیدانو لویه قرباني ورکړې او زموږ مجروحین په سخت حالت کې دي. زه چهارصد بستر [سردار محمدداوود خان] شفاخانې ته تللی یم، امنیت شفاخانې ته تللی یم. د پولیسو شفاخانې راته ویلي دي، چې یو درې هفتې نور صبر وکړئ. همین طور شد سالنگی صاحب[۱]؟! خودتان اجازه ندادید و گفتید که به این شفاخانه نرو تا شفاخانه‌تان بهتر شود. از خاطر کمک به ورثه شهدا و کمک به معلولین، ما یک صندوق وجهی را در زودترین فرصت ترتیب می‌کنیم.

علاوتاً، حکومت‌تان یک وعده واضح و مشخص به قوای امنیتی‌تان دارد؛ قوای امنیتی به سیاست‌های کوچک کشیده نمی‌شود. [د حاضرینو چکچکې] در (زمینه) مسلکی بودن و مصونیت کاری در چارچوب قانون، ما اقدامات سرتاسری خواهیم کرد. اصلاحات ضروری است، اصلاحات بر اساس اصول و قواعد صورت خواهد گرفت، نه بر اساس سلیقه.

در مصرف منابع، ما ضرورت به تغییرات بنیادی داریم و امید است که تمام اراکین عالی‌رتبه حکومت، معاونین، جناب داکتر صاحب عبدالله و معاونین‌شان و همه اعضای کابینه آینده

---

[۱] ستر پاسوال محمد ایوب سالنګي، د کورنیو چارو وزارت سرپرست او د امنیتي چارو ارشد معین.

افغانستان به اصل شفافیت و حسابدهی متعهد باشند. این اصل را در قوای امنیتی خود به زودترین فرصت عملی می کنیم.

بخش مدیریت منابع، به شکل مطلق، ملکی خواهد شد و تحت حسابدهی کامل به اعضای شورای ملی و مردم افغانستان قرار خواهد گرفت.

خطراتو باندې راځم. ما در نقطه تقاطع خطرات زندگی می کنیم. مشکلات ما در ٤٠ سال گذشته مشکلات ملی نی بلکه مشکلات منطقوی و بین المللی بوده. بنابراین باید درک کنیم که محیط پیچیده ما ضرورت به بررسی بی طرفانه، عاقلانه و همه جانبه خطرات دارد. دولت، واحدِ قبول شده‌ی نظام بین المللی است. نظام بین المللی از دولت‌های مستقل ترکیب یافته است. هر دولت هم حقوق دارد، هم وجایب دارد. مداخله در امور همسایگان از طرف یک دولت، مخالف تمام موازین قبول شده‌ی بین المللی است. احترام به تصمیم گیری ملی و حق خودارادیت ملی از اصول قبول شده‌ی نظام بین المللی است. امروز یک حلقه خبیثه به وجود آمده که «نظام دولتداری بین المللی» را با خطر مواجه کرده است.

اجزای این (حلقه خبیثه)، نهادهای جرمی غیردولتی، شبکه‌های جرمی دولتی و بین‌المللی سوءاستفاده بعضی دولت‌ها از این شبکه‌ها برای دیدگاه خُرد و کوچک خود است. هر دولتی که یک شبکه جرمی را به خاطر منافع کوتاه‌مدت خود مقابل یک دولت دیگر استعمال کند، در حقیقت تمام نظام قبول شده‌ی بین المللی را با خطر مواجه می کند.

تروریزم خوب و بد وجود ندارد. طفل ما در یحیی خیل[۱] عین عزت و آبروی طفل پیشاور را دارد، یا لاهور، یا کراچی و یا بمبئی. طفل افغان از هیچ (فرد دیگر) کم نیست از هیچ (فرد دیگر) زیاد نیست. [د حاضرینو چکچکې] بناءً همه دولت‌ها به صورت عموم، خاصتاً دولت‌های منطقه، یک اختیار دارند؛ یا باهم به طرف ثبات و رفاه می‌رویم، یا باهم خدای نکرده غرق می‌شویم. اما افغانستان را کسی غرق کرده نمی‌تواند. [د حاضرینو چکچکې] هر چا چې د افغانستان په سقوط باندې په تاریخ کې لوبه کړې خپله یې سقوط کړې دی، دا خاوره سقوط نه کوي د خدای(ج) په توکل او د ملت په اراده افغانستان به تل

---

[۱] د یحیی‌خېلو ترهګریزه پېښه: د پکتیا ولایت په یحیی خېلو ولسوالی کې د والیبال په میدان کې د یوې ترهګرېزې پېښې له امله ۵۷ تنه په شهادت ورسېدل (۲ لېندی ۱۳۹۳).

وی. پنځه زره کاله و؛ پنځه زره کاله به نور هم یوو.

این (بخش) سخنان من متوجه متحدین بین‌المللی ما می‌شود. جناب کمبل! از شما به نمایندگی از تمام قوای امنیتی و دفاعی بین‌المللی که شرف رهبری آن را دارید، در قدم اول به خاطر قربانی‌ها و کمک‌های‌تان ابراز امتنان می‌کنم. شما در شرایط سخت با ما ایستاده شدید، شانه به شانه سر قوای امنیتی ما سرمایه‌گذاری کردید و پروسه انتقال را با ما مشترکاً انجام دادید، از قربانی‌تان و کمک‌های‌تان ابراز امتنان می‌کنم.

په اوسني ماحول کې موږ له ګډو خطراتو سره متوجه یوو. خطراتی را که پیش‌تر خدمت‌تان عرض کردم، تنها متوجه ما نیست. ما در صف اول هستیم، اگر ما این خطرات را مهار نکنیم، زندگی هر امریکایی، اروپایی و جاپانی در خطر است.

نو ځکه دا یوازې کوم اخلاقي تعهد نه دی، ګډ خطرونه ګډې ګټې ایجادوي. خطرات مشترک، منافع مشترک را ایجاد می‌کند. یک افغانستان باثبات موجب تحکیم ثبات بین‌المللی و جلوگیری از خطرات بین‌المللی می‌شود.

موږ یوه نوي ماحول کې یوو، ستاسې بچي دې خدای(ج) په خیر، بېرته خپلو کورونو ته ورسوي، هر یو نه مننه کوو، زموږ بچي لا هم مصوون نه دي، موږ هره ورځ دې خاورې ته او د نړۍ د ښیګڼې لپاره قرباني ورکوو.

افغانستان به ان‌شاءالله تعالی پایدارې سولې، ثبات او رفاه ته ورسېږي؛ اما دې نوي ماحول کې زموږ او ستاسې همکاري د موافقتنامو په اساس باندې باید هر اړخیزه شي او عملي جنبه واخلي. نوی ماحول، نوي مقررات، نوي خطرونه او نوي فرصتونه دا ایجابوي چې زموږ همغږي ورځ په ورځ ډېر ترځی شي او موږ وکولای شو په ګډه ټول خطرات وسنجوو او د خطراتو درنیولو په اساس باندې یو بل سره مرسته وکړو. اما مرسته هم دوه اړخیزه ده. ځکه چې دوه اړخیزه ده، نو باید پایداره وي.

از پدران و مادرانی که اولاد خود را این جا فرستاده‌اند و قربانی داده‌اند، تشکر می‌کنم. اما امید است که این نکته واضح شود که تمویل، تجهیز و تقویه‌ی قوای افغانی، سرمایه‌گذاری است برای این که افراد ممالک شما، زن و مرد شما، و طفل شما، مصون باشد. این یک نکته بنیادی است چون بدون منفعت مشترک، همکاری دوام‌دار مشترک مشکل می‌گردد.

زه اوس راځم منطقې ته، موږ د اسیا زړه یوو. کسی که این مطلب را بسیار واضح درک کرد، «اقبال لاهوری» بود. در سکون افغانستان سکون آسیا است؛ در تلاطمش، تلاطم آسیا[1]. آسیای شرقی، آسیای مرکزی، آسیای غربی ـ که مردم به آن شرق میانه می‌گویند ـ و آسیای جنوبی، همه در افغانستان با هم جمع می‌شوند، هزارها سال این رسم بود، افغانستان چهارراه آسیا بود تا استعمار غربی این را به یک گوشه مبدل کرد. آسیا بدون ما نمی‌تواند به ثبات و رفاه برسد. بنابراین تحول اقتصادی آسیا وابسته به استفاده معقول و همه‌جانبه از موقعیت ما و از منابع طبیعی ما است. آسیا در ۲۵ سال آینده به بزرگ‌ترین قوت اقتصادی دنیا مبدل می‌شود اما این بدون ثبات در افغانستان غیرممکن است. بناءً ضرور ده چې ټوله اسیا په ګډه راشي په افغانستان کې د سولې، ثبات او رفاه امکانات برابر کړو.

همسایه‌های ما باید بدانند که انتخاب ما می‌تواند همه‌جانبه باشد، یا همراه ما کار کنند که چهارراه آسیا شویم یا افغانستان به بسیار آسانی می‌تواند جزء آسیای مرکزی باشد یا جزء آسیای غربی باشد و همچنین با آسیای شرقی ارتباط داشته باشد. یگانه راه ما آسیای جنوبی نیست. همسایه‌های ما انتخاب کنند که آیا آسیای جنوبی در یک منطقه باثبات به آسیای مرکزی و آسیای غربی وصل می‌شود و یا خود را خودشان به انزوا می‌برند.

ما نمی‌توانیم آینده‌ی افغانستان را قربانی تصامیم دیگران کنیم. [د حاضرینو چکچکې] در سه سال آینده ان‌شاءالله با موجودیت «راه لاجورد» هشتاد فیصد واردات و صادرات ما می‌تواند از راه آسیای مرکزی به اروپا صورت گیرد. راه لاجورد ضد مناسبات ما همراه همسایه‌های ما نیست، راهی است که برای اینها هم راه باز می‌شود. تدبیر به‌کار است چون ما نمی‌توانیم معطل شویم. بهترین حالت این است که همه بنادر به روی ما باز باشد. ما اختیار و اراده داریم، اراده ملی افغانستان برای ثبات، امنیت، صلح و رفاه را کسی مورد شک قرار ندهد.

در اینجا یک پیغام عملی دارم، پیغامی را که در کتماندو به رهبران آسیای جنوبی و مردم دادم.[2] ما میدان جنگ کسی نیستیم، و نه جنگ‌های نیابتی را در این خاک اجازه می‌دهیم.

---

[1] د علامه اقبال لاهوري د «جاویدنامه» شعري ټولګې یو څو بیتونو ته اشاره ده، چې په هغو کې افغانستان ته اشاره شوې ده: «آسیا یک پیکر آب و گل است / ملت افغان در آن پیکر دل است / از فساد او فساد آسیا / در گشاد او گشاد آسیا».

[2] د سویلي آسیا د سیمه‌ییزو همکاریو سازمان (سارک) سرمشریزه، د نیپال په پلازمېنه کټمانډو کې د ۲۰۱۴ کال د نومبر

[د حاضرینو چکچکې] کلمات را سیل کنید! «میدان جنگ»! «جای جنگ نیابتی»! آیا این مردم با تاریخ پنج هزار ساله میدان شطرنج کسی هستند؟ نقاط تغییر و تبدیل هستند؟ نه‌خیر! این ملک، آزاده است، آزادمنش است، و وحدت ملی دارد؛ اراده سیاسی محکم دارد که جنگ را ختم کند. دیگران اختیار دارند که ممد ما شوند (یا نشوند؟)، اما مانع ما نمی‌توانند باشند. هیچ کس را اجازه نمی‌دهیم که از خاک ما علیه یکی از همسایه‌های ما استفاده کند، اما توقع عمل بالمثل داریم. بدون عمل بالمثل، دوستی نمی‌تواند دوام‌دار گردد، فضای اعتماد ایجاب عمل بالمثل را می‌کند. ما سر قوای امنیتی خود اعتبار داریم، اما (در عین حال) هر شهید ما، هر مجروح ما، داغ دل ما است.

بهترین (شرایط برای) قوه امنیتی آن است که برای تنفیذ حاکمیت قانون مجبور به استعمال قوه نشود. خواسته مجموعی مردم ما ایجاد این شرایط است، اما بدبختانه این شرایط تا حالا موجود نیست. از این جهت باز هم قوای امنیتی ما قربانی می‌دهند و ما از آنها دفاع می‌کنیم.

پایداره سوله د دې وطن غوښتنه ده، هر څومره چې مو مړه کوي د سولې نه وځو. تروریستانو سره مقابله کوو او یوه ته د دې اجازه نه ورکوو چې د نیول کېدو په صورت کې له بندیخانو نه په رشوت او کثافت ووځي. [د حاضرینو چکچکې]

دوام ورکړئ هر عالم دین، هر مشر، هر وکیل، هر سناتور، د مدني ټولنې هر مشر مقابل کې مودرېږي په یو اواز باندې؛ اما په عین حال کې پوهېږو چې د جنګ د ختم لاره سوله ده، پایداره سوله؛ د پایداره سولې معنی دا ده چې امنیت به راشي او ثبات به راشي. بین‌المللي شرایط مو په دې درېیو میاشتو کې اماده کړي دي.

موږ بېکاره نه یوو ناست، بین‌المللي شرایطو کې مو واضح چوکاټ جوړ کړی، چین سره زموږ اقدامات په خاصه توګه د امید وړ دي، اما اساسي ټکي باندې چې نتیجې ته رسېدلي یوو؛ طرحه به افغاني وي او د افغانانو له خوا به عملي کېږي، اما بین‌المللي ماحول اماده شوی.

منطقوي شرایطو باندې جدی کار کې یوو، نه بېځایه امیدواري ورکوو، نه بېځایه ناامیدي کوو. دا د ګټو بحث دی.

زموږ اصلي خبره دا ده چې زموږ ملي حاکمیت او ملي اقتدار به منل کېږي، زموږ مذاکرات

---

په ۲٦ ترسره شوه او جمهوررئیس محمد اشرف غني په هغه کې وینا وکړه.

د نورو دولتونو سره د افغانستان د واحد دولت په اساس دي. افغانستان کې فرایق نشته. واضح، منتخب، ملي وحدت حکومت دی او دا دولت له ټولو افغانانو نه نمایندګي کوي، نو څوک دې موږ نه تقسیموي او د تقسیم په فکر کې دې نه وي.

دې شرایطو باندې کار روان دی، چې منطقوي شرایط ان‌شاءالله تعالی په خیر اماده شي.

درېیمه برخه زموږ مشخص ملي پلانونه دي چې د اساسي بحث په اساس باندې د افغانستان علماوو سره، مشرانو سره، مېرمنو سره، مدنې ټولنې سره به کېږي چې حدود په اساسي توګه هغه طرحې باندې ورسېږو، چې هغه باندې واضح سیاسي اجماع وي او دا ان‌شاءالله تعالی خاورې کې شته، باید عملي بڼه ونیسي او مشخصو میکانېزمونو باندې باید کار وکړو، له جناب رباني صاحب[1] نه مننه کوو چې په ډېرو سختو شرایطو کې یې دا کارونه انجام کړل او استاد شهید (برهان‌الدین ربانی) ته بیا هم جنتونه غواړو. مننه رباني صاحب!

بالاخره مسأله ډېره ساده کېږي، هر افغان بالاخره باید یو تصمیم ونیسي، افغانستان غواړي یا د نورو وسیله ګرځي؟ هر افغان چې افغانستان مني موږ ته دې ووایي چې ستونزه څه ده؟ که څوک د نورو قوتونو وسیله ګرځي بیا دې افغان ولس لکه همېشه غوندې په یو آواز باندې، دا پنځه ګوتې نه دي، دا موټی دی! او دا ملي اراده ده! [د حاضرینو چکچکې] او ملي ارادې کې دې بیا څوک شک نه لري.

نو پایداره سوله د وطن غوښتنه ده او د پایدارې سولې لپاره باید موږ هر راز بحث او هرې قربانۍ ته په سړه سینه حاضر و اوسو.

در ختم، اول باز هم از دربار ایزد متعال ابراز سپاس‌گزاری می‌کنم. اگر یک سال پیش در این وقت به مبصرین بین‌المللی و یک تعداد از منتقدین منطقه و اینها گوش می‌دادید، (آنها) فکر نمی‌کردند که «امروز»، به واقعیت مبدل شود. می‌گفتند انتقال سیاسی و انتقال امنیتی را چه‌طور یک مملکت با مشکلات افغانستان، می‌تواند عملی کند.

درایت سیاسی قشر سیاسی افغانستان، تقوای قوای مسلح افغانستان، قوای امنیتی و دفاعی افغانستان پشتیبانی سرتاسری مردم افغانستان، درایت و احساس ملی و مخصوصاً احساسات

[1] صلاح‌الدین ربانی، رئیس وقت شورای عالی صلح.

اسلامی ما و عقیده راسخ ما بر این که ما تسلیم به اراده خداوند(ج) هستیم و خداوند(ج)، صاحب اصلی این خاک است و خلافت این خاک را به صورت موقت برای ما داده، موجب این شد که ما از دو امتحان بزرگ به فضل خداوند موفقانه برآمدیم.

انتقال اقتصادی پیش روی ماست، به دقت سر آن متمرکز می‌شویم. باز هم می‌خواهم که از نهادهای امنیتی و دفاعی ما از صمیم قلب ابراز امتنان کنم، تاسې د افغانستان واقعي اولادونه یاستئ، ډېر درباندې ویاړو. ډېر درباندې دریږو او تاسو هم لوی ترین اعتبار تأمین کړی. د دې وطن ناموس مو په تاسو سپارلی دی. له دې نه لوی تر اعتماد په دې خاوره کې امکان نه لري. [د حاضرینو چکچکې] په ګډه، په اتحاد، په وحدت او په قوي ارادې سره ان‌شاءالله تعالی خپل هغه هدف چې ٤٠ کاله کېږي د افغانستان ولس یې غواړي؛ پایداره سوله، ثبات، امنیت او رفاه ته به رسېږو.

من الله التوفیق.

تل دې وي افغانستان! زنده باد افغانستان!

# د مشرانو جرگې د نويو غړو د لوړې مراسم

**کابل | ۲۰ مرغومی ۱۳۹۳ | ۱۰ جنوری ۲۰۱۵**



## اړوند سکتورونه :

**حکومتوالي ـ اقتصاد**

## د وينا عمده محورونه :

- **د دولت د درېيو قواوو ترمنځ د همغږۍ اړتيا**
- **د حکومت حساب‌ورکونه**
- **د افغانستان ستونزې او فرصتونه**

## غورچاڼ:

د ملت د استازولۍ لوی امانت او مسؤوليت، د مشرانو جرگې غړو ته ورکړل شوی دی. د ملت غوښتنه د فکر او عمل په يووالي کې نغښتې ده، چې د اصلاحاتو او تحول د رامنځته کېدو لامل به وگرځي. يو واحد دولت له درېيو قواوو جوړ شوی دی، چې د ملي وحدت د تمثيل لپاره د هغوی ترمنځ لازمه همغږي نشي ردېدای. د امنيتي قراردادونو په تاييد کې له اجرائيه قوې سره د مشرانو جرگې همغږي ددې لامل شوه، چې د نړۍ سراسري باور بيا را ژوندی کړو. همداراز اساسي قانون ته په پاملرنې، ملي وحدت حکومت د ملت استازو ته د اجرائيه قوې په حساب‌ورکونې ټينگار کوي. په دې اساس، د دولت اجرائيه مسؤولين به په هرو شپږو مياشتو کې په منظم او منسجم ډول د خپلو کارکړنو راپور وړاندې کوي او ملي پروژې به د راپور ورکونې په يوه چوکاټ کې منسجمېږي. په بله برخه کې بايد ووايو؛ په هماغه کچه چې ستونزو افغانستان احاطه کړی، د فرصتونو ډگر هم پراخ دی. د جغرافيايي موقعيت له نظره، آسيا له موږ پرته ثبات او هوساينې ته نشي رسېدای. زموږ

د هېواد پرېمانه اوبه زموږ پانگه ده، چې د برېښنا د تولید سرچینه ده. همداراز زموږ د خلکو په تشبثي ځانگړتیاوو کې چې کوم فرصت نغښتی دی، باید ورته لوری ورکړل شي. زموږ بله پانگه زموږ تېل او گاز دي، چې د راتلونکو نسلونو لپاره له هغه څخه د استفادې زمینه برابروي. باید زموږ توجه فرصتونو ته وي او د ستونزو د حل لپاره باید په تحول او تداوم کې خپل تعادل وساتو.

## د جمهوررئیس غني وینا:

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم، اما بعد، اعوذ بالله من الشیطان الرجیم، بسم الله الرحمن الرحیم.

سناتورصاحبان محترم خوش آمدید! مبارک باشد! حرمت لی سناتور صاحب لر، خوش کیل دینگیز![1] [د حاضرینو چکچکې] محترمو سناتورانو ښه راغلاست! مبارک دې وي!

لومړی ـ تر ټولو مبارکي او مننه! مبارکی به سناتورصاحبانی که برای بار دوم یا سوم انتخاب شدید! مبارکی به سناتورصاحبانی که بار اول انتخاب شدید! از صمیم قلب به هر کدامتان مبارک‌باد می‌گویم. امانت بزرگ و مسؤولیت سترگ به شما سپرده شد و یقین داریم که شما با اتکا به خدا(ج) از اراده ملت عظیم افغانستان نمایندگی خواهید توانست.

دویم ـ له ټول ولس نه زه مننه کوم چې د ولایتي شوراگانو په انتخاباتو کې یې برخه واخیسته. او له ټول سیاسي قشر نه چې تاسې پیاوړي استازې یې مننه کوم، چې اساسي قانون او انتخابات یې جدي نیولي، ستاسې برخه اخیستلو معنی دا ده چې زموږ اساسي قانون ورځ په ورځ ټینگېږي او ولس ته د گډون لاره برابروي.

نو ځکه چې تاسې برخه اخیستې معنې یې دا ده چې ولس په دې هڅو کې که برخه اخیستې.

پیام من چیست؟

افغانستان کشوری است که بعد از این، مسایل عمده سیاسی خود را از راه سیاست حل می‌کند نه از راه زور و تفنگ. [د حاضرینو چکچکې] امروز نمایندگان واقعی ملت افغانستان با یک آواز می‌گویند: صلح، ثبات، رفاه! [د حاضرینو چکچکې]

---

[1] ښه راغلاست [په اُزبکي ژبه].

تقاضای ملت از ما چیست؟ وحدت فکر و عمل! ملت ما از یک طرف خسته است، از طرف دیگر امیدوار. خستگی ملت ما از چهار دهه خرابی، جنگ و بدبختی است؛ امید ملت ما از وحدت عمل و نظر و ایجاد اصلاحات و تحول است، این اعتبار را هم سر شما کرده‌اند و هم سر من. هر دوی ما جمعاً به ملت پاسخگو هستیم؛ و ان‌شاءالله پاسخگو خواهیم بود.

نو زه غواړم چې د زړه له کومې مبارکي درکړم. او بيا درته ووايم، د مبارکۍ معنی دا ده چې امانت بايد ملت ته په اساسي توګه د خدمت په اساس ترسره شي. لوی امانت دی او خدا(ج) دې موږ او تاسې بريالي کړي چې دا امانت په سمه توګه انجام کړو.

نظام ما از سه قوه مستقل اما یک دولت واحد تشکیل شده است. سه قوه مستقل با هماهنگی با هم، یک دولت واحد و قوی را که بتواند از وحدت ملی افغانستان نمایندگی نماید، تمثیل می‌کند.

«مشر» کلمه يوه ډېرهستره او پاکه کلمه ده. خوشال خان ويلي د دستار سړي په شمار دي.[1] تاسې د شمار خلک يئ. نو ځکه د مشر اطلاق او د مشرانو اطلاق پر تاسې د دې ولس لوی اعتماد دی. زموږ په ولس کې مشري په اسانه نه ورکول کېږي. نو مشري ګټل کېږي. ګټلې مو ده مبارک دې شي، وېې ساتئ. [د حاضرينو چکچکې]

ایجاد شهرت سیاسی و سرمایه سیاسی در ملک ما کار آسان نیست. من به شما تبریکی می‌دهم که اعتماد ملت را برای ایجاد این سرمایه سیاسی جذب کرده‌اید. شهرت ۳۰ ساله، در یک روز در قریه از دست می‌رود. اما نکته بنیادی فرهنگ ما این است که ما مشران خود را بر اساس وجدان اجتماعی خود انتخاب می‌کنیم؛ و میراثی نیست، حاصل شده و چون به دست آوردیم سرمایه سیاسی ایجاب این را می‌کند که باید تقویه شود و استعمال درست شود تا نتیجه سرتاسری داشته باشد.

در این بخش من می‌خواهم از سناتور صاحبانی که از سابق تشریف داشتند مثل ایزدیار صاحب، زابلی صاحب و غیره دوستان که قبلاً هم تشریف داشتند د زړه له کومې مننه وکړم. امنيتي ځواکونو[2] چې تاسې پاس کړل او په ډېر دقت مو وڅېړل د دې زمينه يې برابره

---

[1] د خوشال خان خټک دې بيت ته اشاره ده: چې دستار تړي هزار دي / د دستار سړي په شمار دي.

[2] له امريکا او ناټو سازمان سره د افغانستان امنيتي هوکړه‌ليکونه.

کړه چې موږ بیا د دنیا اعتماد ترلاسه کړو. مننه! کور مو ودان، په دې عمل باندې تاسې ثابته کړه چې د افغانستان مشرانوجرگه د افغانستان گټې همېشه ساتي او خوندي کوي يې. [د حاضرينو چکچکې] بدون این اقدام مدبرانه شما، امکان این که نیروهای امنیتی ما تمویل، تجهیز و تعلیم شوند، نمی‌بود. شما می‌فهمید در شرایطی که این امانت به من سپرده شده بود، به دست آوردن اعتماد سرتاسری دنیا در صدر کارهای من قرار داشت. از همکاری‌تان ابراز امتنان و به امید این هستم که در هر قدم تقنین و موافقه سر قراردادهای آینده و معاهدات آینده، فضای صمیمیتی را که مشرانوجرگه نشان داده، همیشه پایدار بماند.

سوم ـ ما تقسیم وظایف داریم. دولت واحد هستیم اما تقسیم وظایف داریم. من می‌خواهم به حیث رئیس دولت، اول برای‌تان اطمینان بدهم که من هر سه قوه را به عین چشم می‌بینم. [د حاضرينو چکچکې] عزت و احترام مشرانوجرگه و ولسی‌جرگه در صدر کار من قرار دارد. [د حاضرينو چکچکې] نگه داشتن امنیت‌تان، نگه داشتن عزت‌تان، به اعتبار مشری و شخصیت‌تان، وظیفه ماست و وظیفه قوه اجرائیه است. خواهر روگل برای‌تان اطمینان می‌دهم که کسانی که فیر کرده بودند، همه بازداشت شده و زیر توقیف هستند.[1] [د حاضرينو چکچکې]

او خپله په شفاخانې کې ده ما خپله پوښتنه کړې او هيله ده چی خدا(ج) دې داسې حوادث بيا نه راولي او همدومره پوه شئ چې زه هر سناتور صاحب ته په همدې سترگه گورم چې ځان ته گورم. [د حاضرينو چکچکې]

در تقسیم وظایف، شما هم نمایندگی می‌کنید، هم تقنین می‌کنید، و هر دو را ما با احترام جدی می‌گیریم.

چهارم ـ یک مشکل در سابق این بود که اکثر موکلین‌تان با عریضه‌ها می‌آمدند و با این عریضه‌ها دفتر به دفتر می‌رفتند و زیرشان نوشته می‌کردند که اجراءات قانونی شود. پیشنهاد من این بود و به اداره امور (ریاست‌جمهوری) هدایت دادم که یک دفتر خاص ایجاد شود و یک نماینده و یا دو نفر در مشرانوجرگه و یک یا دو نفر در ولسی‌جرگه باشند که تمام

---

[1] د کابل ولایت د امنیه قوماندانۍ له جنايي جرمونو سره د مبارزې مؤظفينو د ۱۳۹۳ د مرغومې په ۱۹ خبر ورکړ، چې د ۱۳۹۳ د زمري په ۱٦ د غزني ولايت په مقر ولسوالۍ کې د مشرانو جرگې د امنيت کمېسيون پر رئيس سناتور روگل خيرزاد يې د وسله‌وال بريد په تړاو څلور تنه د کابل په څلورمه ناحيه کې تر پېژندنې وروسته نيولي دي.

خواسته‌های موکلین‌تان را به صورت منظم تعقیب بکنند و پس به شما احوال بدهند. [د حاضرينو چکچکې]

ستاسې حيثيت له دې څخه په مراتبو ډېر دی چې د يو وزارت دی، د موکل لپاره تاسو مجبوره شوي وئ، زه غواړم مرسته وکړم چې تاسې مجبوره نشئ چې چيرته لاړ شئ او هغوی تاسې ته در شي.

پنځم ـ حساب‌نيول او حساب‌ورکول دواړه په اساسي قانون کې معلوم دي، تاسې به حساب نيسئ او اجراييه قوه به حساب درکوي. زما وړانديز دا دی چې په هرو ٦ مياشتو کې د اجراييه قوې ټول مسوولين راشي، د خپلو کارونو يو منظم او منسجم راپور درکړي.

له ټولو وزيرانو سره به زما او ستاسې قرارداد دا وي چې هر شپږ مياشت راپور درکړي، که د راپور څخه ونه وتل ورته وايو د خدای(ج) په امان. [د حاضرينو چکچکې]

اما کار باید منسجم کړو، منظم يې کړو، څکه د ولس غوښتنې يو دي. من به (نظرات) همه شما گوش کردم و به فضل خداوند(ج) غیر از خیر ملت، غیر از پرسان از پروژه‌های حیاتی، غیر از توجه به حقوق مردم، از شما چیز شخصی نشنیدم. تشکر از رفتارتان! این صلاحیت‌تان است که از احوال مردم پرسان کنید. یک دلیل مشکلات این بوده که وزارت‌ها، بدبختانه در سابق، شیوه (ارائه) گزارش منظم نداشتند. هر پروژه ملی، خُرد باشد یا بزرگ باشد، باید یک چارچوب راپوردهی منسجم را داشته باشد. [په ټوکه:] تا زابلی صاحب[1] مجبور نشود که بیاید از پیش‌شان پرسان کند. [د حاضرينو چکچکې]

ما باید به ملت حساب بدهیم و چون شما نماینده برحق ملت هستید باید برای‌تان راپورهای منسجمِ پیشرفت وجود داشته باشد. اگر بندش باشد نباید سناتورها مجبور شوند که دوایر را زیر فشار بگیرند، این وظیفه دوایر است که پیشرفت کار را تعقیب کنند و از مصارف برای‌تان راپور بدهند. هر جایی که غبن باشد، جایی که سوءاستفاده باشد، من در خدمت‌تان هستیم، هر کسی که در هر جایی باشد را به قوه عدلی و قضایی راجع می‌سازیم. [د حاضرينو چکچکې]

---

[1] زلمی زابلی: د مشرانو جرګې د شکايتونو اورېدو کمېسيون رئيس.

د یو موټي او واحد دولت معنی داده، چې ټوله دنیا موږ او تاسې ته د ملي وحدت د نمونې په حیث وګوري، ملي وحدت ساتل په لفظ کې آسانه دي، په عمل کې ګران کار دي، حوصله غواړي، توجه غواړي او پالنه غواړي.

زه د افغانستان ولسمشر نه یم، زه د افغانستان د ملت اول خادم یم، [د حاضرینو چکچکې] نو هیله ده؛ هغه تورونه چې پر ما باندې سناتور صاحبانو لګول چې حوصله نه لري، په دې رانه شي چې لکه حضرت صاحب (صبغت‌الله مجددی) ورته ووایي چې حوصله دې بس ده، سمه ده؟ کابینه در ته اعلانیږي، حوصلې مو نتیجه ورکړې، [خندا] ان‌شاءالله چې هر څه به جوړ تیار شي، [د حاضرینو چکچکې] له تاسې نه فشار، زما نه حوصله، کارونه به جوړ شي، څنګه، سمه ده؟ او تاسې فشار راکړئ، ځکه د ولس فشار او استازي تاسې یاست او له دې څخه زه هېڅکله نه خفه کېږم، په سر او سترګو هر وړاندیز چې ولرئ او هر معقول انتقاد چې ولرئ او هر لاربښود چې ولرئ؛ ځکه د مشر معنی همدا ده چې د ټول وطن غم خوري.

آخري خبرې. ما، هم مشکلات داریم و هم فرصت‌ها داریم. بر سر مشکلات صحبت نمی‌کنم. میراث چهار دهه برای‌تان معلوم است. همه‌تان می‌فهمید که مشکلات چیست؟ روزانه همراهش پنجه نرم می‌کنیم و روزانه از مشکلات رنج می‌بریم. اما پیغام آخر من برای شما چیست؟ افغانستان به همان اندازه که پایگاه مشکلات است، میدان فرصت‌ها هم است.

ما از نگاه سمبولیک، قلب آسیا نیستیم ما واقعاً قلب یک آسیای متحرک هستیم؛ بدون ما آسیا آرام نمی‌ماند. [د حاضرینو چکچکې] در ثبات و رفاه ما، ثبات و رفاه آسیا نهفته است. از این جهت امید است دیده باشید که در این سه ماه، ان‌شاءالله تعالی منطقه را به صورت عمده به یک اجماع، راجع به آینده روشن افغانستان (گرد) آورده‌ایم. راه لاجورد به بحیره کسپین ان‌شاءالله تعالی به شکل اساسی باز می‌شود. [د حاضرینو چکچکې] با چین (برای) بار اول به نتیجه رسیدیم که سر واخان کار شود. ۱۵ نقطه نو سرحدی ان‌شاءالله تعالی در طول خط دیورند باز می‌شود تا ترانزیت همه‌جانبه شود. (بهره‌گیری از) چابهار را کابینه هند تصویب کرد (و به مثابه) راه بنیادی باز می‌شود.

فرصت‌ها را ببینید! نکته اول این است که از موقعیت افغانستان باید استفاده اعظمی کنیم.

دومین سرمایه‌ی ما آب ماست. ما همیشه مردم دارای آب بوده‌ایم. منابع آبی خود را نگاه می‌کنیم و برای خیر افغانستان استعمال می‌کنیم. [د حاضرینو چکچکې]

قدم‌های اول را برداشته‌ایم تا افغانستان مرکز تجارت برق در تمام منطقه شود. ما باید واردکننده برق نباشیم، باید صادرکننده برق باشیم. همه افغانستان برق می‌خواهد ان‌شاءالله تعالی ترتیب بنیادی برق در این سال‌ها گرفته خواهد شد.

خواهران و برادران! مهم‌ترین سرمایه‌ی ما، مردم ماست. ما به فضل خداوند از متشبث‌ترین مردم دنیا هستیم. من تنها امریکایی‌ها و چینایی‌ها را می‌بینم که به اندازه ما واقعاً حس تشبث دارند. افغان را ببینید که در شرایط روسیه میلیونر می‌شود، کم گپ نیست [خندا] و در (سطح) تمام دنیا.

نکته در چیست؟ باید انرژی تشبث ما جهت داده شود و شکل بگیرد. نسل نو ما، هم عنعنات ما را درک کنند و هم مشری و کشری را بفهمند و در عین حال در دنیا آرام باشند. شمله مو راکږه، دا شمله د افتخار شمله ده. [د حاضرینو چکچکې] ځوانان دې دریشي واغوندي ښه ښکلي پکې ښکاري، پرېږدئ، چې موږ سپین‌ږیري په کمیس، پرتوګ او لنګی کې و ګرځو. [د حاضرینو چکچکې]

می‌فهمید که مهم‌ترین وزارت‌های اقتصادی ما کدام دو تا است؟ وزارت محترم دفاع و وزارت محترم داخله! تعجب خواهید کرد! زیادترین قوه خرید، خواهران و برادران در این دو وزارت متمرکز است.

تصمیم من این است که تمام خریداری‌های دولت، موجب ایجاد شغل و ایجاد شرکت‌های درجه اول و تصدی‌های درجه اول دولتی شود تا بتوانیم حلقه نجیبه تقاضا و تولید را به هم بسته کنیم.

خواهران و برادران! آخرین سرمایه ما، نفت و گاز و معادن ماست. به دولت‌تان حق بدهید که این را با آهستگی و با احتیاط و با تدبیر انکشاف بدهیم. چهارصد سال آینده، نسل‌های آینده‌ی ما، باید از این نان بخورند، ما باید بدآموز نشویم مثل این که در سابق بزرگان وقف را ایجاد کردند، باز نسل‌های دیگر از آن مفت خوردند. ما باید سرمایه طبیعی خود را به صورت اساسی مدیریت کنیم و ان‌شاءالله تعالی این را می‌توانیم.

بناءً در ترازوی مشکلات و فرصت‌ها، امید است که همه ما، توجه ما سر فرصت‌ها باشد و در حل مشکلات باید تعادل را بین تحول و تداوم حفظ کنیم. آمادگی اصلاحات سرتاسری را

گرفته‌ایم، اما ظرفیت‌های ما باید به صورت واقعی سنجیده شود. در این ظرفیت‌ها، ظرفیت به کمپیوتر یا به انگلیسی نیست؛ ظرفیت‌های علمای کرام ما، ظرفیت‌های مشران قومی ما، ظرفیت‌های جوانان ما، ظرفیت‌های خواهران ما، همه اینها باید به شکلی با هم جمع شوند که ما بتوانیم استفاده اعظمی را از هر بخش ظرفیت‌های موجوده‌ی خود بکنیم.

په ختم کې بیا د خدای(ج) له دربار نه اول مننه کوم چې دا ورځ یې برابره کړه، له تاسې نه مننه، ځکه هر چا چې هجرت لیدلی، هغه غم به یې هېڅ وخت هېر نشي. نن دا د قدر او عزت ورځ ده، چې د افغانستان انتخابي سناتوران په یو ډېر شانداره توګه خپل حلف اجرا کوي او د افغانستان د بقا، ثبات او سوکالۍ لپاره ژمنه کوي. دا ډېره لویه خبره ده، اما ځکه چې مور او تاسې هجران هم لیدلی، هجرت مو هم لیدلی، تبعید هم لیدلی، بدې ورځې هم لیدلي. باید دا لوړه وکړو چې بیا به هېڅ وخت هېچاته دا اجازه ورنکړو چې دا خوږ وطن بې‌ثباته کړي. [د حاضرینو چکچکې]

دا وطن د هر افغان وطن دی، د هر افغان مساوي وطن دی او د هر افغان د ویاړ وطن دی. هر افغان به یې ساتي، هر افغان به یې پالنه کوي او هر څوک چې افغان ته په بد نظر ګوري، خدای(ج) یې ماتوي او مور یې ماتوو. [د حاضرینو چکچکې]

پاینده باد افغانستان! تل دې وي افغانستان!

# په متحده عربي امارتو کې له مېشتو افغان سوداګرو، پانګه‌والو او صنعت‌کارانو سره ناسته

د اماراتو مانۍ ـ ابوظبی ـ متحده عربي امارات | ۲۵ مرغومی ۱۳۹۳ | ۱۵ جنوری ۲۰۱۵



## اړوند سکتورونه:

حکومتوالي ـ اقتصاد ـ بهرنۍ سیاست

## د وینا عمده محورونه:

- په متحده عربي اماراتو کې د مېشتو افغانانو چارو ته رسېدنه
- د متحده عربي اماراتو همکاري
- ملي اراده او د عمل یووالی

## غورچاڼ:

ستونزې شته او د هغو د حل لپاره پیاوړې عزم او قاطع ارادې ته اړتیا ده. د کونسلګرۍ او سفارت له لوري د ترلاسه شویو ستونزو ارزونه اړینه ده، دا ددې لپاره چې ټولو افغانانو ته په یوه سترګه وکتل شي. زموږ دفترونه ټولو افغانانو ته د خدمت رسونې ځایونه دي او هلته باید هېڅ ډول تعصب حاکم نه وي. د متحده عربي اماراتو چارواکو افغان دولت ته د ملاتړ ژمنه ورکړې او په دې برخه کې یې خپل ځانګړی استازی هم ګمارلی دی. زما دا سفر د اقتصادي پرمختګ په برخه کې دی او انشاالله و تعالی د تحول، بنسټیز تغییر او پرمختګ زمینه به برابره شي. له افغان پاسپورټونو د افغان کارګرو د استفادې ستونزه به حل شي او د متحده عربي اماراتو په مرسته به هغوی ته د کار ترسره کولو په تړاو روزنه ورکړل شي. متحده عربي امارات به په بنسټیز ډول د

افغانستان په بيارغاونه کې شريک وي او په دې هېواد کې له مېشتو افغانانو څخه هم غواړي، چې په دې چارو کې برخه واخلي. په همدې اساس، افغانان بايد باور ولري، چې پنځه زره کلونه نور به هم پخپل حال پاتې يوو او د ستونزو د حل کيلي زموږ په يووالي او ملي ارادې کې ده. سوله زموږ بنسټيزه غوښتنه ده، هغه سوله چې پايداره وي او په هغه کې په هر ډول سياسي اختلاف خبرې اترې وشي. کابينه د افغانستان له مختلفو قشرونو جوړه شوې او خلکو ته مسؤول دي. له يو بل سره ګډ کار ته اړتيا ده، څو مخ پر وړاندې ولاړ شو.

## د جمهوررئیس غني وينا:

نحمده و نصلی علی رسوله الکريم. اما بعد، اعوذ بالله من الشيطان الرجيم. بسم الله الرحمن الرحيم.

تر ټولو د مخه د بشريت د ستر پېشوا تحفه در وړاندې کوم: السلام عليکم و رحمت الله و برکاته!

لومړی تر ټولو مننه! تاسې وئ چې زه مو دلته ورسولم، د زړه له کومې له هر يوه نه مننه! [د حاضرينو چکچکې] ځان ته مسافر وايئ، مسافر نه يئ، که مسافر وی هر ګوټ د افغانستان کې به (مو) ما ته کمپاين نه کاوه. مننه! [د حاضرينو چکچکې]

داسې ځای نه و چې تاسې (هلته) لاړ نه يئ، داسې ځای نه و چې تاسې (هلته) ځوانان ونه‌لېږل، زه له ځانه خبر نه وم تاسې کمپاين کاوو. [د حاضرينو چکچکې] نو اوس خبره د مسافرو او د ولسمشر نه‌ده، اوس خبره دا ده چې زه هم خادم يم، تاسې د دې وطن څښتن يئ. مسافري د څو ورځو ده، موږ خو کوچيان وو، همېشه ګرځېدلي يوو، بېرته راځئ! هره ورځ وطن مو خپل دی او له هېڅ بل وطندار نه کم نه يئ. حقوق هم خوندي دي، په ځای دي، زه پوهيږم چې هر شپه د وطن په غم ويده کېږئ، هر سهار يې په غم جګيږئ، بل تاسې د وطن د عزت شمله يئ؛ لکه چې ما ته مو دا شمله راکړې. [د حاضرينو چکچکې]

نن په زرهاوو افغان کورنۍ ستاسې د حق د کار له جهت په آبرو ژوند کوي، مننه چې سلها وو کورنۍ مو هم په پښو ودرولې، زرها وو افرادو سره تاسې مرسته کوئ. نو هيله ده چې خبره د بيلتون نه وي، خبره به دا وي چې باندې (بهر) يو څنګه به دا دولت به تاسې ته د خدمت وسيله جوړيږي.

دا قرارداد خو سم شو. کنه؟ زه مننه کوم له سفیر صیب له سفیر صیب او رېښتین صیب. له جنرال قنسول صیب نه مې مننه وکړه. زه ممنون یم؛ مګر پوهېږم چې ستونزې (شته) دي او ټول به په یو عزم او په ټینګې ارادې په دې راځو چې د افغانستان د باندنیو چارو وزارت به لا زیات په اماراتو کې د افغان اوسېدونکو د خدمت وسیله ګرځي او هر رقم تغییر چې په کار وي؛ له سفیر صیب نه غوښتنه کوم چې د ټولو بررسي وکړي او که څه ستونزې وي، بېرته دې ما ته ووایي چې حل یې کړو. که د افغانستان د سفارت یا قنسولګرۍ یو کارکوونکی، یوه افغان ته کم (په کمه سترګه) لیدلي و، په هماغه ورځ به له کار څخه لرې کېږي. [د حاضرینو چکچکې]

زموږ دفترونه د تعصب ځای نه دي، زموږ دفترونه د خدمت ځای دي او خدمت به درته کوي. [د حاضرینو چکچکې] مقری صیب[1] مې اوس ولید، څنګه داسې پټ کیناستلی یې. مننه بیا هم له تاسې نه مقری صیب. آواز دې په کمپاین کې اوچت و.

مننه!

زه مننه کوم، کاغذ مو نن ماته راورسېد. نن شپه او سبا به د اماراتو له افرادو سره به په تفصیل سره پر دغه کاغذ وغږېږم. (دغه کاغذ) د شیخ محمد[2] له ملاقات څخه مخکې راته نه و رسېدلی، کنه له هغه سره (پرې) غږېدم؛ مګر غواړم ګزارش درکړم چې نن له عالي جناب شیخ محمد سره زما ملاقات د ورورګلوۍ او د تعهد ملاقات و. ویې ویل چې امارات حاضر دی د افغانستان له دولت سره هره (ډول) مرستې چې له توانه یې (پوره وي) ویې کړي. [د حاضرینو چکچکې]

نو زیری مې درباندې! [د حاضرینو چکچکې] او عالیقدر د اماراتو شاهزاده او رئیس‌جمهور، خپل ورور، شاهزاده منصور[3] د خاص استازي په توګه د افغانستان لپاره ټاکلی. [د حاضرینو چکچکې] او سبا به په تفصیل هغوی سره غږېږو، د کورنۍ هر غړي سره ځانګړی (جلا) غږیدلی یم او ټول په یو نظر دي. د افغانستان سوله غواړي، افغانستان کې

---

[1] عبدالله مقری: مشهور پښتون سندرغاړی.

[2] شیخ محمد بن راشد آل مکتوم: د متحده عربي اماراتو د وزیرانو شورا رئیس او همدا راز د دوبی حاکم.

[3] منصور بن زاید آل نهیان: اماراتي شهزاده او د متحده عربي اماراتو د وزیرانو شورا مرستیال دی.

ثبات غواړي او افغانستان کې اقتصادي ترقي غواړي. نو له‌دې نظره، دا سفر ان‌شاءالله تعالی د هغه بنیادي تحول او بدلون زینه وي چې په هغه باندې موږ او تاسې ان‌شاءالله تعالی پر مختګ ته ځو. د امارات ښه‌والی دا دی چې فضل د خدای ډېر مات خلک دي. پوهېږئ، یو مملکت دومره لویه پانګه لري چې په دنیا دومره لوی اقتصادي قوت دی؛ ما ته یې څه ویلي؟ ما ته یې د دې قصې وکړې چې شیخ زاید[۱] خدای(ج) دې وبښي او جنتونه دې نصیب شي، څنګه دوه امریکایانو ته چې راغلي وو، العین ته، کلینیک ورکړ او ویل یې، هغه وخت کې، څلویښت کاله مخکې، له هرو دوو ماشومانو نه یو به یې مړ کېده او چې خویندې راغلې له خویندو نه هم خاصه مننه، خدای مو لره، درې ښځې، ډېرې اوچتې ښځې د افغانستان کابینه کې دي. [د حاضرینو چکچکې] نو ویل یې دا دوه راغلل، دوه امریکایان راغلي ویل یې چې موږ غواړو دلته یو کلینیک جوړ کړو. ویل یې خپل کور یې چې خپلې ښځې ته جوړ کړی و، هغه به ورکړو، هغوی ویل، موږ خو بې‌له‌دې نه چې کلیسا جوړه کړو، دا نه‌شو کولای. شیخ زاید ورته وکتل، ورته یې وویل دین خو د خدای دی، جوړ یې کړئ. ګورئ څومره مشر و او دا خلک څه رقم خلک دي، چې هغه ورځې چې د لوږې، د بدبختۍ ورځې وې او اوس د هوسایۍ ورځ ده موږ ته دا وایي چې تاسې هم لکه موږ غوندې راتلونکې لرئ او بل یې څه وویل؟ ویل یې موږ افغانستان کې هېڅ بله ګټه نه لرو؛ مګر موږ یو درد لرو. ویل یې، درد هم څه ده؟ ویل یې، تاسې موږ باندې زښت ډېر ګران یئ، نو ځکه (مو) هم خپل ګڼم. [د حاضرینو چکچکې]

فضل د خدای اماراتو سره به موږ په اساسي توګه مخ کې لاړ شو. سبا اوله استراتیژیکه موافقه [= هوکړه‌لیک] به امضا شي. [د حاضرینو چکچکې] په دې چوکاټ کې بل شي ته چې موافقې ته رسیدلې یوو دا ده چې پس له‌دې نه افغان کارګر به مستقیماً له افغانستان څخه ان‌شاءالله تعالی اماراتو ته راځي او په افغانستان کې به د اماراتو په مرسته د اماراتو پر معیارونو روزل کېږي. دا چې تاسې په پاکستاني پاسپورټونو راتلئ، ان‌شاءالله تعالی دا ستونزه به حل شي. [د حاضرینو چکچکې]

نورې ستونزې هم دوه برخې دي. یوه هغه ده چې کاغذ کې هم لیکلي چې افغانستان پورې تړلي دي. دا چې څنګه تذکرې موحل کړو، دا چې څنګه برقي پاسپورټونه درکړو، دا چې ظرفیت نه شته، دا به ان‌شاءالله تعالی موږ خپله حل کړو. هغه بله برخه چې اماراتو (پورې)

---

[۱] شیخ زاید بن سلطان آل نهیان: د ابوظبي حاکم او د متحده عربي اماراتو بنسټګر.

ترلې ده، نن او سبا به زه بحث وکړم ورسره، نتیجه به بیا تاسې ته ووایو. هیله ده چې همدا طریقه درسته وي. امارات به ان‌شاءالله تعالی په بنیادي توګه د افغانستان په جوړولو کې له موږ سره شریک شي او دې ټولو افغانانو ته چې په اماراتو کې دي دا زمینه به برابروي چې تاسې هم په‌دې کې برخه واخلئ. بل، وطن باندې مو درد دی، زه پوهېږم. شرایط آسانه نه دي، څه چې راته پاتې، سخت دي؛ اما یوه شي باندې ټول افغانان باید باور ولري، پنځه زره کاله مو تاریخ درلودلای، پنځه زره کال نور به یې هم لرو. [د حاضرینو چکچکې]

نو څوک دې شک او تردید نه لري. شرایط ځکه سخت دي چې دنیا سخته ده. اما زموږ او تاسې وحدت، زموږ او تاسې ملي اراده، زموږ او تاسې اتفاق د حل کیلي ده. او د دې لپاره بیا هم درته وایم، سوله زموږ بنیادي او اساسي غوښتنه ده. د سولې لپاره هره ورځ ده، چې زما سر لاړ شي تر تاسې ځار؛ [د حاضرینو چکچکې] اما سوله باید پایداره وي، سوله باید داسې نه وي چې موږ شکلیاتو سره لوبې وکړو. سوله دا ده چې هر سیاسي اختلاف باید د مېز سر ته راشي. او دا به ان‌شاءالله تعالی حل کوو؛ ځکه د افغانستان ولس دا غواړي.

زه بیا هم له تاسې هر یوه مننه کوم.

خویندو! غواړم درته ووایم چې درته ووایم د عالي تحصیلاتو نوې وزیره مو څوک ده. «خاطره افغان» نومېږي، کندهار کې لویه شوه، مکتب ته چې تلله، پوهېږئ تره (کاکا) یې څه ورته ویلي و؟ ویلي یې و، وژنم دې. په ټینګه اراده لاړه ماسټري یې واخیستله، په امریکې، اوهایو، کې عمومي اول نمره وه. اوس تره یې خپلې لمسۍ ته وایي، خاطرې غوندې لویه شه. دا لوی بدلون دی په افغانستان کې چې یوه افغانه نجلۍ چې تهدیدېده چې تحصیل به نه کوې؛ د افغانستان د لوړو تحصیلاتو وزیره به وي.

ځوانان راغلي کابینې کې. خصوصي سکتور نه راغلي، ټول افغانستان په کابینې کې هم ده او کابینه به د افغانستان ولس ته په مجموعي توګه مسووله وي. په ګډه به موږ او تاسې کار کوو، په ګډه به وړاندې ځو. که څه وخت یې ونیوه د دې لپاره و چې ټینګ راشي او ان‌شاءالله تعالی به ټینګ راشي. [د حاضرینو چکچکې]

زه غواړم چې بیا تکرار کړم: مننه، مننه، مننه! [د حاضرینو چکچکې]

درې وارې مې وویل؛ ځکه موږ چې کلي کې لوبېدو که درې واره هم پوښتنه نه وی کړې،

روغ یا جوړ یې، خلک به را باندې په قهریدل. ستاسې خو په یاد وي که نه؛ اما زما درې مننې بیا په ځای دي. اوله مننه دا چې انتخاباتو کې مو په ډېره لویه (کچه) برخه واخیسته. زه د دې شاهد وم هغه افغانان چې څلویښت کاله (وطن ته) نه وو راغلي؛ بېرته راغلئ. ټولو نه مننه.

دویم، افغانستان مو هم په پښو درولی. دلته ستاسې فعالیتونه د دې موجب دي چې هره ورځ د افغانستان یو کور کې هوساینه وي. زه پوهېږم چې العین د خوستیانو او نورو افغانانو په زحمت باندې جوړ شوی، اما یوه نتیجه یې دا ده چې نن خوست له وزیر اکبرخان نه ښکلی دی. [د حاضرینو چکچکې] کندهار کې بلډنگونه دي، کنړ کې پلازاگانې دي، دا ټول ستاسې له برکته دي او ننگرهار کې، هر گوټ کې. همین‌طور در فاریاب، جوزجان و جاهای دیگر، بدخشان.

او درېیم له ټولو نه لویه مننه چې بیلتون نه‌شته. مسافر افغان، افغان دی، پرون افغان و، نن افغان دی، سبا افغان دی. [د حاضرینو چکچکې]

نو هره برحقه ستونزه چې لرئ، دا زما ستونزه ده. ما نه خواهش مه کوئ، ما باندې امر وکړئ! زه مو دې چوکۍ ته ځکه راوړم چې تاسې خادم غوښت، او زه به خدمت کې یم، بېرته به راپور درکوو چې کومې ستونزې ان‌شاءالله تعالی له اماراتو سره ستونزې حل کولای شو او کومې که بنیادی څه شي وي او دوی وخت غواړي، هغه به هم درسره ووایو.

د زړه له کومې مننه!

تل دې وي افغانستان! پایدار باد افغانستان!

# ولسي جرگې ته د نوماند وزیرانو د معرفي مراسم

**د ملي شورا تالار ـ کابل | ۳۰ مرغومی ۱۳۹۳ | ۲۰ جنوری ۲۰۱۵**



## اړوند سکتورونه:

**حکومتوالي ـ اقتصاد**

## د وینا عمده محورونه:

- **د درېیو قواوو ترمنځ اړیکې**
- **په مختلفو برخو کې د دولت لومړیتوبونه**
- **شته ستونزې او حللارې**

## غورچاڼ:

د کابینې جوړولو لپاره سیاسي اجماع ته اړتیا ده، چې یوه وخت نیوونکې پروسه وه. د درېیو قواوو د اړیکو ترمنځ به نوی کتاب پرانستل شي. ما په تېرو درېیو میاشتو کې د ملت له ګڼو استازو سره وکتل. مساعده فضا رامنځته شوې او باید د ستونزو لپاره هم ګډې حللارې وپلټو. لومړنی باید ووایم، چې «مشارکت» د دولت له لومړیتوبونو څخه دی. د ارګ او مسجد ترمنځ فاصله باید له منځه یوړل شي؛ د ثبات، سولې او یووالي په برخه کې چې علمای کرام کوم کار کولای شي، اُردو د هغه په ترسره کولو قادره نه ده. د دولتدارۍ بنسټ د هغو پلونو جوړول دي، چې د قومي مشرانو، د مدني ټولنو رهبرانو او د غښتلو ښځو ترمنځ فاصله له منځه وړي. ددې لپاره چې د افغانستان د راتلونکې مالکان شو، په ثبات، سولې او ثروت کې د هر افغان برخه اخیستل لازمي دي. ټولو برخو، له هغې ډلې سرحدي ولسوالیو، د بېځایه شویو وضعیت، کډوالو، بېوزلو، روږدو، ماشومانو، ښځو او کار رامنځته کولو... ته په رسېدنې به د پام وړ مشارکت شاهدان واوسو. د تولید بل لومړیتوب «پایداره شتمنۍ»

ده. باید د دولت له لوري په خریدارۍ کې کورنیو تولیداتو، ماهرو افغان کارګرو او متروکو پوځي تاسیساتو څخه استفاده وشي، څو پام وړ اقتصادي ودې ته ورسېږو. همدا راز د مختلفو ستونزو لکه د پروژو مدیریت، د ځمکو غصب، د صادراتو او وارداتو ترمنځ د توازن نشتوالی، د بانکدارۍ ضعف، د ښار او کلي ترمنځ فاصله، د اوبو مهارولو، د بازار هرج و مرج، د همغږۍ نشتوالي، زېربناوې، کاري تداخل او... ته حللارې ولټوو. په همدې موخه به دولت په لومړي ګام کې په لسو برخو کې اقدام وکړي: له فساد سره مبارزه؛ د مشارکت او د افرادو اهلیت ترمنځ د تعادل رامنځته کول؛ په دفاعي او امنیتي ځواکونو کې د حساب‌ورکونې او همغږۍ تأمین؛ د کار رامنځته کولو لپاره عملي پلان؛ تر کار لاندې ملي پروژو بشپړول؛ د مشارکت، په ځانګړې ډول د محرومو طبقو لپاره عملي اقدامات؛ له بشري سرچینو د استفادې پلان؛ د اداري واحدونو د مسؤولیتونو او صلاحیتونو وضاحت؛ په ترانزیتي مرکز د افغانستان بدلول؛ او د انکشافي بودجې اصلاح. په وروستۍ برخه کې تر ټولو عمده پیغام «متوازن انکشاف» دی، چې د شته امکاناتو په پام کې نیولو سره لسو ښوزلو ولایتونو ته پاملرنه لومړیتوب دی.

## د جمهوررئیس غني وینا:

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم. اما بعد اعوذ بالله من الشیطان الرجیم. بسم الله الرحمن الرحیم.

حرمت لی ملت وکیل لری، نمایندههای محترم ملت، د ملت معززو استازو!

خوشحاله یم چې د ولس په کور کې او د ولس د استازو په وړاندې د درېدولو فرصت ترلاسه کوم او مننه کوم چې ماته مو دغه ویاړ ور په برخه کړ. کور مو ودان، مننه!

جناب رئیس صاحب مجلس، اعضای محترم اداری، نمایندههای محترم ملت، خواهران و برادران! تشکر از این که فرصت دادید تا خدمت شما بیایم.

زه نن په ډېر درنښت د افغانستان د حکومت نوې کابینه د اعتماد رای ترلاسه کولو په هیله ولسي‌جرګې ته وړاندې کوم. د اساسي قانون پر اساس د قواو تفکیک یو اساسي اصل دی او د همدې اصل په اساس ولسي‌جرګې ته د باور رای ورکولو صلاحیت ورکړل شوی دی.

می‌خواهم یادآوری کنم که تصویب موافقت‌نامه امنیتی با ایالات متحده امریکا و ناتو توسط شما نمایندههای منتخب ملت، حکومت را در انجام تعهدات بین‌المللی کمک کرد. بر اساس فیصله شما بود که سیاست فعال بین‌المللی ما در ظرف سه ماه گذشته موجب تجدید اطمینان با دنیا و موجب حاصل کردن تعهدات واضح‌شان، خاصتاً در قبال نیروهای امنیتی و دفاعی ما گردیده است. از هر یک شما تشکر!

در عین حال از حوصله‌تان برای ایجاد کابینه سپاس‌گزاری می‌کنم. ایجاد اجماع سیاسی یک پروسه زمان‌گیر است و ضرورت به تدبیر و دقت عمیق دارد. اکنون تصمیم در دست شماست. صلاحیت از شماست و مسؤولیت از خانه ملت است.

د درې ګونو قواوو اتحاد، اتفاق او همغږي د دولت د غښتلتیا لاره ده او موږ تل د درېو اصولو پر درناوي ټینګار کړی دی.

جناب رئیس صاحب، برای‌تان اطمینان می‌دهم که نه‌تنها فصل نو، بلکه کتاب نو، در مناسبات بین قوای مقننه و اجرائیه و در عین حال بین قوه اجرائیه و قوه قضائیه باز خواهد شد. [د حاضرینو چکچکې]

تاسو ټولو ته معلومه ده، چې موږ تر یو ډېر سخت حالت د تیریدولو په حال کې یوو. خو خوشحاله په دې یوو چې د حرکت مسیر مو څرګند او واضح دی.

من از هر کدام‌تان ابراز امتنان می‌کنم. مشکلات موکلین‌تان را به صورت واضح با من شریک ساختید. بنابراین صحبت کردن سر مشکلات، صحبت سر یک اجماع است که در بین نماینده‌های محترم ملت وجود دارد؛ تأکید ما باید سر راه حل باشد. و از این جهت است که مسیر ما واضح است، افغانستان پنج هزار سال بوده و پنج هزار سال دیگر نیز باقی خواهد بود. [د حاضرینو چکچکې]

که څه هم موږ د خدای په فضل د یو لوی سیاسي ازموینې بریالي راوتلي یوو خو د دوه سترو ازموینو یعنې امنیتي ازموینې او اقتصادي ازموینې سره لا هم لاس او ګرېوان یوو.

تاریخ کشور، هم شاهد نتایج «اتفاق» و هم شاهد نتایج «نفاق» بوده است. من از قشر سیاسی افغانستان مخصوصاً از نماینده‌های ملت و نماینده‌ها در مشرانوجرگه امتنان می‌کنم که در ایجاد فضای اتفاق ملی و وحدت ملی قدم‌های بسیار بزرگ برداشته‌اند. وقتی که اتفاق موجود باشد و قشر سیاسی افغانستان متعهدانه عمل کند، هر مشکل را که این ملت داشته باشد، ان‌شاءالله تعالی ما می‌توانیم حل کنیم و از شما متشکر هستم. در خلال سه ماه گذشته زون به زون، ولایت به ولایت و قشر به قشر من همراه شما صحبت داشتم. بحث‌های شما با من بحث‌های نماینده‌های ملت بود، تمام کوشش شما برای این بود که مشکلات را به شکل واقعی‌اش به من برسانید.

به فضل خداوند تا حال از نماینده‌های محترم شورای ملی، من هیچ تقاضای شخصی ندیده‌ام؛ تشکر که تقاضای‌تان ملی بوده است، [د حاضرینو چکچکې] وضع امنیتی، وضع اقتصادی، کاریابی، پروژه‌ها و مسایل بنیادی کشور محور بحث بوده و امید است در فضای صمیمیتی که ایجاد شده است و در فضایی که ما با همدیگر با وضاحت می‌توانیم صحبت کنیم، راه‌های حل را با هم بسنجیم.

امروز می‌خواهم به شما نماینده‌های ملت و تمام مردم نجیب افغانستان، اولویت‌های دولت را در عرصه‌های مختلف واضح سازم.

اول ـ مشارکت. د ارگ او جومات ترمنځ د فاصلې لمنځه وړل زموږ له اساسي او عمده موخو څخه ده، په دې برخه کې ځينې لومړني گامونه اخستل شوي او د افغانستان دولت په دې برخه کې د نورو اساسي گامونو اخستلو په درشل کې دی. جوماتونه او د جوماتونو چارې به منسجمې شي، د اوقافو چارې به منظمې شي او د حج او عمرې په برخه کې بنسټيز اصلاحات راوستل شي. ديني علما د پيغمبرانو د وارثانو په توگه په ټولنې کې د درانه حيثيت نه برخمن دي. د دوی شخصيتونه د ټولنيز وفاق، اخلاقي اجماع او اسلامي ارزښتونو ممثل دي. د افغانستان دولت به په هېواد کې د باثباته نظام د تامين په برخه کې د ديني علماوو د همکارۍ او ونډې د تامين لپاره قانوني او بنسټي زمينه برابره کړي.

کاری را که علمای کرام در ایجاد ثبات، صلح و وفاق می‌توانند انجام دهند، اردو نمی‌تواند انجام دهد، پولیس نمی‌تواند انجام دهد. بنابراین اول از جلسه عظیم علمای افغانستان که هفته پیش‌تر دایر شد و از قوای امنیتی و دفاعی افغانستان پشتیبانی کامل خود را ابراز کرد، از صمیم قلب امتنان می‌کنم. با ایستاده شدن علما با دولتِ مشروع انتخابی و حکومت وحدت ملی، اطمینان داریم که ان‌شاءالله تعالی اهدافمان به دست خواهد آمد.

افغانستان ډېر ځانگړی ټولنيز جوړښت لري، د افغانستان مشرانو تل په هېواد کې د ثبات راوتلو او له خلکو سره د دولت اړيکو د ټينگښت په برخه کې د يو پل حيثيت درلود. کوشش‌های به نهایت زیاد شده که این پل از بین برود. تعداد زیادی از بزرگان و مشران قومی ما مخصوصاً در قندهار و حوزه جنوب را شهید ساختند. ایجاد و تحکیم این پل برای ما اساسی است، اهمیت اساسی دارد و باید به صورت اساسی نقش ارتباطی بزرگانی که از شرایط محیطی مورد مشروعیت مردم و موجب اعتبارشان هستند را فراهم کنیم. ما باید رهبران

واقعی را در هر گوشه و کنار افغانستان تشخیص کنیم و به ایشان مراجعه بکنیم.

دوری بین بزرگان قومی، رهبران جامعه مدنی و زنانِ برجسته ما، موجب ضعف دولت است. اساس دولتداری ایجاد این پل‌ها است. و همین طور که در قسمت قوه مقننه از شما وکلای محترم ملت که ریشه‌های عمیق در بین مردم دارید، خواهشمند هستیم که شرایط ارتباط و پل‌های ارتباطی را قوی‌تر بسازید، همچنین با شورای ولایتی و ان‌شاءالله تعالی با شوراهای ولسوالی.

په دې کې شک نشته چې په افغانستان کې د ټولنې رهبري میراثي نه ده او دا زموږ د ټولنیز جوړښت تر ټولو بارز ټکی دی. زموږ په تاریخ کې د ټولنې مشروع رهبري د خلکو او د دولت ترمنځ د ارتباط مهمترین پل پاتې شوی دی او دا به ان‌شاءالله بیا جوړ کړو. هدف ما این است که شوراهای محلی و مردمی را به یک حرکت ملی و سرتاسری مبدل سازیم، تا این خواسته‌ها جنبه تحکیم فرهنگ اسلامی و ملی ما را بگیرد. نهادهای رضاکارانه اقدامات بنیادی را همیشه در افغانستان انجام داده است.

حَشَر، جزء فرهنگ ما است. اگر می‌خواهیم که واقعاً به رفاه برسیم، خود باید صاحب آینده افغانستان باشیم؛ این (مأمول) بدون سهم‌گیری هر افغان در پروسه ایجاد ثروت، ثبات و صلح نمی‌تواند به وجود بیاید. ما باید از این فرهنگ که قراردادی و خارجی کارهای بنیادی ما را انجام می‌دهد، برآییم و خود ما، مالک و صاحب آینده‌ی خود شویم. امید دارم که فرهنگ رضاکارانه، فرهنگ زکات، و فرهنگ عشر که (از طریق آن) همیشه به فقرای افغانستان بر اساس ارزش‌های دین مبین اسلام کمک شده، باز عام شود و همه‌ی ما وظایف خود را در این بخش بازی کنیم.

ولسوالی‌های سرحدی، خود را فراموش‌شده احساس می‌کنند. ۹٤ ولسوالی سرحدی ما که شما نماینده‌های محترم ملت، بار بار از وضع‌شان حکایت کرده‌اید، چه سواحل دریای آمو باشد، چه سپین بولدک باشد، چه ابونصر فراهی، چه واخان یا درواز، و چه دانگام، که همه از ۲۰ ولایت سرحدی ماست، در محور اصلی پالیسی و استراتیژی دولت قرار خواهد گرفت.

خواهران و برادران، نمایندگان محترم ملت! دروازه لاهوری یا دروازه‌های دیگر کابل، نمی‌توانند کابل را مصون بسازند؛ دروازه‌های واقعی کابل ولسوالی‌های سرحدی این مملکت

است، اسلام‌قلعه باشد یا آقینه. بدین جهت جمع کردن این مملکت ایجاب این را می کند که هر افغان که در ولسوالی‌های سرحدی افغانستان هست، خود را مربوط به قلب متحرک ملت، کابل و خانه ملت بداند. وزارتخانه‌های افغانستان باید هسته‌ی جذب ولسوالی‌های سرحدی و ولسوالی‌های دورافتاده باشند.

ما حداقل ۱,۵ میلیون نفر بیجاشده داریم. امید است در این پنج سال ما قادر شویم که کلمه «بیجاشده‌ی داخلی» را از فرهنگ خود، از فرهنگ سیاسی و اجتماعی خود، دور کنیم. چه‌طور می‌توانیم با وجدان آرام خواب کنیم در حالی که وقتي من با بیجاشدگان گپ می‌زنم راته وایي چې د سپي د لکۍ لاندې ژوند کوي، ایا دا منو چې زموږ کوچنیان، زموږ خوینديې زموږ ورونه د خپل ژوند په (اوسنیو) شرایطو کې د سپي د لکۍ لاندې ژوند وکړي؟ حکومت افغانستان در کوتاه‌ترین فرصت، گام‌هایی خواهد برداشت، هېواد ته د کډوالو ورونو او خویندو د راستنېدو او د هغوی د بنسټیزو ستونزو د حل په برخه کې به اساسي پروگرامونه طرحه او تطبیق شي.

خو د نورو ستونزو د مخنیوي لپاره د کډوالو د راستنېدو په برخه کې د نړیوالو قوانینو مراعتېدل اړین او ضروري دي.

ما مسؤول هستیم که از حقوق برحق بین‌المللی مهاجرین خود دفاع کنیم. مهاجرین خود را نمی‌توانیم فراموش کنیم و همچنین مهاجرین اقتصادی را نیز نمی‌توانیم فراموش کنیم. مذاکرات ما با دولت عربستان سعودی و با دولت امارات سر ایجاد شرایطِ مساعدی است که یک افغان دیگر مجبور نشود پاسپورت پاکستانی بگیرد تا در این جاها کار کند. افغان باید با عزت و اعتبار، با پاسپورت افغانی، کار مشروع داشته باشد نه این که در دریاها غرق شود و یا در سرحدات با گلوله مصادف شود.

ایجاد کار، شعاری است که از همه شما شنیده‌ایم. ایجاد کار عمده‌ترین وظیفه ما خواهد بود، مخصوصاً برای جوانان و افراد بی‌بضاعت. ۳٦ فیصد مردم ما زیر خط فقر زندگی می‌کنند و در این چهار سال، متأسفانه این خط تغییر مثبت نکرده و تا روزی که فقر باشد و فقر به این شدت باشد، این جامعه به ثبات نمی‌رسد. افراد دارای معلولیت، در عین حال، افراد دارای کفایت هستند. ما باید عوامل فقر را به صورت بنیادی شناسایی کنیم و فقر را نادیده نگیریم و پس به نماینده‌های محترم ملت در قسمت فقرزدایی راپورهای منسجم

بدهیم. تأکید من و حکومت بالای جوانان است، بدون مشارکت جوانان در اداره و اقتصاد تحول چشم‌گیر و مثبت به وجود نخواهد آمد.

اما امروز جوان افغان دارای مهارت‌های قرن ۲۱ نیست، هنوز با کار جسمی زندگی می‌کند و این کار جسمی غیرفنی و غیرمسلکی است. جوان افغانستان باید به صورت اساسی، محور ایجاد یک طبقه متوسط در افغانستان شود و دارای مهارت‌هایی باشد که بتواند آینده این مملکت را مدیریت و رهبری کند.

در عین حال مواد مخدر و اعتیاد، یک مسأله جدی شده است. روز به روز اعتیاد بیش‌تر می‌شود و اگر حالت فعلی دوام پیدا کند مقدار معتادین ما، به یکی از بزرگ‌ترین مقدارهای معتادین در ارتباط با نفوس، مبدل خواهد شد.

همه اینها کار جمعی می‌خواهد، کار یک وزارت نیست.

قشری که همیشه پیش روی چشم ما است اما از یاد ما می‌رود، اطفال ما است. اختطاف، تجاوز و سوءاستفاده از اطفال ما، بدبختانه به یک فرهنگ شوم تبدیل شده که جلوگیری از این، اقدامات سرتاسری همه ما را می‌خواهد، از علمای کرام تا وزارت محترم دفاع، امور داخله، عدلیه و تمام ارگان‌های عدلی و قضایی ما.

باید امروز طفل افغان مصون باشد. تمام اخلاق اسلامی و ملی ما در بخش اطفال ما، زیر پای گذاشته شده است. در این بخش ان‌شاءالله تعالی می‌توانیم کارهای اساسی انجام بدهیم و علاوه بر انجام کمک‌های ملی، کمک‌های بین‌المللی را جذب کنیم.

یکی از خواسته‌هایم از مهاجرین افغان در اروپا، امریکا، استرالیا و جاپان این است که هر کدام اینها زمینه (شمولیت) یک طفل افغان در مکتب را فراهم کند. ټول باید یو بل ته لاس ورکړو. حد اقل ۱.۷ میلیون زموږ ماشومان اوس هم مکتب ته نه ځي او هیله مې ده او د انګلستان پخواني صدراعظم سره په کار کې یم، چې زمینه دې ماشومانو لپاره برابره شي، چې مکتب ته لاړ شي.

کار طفل در بعضی اوقات، به غلامی مبدل شده و جلوگیری از این یکی از وظایف بنیادی ماست.

د افغانستان ښځې په انتخاباتو کې هم ډېره لویه ونډه واخیسته، د زړه له کومې مننه کوم، هېڅ چا باور نه کاوه چې ۳۸ فیصده رای ورکوونکې به د افغانستان مېرمنې وي، نن موږ باید د افغانستان د مېرمنو لپاره هغه شرایط برابر کړو چې بي بي خدیجې او بي بي عایشې درلود. زما نیا تعلیم یافته وه د سل هاوو جریبو ځمکو خاونده وه، اداره یې درلوده، عزت او اعتبار یې درلود. ما ته یو خارجي ژورنالېست و ویل ته چې د ښځو د حقوقو په تړاو غږیږې ته خو له خپلې ټولنې نه مخکې یې، ما و ویل نه! زه شاته یم دا برجسته مېرمنې مخکې دي او ما ته هدایت راکوي، چې څه وکړم، مننه خویندو! [د حاضرینو چکچکې]

مشارکت سرتاسری زنان افغان را باید در بدنه‌ی حکومت، اقتصاد و در فرهنگ فراهم کنیم و از نقش شما نمایندگان ملت در این بخش، که از حقوق زنان به صورت متداوم دفاع کرده‌اید، متشکر هستم و امید است که فشار مثبت‌تان در این بخش دوام کند. هر چه فشارتان زیادتر شود، به سر چشم، زنده باشید!

د ښځو د تعلیم په برخه که پوښتنه ساده ده، څنگه به مېرمن په اسلامي احکامو باندې پوهیږي چې تعلیم یې نه وي کړی. چې علم د ځان د پیژندنې او د خدای(ج) د پیژندنې شرط دی، نو اساسي شرایط باید برابر شي او یو بل ته ضرور ده چې موږ به گډه لاس ورکړو هیله مې دا ده لکه څنگه چې اوس زمینه برابره شوې چې د ښځو د حقونو غوښتنکي یوازې ښځې نه وي. د افغانستان ټول ولس یې او مخصوصاً د افغانستان د ولس استازي.

او ښځو په مقابل کې ټولو ته وایي چی خشونت جای ندارد، مخصوصاً خشونت در دفاتر حکومتی. امید است که هر وزیر صاحب کاندیدا در قسمت منع خشونت و در قسمت برنامه مشخص در این زمینه، همراه‌تان قرارداد کند و از قرارداد مشخص و عملی، هفت ماه بعد با مدارک از پیش‌شان راپور بگیرید.

همراه وزارت محترم زنان، زن‌ها همیشه مشکل داشته‌اند. [خندا] چون یکی از تقاضاها این بوده که تمام مشکلات زنان را باید وزارت زنان حل کند، اما کاندیدوزیر صاحب نظریات مشخص دارند و همراه‌تان شریک می‌کنند که چه‌طور دیدگاه عملی و همه‌جانبه را تمام دولت انجام بدهد و این وزارت بتواند نقش داشته باشد.

موضوع دومی که از شما شنیدیم، بعد از مشارکت، تولید ثروت است، تولید ثروت پایدار! همیشه می‌گوییم مملکت، غنی است ولی افغان‌ها فقیر است. بنابراین حلقه خبیثه را چه‌طور

با این (هدف) تبدیل می‌کنیم که مملکتِ غنی و افغان‌های غنی باشیم؟

نکته اول؛ عملاً قوه خرید دولت را در ایجاد تولید، به کار خواهیم انداخت. مهم‌ترین بازیگران اقتصادی در کابینه، وزیر صاحب دفاع و وزیر صاحب داخله هستند. اینها چهار و نیم میلیارد دالر بودجه دارند اما تا به حال بدبختانه بر اساس طرح‌هایی که اتکا به قراردادی‌ها شده اتکا به یک مارکیت ناقص شده، قوه خرید این دو وزارت برای تحکیم اقتصاد افغانستان به کار انداخته نشده است.

تعهد مشخص ما همراه نماینده‌های ملت این است که از بوت گرفته تا غذا، وزارت‌های محترم، تولیدات افغانی را ترجیح خواهند داد و در ایجاد شرکت‌های مختلط و شرکت‌های خصوصی افغانی قدم‌های اساسی برخواهند داشت. [د حاضرینو چکچکې]

همچنین هزاران کارگر ماهر داریم، هم در داخل وطن و هم از شما شنیدیم که در بین مهاجرین. این کارگران ماهر باید بیایند سامان‌آلات، ورکشاپ‌ها، و گدام‌ها را مدیریت کنند. بخش مدیریت منابع این دو وزارت ملکی می‌شود، حرفوی و مسلکی می‌شود و هر قرارداد بزرگ را تا من شخصاً امضا نکنم، پیش شما روان نخواهد شد. [د حاضرینو چکچکې]

تأسیسات نظامی ایجاد شده بود، میدان‌های بزرگ ایجاد شده بود، هلمند کې دی کندهار کې دی لوگر کې دی عظیم ځایو کې دی. یکی از بزرگ‌ترین فرصت‌های ما برای تحرک اقتصاد این است که در بگرام امکانات به نهایت زیاد است. این تأسیسات را در این ۵ سال، مرکز ثقل حرکت اقتصادی و ملکی بسازیم. ۸۵ فیصد میدان هوایی قندهار در مدت کم ان‌شاءالله تعالی در اختیار ما می‌آید. این تأسیسات باید ضایع نشود، باید مورد استفاده اساسی برای رشد اقتصادی قرار بگیرد. هدف ما این است که از میلیاردها دالر سرمایه که روی این (تأسیسات) گذاشته شده بود، بتوانیم برای تبدیل افغانستان به محور ثقل ترانزیتی و خدماتی منطقه استفاده کنیم.

از تعمیرهای معارف هر کدامتان شکایت داشتید. یکی‌تان تا به حال نیست که به من گفته باشد، تعمیرهای معارف مورد اطمینان‌تان است. این مشکل را به چی شکل حل می‌کنیم؟ این مشکل را به این شکل حل می‌کنیم که سه تصدی دولتی مانند دستگاه ساختمانی افغانی و بنایی را به فابریکه‌های تولید پیش‌ساخت بدل می‌کنیم تا به شکل اساسی مکتب‌های

استندرد ساخته شود. بعد از این اداره مکتب‌ها شرط بسته کردن (قرارداد) را داشته باشد نه این که ده‌ها قراردادی که شما وکلای ملت نتوانید پیدایش کنید، ادارات محلی هم نتوانند پیدایش کنند و ادارات مرکزی هم.

این دو مثال را برای‌تان دادم؛ هدف عمده ما این است که ما باید سرمایه‌گذاری را با نقش فعال دولت ایجاد کنیم و عرضه و تقاضای دولت را با هم بسته کنیم. مخصوصاً در قسمت گندم، خریداری قوای امنیتی ما برای ٤٠٠ هزار نفر است. انسجام خریداری خوراکه‌باب اینها، ان‌شاءالله تعالی می‌تواند موجب تحرک عمده در تولیدات زراعتی ما شود. مثال‌های دیگری وجود دارد و نکته بنیادی من این است که مصارف دولت باید وسیله تولید کار شود، وسیله تحول و تحرک شود.

حفظ او مراقبت نه ټول شکایت لري، پروژې چې تکمیل شوي دي درستې نه دي، میلیاردونه ډالر مو په سړکونو ولګول نن د دې لپاره چې ترازوګانې نشته سړکونه له منځه ځي. دلته هیله ده چې له ما سره موافقه اوسي چې بیا به د کار قوه ژوندۍ کړو او دا وظیفه به دولت ته وسپارو تا یک قوه کار منسجم، با انسجام امنیتی که امنیت خود را هم بتواند نگاه کند (شکل بگیرد) تا ما بتوانیم حفظ و مراقبت را وسیله عملی خدمت کنیم و از راه حفظ و مراقبت شاهراه‌ها، مخصوصاً پول اعمار شاهراه‌های دیگر را به دست بیاوریم. همه‌تان در این قسمت نظریات خاص دارید و این نظریات‌تان قابل قبول ماست.

مشکل دیگری که داشتیم مدیریت پروژه‌ها وجود ندارد (باید حل شود) تا نماینده‌های ملت، ژورنالیستان و مردم، شکایت نکنند. یک فرهنگ قراردادی در این خاک حاکم شده، وقتی که کار را به یک قراردادی دادید، بعد از آن دولت وظیفه نظارت و مراقبت را ندارد. من می‌خواهم که ما و شما یک تعهد واضح کنیم تا فرهنگ راپوردهی و مدیریت را برای‌تان به وجود می‌آوریم. از هر پروژه، ماهانه راپور پیشرفت را به صورت بسیار شفاف به نماینده‌های ملت و ملت ارائه می‌کنیم تا یک قرارداد واضح موجود باشد و شما مجبور نشوید که روزانه به وزارت‌ها بروید که کار در کجا است و قراردادی به کجا فرار کرده؟ ارگان‌های عدلی و قضایی ما، باید قراردادی‌های متخلف را تعقیب نماید، نه شما. اما راپور منسجم ان‌شاءالله تعالی خدمت‌تان ارائه می‌شود.

او په دې برخه کې د خلکو ګډون حتمي دی، موږ باید خلکو ته ګډون ورکړو، په دې مانا

چې د افغانستان ولس بايد د دې پروژو نظارت وکړي او معقوله لار بايد پيدا کړو چې څنګه محلي کلي، ولسوالۍ او ولايتونه په دې کې شامل کولی شو عمده شي او دا مې له تاسې غوښتلي دي چې انجنير صاحب تاسو ته په خاصه توګه ګورم خلک حساب غواړي هر سړک ته چې ګورې پنځلس او شپاړلس وارې درته ويل شوي دي، هره پروژه د اوبو ته چې ګورې شل وارې درسره خلکو وعده کړې، راشئ چې دغه د درواغو له فرهنګه راوځو څه چې کولی شو په واقعي توګه درته ووايو چې نشو کولی ورته ووايې چې نشو کولی. اما درواغ بس کړو، درست است؟ [د حاضرينو تأييد] يک فرهنگ واضح.

در اينجا چند منبع ديگر هم است. امنيت و تقاضای دولت را وسيله ايجاد يک حلقه نجيبه‌ی ملی می‌دانم که همه با هم دست بدهيم تا هر توليد افغانی حداقل ۱۵ فيصد سر يک توليد خارجی ترجيح داشته باشد. تدارکات وسيله اين است که مملکت را آباد کنيد نه اين که يک مملکت را خراب کنيد؛ (بايد تدارکات) پاک و حسابده باشد، ان‌شاءالله تعالی. در اين بخش همراه سکتور خصوصی هم به نتيجه می‌رسيم.

زمين‌های دولتی مورد غصب بود، صدها هزار هکتار زمين، استفاده نشده. من سر مشکل نمی‌آيم، من سر راه حل می‌آيم. راه حل من اين است که از زمين دولتی شهری برای ايجاد مسکن سالم برای تمام ملت استفاده کنيم، پروگرام شهرسازی ما پروگرام بنيادی ايجاد مسکن و ايجاد زندگی شهری باعزت است. در جايگاهی که شما تشريف داريد، هميشه از امير امان‌الله خان غازی نام برديد، اما هيچ وقت يک پروژه امان‌الله خان را تکميل نساخته‌ايم. در امارات من توانستم که دولت امارات را قناعت بدهم که کارته دارالامان، به شکل اساسی‌اش که عمده‌ترين کارته افغانستان گردد، ان‌شاءالله تعالی تمويل و ايجاد خواهد شد.

پايتخت افغانستان بايد نظر امان‌الله خان را قدر بدهد. نظر امان‌الله خان اين بود که افغانستان بايد دارای شهرهای متحرک [= خوځند] باشد. هر شهر افغانستان را ما می‌فهميم که چه‌قدر مشکلات دارد تا به صورت اساسی تنظيم شود، وعده منسجم برای‌تان اين است که می‌توانيم پلان‌های استراتيژيک شهرها را به کوتاه‌ترين مدت ان‌شاءالله تعالی عملی کنيم. زمين دولتی را ما بايد نفروشيم، زمين دولتی را برای آباد کردن بگيريم، در بدلش آپارتمان بخواهيم و آپارتمان را به مأمورين دولت و افراد مستحق توزيع کنيم تا يک حلقه نجيبه خاص به وجود بيايد. «مسکن سالم» موجب اين می‌شود که هر افغان صاحب گوشه‌ای از اين سرزمين باشد.

دا مه هېروئ په تېرو پېړیو که افغانستان بېوزلو افغانانو ساتلی، هغه افغانان چې ځپلي یې نه درلودې لوی ترین قوتونو ته یې شکست ورکړ، نو وخت د دې دی چې ددغو افغانانو قدر وکړو. د افغانستان د شهداوو قدر وکړو د افغانستان د برحق جهاد قدر وکړو. کونډو او معلولیت افرادو سره وګرځو او دلته ده چې دغه پروګرامونه ان‌شاءالله تعالی یوه وسیله وي.

غصب وقتی هست که خلأ دولت باشد و (برنامه توزیع) زمین ایجاد نشود. تعهد ما این است که در این ۵ سال، ان‌شاءالله تعالی قسمت عمده جایداد افغان، مصون گردد و به صورت اساسی دارای مصونیت خواهد بود. روزی که جایداد تمام افغان‌ها مصون گردد، فضای اعتماد و ثبات ان‌شاءالله تعالی می‌تواند به وجود بیاید.

مشکل بنیادی اقتصاد خود را ببینیم. تنها یک رقم (برای وضاحت) کافی است. بر اساس ارقام (اداره) احصائیه مرکزی ما ـ که دقیق نیست [خندا] ـ واردات ما بیست و یک چند صادرات ماست؛ بر اساس ارقام بین‌المللی، که دقیق‌تر شاید باشد، واردات ما سی چند صادرات ما است. اگر یک چیز را در قسمت افغانستان می‌خواهید بفهمید (این است که) این گونه عدم توازن، موجب بدبختی دوام‌دار و وابستگی دوام‌دار است. با این رقم توازن، یک مملکت نمی‌تواند زندگی کند. بناءً هدف اقتصادی ما ساده است؛ باید از واردکننده به صادرکننده، مبدل شویم. امکانات این را داریم، تمام امکانات، موقعیت ما، آب ما، زمین ما، معادن ما، نفت و گاز ما. ان‌شاءالله تعالی بر ایجاد این تغییر (فایق) می‌آییم.

یک تعداد از وکلای ما در بخش اقتصادی نظریات بسیار خوب و مفصل دارند، اینها را شریک کردیم و از شما تشکر!

تولید سمنت را در افغانستان در اولویت بگیریم. صدها میلیون دالر را ضایع کردیم. حرف‌های مقدماتی را زده‌ایم، ان‌شاءالله تعالی هم در هرات و هم در کندز و بغلان شرایط اولیه فراهم است. صدایم سر سرمایه‌گذار افغان این است: سمنت تولید کن! فولاد تولید کن! یک سکتور ساختمانی قوی را به وجود بیاورید تا از واردکننده به صادرکننده مبدل شویم. این راه اساسی است که ما می‌توانیم خود را بدل کنیم.

بانکداری در افغانستان ان‌شاءالله تعالی منسجم خواهد شد. بانک مرکزی نقش نظارتی قوی را سر بانکداری ایفا خواهد کرد و بانکداری اسلامی با اصول واضح و مشخص، خدمت‌تان تقدیم خواهد شد. امروز مقرره و لوایح وجود ندارد، ما زمینه این را باید فراهم کنیم که از

اصول دین مبین اسلام در پیشرفت اقتصادی استفاده کنیم. این اصول در طول قرون گذاشته شده، بسیار واضح و محکم است. به طور مثال جایداد به اندازه‌ای که در دین مبین اسلام محکم است، در بسیار کم جایی است. جایداد اولیه کسی را هیچ محکمه‌ای به خاطر قرض از پیشش نمی‌تواند بگیرد. بنابراین بانکداری محکم، راهی می‌شود تا پول افغان برای ایجاد ثروت در افغانستان به کار انداخته شود.

نکته بنیادی دیگر ما این است که شهر و ده از هم فاصله گرفته. من همراهم یک نفر کار می‌کند که همراه جناب کرزی صاحب هم کار می‌کرد؛ از کلنگار لوگر است، بیست بار به خارج رفته اما در پنج سال، به لوگر نرفته! وضعیت امنیتی، علایق ما و شما را مورد سؤال قرار داده؛ رمز ثبات در افغانستان ارتباط شهر و ده است. وکیل‌صاحبان پروان و کاپیسا! هر جمعه، یا (هفته) سه، یا چهار بار (به ولایت) می‌رفتند؛ این رسم قدیمی ما بود.

ارتباط شهر و ده باید به صورت اساسی تأمین شود. از این خاطر من می‌خواهم پروگرام «همبستگی ملی» را به پروگرام همبستگی شهری و دهاتی[1]، هر دو، بدل کنم تا سهم‌گیری واضح باشد و سهم شهر در ایجاد و مصرف تولیدات ده باشد. هر چیزی را از خارج وارد می‌کنیم؛ در حالی که ٤٠ تا ٦٠ فیصد میوه و سبزیجات خودمان ضایع می‌شود. این وضع قابل قبول نیست. بناءً ارتباط مستحکم شهر و ده و ارائه خدمات جز از این است.

موضوع آب و زمین، اساسی است. ده فیصد تخم‌های (بذری) ما اصلاح‌شده است، ۹۰ فیصدش مشکل بنیادی دارد. زمین للمی افغانستان کمترین حاصل را دارد. من به تفصیل نمی‌روم اما یک نکته بنیادی من این است که سالانه ۸۰۰ هزار تا ۱,۲ الی ۱,۵ میلیون تن گندم وارد می‌کنیم (در حالی که) افغانستان باید کندوی منطقه باشد.

(در مورد) مشکل! بعضی وکیل‌صاحبان خودتان گفتید و از زبان خودتان می‌گویم. شش ماه سیلاب‌هاست و شش ماه خشکسالی! آب ما نکته اساسی است. مهار کردن این آب طبق فرمایشات‌تان نکته اول کاری ما می‌شود و بعد انسجام زمین.

عمده‌ترین سرمایه افغانستان، موقعیتش است. دوصد سال این موقعیت به ما ضرر رسانده. په

---

[1] ملي پيوستون پروګرام د ۱۳۹۵ کال د تلې په ۴ نېټه په «ولسي تړون» پروګرام بدل شو.

راتلونکې شل کالو کې ان‌شاءالله تعالی دا موقعیت په طلا بدل شي. ۲۰ ولایت افغانستان سرحدی است. هر یک از این ولایات سرحدی باید به یک نقطه عمده ترانزیتی و تجارتی مبدل شود. تمرکز من سر سیاست منطقوی، به خاطر ایجاد ثبات در افغانستان است. کمک خارجی مثل مرهم است، کمک‌های اروپا و امریکا دردهای بنیادی ما را دوا نمی‌کند؛ اما همکاری منطقوی باعث ایجاد ثروت دوام‌دار می‌شود. بنابراین به تمام منطقه باید با عزت و اعتبار ببینیم. پشت هر شریک همسایه خود به صورت جدی بگردیم. دوم دنیای اسلام است که شریک بنیادی ماست. امکان سرمایه‌گذاری بزرگ ان‌شاءالله تعالی برای ما فراهم می‌شود.

بشري قوې او کانونو باندې یوازې یو څو کلیمې وایم چې ستاسو ډېر وخت ونه نیسي. ما در قسمت معادن در عجله نیستیم. افغانستان باید برای چهارصد سال آینده از معادن خود نان بخورد. من نمی‌خواهم معادن را به خاطر این که کسر بودجه ۱۳٦ میلیونی داریم، قربانی کنیم. امید است وزارت محترم معادن را وقت بدهید که چهار مشکل بنیادی را حل کند؛ یک پالیسی ثابت، محیط قانونی مساعد، ایجاد و انکشاف زیربنای لازم، جلب سرمایه که مستلزم کاهش خطرات و ایجاد محیط مورد اطمینان می‌باشد و منابع بشری کافی.

سر یک مسأله بنیادی می آییم. بازار آزاد یک بازار لجام‌گسیخته نیست؛ بازار آزاد یک بازار قانونی است، یک بازار اصولی است که تحت نظارت دولت قرار بگیرد. در ظرف سال آینده ما پیشنهادهای مشخص به قوه مقننه خواهیم آمد که، بازار آزاد را چه‌گونه تنظیم کنیم؟ چه طور نظارت کنیم؟ چه‌طور به صورت اصولی به یک قوه‌ی متحرک مبدل کنیم؟ بدون چارچوب قانونی و نظارت اصولی اینها (برآورده) نمی‌شود.

در بخش سرمایه بشری، بدون قوه متحد فعال و آگاه بشری صلح، ثبات و رفاه، نمی‌تواند صورت بیابد. ستاسې نظریات مې په باکفایت معارف باندې، تولیدي ظرفیت هغه شی چې زموږ پوهنتونونه او معارف تولیدوي ټولنه يې نه غواړي. دا باید به کیفیت بدل شي به تولید بدل شي، کدرونه باید په اساسي توګه اصلاح شي او پانګه باید واچوو. مخصوصاً در قسمت سرمایه‌ی فرهنگی افغانستان یک پیامتان واضح است؛ تمام وزارت‌های مربوطه و دوایر سر یک فرهنگ اسلامی و ملی متحرک، کار و سرمایه‌گذاری خواهند کرد.

امید است که تلویزیون ملی را چند چینل بسازیم تا فرهنگ اسلامی ما به صورت اساسی،

فهمیده و ترویج شود، خواسته‌های ملی ما ایجاد شود و بتوانیم باز هم با شعر، ادب، هنر و نثر خود آشنایی داشته باشیم و هم تولید کنیم. همچنین دفاع از میراث فرهنگی و آثار باستانی ما، بی‌نهایت ضروری است؛ که می‌تواند وسیله کاریابی عمده شود.

مسأله عمده دیگری را که از شما شنیدیم، سوله، ثبات، د قانون حاکمیت د اسلام د مبین دین پر اساس عدالت د دولت اساس او بنیاد جوړوي، په دې برخه کې موږ ډېرې کمزورۍ لرو.

ژمنه مې داده چې د عدالت د تامین دپاره به ټول یو لاس کړو. امنيتي قواووې ټول رضا کار دي، هر یو ددې وطن بچي دي او په رضا کاره توگه کار کوي. هيله ده هغه ستونزې چې تاسې تشخيص کړي، هغه ستونزې موږ زر تر زره حل کړو. دا ستونزې څه دي؟ همغږي نشته. ځو خويندې له ټولو نه ډېرتر دې ته متوجه دي او ما سره په تفصيل غږيدلي دي.

خواهران! در بخش عدم هماهنگی به تفصیل همراه من صحبت کرده‌اید. امروز در خانه ملت برای‌تان می‌گویم که مشکل هماهنگی را ما به صورت بنیادی ان‌شاءالله تعالی حل می‌کنیم و اقدامات واضح و مشخص ترتیب می‌شود.

افسران ما، چون تقاعد وجود نداشت، انگیزه نداشتند. تقاعد به صورت آبرومند در قوای امنیتی ما اجرا می‌شود و زمینه پیشرفت کادرها بر اساس معیارهای واضح و مشخص (فراهم) می‌آید. ما قوای امنیتی و دفاعی غیرسیاسی می‌خواهیم، قوای امنیتی و دفاعی مسلکی می‌خواهیم. تعهد من به حیث رئیس‌جمهور این است که هیچ نوع مداخله سیاسی را من شخصاً نخواهم کرد [د حاضرينو چکچکې] و امید است که همه در این سه ماه (گذشته) شاهد این بوده باشند.

مسأله اساسی ثبات، مساوات همه افغان‌ها در مقابل قانون است. شکایتی که شما نماینده‌های ملت امروز و همیشه دارید از من، و کاندیدوزیر صاحب‌ها هم حتماً از شما می‌شنوند، این است که افغان‌ها خود را در مقابل قانون مساوی نمی‌دانند؛ ایجاد شرایطی که افغان‌ها خود را در مقابل قانون مساوی بدانند، هدف اساسی ماست. بدون این، ثبات نمی‌آید. جنگ موږ باندې تحميل شوی جنگ دی او په شرعي توگه پوهيږي چې چا باندې چې جنگ تحميل شي حق د دفاع لري، اما قوه، زور، جگړه ددې وطن ستونزه نه حل کوي.

موږ چې مجبور شوي یوو که نن دانگام دی او یا بله گوشه د افغانستان ده له مجبوریت نه

ده، هدف مو پایداره سوله ده او پایداره سوله دا غواړي چې هر افغان یو واضح انتخاب وکړي. دا خاوره چې د پلار او نیکه او د نسلونو پیړیو نه راته رسېدلې دا ورته اهمیت لري یا دا چې د یو عراقي او یا سوري متفکر د تاثیر لاندې غواړي افغانستان تباه کړي.

موږ هیڅ چاته اجازه نه ورکوو چې دا خاوره تباه کړي، [د حاضرینو چکچکې] د سولې ولسمشر یم اما زه غواړم تاسو ته د یحیی خیلو قصه وکړم، زه چې یحیی خیلو ته لاړم تاسو ته معلومه ده چې لسها وو ګلالي ځوانان هم شهیدان شول، قومي مشر جګ شو حد اقل ۷ نفره یې په کورنۍ کې شهیدان شوي وو، پوهېږئ راته یې څه وویل؟

وویې ویل: زه اوس اوسپنه یم، که سلها نفره مو ووژني دا خاوره به ساتو، اما بل یې څه راته وویل؛ وایي سوله غواړم سوله په قلم، په معلم، په تعلیم غواړم، سوله په جور په جنګ په قاچاق نه غواړم، نو هیله ده چې دغه کلمات چې د شهید پلار، نیکه او تره راته ویلي دي زموږ او تاسو طرزالعین شي.

هغه خبرې چې یې راته کړي دي زما د مېز پرسرپه یو کارت کې پرتې دي څکه هره ورځ یحیی خیل او شکریه خور باندې حمله[1] زما په یاد ده. کونړ، دانګام او هلمند مې په یاد دی او هر ګوډ مې په یاد دی. دوه ساعته په ورځ کې، هره ورځ، هر ګوډ د افغانستان ته زه ګورم، زما عرض دادی چې داسې ځای د افغانستان نده چې قرباني یې نه وي ورکړي.

اما په دې پوه شوئ چې کله چې د کربښې آخوا عملیات کېږي زموږ او تاسو ژوند خرابېږي، څکه ده چې دا ۹۴ ولسوالۍګانې او ۲۰ سرحدی ولایات باید مضبوط کړو، د ټولو نه مننه کوم، د ټولو د همت نه مننه کوم او مانا یې داده چې هر نفر په کونړ کې، په هلمند کې، په فاریاب کې، په جوزجان کې، داسې ځای نشته، په کندز کې، بغلان کې، ټول افغانستان، بدخشان کې، نن غم د هر افغان په کورکې دی، بادغیس کی، خبره څه ده؟ عزم مو باید ټینګ وي چې له دې حالت نه ووځو او ان‌شاءالله تعالی دې حالت نه په اساسي توګه وځو. زموږ ظرفیت پخوانی نه ده، اوسنی نوی ظرفیت لرو.

موضوع دیگری که از شما شنیده‌ام، مسأله زیربناست. همه، هر کدامتان پروژه‌های مشخص دارید، پیشنهادهای مشخص دارید، من خلص می‌کنم. به ما وقت بدهید که یک پلان

---

[1] د دارالامان په سړک د ۱۳۹۳ د لېندۍ په ۲۵ نېټه په یوه ترهګریز برید کې، زموږ یو شمېر هېوادوال شهیدان شول او د ولسي جرګې غړې شکریه بارکزۍ ټپي شوه.

زیربنایی ملی را به صورت اساسی انسجام بدهیم و برای‌تان تقدیم کنیم. پیشنهاد دوم من این است که بودجه انکشافی را سه‌ساله بسازید. راپوردهی ما یک‌ساله خواهد بود، اما بودجه ملی سه‌ساله باید باشد.

حکومتداری، طریقه عملی تطبیق اهداف است. از حکومتداری شکایت دارید؛ شکایت‌های بنیادی دارید. ما شش ماه از شما وقت می‌خواهیم که با اصول منسجم، اصلاحات وسیع حکومتداری را به خدمت‌تان پیشنهاد کنیم.

تداخل کاری، امروز، افغانستان را به بحران برده است. به هر یک از وزارت‌های محترم که بروید، اگر کار خوب انجام داده شود، می‌گویند که ما کرده‌ایم؛ اگر مشکل باشد، شش جای دیگر ملامت می‌شود. شما که قضاوت کرده‌اید و قضاوت در این مورد کار بسیار مشکل است. من می‌خواهم در این شش ماه، هر وزارت و هر ارگان مستقل، وظیفه مشخصش واضح شود؛ صلاحیت‌ها و مسؤولیت‌هایش واضح شود تا برای هر کس واضح باشد که مسؤول کیست تا با شفافیت بتوانیم حساب بدهیم.

در این بخش یک عرض من این است که قانون اساسی برای رئیس‌جمهور افغانستان بیست صلاحیت داده است. د دنیا پر سر داسې کس نشته چې دغه شل به یوازې سر وکړي. بدین جهت وعده ما همراه شما است که ریاست جمهوری از فرد به یک نهاد مبدل می‌شود. کاندیدوزرا پیشنهادات مشخص داشتند که شورای مشخص وجود داشته باشد که مدیریت روزانه‌اش را اینها می‌کنند و شب‌ها جلسه‌های منسجم باشد.

یک وعده ما همراه‌تان این است که هیچ وزارت افغانستان غیرکلیدی نیست. تمام وزارت‌های افغانستان کلیدی است، از این جهت دسترسی کابینه به رئیس‌جمهور افغانستان دسترسی متوازن می‌باشد.

مشکل دیگری که در حکومتداری داریم این است که همراه وزیرصاحب‌ها دید و بازدیدها دوام‌دار است اما همراه ولایت‌ها ترتیب منسجم نداریم. اراده ما این است که در هر ماه همراه زون‌ها، در هر ربع همراه تمامی ولایات، وزرا و والی‌ها و کارمندان ولایتی جلسه‌های منسجم داشته باشند تا یک حس حسابدهی واضح وجود داشته باشد. معلوم است که از نمایندگان ملت درخواست می‌کنیم همراه ما شریک شوند تا حسابدهی واضح به وجود بیاید.

ریاست اجرائیوی کارهایی را که کابینه و رئیس‌جمهور پالیسی‌هایش را می‌سازند، تعقیب خواهد کرد. از جناب داکتر صاحب عبدالله بی‌نهایت ممنون هستیم که این وظیفه خطیر را قبول کرد، جلسات را به صورت منظم اداره خواهد کرد و راپوردهی منسجم به وجود خواهد آمد.

مذاکراتی که در این سه ماه همراه شما انجام دادیم، ممنون هستم. دیروز همراه تمامی کاندیدوزیران، روز را سپری کردیم تا برای مشکلاتی که شما مطرح کرده بودید و ملت مطرح کرده بود، راه‌های حل را با هم بسنجیم. بر این اساس له تاسو مو یو قسمت واضح پیغامونه اخیستي، دا پروگرامونه چې مطرح شول د ملت مستقیم اواز او تاسو چې د ملت استازی یاست تشخیص کړي. کابینه به ولس تاسو او ما ته ځواب ویونکې وي، دې چوکاټ کې چې هغه څه اړینه ده دا ده چې کاري شیوه، اساسي څېړنې ته اړتیا لري او موږ له تاسې نه اول اووه میاشتې وخت غواړو چې دا کارونه ترسره کړو.

اول ـ په هره اداره کې د اداري فساد د لرې کولو او د مکافات او مجازاتو فرهنګ د پلي کولو او تحکیم دپاره مشخص اقدامات وکړو.

مردم از فساد خسته هستند. کاری که شما می‌خواهید، اقدامات مشخص است. هر وزیر مسؤول است که با اقدامات مشخص و منسجم بیاید. نه فساد را تحمل می‌کنیم، نه فساد را اجازه می‌دهیم. اگر یکی از وزیرصاحبان خدای‌ناکرده مورد شک قرار گرفت، خودش استعفا خواهد داد و یا تعقیب خواهد شد. اگر من کدام اشتباهی بکنم، من در خدمت‌تان هستم، محاکمه‌ام کنید! تاسو خو لا حق لري، نه! فرهنګ راولو دا مو اول ده.

دوم ـ کار اهل کار ته سپارل او د حکومت په بدنه کې د ټولو اقشارو مشارکت او د عدالت پر اساس د راتلونکې د پاره مشخصه تګلاره. دو خواسته همزمان دارید؛ مشارکت، و کار را به اهل کار سپردن. این تعادل می‌خواهد. این تعادل را در بدنه دولت ان‌شاءالله تعالی عملی می‌کنیم.

دریم ـ د امنیت د تامین، د امنیتي او دفاعي قواوو د همغږۍ او د امنیتي قواوو د لامسلکي کېدو، کدري مصونیت او حسابدهي لپاره مشخصه تګلاره.

وضع امنیتی مورد قبول شما نیست، مسؤولین امنیتی آوازتان را واضح شنیدند.

تغییرات مشخص و واضح که موجب بهبود وضع امنیتی شود و مصونیت کاری که اینها بتوانند کار خود را انجام بدهند، (به وجود خواهد آمد).

چهارم ـ برای ایجاد کار یک پلان عملی و ارائه نتایج ابتدایی.

پنجم ـ در قسمت زیربنا، در مرحله اول تمرکز سر یک قسمت از پروژه‌های ملی که در حال انجام بوده و تکمیل نشده؛ تکمیل کردن اینها بر اساس اولویت و راپوردهی برای شما.

شپږم ـ د اقشارو د مشارکت په ځانګړي ډول د بېوزلو اقشارو ګډون او په دې برخه کې عملي اقدامات.

اووم ـ د بشري قواوو د تولید او ستفادې ابتدایي پلان، چې افغانان وکولای شي ټولې چارې په خپل لاس کې ونیسي.

هشتم ـ واضح کردن صلاحیت و مسؤولیت ولایات، شاروالی‌ها، ولسوالی‌ها و قُرا. امروز ما در ابهام مطلق در این بخش زندگی می‌کنیم که صلاحیت والی چیست؟ مسؤولیتش چیست؟ و منابعش چیست؟

باز هم فشار ما سر والی نیست، فشار ما سر ولایت است. تعریف ولایت و صلاحیت‌هایش باید به صورت واضح (ترتیب) شود، امروز قرن ۲۱ است. امور محلی را باید انسجام بدهیم و ترتیب انتخابی شدن شاروالی‌ها را در دو سال، به صورت اساسی‌اش انجام بدهیم تا قانون اساسی تطبیق شود.

نهم ـ د افغانستان د ترانزیټي مرکز د جوړېدو لپاره د پروژې د طرحې او تطبیق او پروګرامونو د دقیق مدیریت او د حساب ورکړې طرحه وړاندې کول.

لسم ـ درې کلنه انکشافي بودجه. بودجه فعلی مشکلات زیادی دارد. شما سرش غور کردید و من هم ممنون هستم.

در حالات فعلی، خواهران و برادران! حاضر نیستم که قرض بگیرم. مشکل افغانستان را نمی‌توانیم با قرض حل کنیم. اول باید مدیریت سالم بیاید، بعد در صورتی که شما موافقه کردید، قرض تنها به خاطر زیربنا گرفته می‌شود و ایجاد کار. اما من می‌خواهم که وقت

بدهید تا اول عواید داخلی را به پای ایستاده کنیم و حسابدهی را به وجود بیاوریم تا مردم افغانستان و نماینده منتخب مردم افغانستان، و دنیا، بالای ما اعتبار کنند؛ در مرحله آخر در ضرورت به قرضه‌های سهل درازمدت می‌رویم.

به انسجام کمک‌های فعلی هدایت دادم. در ٤٥ روز آینده تمام منابع کمک‌کننده، پروژه‌های‌شان مورد بررسی ما قرار می‌گیرد. هر پروژه‌ای را که موفق نبود، ایستاده می‌کنیم یا دوباره مدیریتش را می‌گیریم. در مصرف منابع نو تأکید سر عملی شدن نظریات شما خواهد بود.

عمده‌ترین پیغامتان انکشاف متوازن است. تاسې له کونړ نه وویل، هر گوټ د افغانستان ته باید تاسې په دې پوه شئ، چې زه تللی یم او د ځان زړه یې بولم. اما مخصوصاً ده مورد از فقیرترین ولایت‌های افغانستان، باید اولویت داشته باشد. امید است که شورای ملی به بزرگواری خود این را قبول بکنند که اگر می‌خواهند گذشته را جبران کنیم، برای این ۱۰ ولایت یک ضریب اضافی امکانات فراهم شود. ما این را عملی می‌کنیم، در نظر نی، عملاً!

کابینه برای شما و مردم افغانستان پاسخگو است.

صلاحیت تصویب و رد کابینه (پیشنهادی) از نماینده‌های ملت است. من کوشش اعظمی خود را کردم که کابینه‌ای برای‌تان تقدیم شود که مورد تأییدتان باشد. اما فیصله قانونی، شرعی و اصولی از شماست.

از این که فرصت را مساعد ساختید تا به خانه ملت بیایم، یک جهان سپاس! مردم بالای شما اطمینان کردند و شما نماینده‌های مردم هستید. مطمئن هستم که فیصله‌های شما به خیر ملت و بر اساس خواسته‌های مردم خواهد بود.

ژوندی دې وي افغانستان! پاینده باد افغانستان! یشه سن افغانستان!

# د افغانستان او چین ولسي جمهوریت د سیاسي اړیکو د شپېتمې کلیزې د نمانځنې مراسم

سلام‌خانه مانیی - کابل | ۱ سلواغه ۱۳۹۳ | ۲۱ جنوری ۲۰۱۵



## اړوند سکتورونه:

**بهرنی سیاست**

## د وینا عمده محورونه:

- **د نړۍ په فرهنگ او پوهې د چین اغېز**
- **د افغانستان او چین د اړیکو مخینه**
- **د چین او افغانستان د اوسنیو اړیکو څرنگوالی**

## غورچاڼ:

چین په درېیو برخو کې عمده نوښتونه ترسره کړي؛ کاغذ، باروت او د اوبو انجینري. له چین سره زموږ اړیکې لسگونه کلونو ته نه، بلکې پېړیو ته رسېږي او خوشبختانه تل زموږ اړیکې ښې وي، په ځانگړې ډول زموږ فرهنگي اړیکې ۱۵ پېړیو ته رسېږي. د بېلگې په توگه، د هرات د نقاشی مکتب له چین سره یوه زنځیري اړیکه رامنځته کړې ده. د سوداگرۍ په برخه کې هم ژورې اړیکې موجودې دي او وربښمو لار ددې اړیکو ښودنه کوي. موږ هیله لرو، چې تېر تاریخ، په راتلونکې کې بیا هم تکرار شي. موږ د پښتو ـ چینایي قاموس د چاپېدو شاهدان یوو، چې د دواړو ملتونو ترمنځ په نږدېوالي اغېز لري. نن افغانستان او چین د همکاریو او مشارکت نوی څپرکی پرانېزي او ان‌شاءالله آسیا به د تېرو پېړیو په څېر یو وار بیا په اقتصادي مرکز بدله شي. موږ همدا

راز هیله لرو لومړنۍ هېواد واوسو، چې د چین او متحده ایالتونو ترمنځ د مشارکت زمینه برابره کړو. چین د سولې په ټینګښت کې اغېزناک دی او په فرهنګي، اقتصادي او امنیتي برخو کې به هم اقدامات وشي.

## د جمهوررئیس غني وینا:

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم. اما بعد، اعوذ بالله من الشیطان الرجیم. بسم الله الرحمن الرحیم.

جناب جنرال صاحب دوستم، معاون اول ریاست جمهوری افغانستان، جناب دانش صاحب معاون دوم ریاست جمهوری افغانستان، جناب انجینیر صاحب محمد خان، معاون اول اجرائیوی، جناب حاجی صاحب محقق معاون دوم اجرائیوی، اعضای عالی‌رتبه دولت افغانستان، جناب سفیر صاحب چین، جناب پروفیسور چَه خونګ سای[۱]، خانواده‌ی محترم‌شان! السلام علیکم!

ښه راغلاست!

نن ما ته ویاړ ده، چې د افغانستان او چین شپېتمې کلیزې لمانځنه کوو. زموږ علایق چین سره د لسیزو نه دي، بلکې د پېړیو دي. د چین درې عمده اختراعات و نړۍ ته تغیر راوړ. کاغذ اول بار په چین کې تولید شو او پس له هغه نه په مري کې، په بلخ کې کاغذ له پنبې نه جوړ شو او په دې وسیله باندې دنیا کاغذ وپېژانده. له مري او بلخ نه کاغذ لاړه بغداد ته، له بغداد نه لاړه قرطبې ته او له هغې ځایه اروپا ته خپور شو.

چین په عین حال کې د باروتو مخترع دی. مخکې له چین نه (پرته) باروت چا په دنیا کې نه پېژانده. نو د دوی اختراعاتو، چې د دنیا رنګه او د جنګ او سولې رنګه یې بدله کړه. همدارنګه چین د اوبو په انجنیرۍ کې له ټولې دنیا نه د باندې و. د چین لوی کانال، چې جنوبي چین او شمالي چین یې سره وصل کړل د دنیا د انجنیرۍ له شاهکارونو دي او بل لوی شاهکار د چین، د چین لوی دېوال یا ستر دېوال دی.

وختې چې د دغه دېوال په هکله خلک فکر کوي چې له افغانستانه څومره لیرې ده او شاید

---

[۱] Che Hongcai: د پښتو ـ چینایي قاموس لیکوونکی او د چین د اړیکو پوهنتون استاد (زېږېدنه: ۱۹۳۶ ز).

پر افغانستان یې اثر نه وي کړی. اما هر وار چې په چین کې نوي امپراتوري راغلله او دېوال ته یې وسعت ورکړ. قبایل له هغه ځایه وغځېدل او مرکزي آسیا ته راغلل، موږ ته راغلل او بیا له موږ نه تر هندوستانه ورسېدل. زموږ تاریخ د دوی له تاریخ سره به پېړیو کې تړلې و، اما مناسبات مو د خدای په فضل سره همېشه حسنه و. زموږ فرهنګي ارتباطات خاصتاً په پنځلسمه پیړۍ کې له چین سره د هنري له نظره خاص نېږدې و.

بهزاد هنرمند هراتی،[۱] که سه‌صد سال نقاشی و مینیاتورکاری را در جهان اسلام، در امپراتوری عثمانی، امپراتوری صفوی، امپراتوری مغول و امپراتوری ایلخانی و غیره امپراتوری‌های ترک‌زبان مخصوصاً امپراتوری عبدالله خان، تحت تأثیر داشت، با سبک چین آشنا بود. نقاشی هرات با نقاشی چین یک ارتباط زنجیری پیدا کرده بود. هرات باستان وسیله ارتباط فرهنگی با چین بود.

تجارت ما با چین، از هزاره‌ها (پیش) بود. اسپ افغان، مخصوصاً اسپ آقچه ـ که جنرال صاحب تشریف دارند، آن نسل‌ها را مردم به فضل خداوند تا به حال نگاه کرده‌اند ـ در سرتاسر چین و هندوستان نام داشت. تجارت اسپ در چین در دست مسلمان‌ها بود. از این جهت، ارتباطات عمیق داشتیم و در طول قرن‌ها «جاده ابریشم»، نام این ارتباطات بود.

در دوران امپراتوری یو وان، جاده ابریشم یک جاده سرتاسری بود که در آن برای بار اول پول کاغذی ایجاد شد. پول کاغذی را هم، چینایی‌ها اختراع کردند و عام شد. (در این مسیر) امنیت کامل وجود داشت و ترتیب انتقال اسناد، شواهد و پیام‌ها توسط قاصدها به زیادترین فرصت صورت می‌گرفت. ارتباطات عمیق فرهنگی در این زمان، بین بغداد، کابل، بلخ، هرات و نقاط مختلف چین وجود داشت. این را بدین جهت می‌گویم که تاریخ گذشته ان‌شاءالله تعالی در آینده باز تکرار خواهد شد.

نن؛ په تېرو شپېتو کلونو کې چین همېشه د افغانستان دوست و او د دې دوستۍ لویه علامه د پښتو ـ چینایي لغت نامه ده. پروفیسور صاحب (چَه خونګ سای) شپږ دېرش کاله په دې باندې کار کړی او نن دا یو خاص ویاړ دی ما ته، د افغانستان د ولس د خادم په حیث چې نن دوی ته مې د سید جمال الدین افغان مډال وړاندې کړ. مننه جناب پروفیسور صاحب!

[۱] کمال‌الدین بهزاد، د هراتي سبک نقاش (۸۳۴ ـ ۹۱۴ لمریز).

[د حاضرینو چکچکې]

دا رقم کار بې‌له مینې نه، بې‌له ډسپلین نه، بې‌له دې نه چې سړی ربښتیا اراده ولري، نه کېږي او جناب پروفیسور صاحب ته مبارکي وایوو، چې دا ستر کار یې د افغانستان او چین د ولسونو د نېږدې کولو لپاره ترسره کړ. زه په عین حال کې غواړم چې د دوی محترمې میرمنې او لور نه مننه وکړم.

مادام [= مېرمن] «شي» له افغانستان سره اشنا ده، یو نیم کال په افغانستان کې د چین په سفارت کې وه. کابل ته بېرته ښه راغلاست زموږ په لیمو راغلی. خدای مو بیا، بیا راوله!

او د دوی محترمې لور ته ښه راغلاست وایم. ښه راغلې، شي شي[1]! [د حاضرینو چکچکې]

د چین او افغانستان اړیکې (به) موږ سبږ کالې په تفصیلي توگه ولمانځو. زما سفر چین ته او هغه پذیرایي چې ولسمشر «شي جینگ پینگ او صدراعظم «لي» وکړه بې‌سارې ده.

نن افغانستان او چین نه یوازې یو نوی فصل د همغږۍ او همکاري ایجادوي، یو نوی کتاب به په گډه ولیکو. دا کتاب به د آسیا بیارغاونه وي. په راتلونکو شلو کالو کې به ان‌شاءالله تعالی آسیا به لکه چې درې قرنه مخکې وه، د دنیا اقتصادي مرکز وي. د چین پروگرام نوی پروگرام هم د وریښم لارې د ژوندۍ کولو او هم د دې لپاره چې گاونډي هېوادونه د چین له پرمختگ نه په اساسي توگه برخمن شي او هوسا شي، ډېر لوی قدم دی.

موږ په دې هم ویاړو چې موږ لومړی هېواد یوو چې د چین او متحده ایالاتو د همغږۍ زمینه مو برابره کړې او په مشترکه توگه موږ کولای شو، چې ټول لوی قدرتونه د دنیا او د افغانستان د ثبات لپاره سمبال کړو او هیله ده، چې چین به د افغانستان د سولې د راتگ لپاره ستر قدمونه واخلي. ځکه چینایان چې هر شی کوي په تدبیر او تعمق یې کوي او اوس چې د دوی ښه ان‌شاالله تعالی په دې برخه کې راغلې، موږ به د ډېرو اقدماتو شاهد و واسو، چې هغه ثبات او هغه سوله او روغه چې هم د افغانستان او هم د چین او هم د منطقې ټولو هېوادونو په گټه ده. ان‌شاءالله تعالی له دې لارې عملي شي.

زه له ټولو تاسو مننه کوم او غوښتنه مې دا ده، چې د دولت ټولې ادارې به راتلونکو میاشتو

[1] مننه [په چینایي ژبه].

کې د چین او افغانستان د شپېتمې کلیزې د تجلیل لپاره خاص اقدامات وکړي.

بیا هم پروفیسور صاحب له تاسو مننه چې دا کلیزه مو له ډېر یو عمده قدم سره پیل کړه، نور قدمونه به په فرهنګي ساحې کې، اقتصادي ساحې کې، امنیتي ساحې کې او خاصتاً د سولې په ساحې کې کېښودل کېږي.

جناب سفیر صاحب له تاسو مننه، زموږ تودې هیلې د چین جلالتمآب جمهوررئیس او جلالتمآب صدراعظم ته ورسوئ او بیا هم ترې مننه وکړئ چې د افغانستان ولس ته یې ویاړ ورکړ، په هغه ترتیب چې له موږ سره یې روغبړ وکړ او له موږ سره یې همکاري وکړه.

تل دې وي د افغانستان او چین ملګرتیا او دوستي!

## د چین د سفیر دینګ ژي‌جون[۱]، د وینا ژباړه:

د افغانستان اسلامي جمهوریت جمهوررئیس ښاغلی محمد اشرف غني، د افغانستان اسلامي جمهوریت لومړی مرستیال محترم عبدالرشید دوستم، د افغانستان اسلامي جمهوریت دویم مرستیال سرور دانش، د افغانستان اسلامي جمهوریت د اجرائیه ریاست لومړی مرستیال انجینر محمد خان او د افغانستان اسلامي جمهوریت د اجرائیه ریاست دویم مرستیال استاد محمد محقق، قدرمنو وزیرانو، قدرمنو دوستانو، آغلو او ښاغلو!

غواړم د جمهوررئیس له احساس ښخه د ډکې وینا، او د افغانستان او چین ترمنځ په نږدې راتلونکې کې د اړیکو د پراختیا، په ځانګړي ډول د خلکو ـ خلکو ترمنځ د فرهنګي اړیکو د تقویت لپاره، مننه وکړم.

تر ټولو لومړی اجازه راکړئ، چې د چین جمهوررئیس[۲] د مبارکۍ پیغام تاسو د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس ته، د افغانستان اسلامي جمهوریت او د چین ولسي جمهوریت ترمنځ د ډیپلوماتیکو اړیکو د شپېتمې کلیزې په مناسبت، چې د چین او افغانستان د دوستۍ

---

[۱] Deng Xijun.

[۲] Xi Jinping.

کال یې بولو، وړاندې کړم:

«د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس عالي جناب محمد اشرف غني! له هغه ځایه چې د چین ولسي جمهوریت او د افغانستان اسلامي جمهوریت، د خپلو ډیپلوماتیکو اړیکو شپېتمه کلیزه د چین ـ افغانستان د همکارۍ او دوستۍ کال په نوم نمانځني، غواړم د دولت او د چین د خلکو په استازولۍ مبارکي او نېکې هیلې تاسو د افغانستان دولت او خلکو ته وړاندې کړم. په تېرو شپېتو کلونو کې د چین او افغانستان ترمنځ ډیپلوماتیکې اړیکې د تفاهم، همکارۍ، دوه اړخیزه ملاتړ او متقابل احترام پر اساس ولاړې دي. زموږ دوستي د دواړو هېوادونو د خلکو په زړونو کې ژور ځای لري. په اکتوبر میاشت کې چین ته ستاسو له لاسته‌راوړنو ډک سفر د دواړو هېوادونو ترمنځ ستراتېژیکې همکارۍ لا زیاتې غښتلې کړې. د چین او افغانستان ترمنځ اړیکې زما لپاره ځانګړی اهمیت لري. چین په افغانستان کې له سولې او بیارغاونې، هر اړخیز ملاتړ کړی او تیار دی، چې له افغانستان سره د سولې بهیر په پر مخ وړو کې رغنده همکاري وکړي، څو تر بل هر وخت د چین او افغانستان ترمنځ اړیکې پراختیا ومومي. د افغانستان د خلکو د هوساینې او کامیابۍ په هیله او تمه ده، چې د افغانستان او چین ترمنځ دوستي دوامداره پاتې شي. / د چین د ولسي جمهوریت جمهوررئیس شي جینګ پېنګ/ ۲۰ جنوري ۲۰۱۵»

ښاغلی جمهوررئیس! له دې فرصت څخه په استفادې غواړم د افغانستان په تړاو د چین پر دریځ ټینګار وکړم. له هغه ځایه چې افغانستان د چین ګاونډی دی، په افغانستان کې سوله او ثبات د چین له سولې او ثبات سره مخامخ اړیکه لري. د چین دولت په افغانستان کې له سولې او بیارغاونې هر اړخیز ملاتړ کوي؛ او ټوله هڅه کوي، چې له تاسو او د افغانستان له دولت سره د دواړو هېوادونو د خلکو د عالي ګټو د ترلاسه کولو لپاره همکاري وکړي.

له هغه ځایه چې افغانستان او چین ګډ سرنوشت لري او د دواړو هېوادونو ترمنځ د متقابل احترام او ملاتړ پر اساس ولاړې اړیکې د شپېتو کالو ډیپلوماتیکو اړیکو د متن پر اساس پرمخ روانې دي. چین به له افغانستان سره د سیاسي، اقتصادي، امنیتي، فرهنګي او د خلکو ـ خلکو ترمنځ د فرهنګي تبادلاتو پر اساس خپلې دوستۍ او همکارۍ ته دوام ورکړي.

دواړه هېوادونه د عطف په یوې حساسې تاریخي شېبې کې د پراختیا په حال کې دي. چین د خپلو خوبونو د تحقق لپاره، چې هماغه بیاځلي د ملت ځوانول دي هڅه کوي او افغانستان

هم د خپلو ملي ګټو او اقتصادي خپلواکۍ لپاره هڅې کوي؛ چين به په دې مرحله کې د افغانستان يو باوري ملګری وي او د دواړو هېوادونو د روښانه راتلونکې لپاه به له تاسو سره همکاري وکړي.

په پای کې غواړم له ښاغلي جمهوررئيس څخه د افغانستان او چين د خلکو ترمنځ د همکارۍ او دوستۍ ددې ورځې د نمانځنې او درناوي له امله مننه وکړم او دا چې د پښتو ـ چينايي لومړني قاموس د تأليف له امله مو د پروفيسور چه خونګ سای هڅې وستايلې، کور مو ودان. همدا راز، ټولو هغو دوستانو ته احترام کوم، چې د چين او افغانستان ترمنځ دوستۍ ته ژمن پاتې دي.

له تاسو مننه!

# مونیخ[۱] یو پنځوسم امنیتي کنفرانس

مونیخ ـ جرمني | ۱۹ سلواغه ۱۳۹۳ | ۸ فبروري ۲۰۱۵



## اړوند سکتورونه:

**بهرنی سیاست ـ امنیت**

## د وینا عمده محورونه:

- **د غوڅ ملاتړ ماموریت**
- **د ترهګرۍ چاپېریال پېژندنه**
- **د افغانستان سیمه‌ییزه ډیپلوماسي**
- **د جنایتکارۍ ژورې شبکې**

## غورچاڼ:

ترهګري د یوې ځانګړې چاپېریال پېژندنې کې په یوه سیستم بدله شوې ده. داعش په چټکۍ سره خپل څلورم کلاسلیک جوړښت ته نږدې کېږي او افغانستان ددې ګواښ د یو ځای کېدو ډګر دی، چې دې موضوع ته نه پاملرنه به ناوړه عواقب ولري. موږ خپل مسؤولیت پر غاړه اخلو، زموږ اصلاحي پروګرامونه بنسټیز او متمرکز دي.

---

[۱] Munich Security Conference (MSC): مونیخ امنیتي کنفرانس د نړیوال امنیت په برخه کې یوه له نړیوالو ناستو ده، چې د خصوصي برخې له لوري ترسره کېږي. دغه ناسته هر کال په فبروري کې د جرمني په مونیخ کې په بایریشر هوټل کې ترسره کېږي. ددې کنفرانس ګډونوال د خپلو نظرونو په څرګندولو، وړاندیزونو او د نړیوال امنیت د یوې مهمې موضوع په چوکاټ کې په سیاسي لیډنو خبرې اترې کوي.

سیاسي اجماع د مختصه تګ لپاره لومړنی اساس دی. موږ د سیاسي اجماع پر لور په حرکت کې یوو، سیمه او د خپل بهرني سیاست پنځه کړۍ مو هم همکارۍ کړې دي. په مبارزه کې، ټولو جلا هېوادونو ته د پام پر ځای باید د ترهګرۍ د چاپېریال پېژندنې په سیستم تمرکز وشي. د غبرګون اوسنی سیستم د ترهګرۍ شبکو د واقعي نه پېژندنې له امله سوکه دی؛ هغه څه چې په عراق، سوریه، یمن او سوبلي آسیا هېوادونو کې واقع کېږي، له هغه څه باید جلا ونه بلل شي، چې په افغانستان کې واقع کېږي، بلکې ګوانښونو ته باید سیستماتیک لیدلوری ولرو. بله موضوع د ورانکارۍ ژورې شبکې دي، چې د جګړې محرک ګڼل کېږي. باید په یاد ولرو، چې د ورانکارۍ او جرایمو کلني عواید ۱,۷ تریلیون ډالرو ته رسېږي او د جګړې د تمویل د ژورو ریښو له پېژندنې پرته، نشو کولای دا پدیده درک کړو. موږ د ثبات تامین او هوسایښې لپار په څلورو کچو هوکړې ته اړتیا لرو: ملي، سیمه‌ییزه، اسلامي او نړیواله. د افغانستان خلکو نړیوال نظم کې د برخې اخیستو لپاره درنه بیه پرې کړې او یوه نوې صفحه نه، بلکې یو نوی دفتر پرانېزي، چې هماغه همکاري، تفاهم او برخه اخیسته ده.

## د جمهوررئیس غني د وینا ژباړه:

د ښښوونکي او مهربانه خدای په نامه!

سفیر ایشینګر[۱]، محترمو آغلو او ښاغلو!

زه د داسې هېواد جمهوررئیس یم، چې ۹۹,۹ سلنه نفوس یې مسلمان دی؛ هغه هېواد چې په ټاکنو کې یې ۳۸ سلنه رایه ورکوونکې مېرمنې وې؛ هغه هېواد چې په هغه کې خلک په ټاکنو کې د ګډون له امله د ګوتو پرې کېدو له ګواښ سره مخ وو!

غواړم لومړی څو موضوعات درته بیان کړم او وروسته د کنفرانس موضوع ته راګرځم.

د ۲۰۱۴ کال په جون میاشت کې، یوه شخص چې د څلویښتو کلونو لپاره یې خپلې مېرمنې ته له کور څخه د وتو اجازه نه وه ورکړې، څلویښت ځله یې ښځې پخپل ټراکتور کې د رایې ورکونې مرکز ته بوتللې؛ دا ددې لپاره چې اوس مې په هېواد، افغانستان، کې مشروعیت د خلکو له رایو ترلاسه کېږي.

د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر په ۱۶ نېټه، زموږ ماشومان د والیبال لوبې پر مهال په ظالمانه ډول ووژل شول او تر دې پېښې وروسته، کله مې چې د پېښې د قربانیانو له والدینو سره لیدل، راته یې وویل، چې هغوی د ترهګرۍ له ګواښونو سره د درېدو لپاره، اوسپنیزه اراده او عزم لري او د

---

۱ Wolfgang Ischinger: د مونیخ امنیتي کنفرانس رئیس.

سولې غوښتونکي دي، هغه سوله چې وکولای شي د دوی ماشومانو ته ښوونځي ته د تللو زمینه برابره کړي، څو زما په څېر شي. ددې خبرو په اورېدو خوښ شوم؛ هغه خبرې چې د افغانانو په عالي تمدن کې ژورې ریښې او د برابرو حقونو لپاره ژمنتیا لري.

دوه اونۍ وړاندې، څلور زره دیني عالمان سره راټول شول او په یوه غږ یې د افغانستان له ملي اردو ملاتړ اعلان کړ او له امریکا متحده ایالتونو[١] سره د افغانستان پر امنیتي هوکړه‌لیک او د ناټو ځواکونو[٢] وضعیت هوکړه‌لیک یې د تائید ټاپه ووهله. موږ دلته د واقعي اسلام، خپلو خلکو باورونو او د راتلونکو نسلونو د هیلو په استازولۍ خبرې کوو. داعش ډله، القاعده او ورته نوې ترهګریزې شبکې، ګمراه‌کوونکې او منحرفې ډلې دي او موږ باید ددې جرئت ولرو، چې د خپلو مطلق اکثریت خلکو په استازولۍ خبرې وکړو. خو ددې لپاره باید هغوی ته خدمت وکړو، مګر تر هغه وړاندې، سفیر ایشینګر! لومړی اجازه راکړئ چې له تاسو او د ناټو او ایساف سازمان له غړو، په ځانګړي ډول له امریکا متحده ایالتونو، اروپایي هېوادونو او اړوندو همکارانو مننه وکړم. د مېرمنو او نارینه وو په ګډون ستاسو له څلور زرو زیاتو کسانو زموږ په هېواد کې خپل ځانونه له لاسه ورکړي دي او ستاسو شاوخوا یو میلیون کسانو په نوبتي ډول په افغانستان کې خدمت کړی دی. موږ ستاسو قربانیو ته احترام کړی او کوو یې؛ ستاسو قرباني به بې‌ځایه نه وي.

غوڅ ملاتړ ماموریت[٣] چې د ۲۰۱۵ کال د جنوري په ۱ نېټه [۱۱ مرغومي ۱۳۹۳] پیل شو، د افغانستان د ملي شورا د دواړو خونو د ډېری غړو له لوري تائید شو او دا پخپله زموږ او نړیوالو همکارانو د راتلونکو همکاریو چوکاټ دی. ډېر کارونه دي، چې کولای شو په ګډه یې ترسره کړو، خو د هغو ګواښونو ماهیت چې ورسره مخ یوو، څه دی؟ غواړم د ترهګرۍ د چاپېریال پېژندنې[٤] په اړه خبرې وکړم. ترهګري په ځانګړي چاپېریال پېژندنې کې په یوه «سیستم» بدله شوې ده. بدبختانه تر اوسه هم افغانستان ـ هغه هېواد چې زموږ بریالیتوب په‌کې د رسنیو سرخط نه دی ګرځېدلی او باید وپوښتل شي، چې رسنۍ به کله زموږ ددې بریالیتوب

---

[١] Bilateral Security Agreement (BSA).

[٢] Status of Forces Agreement (SOFA).

[٣] The Resolute Support Mission.

[٤] Ecology of terror.

په اړه راپور ورکوي ـ ددې گواښ د چاپېریال پېژندنې مرکزي نقطه ده.

په شمالي او سویلي وزیرستان کې د پاکستان پوځي عملیات د بېځایه کېدو لامل وگرځېدل او ټول پام یې افغانستان ته اوښتی دی. داعش ډله د عمل په چټکتیا د خپل کلاسیک جوړښت څلورمې مرحلې ته د لېږدېدو په حال کې ده، چې هماغه سازماندهي، لوری ورکول، پرېکړه کول او اقدام دي. دا گواښ، نړیوال دی، خو افغانستان ددې نړیوالې پدیدې د راټولېدو ډگر دی؛ که موږ دا موضوع له یاده وباسو او ورته پام ونه کړو، ناوړه عواقب به ولري؛ خو دا هله چې موږ ژمن نه شوو. نړیواله ټولنه زموږ پوروړې نه ده؛ موږ باید لومړی خپل مسؤولیت پخپلو اوږو واخلو، څو خپل کارونه بیا تنظیم کړو، چې عملاً دا کار ترسره کوو.

هغه اصلاحي پروگرامونه چې موږ تر لاس لاندې نیولي، بنسټیز او متمرکز دي او ددې پروگرامونو کلیدي موخې رایه ورکوونکو ته اهمیت ورکول دي. په دې برخه کې، هغه کار چې موږ ترسره کړی بې‌جوړی دی، یعنې دا چې د افغانستان د ټاکنو گټوونکی د ټولو امتیازاتو غوښتونکی نه شو، بلکې «ملي وحدت حکومت» یې جوړ کړ، څو د ټولو رایه ورکوونکو استازولي وشي.

سیاسي اجماع، د پرمختگ لپاره لومړنی بنسټ گڼل کېږي او د هغه د جوړېدو لپاره، موږ افغانان د پرمختگ په حال کې یوو. دویم، موږ سیمه همکاره کړې. د افغانستان فعاله ډیپلوماسي د درې اړخیزو اړیکو د سلسلې رامنځته کېدو لامل شوې، چې مهمه هغه یې د چین، امریکا متحده ایالتونو او افغانستان دي. په همدې ډول، له پاکستان سره زموږ تعامل ژور، هر اړخیز او بې‌غبره دی. موږ اعلامیې نه خپروو، بلکې د هغه د پایلو په لټه کې یوو. هیله لرو، داسې پایلې ترلاسه شي، چې په سیمه کې د لوبې د بدلون لامل وگرځي. موږ د مرکزي آسیا گاونډیو همکاري جلب کړې او ډېر ژر به د لاجوردو لارې د جوړېدو شاهد واؤسو، هغه لاره چې د ترکمنستان، آذربایجان، گرجستان او ترکیې له لارې افغانستان له اروپا سره نښلوي. موږ، ټول هغه لوري چې زموږ د بهرني سیاست په پنځو کړیو کې شامل دي، خپل همکاران گڼولي دي. دلته غواړم له امریکا متحده ایالتونو، جرمني، ایټالیې، ترکیې، انگلستان او په غوڅ ملاتړ کې شاملو نورو گډونوالو هېوادونو، بیاځلي مننه وکړم.

خو د ترهگرۍ د چاپېریال پېژندنې په تړاو باید ووایم، زموږ ټولو تمرکز، په جلا ډول په

هېوادونو دی، نه د ترهګرۍ د چاپېریال پېژندنې «سیستم» په پېژندلو. له هغه ځایه چې له ترهګرو شبکو واقعي پېژاند نه لرو، د هغوی پر وړاندې زموږ د غبرګون سیستم ډېر سوکه دی؛ ګواښونو ته په انفرادي ډول ګورو، نه په سیستماتیک ډول. دا خبره ډېره د اهمیت وړ ده، چې موږ نه باید هغه پېښې چې په سوریه، عراق، یمن او لیبیا کې ترسره کېږي، له هغو جلا وبولو، چې په افغانستان او سویلي آسیا کې ترسره کېږي، ځکه د شبکو د ماهیت له نظره، دا ګواښونه د غښتلي کېدو په حال کې دي، خو په د دغو ګواښونو پر وړاندې د دولتونو غبرګون تر هغه کمزوری دی، چې باید وای.

خوښ یم، چې د «هایبریډې جګړې»[1] اصطلاح د مونیخ امنیتي کنفرانس قاموس ته لار وموندله. موږ له دې شخړې زیان لیدلی دی. له همدې اړخه غواړم د ټولو پام یوې بلې موضوع ته یعنې «جنایتکارۍ»[2] ته واړم، چې تر اوسه په دې قاموس کې نه ده شامله شوې. د جنایتکارۍ ژورې شبکې د جګړې محرک ګڼل کېږي. په ډېرو مواردو کې چې غواړو پر سولې تمرکز وکړو، زموږ ډېر پام د نظریه ورکوونکو، خبرو اترو او د شبکو رامنځته کېدو منطقي پوهې ته ورګرځي. عمده پوښتنه دا ده، چې د خبرو اترو د استدلال برخه مهمه نه ده، بلکې د جګړې د تمویل د ژورو ریښو له پېژندلو پرته، نشو کولای دا پدیده درک کړو.

د نړۍ جرمي اقتصاد هر کال ۱،۷ تریلیون ډالرو ته رسېږي. د افغانستان د اقتصاد هغه برخه چې له جرمي عوایدو ترلاسه کېږي، یقیناً ددې اقتصاد د ۲۰ لوړ برخه‌والو له ډلې دی. په همدې اساس، د غبرګون له نظره، موږ د ثبات او هوساینې تامین لپاره داسې هوکړې ته اړتیا لرو، چې څلورو کچو ته رسېدنه وکړي:

لومړی ـ په ملي کچه. د «ښاروند» مرکزي رول ته نه پاملرنې د بې‌ثباتۍ او ترهګرۍ پراختیا ته زمینه برابره کړې ده. افغانان، د ۱۶، ۱۸ او ۱۹ پېړۍ افغانان نه دي، بلکې هغه خلک دي، چې په ۲۱ پېړۍ کې، ددې پېړۍ له رغاونکو غوښتنو سره برابر ژوند کوي. په ټاکنو کې ددې

[1] Hybrid warfare: هایبریډې جګړه د پېژندل شوې جګړې، نامنظمې جګړې او سایبري جګړې (ګډ) ترکیب دی، چې د موخو د ترلاسه کولو لپاره ده. په دې جګړه کې، مقابل لوری خپل ځواکونه په داسې ډول جوړوي، چې په فرد پورې په یوه منحصر بستر کې له ټولو شته متداولو او غیر متداولو سرچینو استفاده کوي، څو د رقیبانو پر وړاندې زیات او ځانګړی اغېز رامنځته کړي.

[2] Criminality.

خلکو په مشارکت باید د ټاکنو نفس او ډیموکراتیک نظام ته د احترام له لارې درناوی وشي، نه د هغه برعکس. خو په دې موضوع کې بشپړ ثبات ته رسېدل د نړۍ د یوه بېوزله هېواد، افغانستان، لپاره یو وخت نیوونکی امر دی، خو په نظام کې باید ښاروند شریک کړای شي.

دویم ـ په سیمه کې عملاً دا کار روان و، چې دولتونو غیر دولتي عناصرو یا غیر دولتي ډلو ته پناه ځایونه برابر کړي دي یا هغوی تمویلوي او یا دا چې دولتونه، په قصدي ډول د ګاونډیو هېوادونو د امنیت کمزوري کولو په موخه عناصر یا غیردولتي ډلې تمویلوي. هیله لرم اوس به دا موضوع روښانه شوې وي، چې نور هغه ورځې تللې دي.

دریم ـ د اسلام په کچه. د اسلام د روح لپاره او د هغو کسانو لپاره، چې ددې لوی تمدن استازولي کوي. موږ باید ددې موضوع پر وړاندې غلي پاتې نشو، د یو اُردني عسکر یا جاپاني بندي یا نورو د وحشیانه قتل پر وړاندې غلي پاتې کېدل، نور د هېڅ لپاره انتخاب نه دی.

څلورم ـ د نړۍ په کچه. د نړیوالو بنسټونو کار سوکه دی. دغه بنسټونه د ۲۰ نیمایي پېړۍ محصول دي او د هماغه پېړۍ شرایطو ته ځواب ویونکي دي. د ۲۰۱۵ کال شرایطو ته د یوه نړیوال چوکاټ په نشتوالي کې، ښاغلی اِلایسون![1] موږ به تل دوه قدمه نه، بلکې لس قدمه شاته یوو؛ په همدې اساس، موږ تمه لرو، چې وکولای شو د عمل کولو په نړۍ کې، لوري ته بدلون ورکړو.

مننه دا چې په دې غونډه کې ماته د ګډون فرصت برابر شو؛ وروستی پیغام مې، د هیلې پیغام دی! موږ به پر ټولو دغو ستونزو بریالي کېږو، ددې لپاره چې افغانستان د اسلام په تاریخ کې ځانګړی ځای لري. افغانستان له دیني عقایدو د دفاع لپاره د سرو لښکرو د تېري پر وړاندې، د بل هر هېواد په پرتله درووند قیمت پرې کړی، ډېره قرباني یې ورکړې او زیانمن شوی دی. اوس د افغانستان خلک دغه ډول وړاندوینې ته په پام سره تیار دي، چې یوه نوې صفحه نه، بلکې یو نوی دفتر، چې د همکارۍ، تفاهم او برخې اخیستو په معنی دی، پرانېزي. د افغانستان جغرافیوي موقعیت، د اوبو سرچینې، طبیعي سرچینې او د خلکو تشبثي ځواکمنتیا موږ ته اجازه راکوي، چې د یوې متفاوتې ورځې را رسېدو تمه ولرو. هیله ده، چې تاسو له موږ سره د همکار او ژمن په توګه پاتې شئ او تمه لرم، چې موږ ټول په ګډه وکولای شو د

---

[1] Jan Eliasson: د ملګرو ملتونو د سکرترجنرال مرستیال.

نړۍ د پراخ نظم په برخه کې، چې زموږ ټولو په ګټه دی، خپل رول ولوبو.

مننه!

# د امریکا متحده ایالتونو له دفاع وزیر سره ګډ مطبوعاتي کنفرانس

کابل | ۲ کب ۱۳۹۳ | ۲۱ فبروري ۲۰۱۵



## اړوند سکتورونه:

**امنیت ـ بهرنی سیاست**

## د وینا عمده محورونه:

- **د امنیتي مسؤولیتونو لېږد**
- **په افغانستان کې د ثبات رامنځته کول**

## غورچاڼ:

د امریکایي او افغان سرتېرو د قربانیو له امله مننه کوم. زموږ قربانیو موږ ددې وړ ګرځولي یوو، چې افغانستان باثباته کړو او د نړۍ د ثبات ساتنه هم وشي. موږ په بریالیتوب، د امنیتي مسؤولیتونو لېږد بشپړ کړ؛ د امریکایي سرتېرو جنګي ماموریت پای ته رسېدلی او د افغانستان د امنیتي او دفاعي ځواکونو د روزنې، تجهیز او تقویت اساسي هدف لپاره زموږ د همکاریو نوې مرحله پیل شوې ده. موږ د ازموینې له دورې په بریالیتوب ووتو او اوس له تېر څخه زیات باور لرو. د ترهګرۍ له ګډ ګواښ سره مقابله لنډمهالو، منځمهالو او اوږدمهالو همکاریو ته اړتیا لري او د امریکا له متحده ایالتونو سره زموږ همکاري به هر اړخیزه وي. موږ د ثبات لپاره په سیمه کې ځیتې نوښتونه لرل، څو افغانستان د تضاد له یوې نقطې څخه د سیمې د دوامداره همکاریو په یوې نقطې بدل شي. زموږ خلکو تل په ثبات باور لرلی دی او دا په یوه شفاف او باور وړ نظام باندې زموږ د اساسي پانګونې له امله دی. موږ د پنځه زره کلن تاریخ پر اساس، د راتلونکو پنځو کلونو لپاره هم لیدلوری لرو او په همدې موخه د کارموندنې، د برخې اخیستنې د شرایطو جوړېدو، ښوونې او روزنې او سیمه‌ییزو مناسباتو، چې له ثبات سره

اړیکې ولري، په برخه کې د امریکا د نېکو نظریاتو هرکلی کوو.

## د جمهوررئیس غني خبرو:

بسم الله الرحمن الرحیم.

برای من جای بسیار افتخار است که امروز بیست و پنجمین وزیر دفاع امریکا را که تنها چند روز قبل از طرف سنای امریکا تأیید شد به افغانستان خوش‌آمد می‌گویم؛ جناب کارتر[۱] به افغانستان خوش آمدید!

تاسې د افغانستان دوست یاست. لس وارې مخکې مو دلته تشریف راوړی و او همېشه مو د افغانستان او امریکا د ښو اړیکو د منځته راوړلو او پاللو برخو کې ډېرې هلې ځلې کړې دي. نو زه اول تر ټولو مخکې مبارکي درکوم، چې دغه ستره وظیفه مو بیا ومنله او له خصوصي ژوند نه راغلئ بیا مو دولتي کارونه پیل کړل.

جزئی از شخصیت بسیار موفقانه جناب وزیر دفاع امریکا این است که زیادتر از یازده کتاب و صد مقاله، در بخش‌های مختلف نوشته است. هر روز این واقع نمی‌شود که یک شخصی که در فزیک تئوریک دکتورا دارد، در عین حال تمامی مسایل استراتیژیک منجمنت و اداره را فکر کند. بنابراین دیدگاه ایشان، دیدگاه علمی است و همیشه علم و تکنالوژی را اساس تغییر پالیسی (قرار) داده‌اند. اما نکته بنیادی‌شان، تعهدشان با ملت‌شان، مردم‌شان و مخصوصاً به قوای مسلح ایالات متحده امریکا است. او په دې برخه کې زه له تاسې غواړم مننه وکړم همدارنگه تقریبا له یو میلیون امریکایي ښځو، نارینه وو او عساکرو څخه چې په تېرو څوارلسو کلونو کې یې له افغانستان سره مرسته وکړه او مخصوصاً له هغو څلور زره نه دېرتر افراد چې آخري قرباني یې ورکړه، د دې لپاره وه چې موږ او تاسې وکړای شوو یو باثباته افغانستان منځته راوړو او په عین حال کې د دنیا او ستاسې ثبات وساتو، مننه وکړم.

افغانانو مسلحه قواوو او خاصتاً د افغان ولس ډېره قرباني ورکړې او دا قرباني زموږ دنده وه او تاسې زموږ میلمانه وئ او له موږ سره اوږه په اوږه ودرېدئ. مننه! او هیله کوم چې ټولو ته

---

[۱] Ashton Baldwin Carter: اشتون کارټر، د امریکا متحده ایالتونو پنځه ویشتم دفاع وزیر (۲۰۱۵ ز).

زموږ مننه او احترام ورسوئ.

امروز ما با کمال موفقیت مرحله‌ی انتقال را کامل ساختیم. عساکر امریکایی امروز وظیفه جنگی ندارند و با عزت و افتخار از افغانستان برآمدند. مرحله نو همکاری ما شروع شده که در این مرحله تعلیم، تجهیز و تقویه قوای امنیتی و دفاعی افغانستان هدف اساسی ما است. ما مسؤولیت ملی خود را درک کردیم. می‌خواهم در این فرصت از قوای امنیتی و دفاعی ما ابراز امتنان کنم و در عین حال از جنرال کمبل[۱] در وظیفه نوَش ابراز امتنان کنم که باز هم پهلو به پهلو و شانه به شانه همراه ما ایستاده است. قوای امنیتی ما با چالش‌های مختلف در این پنج ماه مصادف شدند. می‌خواهم به نمایندگی، از جناب نظری صاحب سرپرست وزارت دفاع، از جناب لوی درستیز افغانستان، جناب وزیر صاحب امور داخله، و تمامی اراکین امنیتی ما، جناب اتمر صاحب مشاور امنیت ملی ما که استراتیژی امنیتی و دفاعی ما را ترتیب کردند، ابراز امتنان کنم.

میراث دشواری بود، اما ما با موفقیت از این مرحله‌ی امتحان گذشتیم. ان‌شاءالله تعالی، ابتکار را به دست خواهیم داشت و زیادتر و زیادتر اعتبار خواهیم داشت.

[د امریکا متحده ایالتونو دفاع وزیر ته خطاب:] همکاری ما و شما همه‌جانبه است. در این شرایط ضرورت این که بتوانیم تعریف همکاری جدید در ساحات مختلف را داشته باشیم از نکاتی است که در بحث با شما به تفصیل سرش صحبت شد. در عین حال در سفر آینده‌ی ما (به ایالات متحده امریکا)، با جلالت‌مآب اوباما بحث خواهد شد. در این بخش می‌خواهم که از جلالت‌مآب اوباما تشکر کنم که در زمان این پنج ماه، انعطاف نشان دادند و همکاری‌های سرتاسری و لازم را در چارچوب تغییر ماحول و تغییر شرایط ایجاد کردند.

ما به خطرهای نو هم دچار هستیم. تروریزم به حیث یک پدیده، هم ما را و هم شما را تهدید می‌کند و این ضرورت به همکاری کوتاه‌مدت، وسط‌مدت و درازمدت دارد. هدف اساسی ما ایجاد شرایط صلح، ثبات و رفاه است. در این بخش، ما ابتکاراتی در منطقه داشتیم و به صورت دوام‌دار کوشش ما این خواهد بود که افغانستان از نقطه‌ی تضاد به یک نقطه همکاری دوام‌دار منطقه‌یی مبدل شود و مثل قرون گذشته شکل چهارراه آسیا و نقطه

---

[۱] John Francis Campbell: جنرال جان کمبل، د غوڅ ملاتړ ماموریت قوماندان.

همکاری جهانی را به خود بگیرد.

مردم ما دموکراسی را بر انارشی ترجیح دادند، اتفاق را بر نفاق ترجیح دادند. تعهد اساسی به وطن‌پرستی وجود دارد. هر سرباز و پولیس ما و هر عضو امنیت ملی ما رضاکار است؛ از این وطن به شکل رضاکارانه و داوطلبانه دفاع می‌کنند. سرمایه‌گذاری اساسی ما بالای این است که یک نظام شفاف، قابل اعتماد و قابل باور به وجود بیاید. مردم ما همیشه به ثبات باور داشته‌اند و در انتخابات به صورت اساسی اشتراک کردند؛ مخصوصاً اشتراک زنان افغان که ۳۸ فیصد رأی‌دهندگان را تشکیل می‌داد، موجب امید است.

نکته آخر جناب وزیر صاحب دفاع! ما یک «ملک» دارای تاریخ پنج هزار ساله هستیم و برای پنج هزار سال آینده هم دیدگاه داریم اما ما یک «مملکت» جوان هستیم، اکثریت نفوس ما، ٦۰ فیصد نفوس ما، عمرشان از ۳۰ سال پایین‌تر است؛ بنابراین مسایل ثبات، با کار، ایجاد شرایط سهم‌گیری، تعلیم و تربیه و مناسبات منطقه‌یی ارتباط دارد. در این بخش شرایط نظریات نیک شما را استقبال می‌کنیم.

باز هم به حیث یک دوست افغانستان و به حیث دوست شخص خودم و حکومت و دولت افغانستان، شما را خوش‌آمد می‌گویم.

Thank you![۱]

## د امریکا متحده ایالتونو د دفاع وزیر اشتون کارټر د خبرو ژباړه:

ماسپښین په خیر!

ښاغلی جمهوررئیس، ستاسو د هرکلي او په ځانګړي ډول د روان وضعیت په تړاو د بشپړ تحلیل له امله ډېره مننه.

غواړم لنډې خبرې وکړم، ځکه چې جمهوررئیس نور پروګرامونه هم لري. هماغسې چې جمهوررئیس وویل، سهار مو ړ له اجرائیه رئیس ډاکتر عبدالله عبدالله او د افغانستان د دولت

[۱] منه [په انګلیسي ژبه].

د رهبرۍ له ورته نورو غړو سره د امریکا او افغانستان د راتلونکو همکاریو، په ځانګړي ډول واشنګټن ته زموږ د راتلونکې میاشتې سفر ـ چې جمهوررئیس اوباما او زه یې په تمه وم ـ ګټور او اغېزناک مجلس درلود.

دا چې ډېرې وخت د دفاع وزیر په توګه ما د خپل سفر ډېره برخه کې د نظریاتو اورېدو ته ځانګړې کړې ده، نن سهار مې فرصت وموند، چې په افغانستان کې د امریکا د سفیر مکنلي،[1] جنرال ستین[2] او جنرال کمبل[3] توضیحي نظریات واورم. له هغوی منه کوم او د افغانستان او امریکا ترمنځ د همکاریو د تقویت په برخه کې د هغوی د هڅو منندوی یم.

افغانستان لومړنی هېواد دی، چې د مشخصو دلایلو له امله د دفاع وزیر په عنوان ترې زه لیدنه کوم. لومړی مې وغوښتل، چې په دې هېواد کې له مېشتو لسو زرو امریکایي سرتېرو او د افغانستان د امنیتي ځواکونو په لیکو کې د هغوی له همکارانو منته وکړم.

په افغانستان کې د امریکایانو د قربانیو په تړاو د ښاغلي جمهوررئیس له محبت څخه تر ډکو خبرو وروسته غواړم ووایم، چې زما او د ټولو امریکایانو لپاره ستاسو له خولې ددې خبرو اورېدل ډېر ارزښت لري. زه غواړم د هغو کسانو په اړه خپل احساس او د امریکا د ملت احساس څرګند کړم، چې په افغانستان کې یې خپل ژوند په خطر کې اچولی، دلته ټپیان شوي یا قرباني شوي دي. همدارراز په اوسنیو شرایطو کې افغانستان ته په سفر کولو سره غواړم روښانه کړم، چې د امریکا او ائتلافي ځواکونو د نوي ماموریت پیل له افغانستان سره د دوامداره همکاریو د ساتنې پر اساس، د امریکا متحده ایالتونو قوي ژمنتیا پخپل ځای پاتې ده. غوښتل مې د امریکا او زموږ د ائتلافي همکارانو د همکاریو د څرنګوالي او د افغانستان د امنیتي ځواکونو د لا زیاتو پرمختګونو په اړه ټول څه له نږدې مخامخ د جمهوررئیس غني، اجرائیه رئیس ډاکتر عبدالله او د افغان دولت له رهبرۍ واورم. دا افغانستان ته زما لسم رسمي سفر دی او په ټوله هغه موده کې چې په پنټاګون کې مې ماموریت ترسره کړی، امریکایي ځواکونه د افغانستان په جګړه کې دخیل وو.

---

[1] .Peter Michael McKinley

[2] .General Austin

[3] .General Campbell

افغانستان ته زما وروستی سفر په ۲۰۱۳ کال کې و، چې له هغه مهاله تر اوسه په افغانستان کې پام وړ او مثبت تغییرات لیدل کېږي. د افغانستان پارلمان د افغانستان او امریکا ترمنځ دوه اړخیزه امنیتي هوکړه‌لیک او د ناټو ځواکونو د حضور څرنګوالي دوه اړخیزه هوکړه‌لیک تایید کړی دی. د افغانستان د امنیتي ځواکونو شمېر اوس ۳۵۰ زرو تنو ته رسېږي، چې په افغانستان کې د امنیت د ټینګښت مسؤولیت لري. جمهوررئیس غني او اجرائیه رئیس د افغانستان د ملي ګټو د تأمین په موخه، ملي وحدت حکومت جوړ کړ. ټول دغه پرمختګونه د امریکایي او ائتلافي ځواکونو د شمېر د کموالي او یوې نوې مرحلې ته زموږ د همکاریو د داخلېدو لامل شوي دي.

امریکا متحده ایالتونو او د آیساف همکارانو په افغانستان کې خپل جنګي ماموریت، هماغسې چې جمهوررئیس یې یادونه وکړه، پای ته رسولی دی او اوسمهال یې ماموریت د روزنې، مشورې ورکولو او د القاعده او نورو بقایاتو له ترهګرۍ سره د مبارزې لپاره له امنیتي ځواکونو سره په همکارۍ تمرکز لري. هماغسې چې جمهوررئیس اوباما او ما د همدې اونۍ په پیل کې د همدې مسایلو په تړاو په بیضوي دفتر[1] کې بحث وکړ، د دغو پرمختګونو ساتنه او دوام زموږ لومړیتوب دی. په همدې اساس جمهوررئیس اوباما د جمهوررئیس غني له ستراتېژۍ زموږ د ملاتړ لپاره په څو انتخابونو تمرکز لري، چې په زماني جدول کې د وخت په تغییر او د امریکایي ځواکونو پر اېستنې په‌کې بحث شوی دی؛ یعنې ددې وخت را رسېدلی دی، چې موږ د ځواکونو پر اېستنې یو وار بیاکتنه وکړو او باوري شو، چې د هغو لاسته‌راوړنو د ساتنې لپاره، چې په خورا زیار مو ترلاسه کړې دي، له افغان ځواکونو د ملاتړ لپاره زموږ ائتلافي همکاران کافي امکانات او وړتیاوې لري او کنه او همداراز زموږ د هغه پرسونل د ساتنې لپاره هم کافي شمېر ځواکونه شته، چې دلته پاتې کېږي.

پر دې سربېره، موږ په افغانستان کې د خپلو سرتېرو د شمېر څرنګوالي ته ګورو، دا ځکه چې امریکا او زموږ ائتلافي ملګري د تجهیزاتو، د سرچینو برابرولو او په اوږدمهال کې د افغانستان د امنیت لپاره د اړوندو مرستو په برخه کې، له بهرنیو سرتېرو سره برابر اهمیت لري. د همکاریو د پراختیا په معنی زموږ پایداره همکاري له امنیتي برخې پراخه ده او ژورې سیاسي، اقتصادي او فرهنګي اړیکې هم په ځان کې رانغاړي.

---

[1] Oval Office: د امریکا متحده ایالتونو د جمهوررئیس دفتر.

فرصت برابر شو، چې زه او جمهوررئیس غني د نورو مسایلو په تړاو هم خبرې وکړو لکه اقتصادي موضوعات، چې دی په دې برخه کې تخصص او ډېرې تجربې لري؛ په همدې دلیل نن مو چې کوم رغاونکي بحثونه لرل، ځانګړی اهمیت لري. غواړم له جمهوررئیس غني او همکارانو یې له ترهګرۍ سره د مبارزې د لیدلوري او د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو مسایلو په تړاو له پراخ او هر اړخیز تحلیل څخه مننه وکړم.

له هغه ځایه چې غواړم په نږدې راتلونکې کې خپلې مشورې له جمهوررئیس اوباما سره شریکې کړم، نو ددې سفر په پایله کې مې ډاډ ترلاسه کړ، چې (جمهوررئیس اوباما ته) زما وړاندیزونه به په افغانستان کې عیني واقعیتونه منعکس کړي؛ په دغو واقعیتونو کې له افغانستان سره د امریکا مثبت او ځواکمن مشارکت، د افغانستان د امنیتي ځواکونو پرمختګونه او هغه خنډونه چې ورسره مخ دي، په افغانستان کې سیاسي پرمختګونه او هغه سیمه‌ییز عوامل، چې د افغانستان پر اوږدمهالې جګړې اغېزناک دي، شامل دي.

څو اونۍ وړاندې جمهوررئیس غني په مونیخ کنفرانس[۱] کې د خپل هېواد د پرمختګونو په اړه خبرې وکړې او د هغه افغان شخص یادونه یې وکړه، چې ځلوېښت کاله یې خپلې ښځې ته له کوره د وتو اجازه نه وه ورکړې، خو دې شخص د افغانستان په ټاکنو کې ځلوېښت ځله پخپل ټراکټور (موټر) کې ښځې د رایې ورکونې مرکز ته بوتلې. جمهوررئیس همداراز یادونه وکړه، چې تېره میاشت په یوې ناستې کې، څلور زره دیني عالمانو په یوه غږ د افغانستان له ملي اُردو او له امریکا او ناټو سره له امنیتي قراردادونو ملاتړ اعلان کړ.

نن موږ له ټولو نارینه‌وو او ښځو، همداراز له ټولو افغان او امریکایي پوځیانو، ملکیانو او نورو، چې د افغانستان د پرمختګونو د تحق او روښانه راتلونکې لپاره یې ځانونه قرباني کړي او دا چې د امریکا او نړۍ لپاره خوندي راتلونکې رامنځته شي، مننه او یادونه کوو. موږ دې قربانیو ته درناوی کوو او دې قربانیو ته د درناوي په پار ډاډ درکوم، چې د افغانستان او امریکا مشارکت او همکاري به د تېر په پرتله غښتلې او ځواکمنه وي او ژمنه درکوم، چې په راتلونکې کې به هم په همدې ډول دوام کوي.

---

[۱] د مونیخ یو پنځوسم امنیتي کنفرانس د ۲۰۱۵ د فبروري په ۸ نېټه (۱۹ سلواغه ۱۳۹۳) ترسره شو.

## پوښتنې او ځوابونه:

خبریال: زما سوال د امریکا متحده ایالاتو د دفاع وزیر څخه دا دی، چې په افغانستان کې د پاتې کېدونکو امریکايي ځواکونو د شمېر په اړه اندېښنې موجودې دي، په امریکا کې هم چارواکي په بېلابېلو نظرونو باندې دي، که د دقیقې شمېرې په اړه معلومات ورکړئ. مننه؟

کارټر [ژباړه]: ستاسو د پوښتنې په تړاو دوه موضوعات مطرح کوم. لومړی دا چې موږ له ښاغلي جمهوررئیس، عبدالله او د افغان دولت د رهبری له نورو غړو سره، پر دې موضوع ژورې خبرې وکړې؛ په واشنګټن کې مو هم پر دې موضوعاتو خبرې کړې دي او همداراز له ملکي او پوځي رهبرانو سره غږېدلي یوو. دا هغه څه دي، چې جمهوررئیس غني او جمهوررئیس اوباما به پرې په نږدې راتلونکې کې په واشنګټن کې خبرې وکړي او خپل نظریات به له یو بل سره شریک کړي او یوې نهايي پایلې ته به ورسېږي، چې څومره شمېر سرتېري په افغانستان کې پاتې شي. هماغسې چې موږ هم له جمهوررئیس سره په خبرو کې پرې ټینګار درلود. په افغانستان کې د امنیتي ځواکونو شمېر مهم دی، خو زموږ د اړیکو نور اړخونه هم خپل اهمیت لري، چې د افغان امنیتي ځواکونو د تقویت په برخه کې دوه اړخیزه همکاري، او د سیمې او نړۍ په کچه په مختلفو اقتصادي او سیاسي برخو کې همکارۍ په کې شاملې دي.

خبریال [جمهوررئیس غني ته خطاب ـ ژباړه]: د سناتور مک‌کین[۱]، په وینا، تاسو په مونیخ کنفرانس کې د غونډې ګډونوالو ته ویلي، چې له افغانستان څخه د امریکايي ځواکونو د ایستنې پلان یا اوسنی پلان، د افغانستان لپاره خطرناک دی. کولای شې ووایئ، چې دلیل یې څه دی او ستاسو اندېښنه له کومې ناحیې ده؟

جمهوررئیس غني [ژباړه]: لومړی دا چې موږ له هغه زماني چوکاټ سره، چې جمهوررئیس اوباما ټاکلی دی، بشپړ موافق یوو او هغه منو؛ دا ځکه چې هغه د امریکا له خلکو سره د یوې مشخصې نېټې ژمنه کړې ده، چې باید ورته احترام وشي. په افغانستان کې د امنیتي مسؤولیتونو د لېږد پروسه په بریالیتوب پای ته ورسېده او هغه څه چې باید پرې پوه شو دا دي، چې د

---

[۱] Senator Joh McCain.

ترهګرۍ د اوسېدو چاپېریال وضعیت (ایکالوژۍ) تغییر کړی دی. په دوامداره مشارکت کې، شریکان په یوه هر اړخیز تحلیل کې برخه اخلي، چې د روان وضعیت، د وضعیت متعادل کوونکې قوې او په مختلفو اړخونو کې له خپلې اړیکو د استفادې څرنګوالی بیانوي. هماغسې چې ښاغلي دفاع وزیر ورته اشاره وکړه، زموږ اړیکه د سرتېرو د شمېر پر اساس نه، بلکې زموږ د همکاریو د هر اړخیز ماهیت پر اساس تعریف شوې ده. په همدې اساس، دا چې کولای شو د ۲۰۱۵ ز کال په ټراو وړاندوینې ولرو، د خوښۍ خبره ده.

جمهوررئیس اوباما هغه ستراتېژي تایید کړې، چې زموږ همکاري دوام پیدا کوي او په افغانستان کې د یوولس سوو اضافي سرتېرو د ماموریت دوام تایید شو، چې یوه ډېره مهمه پرېکړه ګڼل کېږي. همدا راز، له واشنګټن څخه زموږ د لیدنې پر مهال به هم د سرتېرو په شمېر بحث وشي.

خبریال [ښاغلي کارټر ته خطاب ـ ژباړه]: د لا زیات وضاحت په موخه، تاسو د هغو انتخابونو په اړه خبرې وکړې، چې حاضر دمه د ارزونې په حال کې دي او داسې ښکاري، چې ټول هغه انتخابونه په یوه اړخ، یعنې ورو، ورو د سرتېرو اېستل، حرکت کوي. آیا دا یوه مناسبه ارزونه ده؟

کارټر [ژباړه]: تر ټولو مهم عامل، چې زموږ په افکارو یې اغېز کړی دی، هغه تغییر دی، چې د جمهوررئیس غني او ډاکتر عبدالله په رهبرۍ د ملي وحدت حکومت له لوري رامنځته شوی دی. د باور د نشتوالي له امله، په تېرو څو میاشتو کې د وړاندوینو، پرمختګونو او په دې برخه کې د پروګرامونو جوړولو امکان نه و؛ (خو اوسمهال) یو عمده تغییر بلل کېږي. د اوسنیو ډېرو تغییراتو په اړه مو هم ګټورې خبرې لرلې.

بله موضوع دا ده؛ د هغه زماني چوکاټ په اساس چې موږ یې لرو باید په افغانستان کې اوسني ټول تغییرات تحلیل شي. څه چې مهم دي او غواړم پرې ټینګار وکړم ـ هماغسې چې جمهوررئیس وویل ـ په افغانستان کې د پوځي سرتېرو شمېر دی، خو دا یوازې یو له بدلونونو دی او ټول نشي کېدای.

خبریال [ښاغلي کارټر ته خطاب ـ ژباړه]: تاسو وویل، چې د امریکایي ځواکونو د حضور په ټراو بیاکتنه کوو. ستاسو په نظر څومره شمېر سرتېري به له ترهګرۍ سره د مبارزې په

ماموریت کې دخیل وي؟

[جمهوررئیس غني ته خطاب:] رئیس صاحب محترم! که چیرې تاسې مشخصاً ووایئ، چې له وزیر صاحب څخه ستاسو مشخصې غوښتنې څه وې او له افغانستان سره د دوی د مرستې په اړه ځواب څه دی؟ تشکر!

کارټر [ژباړه]: د سرتېرو د شمېر په اړه مې وړاندې وویل، پر دې موضوع به امریکا ته د جمهوررئیس غني او ډاکتر عبدالله د سفر پرمهال د جمهوررئیس غني او جمهوررئیس اوباما ترمنځ بحث وشي؛ خو د امنیتي ځواکونو شمېر به یو له هغو مواردو وي، چې د دواړو هېوادونو جمهوررئیسان به پرې خبرې وکړي او هغوی به هم، لکه زموږ د نن سهار بحثونو په څېر، پر دې موضوع پراخ بحثونه وکړي.

جمهوررئیس غني: زموږ بحثونه هر اړخیز وو، نتیجه به زما له سفر څخه یو ځل چې امریکا ته لاړ شو، هلته به ښکاره شي البته اوس مخکې له وخته نه ده چې تفصیلاتو باندې وغږیږو. اما بحثونه هر اړخیز وو، مثبت وو او د افغانستان ګټې او د دنیا ثبات به انشاءالله تعالی په دې نتیجه کې تامین شي.

خبریال [جمهوررئیس غني ته خطاب ـ ژباړه]: که ممکنه وي له طالبانو سره د سولې مذاکراتو په تړاو د خپلې ارزونې وضاحت ورکړئ او له شپږو میاشتو وړاندې مذاکراتو سره یې څه ډول پرتله کوئ. آیا د طالبانو له لوري هم شین څراغ ښودل شوی، چې مخامخ د سولې مذاکراتو ته داخل شي؛ او آیا حقاني شبکه به هم په دغو مذاکراتو کې شامله وي او کنه؟

جمهوررئیس غني [ژباړه]: له تاسو مننه! په تېرو ۳٦ کلونو کې له اوسني وخت څخه د سولې بله غوره زمینه نه ده برابره شوې. زموږ تګلاره ګټوره ده او هیله مند یوو؛ خو د سولې پروسې په تړاو د مشخصو ځوابونو وړاندې کول خطرناک دي. [د جمهوررئیس خندا] ما د سولې له سلو ډېر هوکړه‌لیکونه مطالعه کړي او په ۲۰۰۷ کال کې مې په همدې تړاو یوه مقاله هم ولیکله. کله چې هوکړه وشي او ټول ملاحظات په پام کې ونیول شي، سوله راتللی شي. په دې تړاو چې کومې پوښتنې دي ورته به رسېدنه وشي. هغه لوری چې پرې مخکې ځو، مثبت دی، خو اوسمهال ددې پروسې د (اړخونو) د اعلان لپاره مناسب وخت نه دی.

خبریال [ښاغلي کارټر ته خطاب ـ ژباړه]: ښاغلی وزیر! تاسو د مثبتو انکشافاتو لپاره د اوسني پلان په ارزونې او بیاکتنې خبرې وکړې. له ترهګرۍ سره د مبارزې ماموریت به چېرته

ورسېږي؟ آیا له ۲۰۱٦ کال وروسته به هم د امریکا متحده ایالتونو (ځمکنۍ) په همدې ډول پاتې شي یا دا موضوع د امریکا متحده ایالتونو په راتلونکي حکومت پورې اړه لري.

کارټر [ژباړه]: زه فکر کوم، چې وړاندې مې دې پوښتنې ته ځواب ووایه. له ترهګرۍ سره مبارزه له شک پرته یو دوامداره ماموریت دی، نه یوازې په افغانستان کې، بلکې د نړۍ په هر ځای کې چې ورته اړتیا وي. موږ له ترهګرۍ سره د مبارزې ماموریت پر جزیاتو بیا خبرې کوو او که چېرې د ترهګرۍ چاپېریال د هغه وخت په پرتله چې موږ ورته پلانونه ترتیب کړي، تغییر ونه کړي، د امریکا جمهوررئیس به په راتلونکو څو کلونو خپل ملاحظات ولري او له جمهوررئیس غني سره به په دې اړه بحث وکړي، څو د هغو اقداماتو په اړه یوې نهایي پایلې ته ورسېږي، چې په راتلونکي کې ترسره کېږي. په همدې اساس، له ترهګرۍ سره د مبارزې موضوع به په راتلونکې میاشت کې (په امریکا متحده ایالتونو کې) د دواړو جمهوررئیسانو په بحث کې شامله وي.

له تاسو مننه!

# د ښځو نړیوالې ورځې نمانځغونډه

**کابل | ۱۴ کب ۱۳۹۳ | ۵ مارچ ۲۰۱۵**




## اړوند سکتورونه:

**ټولنیز خوندیتوب**

## د وینا عمده محورونه:

- **د ښځو رول او مقام**
- **د تېرو لاسته‌راوړنو ساتنه او تقویت**
- **په ټولنه کې د ښځو د رول لپاره بنسټیز او پایداره تحول**
- **د ښځو په تړاو د حکومت ژمنتیا**

## غورچاڼ:

طبیعي پېښې د هېواد په کچه په ۲۳ ولایتونو کې رامنځته شوې دي. موږ ټول د هغو کسانو په غم کې شریک یوو، چې خپل خپلوان یې له لاسه ورکړي. پر وخت د اقداماتو له امله له ملي اردو، ملي پولیسو او د سرې میاشتې له رضاکارانو مننه کوم. خوښي او غمونه تل له یو بل سره بدلېږي او نن په خوښۍ، په ټولنه کې د ښځو رول نمانځو. زموږ په فرهنګ کې، د ښځو رول او اهمیت پېړیو او زرګونو کلونو ته رسېږي. په داسې حال کې چې د ښځو مقام ته د نړۍ پاملرنه نږدې تېر ته ورګرځي، خو اسلامي فرهنګ له هماغه پیله ورته ځانګړې پاملرنه کړې او د ښځو ټولې چارې یې په غوره ډول له انساني فطرت سره برابرې تأمین کړې دي. زه باور لرم، چې د یوې نجلۍ او ښځې زده‌کړې، پنځه نسلونه بدلولی شي. دا ځکه چې د ښځو رول دوامداره دی او پر هغه پانګونه د تل لپاره ده. له ښځو سره زموږ لومړنۍ ژمنه د تېرو لاسته‌راوړنو ساتنه ده او زموږ اصلي ژمنه په ټولنه

کې د ښځو د رول لپاره پایداره او بنسټیز تحول دی. اړینه ده، چې موږ د تمدن او فرهنګ له داخل څخه د ښځو رول په بنسټیز ډول غښتلی کړو. موږ د ښځو لپاره د زده‌کړو د زمینې برابرولو، د مدیریت او زعامت رول لوړولو، د ښځو اقتصاد ته پاملرنې، د هغوی روغتیا او د ښځو د ملکیتونو شرعي کولو په برخه کې اساسي اقدامات پیل کړي دي. په پای کې په لرې پرتو سیمو کې له مېشتو افغان ښځو مننه کوم، چې د افغانستان لپاره «هیلې» تقویه کوي، دوی هغه مېړمنې دي، چې په تېرو ۳۶ کلونو کې یې په ځلونو ناارامۍ زغملې دي او هېڅکله یې هم هیله او امید له لاسه نه دی ورکړی.

## د جمهوررئیس غني وینا:

نحمده و نصلی علی رسول الکریم اما بعد، اعوذ بالله من الشیطان الرجیم. بسم الله الرحمن الرحیم.

ملي مشر جلالتمآب حامد کرزی، محترمه بي بي ګل، د کابینې محترمو غړیو، مدني فعالانو، خویندو، ډېرې ګرانې خویندې ګورم چې په عسکري لباس کې یاست، په ملکې لباس کې یاست، رنګ رنګ کاروانه کوئ خدای مو لا تعداد ډېر کړه او محترم د مدني ټولنې او رسنیو غړیو ته لومړی تر ټولو د بشریت د ستر پېشوا تحفه در وړاندې کوم: السلام علیکم و رحمت الله و برکاته!

موږ لا د غم په حالت کې یوو او لومړی تر ټولو د افغانستان ټولو وګړو ته تسلیت وړاندې کوم. تر اوسه پورې د افغانستان په ۲۳ ولایتونو کې طبیعي حوادث حاکم دي چې پنجشیر، بدخشان، پروان، نورستان، لغمان، ننګرهار، کابل، تخار، هرات، کاپیسا، ډایکندي، سمنګان، کنړ، بغلان، پکتیا، هلمند، روزګان، زابل، بامیان، بادغیس، فراه، غور او بلخ دي.[۱]

د پنجشیر پېښه په بین‌المللي سطح کې ناګواره قضیه ده. همدارنګه په بدخشان او نورستان کې موږ خپل ډېر عزیزان له لاسه ورکړي. لغمان کې له یو زرو درې سوه جریب په حدود کې ځمکې تباه شوې. نو اول دا ده، چې په غم کې موږ ټول شریک یوو. فضل د خدای دا ده، چې نن او پرون کوم بل افغان شهادت ته نه و رسیدلی تر ماښام پورې او هیله کوو چې دا د شهادتونو او مجروحیتونو ختم وي. اما په دې برخه کې غواړم دا هم ووایم، چې په

[۱] د ۱۳۹۳ کال د ژمي طبیعي پېښو زیاتونه او تلفات ډېر زیات وو. له ۲۵۰ زیات کسان مړه شول او حکومت درې ورځې (۸ـ ۱۰) ملي ماتم اعلان کړ.

غمشریکی کې د افغانستان خلک فضل د خدای بې‌سارې دي او زه غواړم د ملي اردو نه، ملي پولیسو نه خاصتاً مننه وکړم. همدارنگه د سرې میاشت رضاکاران ډېرو لیرو ځایونو ته ورسېدل او له خلکو سره یې مرستې وکړې. ضد د حوادثو، د فواید عامې وزارت او د کلیو پراختیا وزارت کارکوونکي؛ شپاړلس، اوولس ساعته یې د ورځې کار کړی. تر پرونه پورې اکثریت کوتلونه او سړکونه پاک شوي دي او فضل د خدای تر اوسه پورې هغه اساس چې جلالت‌مآب کرزي صاحب ایښی، د هغه په اساس باندې موږ دې ته نه یوو مجبور شوي چې له دنیا نه عاجلې مرستې وغواړو، دا په‌خپله د امید خبره ده، کله چې موږ باندې یوه حادثه راځي موږ کولای شو، چې ځان ټول کړو او په منسجمه توگه انسجام راولو. په دویمه مرحله کې به البته له دنیا نه مرستې غواړو. اما اول ښه و، چې خپل کور مو منسجم و.

غم و شادی همیشه با یکدیگر بدل می‌شوند و امروز روزی است که ما با شادی نقش زن افغان را تجلیل می‌کنیم. تجلیل از هشت مارچ، نو است اما در فرهنگ ما، نقش زن و اهمیت آن به هزاره‌ها و قرن‌ها می‌رسد. اولین چیزی که مورد تأکید است این که از روز آفرینش، خداوند(ج) حوا را همسر آدم گردانید و روند بقا را با این سنت تضمین کرد. ارتباط زن و مرد قدیمی‌ترین، مهم‌ترین و بااهمیت‌ترین ارتباط جامعه است. دنیا، تنها در روزهای نزدیک متوجه این شده اما فرهنگ والای اسلامی، اساس این را گذاشته است. فراموش نکنید که خداوند(ج) پیغمبرش ذکریا را به خدمت حضرت مریم(س) واگذاشت و ملائک را همصحبتش گردانید؛ دین اسلام را با ایمان آوردن اولین مؤمنه، یعنی بی‌بی خدیجه، آغاز و ترویج بخشید و نخستین کرسی شهادت را نصیب سمیه ساخت. حقوق، تکالیف، عبادات، معاملات و همه امور زنان را به بهترین وجه برای ابد و موافق با فطرت انسان تأمین نمود.

قرآن با این تعریف از زن، در محراق لوح آیین خویش، به کوچک‌ترین چشم‌پوشی از مقام راستینش سپر رد زده است. هیچ ایدئولوژی و منطقی را در زمانی و مکانی نمی‌توان سراغ داشت که دیدگاه خاصی در مورد زن نداشته باشد، زیرا زن به دلیل نقش خاصی که در دستگاه خلقت به عهده دارد، به سرمایه‌های درونی بس گرانبهایی مجهز است که جامعه‌ی بشری در رشد خود نیازمند این ارزش‌هاست.

عطوفت زن، اساس جامعه را تشکیل داده است. من در این روز و در این لحظه می‌خواستم خاصتاً به روح مادرکلانم، [مکث] و مادرم دعا کنم. مادرکلان من تحصیل‌یافته بود؛ من

شاهد این هستم که تحصیل یک دختر، پنج نسل را تغییر می‌دهد. در حالی که تحصیل یک بچه یک نسل را تغییر می‌دهد، تحصیل زن پنج نسل را تغییر می‌دهد. ما باید اهمیت این موضوع را درک کنیم. مادرکلان من وقتی از هندوستان از تبعید آمد، یک انقلاب را در قریه ما آورد؛ ماشین خیاطی را رواج داد؛ اداره منسجم را آورد و حساب و کتاب را در کشت و کار آورد. نقش زن یک چیز دوام‌دار است و سرمایه‌گذاری بالای آن همیشگی است.

من می‌خواهم از بی‌بی گل تشکر کنم که طارق، پسر ما، همیشه مساوات مریم، و برتری مریم خواهر بزرگ‌تر خود را قبول کرده. هر فرد، هر پسر و هر دختر، باید، از محیط خانواده مساوات بنیادی اطفال را بیاموزد چون بدون آن، در آینده دیدگاه، منفی می‌شود.

محترمه صفوي صاحب له ما نه تعهدات وغوښتل، نو بهتره ده لومړی کلمه چې و وایم، دا ده چې په ټولو تعهداتو باندې درېدلي یوو [د حاضرینو چکچکې] او تعهداتو باندې ولاړ یوو او دویم ستاسو زور نه لرو، چې په تعهداتو به ونه درېږو. [د حاضرینو چکچکې]

تعهد اول ما این است که دستاوردهایی که تحت رهبری خردمندانه جناب کرزی صاحب به وجود آمده بود، حفظ کنیم و تقویه نماییم. این تعهد اول ما بود. تعهد اصلی ما، این است که شرایط تحول بنیادی و پایدار را برای نقش زن در جامعه به وجود می آوریم. تحول پایدار، ایجاب تعادل بین تحول و تداوم را می‌کند. تحول باید در چارچوب ارزش‌های والای اسلامی و ملی ما باشد. جامعه ما در تضاد با ارزش‌های بین‌المللی نیست اما اگر بر ارزش‌های بین‌المللی همیشه زن‌های افغان تأکید کنند، در حقیقت خود را در تضاد، با جامعه مواجه می‌سازند. هیچ نوع ممانعت در دین مبین اسلام برای کسب حلال نیست؛ قسمی که بی‌بی گل حدیث نبوی و آیات قرآنی را گفت.

ضرور است که ما از داخلِ تمدن و فرهنگ خود نقش زن را به صورت بنیادی تقویه کنیم. قانون اساسی ما واضح است، مشخص است، و به فضل خداوند کاملاً اسلامی است. بنابراین تعهد ما عملی کردن قانون اساسی ما است. با عملی شدن قانون اساسی ما، ارزش‌ها و خواست‌های زن افغان، ان‌شاءالله تعالی تحقق می‌پذیرد.

من می‌خواهم به صورت خلص یک راپور اقدامات را برای‌تان بگویم.

لومړی ـ ښځو ته د تعلیم زمینه برابرول: خوشحاله یم درته و وایم چې د ترکیې د دولت په مرسته د ښځو لومړی پوهنتون به ژر تر ژره په کابل کې ایجاد شي. [د حاضرینو چکچکې]

زمین را اختصاص دادیم. همراه رئیس‌جمهور ترکیه صحبت داشتم. قبل از آن، این پوهنتون برای مرد و زن بود؛ بعد از این، تنها برای زنان افغان اختصاص داده خواهد شد. [د حاضرینو چکچکې]

دوم ـ نقش مدیریت و زعامت زنان: اول از امارات متحده عربی ابراز امتنان می‌کنم که کورس‌های مشخص را که برای رهبری تمام سطوح خود تشخیص دادند، برای ما هم اختصاص خواهند داد و زنان افغان در این کورس‌ها اشتراک خواهند کرد تا به صورت اساسی برای مدیریت و زعامت آماده شوند. [د حاضرینو چکچکې]

در عین حال همراه ممالک دیگر خاصتاً ممالک عربی و اسلامی داخل صحبت هستیم که زمینه سرمایه‌گذاری بالای مدیریت و ایجاد شرایط ضربتی مدیریت برای زنان افغان فراهم شود. مالیزیا موږ ته یو ډېر ښه مثال دی، مالیزیایي مسلمانه ښځه هم د هستوي فزیک متخصصه ده، هم په انجنیرۍ کې، اما ځادر یې همېشه پر سر دی. دلته باید یوه مفکوره لیرې کړو، زموږ عقاید له برخې اخیستلو سره په ټکر کې نه‌دي او باید په ډېر اطمینان سره دا ووایو؛ ځکه نن یو خطر له هغو جهاتو نه دی چې د اسلام مبین دین په منفی توګه بولي او دا ډېره مهمه ده، چې موږ په اساسي توګه باندې ودریږو.

درېیم ـ د ښځو اقتصاد ته خاصه توجه: په دې څو میاشتو کې ما درخواست وکړ چې د افغانستان ټولې پروژې چې د بین‌المللي بنسټونو له‌خوا تمویلیږي د یوې منسجمې بررسۍ لاندې راشي، د دوی اسناد ۵ ورځې مخکې ماته تسلیم شول. په راتلونکو څو هفتو کې به دا ټولې پروژې له سره وکتل شي، زموږ د لومړیتوبونو په اساس باندې به بیا طبقه‌بندي شي او په هرې پروژې کې به د ښځو برخې ته موږ خاصه توجه وکړو. [د حاضرینو چکچکې]

من از وزارت محترم امور زنان تشکر می‌کنم که همیشه از حقوق زن دفاع کرده، اما دفاع از حقوق زن تنها کار وزارت امور زنان نیست؛ هر وزارت و هر اداره افغانستان مسؤول است که از حقوق زن‌ها دفاع کند و راپور بدهد. [د حاضرینو چکچکې] مسأله زن، مسأله طفل، مسأله افراد دارای معلولیت‌ها و مخصوصاً فقرای افغانستان، مسؤولیت تمامی دولت افغانستان است. در این بخش خاصتاً تعهد واضح ما ـ قسمی که شما گفتید ـ این است که خشونت در مقابل زن افغان در دوایر افغانستان، در پوهنتون‌های افغانستان و در مکاتب افغانستان جایی

ندارد. [د حاضرینو چکچکې]

څلورم ـ د ښځو روغتیا: زه غواړم زموږ له ډېرو مجربو ډاکترانو؛ خاصتاً ډاکتر صاحب رحیم کریم چې په جرمنې کې دی مننه وکړم، دوی د یو وړاندیز سره راغلي چې پس له دې نه به دوی خپله له خارجي ډاکترانو سره راځي او عمده عملیاتونه به دوی په خپله افغانستان کې کوي.

د روغتیا وزارت ته ما هدایت ورکړی چې یوه خاصه شفاخانه خاصتاً د بېوزلو ښځو لپاره چې نن مجبوریتونه لري او یا مجبوریري چې په دوامداره توګه هندوستان ته لاړې شي اختصاص ورکړي، ان‌شاءالله تعالی په دې طریقه باندې به دلته موږ تشخیص کوو او هغه عملیات چې په ډېر ګران قیمت د باندې کېدل، دلته به وشي او په مخکې به لاړ شو.

پنځم ـ د ښځو شرعي جایدادونه: اداره اراضی افغانستان دارای اهمیت خاصی شده؛ با یک پروگرام منظم آمده و در قسمت ایجاد اسناد شرعی، اقدامات سرتاسری خواهد کرد. زن افغان باید اطمینان داشته باشد که میراث شرعی‌اش برای او می‌رسد و با اسناد شرعی می‌تواند آن را حفظ کند که از اساسات ما است.

د مشارکت له نظره مو پیغام ډېر واضح دی، سفارتونه غواړئ، معینیتونه غواړئ، ولایتونه غواړئ، ان‌شاءالله تعالی ډېر به یې وشي؛ [د حاضرینو چکچکې او خندا] اما په معیارونو باندې.

قصه وزارت محترم خارجه را تکرار نکنید. من به وزارت محترم خارجه هدایت داده‌ام که هر فردی که بر اساس ارتباط شخصی، فامیلی و یا غیره داخل وزارت خارجه آمده، لست‌شان نوشته شود و دست‌شان گرفته شود. [د حاضرینو چکچکې] زن افغان باید این اعتماد را داشته باشد که به حیث یک فرد در اداره مشارکت می‌کند، نه به نام این که خواهر کیست و یا خانم کیست. [د حاضرینو چکچکې] و مخصوصاً زن فقیر افغان باید این اعتبار را داشته باشد که اداره به رویش باز است. بدین جهت امید است که تمام خواهران دست به هم دهند تا فضا باز شود. [د حاضرینو چکچکې] انحصار رهبری باید بشکند. [د حاضرینو چکچکې] به فضل خدا(ج)، کار، بی‌نهایت زیاد است. برای هزاران نفر جای است. محدودیت‌ها باید بشکند و استعدادها ان‌شاءالله تعالی بروز کند.

در اخیر باز هم تبریکات خود را [د ښځو چارو وزارت مسؤولینو ته په اشارې:] اول برای

وزارت محترم زنان ابراز می‌کنم که در تدویر این محفل کوشش‌های به نهایت زیادی کردید، از همکاران ملی و بین‌المللی‌تان نیز ابراز امتنان می‌کنیم. مخصوصاً، من می‌خواهم از زنان افغان که در دورافتاده‌ترین نقاط کشور تحت مشکل‌ترین شرایط، «امید» افغانستان را تأمین می‌کنند و مردم را نان می‌دهند، تشکر کنم. زن افغان در اطراف، به مراتب زیادتر از مأمور دولت که معاش‌های بسیار بلند دارد، کارهای ثقیل را انجام می‌دهد. این زن افغان است که بارِ ۳۶ سال ناآرامی را تحمل کرده اما هیچ وقت امید خود را از دست نداده است. این امید است که افغانستان را زنده نگاه کرده. سهم‌گیری زنان افغان در انتخابات، یک حرکت تاریخی و نقطه عطف است. امید این است که ما بتوانیم به زودی شرایط صلح پایدار، ثبات و رفاه را که بر اساس آن امید زن افغان به پروژه‌های ثبات و سهم‌گیری مبدل شود، فراهم کنیم.

من‌الله التوفیق!

تل دې وي افغانستان! پاینده باد افغانستان!

# د ملي شورا د شپاړسمې دورې د پنځم کاري کال پرانسته

**د ملي شورا تالار ـ کابل | ۱۶ کب ۱۳۹۳ | ۷ مارچ ۲۰۱۵**



## اړوند سکتورونه:

**حکومتوالي ـ بهرنی سیاست ـ امنیت ـ اقتصاد**

## د وینا عمده محورونه:

- **د ملي وحدت حکومت بریالیتوب**
- **د افغانستان بهرنی سیاست**
- **امنیتي وضعیت**
- **د اقتصادي انکشاف فرصتونه**
- **د پایداره سولې تأمین**
- **له فساد سره مبارزه**

## غورچاڼ:

زموږ نسبي بریالیتوبونه د سیاسي یووالي محصول دی. د ملي وحدت حکومت په بریالي کېدو مو ثابته کړه، چې افغانستان سیاسي بلوغ ته رسېدلی او د مخالفت تر ټولو غوره لار، سیاسي حللاره ده. ملي اقتدار په ډېرو حساسو شرایطو کې موږ ته ولېږدول شو؛ نیابتي جګړې، د یو شمېر ولایتونو د سقوط طرحې، د نړیوالو همکاریو په دوام کې شک شبهه، نوي ګواښونه او د داعش ظهور. موږ د عمل نوښت په لاس کې واخیست او د افغانستان د ثبات په تړاو مو سیمه‌ییزه او اسلامي اجماع ترلاسه کړه. ان‌شاءالله چې افغانستان به د نیابتي جګړې له ډګر

ځخه د آسیا په اقتصادي او ترانزیټي ځلورلارې او د همکاریو په مرکز بدل شي. هغه ځواک او اقتدار چې د ملي وحدت حکومت له جوړېدو ترلاسه شوی، زموږ د بهرني سیاست بنسټ دی. موږ به د عمل په ابتکار سره، افغانستان د سیمې او اسلامي هېوادونو د همکاریو په ځای بدل کړو. په نړیواله کچه په افغانستان د باور فضا جوړه شوې او زموږ اړیکې به لا پراخې شي. د امنیت د ټینګښت په برخه کې، د څو ولایتونو د سقوط لپاره د دښمن طرحې ناکامه شوې دي او زموږ ځواکونه له دفاعي حالت ځخه وتلي دي. موږ پخپلو پرېکړو کې چټک او قوي عمل کوو او زموږ ستراتېژیک سکوت، په عمل کې زموږ قوت ښیي، او په ورته مهال باید په پام کې ولرو، چې د هېواد ناامنی دوه اړخونه؛ سیاسي او جرمي لري. موږ په بهرني سیاست کې، د ترانزیټ په شرایطو کې بنسټیز تحول راوستی دی. د افغانستان د لاجوردو لار به له اروپا سره ونښلوو، رېل پټلی، د ګازو نللیکه او برېښنا به تمدید شي او سویلي آسیا به له اروپا سره ونښلول شي. د چین په مرسته د زېربناوو ملي پلان ترتیبوو او د ځمکو او اوبو مدیریت به رامنځته کړو. موږ به په راتلونکو میاشتو کې پر اقتصادي پروګرامونو او په ادارو کې پر اصلاحاتو کار وکړو، چې له هغې ډلې انکشافي پروګرامونه به په بریالیتوب عملي شي، پاشلې پروژې به د ملي انکشاف پر یوه جامع پروګرام بدلې شي، او د انکشافي بودجې د کم او نه مصرف عوامل به هم تشخیص شي او ورته به حلاره وموندل شي. د پایداره سولې د ټینګښت لپاره، ملي وحدت حکومت واحد دریځ لري. له اسلامي نړۍ سره زموږ د اړیکو ژورتیا له موږ سره مرسته کوي، چې د سولې په لاره کې پر اوسنیو ستونزو بریالي شو. موږ نه پرېږدو چې د سولې قیمت د جګړې تر قیمت زیات وي. سوله ملي موضوع ده او مسؤولیت یې د ټولو سیاسي اقشارو، علمای کرامو، ښځو، ځوانانو او ټولو پر غاړه دی. د فساد په برخه کې موږ هر اړخیز اقدامات کړي دي. د محکمې د حکم پر اساس به د کابلبانک برخه‌وال خپل پورونه ورکوي. د قانوني چوکاټ نشتوالی او د قانون په تطبیق کې ستونزې د انکشافي او اقتصادي پروګرامونو د نه بریالي کېدو لامل شوې دي، چې په دې برخه کې د دربیواړو قواوو همکاري اړینه ده. د قانون د حاکمیت لپاره حکومت په غښتلتیا، د تشکیلاتو اصلاح او د ادارو ظرفیت، پالیسیو تدوین، او د قوانینو د اصلاح او تدوین لپاره اقدامات کړي دي. د ټاکنیزو اصلاحاتو کمېسیون هم جوړېږي، څو د ټاکنو د ترسره کېدو لپاره باوري فضا رامنځته شي. په راتلونکو میاشتو کې پر اقتصادي انکشاف، کارموندنې او کورونو په جوړولو تمرکز کوو. زه د دربیو وروستیو لسیزو په ستونزو، چې موږ ته په میراث پاتې دي، پوهېږم، شخصاً د خلکو ستونزې اورم او غواړم؛ له خلکو سره مې اړیکه دوامداره وي. موږ ستونزو ته د رسېدو لپاره وخت ته اړتیا لرو، ځکه چې هغه زموږ پر وړاندې خنډونه دي او حرکت مو سوکه کوي. د ستونزو په کچه، فرصتونه هم موجود دي او باید په یووالي او اتفاق سره د هېواد او خلکو په ګټه لازم اقدامات ترسره کړو.

## د جمهوررئیس غني وینا:

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم. اما بعد، اعوذ بالله من الشیطان الرجیم. بسم الله الرحمن الرحیم.

جلالت‌مآب حامد کرزی ملي مشر، جناب معاون صاحب ریاست جمهوری اسلامی افغانستان، جناب محترم داکتر صاحب عبدالله عبدالله رئیس اجرایی جمهوری اسلامی

افغانستان، جناب رحیمی، جناب مسلمیار صاحب، رهبری شورای ملی افغانستان، جناب راشد صاحب رئیس ستره‌محکمه افغانستان، محترمین معاونین سابق ریاست جمهوری جناب قانونی صاحب و جناب خلیلی صاحب، رهبران محترم جهادی، اعضای محترم شورای ملی، شیخ‌السفرا سفیر تاجکستان، اعضای شورای عالی ستره‌محکمه، نماینده ویژه سازمان ملل متحد، اعضای محترم کابینه، وکلا و سناتورصاحبان محترم، هموطنان گرامی، السلام علیکم و رحمت‌الله!

له رخصتیو څخه د وکیلانو او سناتورانو راستنېدو ته ښه راغلاست وایم. ویاړم چې نن د ملي شورا د شپاړلسمې تقنیني دورې پنځم کال افتتاح کوم.

په پیل کې د هېواد ټولو شهیدانو او خصوصاً د وروستیو طبیعي حادثو قربانیانو ته د الله تعالی په دربار کې دعا کوم او د دې وطن د خدمتګار په حیث یو ځل بیا تاسې ته او د افغانستان ټولو خلکو ته تسلیت وړاندې کوم. انا لله و انا الیه راجعون.

این حوادث طبیعی در ۲۳ ولایت کشور؛ پنجشیر، بدخشان، پروان، نورستان، لغمان، ننگرهار، کابل، تخار، هرات، کاپیسا، دایکندی، سمنگان، کنرها، بغلان، پکتیا، هلمند، ارزگان، زابل، بامیان، بادغیس، فراه، غور و بلخ اتفاق افتاده است. برف‌کوچ‌ها در پنجشیر فاجعه‌بارتر از سایر مناطق بود و به سطح بین‌المللی یک تراژیدی بود. بدخشان، پروان، تخار، نورستان، ننگرهار، لغمان، دایکندی و بامیان از لحاظ تلفات انسانی در کتگوری بعدی قرار دارد. تلاش‌های ما در قسمت انسجام کمک‌های اولیه نسبتاً مؤثر بوده است. من از تمامی اراکین که تحت رهبری داکتر صاحب عبدالله عبدالله کار را انجام دادند، ابراز امتنان می‌کنم. سرک‌ها و کوتل‌ها پاک شده و این عملیات هنوز هم جریان دارد.

جوي اوضاع ښيي چې موږ د اقلیم له تغییر سره مخامخ یوو، نو لازمه ده چې له طبیعي حوادثو سره د مبارزې لپاره زموږ ظرفیت، په ملي او ولایتي کچه غښتلی شي. د طبیعي حوادثو د وقوع په وخت کې باید زموږ د انسجام، په موقع او چټک سیستم پیاوړی شي.

خواهران و برادران!

موفقیت‌های نسبی ما در عرصه‌های مختلف محصول وحدت سیاسی ماست. ایجاد حکومت وحدت ملی یک اقدام سیاسی بی‌سابقه در سطح منطقه بود. منطقه در اول به

کامیابی حکومت وحدت ملی باور کمتر داشت، اما اکنون به بلوغ و قوت سیاسی افغانستان باور پیدا کرده است. این اقدام سبب شد که فرهنگ تحمل و همدیگرپذیری در کشور نهادینه شود. ما با این حرکت ثابت کردیم که بهترین راه حل مخالفت، راه‌حل سیاسی است. فرهنگ تحمل نه‌تنها در داخل حکومت تقویت یافته است، بلکه در روابط هر سه قوه هم به طور واضح دیده می‌شود. قوای سه‌گانه کشور اکنون در حال تقابل و تصادم قرار ندارند، بلکه بر اساس اتفاق و همکاری مشترک به پیش می‌روند. بر اساس همین همکاریِ قوه مقننه بود که یک اجماع ملی جهت گسترش منافع و روابط استراتیژیک افغانستان با جهان شکل گرفت و من به حیث رئیس‌جمهور افغانستان که مسؤولیت تطبیق آن را دارم از شما وکلا و سناتوران محترم اظهار سپاس می‌کنم.

اقتدار ملی، در شرایط بسیار حساس و دشوار به ما انتقال یافت؛ به ثبات افغانستان باور و یقین وجود نداشت؛ در مورد ادامه همکاری‌های جامعه جهانی شک وجود داشت؛ طرح سقوط بعضی از ولایات کشور موجود بود؛ کشور ما میدان جنگ‌های نیابتی بود؛ و در عین حال منطقه، جهان اسلام و جامعه بین‌المللی با تهدیدات جدید روبه‌رو شدند. نوعیت جنگ به طور بنیادی تغییر کرد. درگیری‌ها در سوریه، عراق، یمن و لیبیا، صفحه جدیدی از خطرات جدی را باز کرد. نوعیت جنگ در کشورهای شرق میانه، برای نابودسازی دولت‌هاست. تغییر از القاعده به داعش، بزرگ‌ترین حرکت منفی برای جهان اسلام و کشورهای منطقه است. دولت‌ها همانند حلقات زنجیر به هم پیوسته‌اند، بنابراین سقوط هر یک از دولت‌ها باعث شکست زنجیر می‌شود و خطرات جدی را متوجه سایر دولت‌ها می‌سازد.

په وزیرستان کې د پاکستان عملیات د دې سبب شول چې عمده تروریستي شبکې د کرښې دې خوا ته انتقال ته مجبور شي. په داسې حساسو شرایطو او خطرناک ماحول کې موږ هم په ملي او منطقوي سطحه او هم د اسلامي هېوادونو او نړیواله کچه، په څلورو ساحو کې اساسي اقدامات کړي دي.

موږ د ملي وحدت د فورمول په اساس او د منطقوي چاپېریال د سم درک په اساس، په منطقوي کچه او د اسلامي هېوادونو په کچه او نړیواله سطحه د عمل ابتکار په خپل لاس کې واخیست. د گاونډیو هېوادونو او اسلامي ملکونو په سطحه، د دې لیدلوري په اساس یوه اجماع د رامنځته کېدو په حال کې ده چې باثباته افغانستان په سیمه او اسلامي نړۍ کې د ثبات کیلي ده. چین، هندوستان، پاکستان، ایران، روسیه، تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان،

سعودي عربستان، متحد عربي امارات، اذربايجان او ترکيه په دغه اجماع کې شامل هېوادونه دي. له دغه هر هېواد سره زموږ مناسبات د ګډو ګټو او مشترکو ګواښونو په باره کې د سم درک او تحليل په اساس ولاړ دي. ان‌شاالله موفق به شوو چې افغانستان ته د نيابتي جنګ د ميدان نه؛ بلکې د اسيا د اقتصادي او ترانزيتي څلورلارې او د تعاون د مرکز په سترګه وکتل شي.

بايد هېر نه کړو چې په انتخاباتو کې پراخ ګډون، له وضعيت او مشکلاتو څخه بنيادي درک، د هېواد د حرکت مسير ته لوری ورکول او د افغانستان د خلکو مسووليت‌پذيري د دغو تحولاتو سبب شوي دي. نن ورځ که تاسې په سيمه او ګاونډيو هېوادونو کې د افغانستان له سفيرانو څخه پوښتنه وکړئ، په وضاحت به درته ووايي چې د منطقې په سطحه د افغانستان وضعيت څنګه مثبت اساسي بدلون موندلی دی او د افغانستان نوی تصوير څنګه دی.

سیاست خارجی ما بر اساس تحکیم حاکمیت ملی، تمامیت ارضی و منافع ملی بنا یافته است و امروز کنترول آن در دست افغانستان است. اقتدار و قوتی که حاصل ایجاد حکومت وحدت ملی است، بنیاد سیاست خارجی را گذاشت که بر اساس منافع کوتاه‌مدت، میان‌مدت و درازمدت شکل گرفته است. من می‌خواهم به همه شما اطمینان بدهم که ابتکار عمل در دست ماست و افغانستان نقطه‌ای خواهد بود که ان‌شاءالله منافع متضاد، در این جا، به همکاری بر اساس منافع درازمدت تبدیل شود. افغانستان در حال تبدیل شدن به محل همکاری‌های کشورهای اسلامی و منطقه است.

نتایج مثبت سیاست فعال خارجی ما در سطح منطقه و کشورهای اسلامی فضای باور و اعتماد را در سطح بین‌المللی ایجاد کرده است. اروپا، امریکا، جاپان، استرالیا و کانادا به تعهدات‌شان در قسمت همکاری‌های امنیتی در بروکسل و در قسمت همکاری‌های اقتصادی‌شان در لندن تأکید کردند. با سفر ما به ایالات متحده امریکا و کشور کانادا، روابط ما در سطح بین‌المللی گسترده‌تر خواهد شد.

د افغانستان فعال خارجي سياست په اوږدمهالو تاثيراتو سربېره، فوري نتايج او اثرات هم لري. موږ تر ۱۳۹۶ کاله پورې د افغانستان د امنيتي او دفاعي قوتونو د پياوړتيا لپاره د کال د ۴،۵ ميلياردو ډالرو تعهد ترلاسه کړی دی. اوس د افغانستان امنيتي او دفاعي قوتونه هم د تمويل

منابع لري او هم د تجهیز او تعلیم امکانات.

در اینجا می‌خواهم به یک نکته دیگر اشاره کنم. با تکمیل انتقال امنیتی، یک فرضیه‌ی نادرست شکل پیدا کرد که گویا نیروهای امنیتی و دفاعی افغانستان انگیزه و ظرفیت دفاع از افغانستان و مردم کشور را ندارند. بر اساس این فرضیه، جنگ بالای ما تحکیم شد و حتی در زمستان هم ادامه پیدا کرد. کوشش‌ها برای سقوط چند ولایت کشور آغاز شد و حملات تروریستی بر شهرهای بزرگ ما شدت پیدا کرد. به صراحت می‌گویم که من به حیث سرقوماندان اعلای قوای مسلح به نیروهای امنیتی و دفاعی کشورم می‌بالم. نیروهای امنیتی و دفاعی ما با شهامت و قهرمانی، نه‌تنها طرح دشمن را ناکام کردند بلکه از حالت تدافعی بیرون آمدند و در زودترین زمان، ابتکار عمل را در دست گرفتند. توطئه دانگام[1] ناکام شد. عملیات ذوالفقار[2] با کامیابی تمام در هلمند با هماهنگی قوی بین نیروهای امنیتی ما جریان دارد. در زمینه تأمین امنیت در ولایات ناامن پلان منظم و منسجم وجود دارد که شما نتایج آن را در آینده خواهید دید.

ټوله دنیا باید پوهه شي چې د افغانستان نظام غښتلی دی او د هېواد او ملي نوامیسو په دفاع کې د افغانستان د خلکو اراده مضبوطه ده. زموږ امنیتي او دفاعي قوتونه د قوې د مشروع استفادې او انحصار لپاره لازمه وړتیا او ظرفیت لري. څرنګه چې امنیت زموږ د خلکو اصلي غوښتنه ده، نو خپل شپېته فیصده وخت مې د امنیتي وضعیت ښه کېدو ته ورکړی دی.

محترمو وکیلانو، سناتور صاحبانو! له تاسې او د افغانستان له ټول ملته غواړم چې په یوه غږ له خپلو امنیتي او دفاعي قوتونو ملاتړ وکړئ. د علماوو له شورا او علمای کرامو څخه مننه کوم چې په ټول قوت یې د افغانستان له دفاعي او امنیتي ځواکونو څخه قاطعانه ملاتړ کړی دی. په یقین سره چې دا زموږ د ټولو یوه دیني وجیبه وه.

یک بار دیگر با قاطعیت تکرار می‌کنم که زندگی هر هموطن ما برای ما ارزش حیاتی دارد و برای حفظ جان هر افغان بی‌گناه، ما از استعمال مشروع قوه خودداری نخواهیم کرد. ما در

---

[1] سلگونه بهرنیو او کورنیو وسله‌والو پر دانګام ولسوالۍ برید وکړ، خو له امنیتي ځواکونو سره تر لس ورځنۍ جګړې وروسته ناکام شول. (۱۳۹۳ کب).

[2] په ۱۴ کلونو کې تر ټولو لوی پوځي عملیات، چې په دوو میاشتو کې د هلمند په ځینو برخو کې د ترهګرو پر ضد ترسره شول.

تصامیم خویش سریع و قوی عمل می‌کنیم. سکوت استراتیژیک ما قوت ما را در عمل نشان می‌دهد. این حکومت بی‌پروا نیست و نخواهد بود.

په هېواد کې د ناامنۍ دلایل هم سیاسي بعد لري او هم جرمي. ځکه خو د دولت په داخل کې د قوې مشروع استعمال او انحصار یوه ضروري چاره ده. د امنیتي او دفاعي قوتونو او خلکو تر منځ دوه اړخیز قرارداد شته. خلک باید زموږ له امنیتي او دفاعي قوتونو ملاتړ وکړي او زموږ امنیتي او دفاعي قوتونه باید د خلکو ساتندوی وي. دا لازمه ده چې د حکومت له نوم او نفوذ څخه په استفادې سره د خلکو ځورول، ربړول، شکنجه کول او قتلول زموږ لپاره د منلو او زغملو نه دي او نه به وي. دغسې عملونه نه یوازې د قانون له حاکمیت سره په ټکر کې دي، بلکې د هېواد د امنیتي، دفاعي مسؤولینو او خلکو تر منځ د فاصلې د ایجاد سبب کېږي. د دې لپاره چې عسکر، پولیس، ساتنمنان، بریدملان، افسران او جنرالان، هم قانوني مصوونیت او هم قانوني مسوولیت ولري؛ په امنیتي او دفاعي ځواکونو کې به نوي او مسلکي کدرونه داخل شي او په عین حال کې به د تقاعد او مکافات او مجازات سیستم عملي شي.

در بین نیروهای امنیتی و دفاعی، اجماع روی این که نیروهای امنیتی و دفاعی ما ملی، مسلکی و غیرسیاسی باشند، به وجود آمده است. بر همین اساس از تمام شخصیت‌های سیاسی کشور انتظار دارم که در ادارات امنیتی و دفاعی، خصوصاً در مورد تقرری‌ها و تبدیلی‌ها، مداخله نکنند.

در اینجا می‌خواهم دوباره در مورد نتایج آنی سیاست خارجی افغانستان صحبت کنم. شرایط ترانزیت در حال تحول بنیادی است. بر اساس آخرین گزارشات، ۶۰ درصد اموال تجارتی در کراچی در یک روز مورد پروسس قرار می‌گیرد. در سه ماه آینده در قسمت ترانزیت، پیشرفت‌های بنیادی خواهیم داشت.

در قسمت «راه لاجورد» که از راه ترکمنستان، آذربایجان و گرجستان و نیز از راه ترکمنستان، آذربایجان، گرجستان و ترکیه، افغانستان را به اروپا وصل می‌کند، پیشرفت‌های اساسی صورت گرفته است. جا دارد از همکاری‌های این چهار کشور در این راستا اظهار سپاس کنم.

راه آهن ترکمنستان به آقینه خواهد رسید. ما مصمم هستیم که پایپ‌لاین گاز، راه آهن و برق

